لاجواب

(عابدیات اول جلد)

امتیاز احمد عابد

(Pashto Poetry)

LAJAWAAB

(Abidiyat Part 1)

Imtiaz Ahmad Abid

لاجواب

(عابدیات اول جلد)

امتیاز احمد عابد

تړون

زاهد چا چا وائی

دواړه راته ګران دی ـ قلندر دے کۀ حمزه دے
یو مې قافیه ده د غزل بل مې ردیف دے

خوزۀ وایم

حمزه کۀ قلندر دے ـ کۀ زاهد دے ـ کۀ اندېش دے
دا ټول مې قافیې دی ـ او دا ټول مې ردیفونه

☆

د امتیاز احمد عابد په شعرونو کښې د خوږ او خوندناک ژوند پرزور فکر په زغل دے . او د هغهٔ فکر د اعلیٰ پښتنی اقدارو لمن په خپلو لاسو کښې نیولے مسائل غواړی.

د ښاغلی قلندر مومند خبره "چې هغهٔ سړه د شعر هنر ضرور شته ،د هغهٔ د زیرک نظر او زور احساس نه مخ اړول او د هغهٔ د شعرونو په لړی کښې په بیرلی فکر مترکې پښتول اسانه خبره نهٔ ده".د نن شاعر یا د جدیدې شاعری خاصه کهٔ دې نه ویلې شی چې د عام اولس د ژوند نه دې څهٔ نه څهٔ ښکته راغونډه کړې شی ، او هغې له دې د ادب او فن شکل ورکړې شی او د غسې دې د خلقو د نمائندګی حق ادا کړې شی . نو ما چې څو مره د امتیاز احمد عابد شاعری لوستې ده او څو مره غور مې پرې کړې دے . نو ما دا محسوس کړې ده چې د ده شاعری کښې د غه خاصیت ډیر جوت دے.

د امتیاز عابد ډیره خوږه ،پسته او د نن د دې عصر جدیده شاعری ده . چې پکښې د وخت د پیښو او د دوران د المیو پرزور رنګ خور دے . او هم د غه رنګ د هغهٔ شعر ته ډیره پیرزوالي او تقویت ورکړی.

امتیاز احمد عابد په ډیرو خاصیتونو پوره دے او د لیک لوست په میدان کښې ښتمن دے .د هغهٔ شاعری ډیره زړهٔ پورې او په ټول پوره شاعری بللې کیدې شی .زهٔ دا ګنړم چې د غه شاعری امتیاز احمد عابد د خپل ځان د پاره نهٔ ده . بلکې د غه شاعری زهٔ د هغهٔ پوره خوږه ،ترنه ډالی ګنړم ، پر دامې د مینې لوبه پیرزوینه چې په خپل اولس او خپلو خلقو ئې کړې ده .

امتیاز احمد عابد پر روښان فکره او د ترقی د خوښولو خیال او نظر لری. او د ډیرو خوبو سړه سړه باصلاحیته (لوئے صلاحیت لرونکے) شاعر ،بیدار، او د کار بنیادم دے .

محب الله شوق (طورو)

مضمون نه اقتباس ۱۹۹۹ء



ډېر ډېر مړني به دې اوس وهٔ مني
نهٔ دی مړني چې څوک دې نهٔ مني

نهٔ لری عابده ثاني ستا غزل
دا خبره ټول په يوه خلهٔ مني

۱۹۸۸ء

مر ان

پرپرکی

(عابدیات پینځمه برخه)

د AVT خیبر اسلام اباد د کال ۲۰۰۵ـ٦ ء اول انعام

د ادبی او ثقافتی کاروان ۲۰۰۵ء اول انعام

د انسی دویم مهریه ایوارډ ۲۰۰۵ء او ګولډ مډل

د ۲۰۰۱ء نه تر ۲۰۰۵ء پورې کلام

د تبرک اثیني



د امتیاز احمد عابد غزلې ما مطالعه کړې او دا وئیلې شم چې په خپل کول کښې ښهٔ شاعر دے او مستقبل ئې هم روښانه دے۔

امیر حمزه خان شنواری (مرحوم)

۱۲۔ فروری ۔ ۱۹۹۲ء پېښور



ما د امتیاز احمد عابد خنې غزلې لوستې دی ۔ د هغهٔ شاعری د پښتو ادب د نننی دور ډېرې تقاضې پوره کوی ۔ او زما باور دے چې د مستقبل د پښتو ادب په اسمان به امتیاز عابد یو پرقېملونکے ستورے وی۔

پروفیسر قلندر مومند

فروری ۔ ۱۹۹۲ء پېښور

د پرپرکی رنګونه

نوي سوچونو او نوي اندازونو چې څنګه هالیکو او معرا نظمونه رابېدا کړل ـ نو بالکل دغه شان امتیاز احمد عابد هم نوي پیماني او د نوي دور د جديد غزل تولي تقاضي پوره کړي۔

پیر ګوهر (شاعر امن) مرحوم

مردان ـ ۲۰۰۵ء

☆

امتیاز احمد عابد چې د خیالونو او لفظونو سره لوبي کړی ـ د خیال او د لفظونو ترون څه داسي بې ساخته راولی چې د غزل ښکلا او تغزل پرې دوه کړی۔

اکرام الله ګران مرحوم

(وږ مې) کښې مضمون نه اقتباس

☆

امتیاز احمد عابد د غزل په ښه پوده د ډېره وخته داسي قلبو مونډلې دے ـ نن سبا کې شمېر کتابونه راځي او زلمي ئې لولی ـ د دې قافلې په قطار کښې د عابد مقام په سر کښې دے ـ د عابد ـ امتیاز ـ غزل له سلاکی ورکړل دی ـ خو دا غزلګر شاعر ناقدان خبروی چې په دې ګلستان کښې د "نظریو" ازغی مه کوری ـ هغه په غزل خواری کړی خو په خواری غزل نهٔ وائی۔

اسرار د طورو

(وږ مې) کښې مضمون نه اقتباس

☆

د امتياز احمد عابد باره کښې که زه دا ووايم چې هغه سر نه تر پښو پورې ټول غزل غزل دے ۔ نو مبالغه نه ده ۔ بلکې د هغه دا چاپ غزلې پر ژوندے حقيقت دے ۔ که په ځوب نظر ورته وکتې شي نو د هغه د نازک خيال د غه نازک پرېرکې هېڅوک ډيندک نه خوري ۔ بلکې د غوره او ښائسته ګلونو په سينه هواکير کرځي ۔

حسين ثاقب (مرحوم)

"د غزل تاجدار" مضمون نه اقتباس

۲۰۰۵ء مردان

☆

زه دا پيش ګوئي کوم چې امتياز عابد به مستقبل کښې د پښتو سمندر خان سمندر او د فارسي ژبې فردوسي جوړ شي ۔

عبدالکريم بريالے (کوئټه)

ير مضمون نه اقتباس ۲۰۰۵ء

☆

امتياز احمد عابد په خپلو همزولو شاعرانو کښې يو انفرادي او يو خاص طرز بيان لري ۔

د هغه په شاعري نه خو د عبدالرؤف زاهد د غزلونو يا د شاعرۍ څه اثر شته او نه د بل چا د شاعرۍ اسلوب ۔ بلکې د امتياز عابد خان له يو ځانګړے اسلوب او يو خاص طرز بيان دے ۔

د امتياز عابد په شاعرۍ کښې د نوو نوو لفظونو ۔ بالکل نوي خيالونو او ترکيبونو

یره لویه ذخیره موجوده ده ۔ د هغه ردیفونه د هغه غزلو ته بالکل یو نوې رنګ وربخښي۔
محمد اقبال اقبال (مرحوم) مردان
۲۰۰۵ء وحدت کښې مضمون نه اقتباس

☆

امتیاز عابد یخپله هم ذاتی زما د خوښې شاعر دے ۔ د عابد د غزل یو خپل رنګ او انداز دے ۔ په غزل کښې نوې نوې ردیفونه او ترکیبونه ۔ ښکلې لفظونه د عابد د جدت پسندۍ غمازي کوي۔ د لفظونو حرمت او احترام پیژنی ، مطالعه ئې هم شته او مشاهده هم ، عابد غزل نه لیکی ، بلکې غزل یرې یخپله خان لیکی ۔تر او سه ئې د هیچا تقلید نه دے کړے ،د غزل واړه رنګونه ئې بیخی خپل دی ۔ هر شعر ، هره مصرعه او هر غزل ئې د بدل بدل رنګونو بریرکی دی ۔ او کۀ عابد دغه ادبی او ارتقائی تسلسل جاری وساتلو ۔ نو لرے نه ده چې د غزل "امتلا" به و منلے شی۔
اداره میاشتنی (ورمې) صوابی ۲۰۰۶ء

☆

امتیاز عابد د مردان په شاعرانو کښې یو منفرد مقام لری ۔او کۀ موږ د یې ایمانی او خود غرضی نه کار ناخلو او حق ته حق وایو ، نو ورمسره ورمسره د غزل د" امتلا" حیثیت هم لری ۔او یو ترقی پسند مزاج هم۔
امتیاز عابد د غزل د جدیدې شاعری په نبضونو پوهه دے ، خدائے دې وکړی چې د امتیاز عابد ادبی سفر هم دامې جاری باتې شی ۔چې د پښتو ادب پنګه د خپلې جدیدې شاعری په جدید رنګونو نوره هم ډونه کړی ،او د زلمی کول رهنمائی هم وکړی۔

سید گران باچہ گران

۱۷۔جولائی ۲۰۰۵ء مردان

☆

امتیاز احمد عابد بلا شبہ ایک بہت بڑا رومانی شاعر ہے۔ جس کا اُسے خود بھی احساس ہے۔ امتیاز عابد کی شاعری کی مقبولیت کی وجہ یہ ہے۔ کہ وہ لطیف اور کومل جذبوں کا شاعر ہے۔ وہ ایک نازک خیال شاعر ہے۔ آپ کے ہاں نئے نئے الفاظ اور تراکیب اور نادر تشبیہات ہیں۔ جو انکی شاعری کو چار چاند لگاتے ۔

محمد الیاس خاموش(بنوں)

مضمون سے اقتباس

۷۔جون ۲۰۱۰ء

☆

ثناء

پانه پانه کلیمه ده ـ څاڅکی څاڅکی کښې قران دے
کهٔ چنار د سیند د غاړې ـ کهٔ شبنم دے ـ کهٔ باران دے

ما په لفظ لفظ کښې انغښتې لیې لیې مجبوری دی
ستا ذره ذره کرم هم په قطره د غر احسان دے

دا دنیا د وریخ سیورے ـ دا اسمان د نمر څادر دے
زهٔ بیه بیه موسم یم ـ عقل دلته کښې حیران دے

د چیو ګلونه ربی ـ د سپوږمی په باغ اختر دے
ستا د نُور پلوشې وُوری ـ هر ساعت جانان جانان دے

زر نوموته کۀ ئې نور هم د صفت شي ډېر به نۀ وي
زۀ خو وايمه بس دا چې مهربان دے مهربان دے

کۀ د تورې ربا ورخ ده ـ کۀ د سپينې شپې ماښام دے
ژوند تېرېږي ستا کرم دے ـ بس خو لږ شان لاندې باندې

د رنګونو په صفونو ـ فرښتې د خوب ولاړې
د خوشبو موتيا نوستې په هر لورې سپين مرجان دے

تۀ غزل ئې د نوم وايه ـ بس عابده ـ نور ئې پرېږده
چې دا ګل په هاغه شان دے ـ کۀ هغه د ګل په شان دے

(صوتی قافيې)

ما بة حيلة تولة شاعری کښې لفظ موتيا بة دريو سيلابو کښې شمارلے

کۀ ښکلی ـ کۀ خوانی ده ـ کۀ وختونه ـ وچي باني
دے ښار کښي ـ د هر رنګ محبتونه ـ وچي باني

ستا چم دے او زما په خلۀ تپه د جدای ده
وانولی مي په مخ ـ تاوده يادونه ـ وچي باني

زۀ ستا د هر ارمان ـ د سرو ګلونو پسرلے یم
ستا سينه ـ ستا لوظونه ـ قسمونه ـ وچي باني

ازغي راله په سترګو کښي تومبي ـ ستا د يادونو
توبه ـ دا بي ایمانه ـ موسمونه ـ وچي باني

د ګل هره خندا ـ عابده ـ ګل ـ او بهارونه
زمونږه ارمانونه ـ حسرتونه ـ وچي باني



اوس خو مې دا مات زړه له خپل خانه هم ویزاره دے
دا داسې ګلاب دے چې په خپل کور بې بهاره دے

دلته هم یو وخت وه ـ خزانې وې د رشتو برتې
دلته نن هم وخت دے ـ خو خالي له انتظاره دے

دې اسمان ته ګوره ـ چې دې خاورو ـ خوالې خاورې کړې
بیا هم په دې زمکه هر مئین زړه ناقلاره دے

ژوند ـ چې د ترخو حقیقتونو د صحرا نمر دے
دا د غزل خوب په خپل تعبیر هم نااتباره دے

ټول عمر تۀ وغوښتې ـ عابد ـ نور هیڅ خبر نۀ شو
دا لیونے زړۀ ئې چې بې لار دے ـ کۀ په لاره دے



☆

اے ۔ محبت کیږي له مستۍ سېوا ۔ څۀ نشته ګورے
د نمر په کور کیږي له ګرمۍ سېوا ۔ څۀ نشته ګورے

څنګه ۔ څه وایه کنه ۔ څۀ دي ابتیے شرط د دیدن
ما سره بې له زندګۍ سېوا ۔ څۀ نشته ګورے

زۀ ۔ چې لا اوس هم ستا د مخ په ګل خواني شیندمه
زما یقین دے ۔ چې له خدائے سېوا ۔ څۀ نشته ګورے

چرته خې ۔ چرته ۔ بیا د چا د ماښام بابې نولې
وخته ۔ یو کور کیږي له سلګۍ سېوا ۔ څۀ نشته ګورے

شته سخن فهمه خلق ډېر ۔ خو ستا عابد ته نژدې
بې له غزل د شاعرۍ سېوا ۔ څۀ نشته ګورے

صبری قالبے



روایه چې زړۀ دې په ما - څومره مهربانه دے
کورم - چې ریښتیا دا چنار تلے تر اسمانه دے

نور به څۀ ریښتیا د دې دوران وی - نور به څۀ خوارۀ
هر سړے د زړۀ نه تنګ - په ژوند باندې ستومانه دے

هاغه ستا د لاس د ارمان ګل - چې پکښې ګل نۀ شو
هاغه یو مضمون د مینې - نن هم بې عنوانه دے

اوس مئین د مینې په بانګ هم کلیمه نۀ وائی
اوس د دوران غېږ د سپرلی تال دے - پرې شانه دے

ته زما خبره واوره - اے - لېږ ماته وګوره
پرېږده دا عابد - سړیه - دا څۀ بې ایمانه دے

په سترګو کښې خېرې ـ په خله غلې ـ ستا په شان
زما د کتاب شوې ټولې غزلې ـ ستا په شان

نه ګل ـ نه پسرلے ـ نه خوشبوئی ـ نه رنګینی
بل نشته په ټول ښار کښې داسې ښکلې ـ ستا په شان

نازک شان ـ لکه پروت چې وی شبنم ـ د ګل په مخ
ښکا مې ستا د نوم غزل لیکلې ـ ستا په شان

مرغی والوتې لاړې ـ وچې پاڼې په هوا شوې
اشنا یمه یادونو دې لوټلې ـ ستا په شان

یو خط ـ چې پرې اقرار د محبت ـ په اوښکو لیک دے
نه نه یې ـ خو ما بیا هم دے ساتلې ـ ستا په شان

وهی بربرکو بسې اوس منډې په صحرا کښې
عابد دې لیونے شو ـ جلې جلې ـ ستا په شان

۱۰ ـ فروری ۲۰۰۱ء مردان (صوتی قافیې)



سپرلے چې راغے ۔ نو له زړه نه مې قرار وُرک شو
خوند د وعدو نه چې اشنا ۔ د انتظار وُرک شو

د زمانې سپین سترګی نمر ۔ ستم به نور څۀ وایم
د کجل رنګ مې له وېښتو نه ۔ په ناتار وُرک شو

د خط اسمان کښې دې سپوږمی د شونډو ۔ اور ورَوی
د ګل په غېږه کښې راګېر ۔ د شپو بهار وُرک شو

اوس راسره وۀ ۔ دا دې اوس مې لړزېدۀ سینه کښې
تا راګېل په داسې رنګ ۔ زړۀ رانه یار ۔ وُرک شو

مینې دې ګله سرګردان کړو ۔ خو پاګل ئې نۀ کړو
عابد نه لارې ورکې نه ۔ عابد په لار وُرک شو

۱۳۔ فروری۔ ۲۰۰۱ء مردان



دعا کوه ـ چې په دې لار رابسي را نه شي څوک
زما او ستا په شان دې نور چرته جدا ـ نه شي څوک

ژوه زیږه پانه ـ د خزان وقار په ما جوړ دے
نور دې خوانې کبني داسې چرته ـ په هوا نه شي ـ څوک

ګل د سحر مستې هوا ته ـ په ټوټوټو ووي
څوک دې منين نه شي ـ بې وار دې په خندا نه شي څوک

حساب د ډېرو رحمتونو ساتل هم عذاب شي
د ژوند په لارو کبني دې ـ په خدایه ـ تنها نه شي څوک

ساغه ـ چې کړه وړه ئې ادب دے ـ هر یو لفظ ئې غزل
ساغه عابد په شان په ستا منين پیدا نه شي څوک

۱۴ـ فروری ـ ۲۰۰۱ء مردان



مینه ـ شبنم ـ شراب ـ خُمار هم زندګی وریږی
دا میخانه ده ـ دلته ګام په ګام ـ مستی وریږی

مردان کښې څۀ دی ـ؟ د دې خورې خوشبوئی څنګه ده
دلته ښکلا ده ـ هر قدم کښې شاعری وریږی

اسمان ته ګورمه ـ حیران یم ـ سمندر ته د زړۀ
وږۀ صحرا کښې او باران کښې تشنګی وریږی

را ـ چې دا ستورے د تندی دې ـ په دې شونډو کېږدم
عمرونه وشو ـ ستا خوشبو مې په زړګی وریږی

تلے چې عابده د نمر مخې په لمنه پسې
بیا خو فتنې په خامخا اوس اسمانی وریږی

۱۴ـفروری ـ۲۰۰۱ء مردان



تا ووړې په خندا کښېږي ـ زۀ راځمه ـ زندګي شوه
ملګرې مې په لاره ځو قدمه ـ زندګي شوه

ځواني ده ـ مېخانه ده ـ جام ډے ـ ته يې هم سپرلے دے
نن ښکاري مهربانه په ما ـ سمه زندګي شوه

سينه باندې چې ګورمه پتنګ ته ـ ستا د شونډو
منمه ـ په سر سترګو ئې منمه ـ زندګي شوه

نن لوظ د راتلو ئې چې ريښتيا راسره وکړو
اشنا جوړ معلومېږي چې مې کمه ـ زندګي شوه

نۀ بانه ربي ـ نۀ مې سترګه ربي ـ خو عابده
خفه يمه اوس هم چې ـ بې صنمه ـ زندګي شوه

۱۵ـفرورۍـ۲۰۰۱ء مردان



غزل غزل مې کړه ـ سپرلو په شان خبرې وکړه
ماته د ګل د خوشبوئو په شان ـ خبرې وکړه

زړه د خوانۍ د لارو ستړے ـ د شبنمو تږے
شراب شراب شه ـ د توبو په شان خبرې وکړه

خلقو چې مينه مينه وې ـ هغه جوړ ته بې ـ ګله
ليږې د زړه د درزېدو په شان خبرې وکړه

جواب دې څڼه راوړه ـ رېباره ـ زړه دې مړ ولې دے
وژنې مې ـ شايه ـ د ژوندو په شان خبرې وکړه

پرېږده چې اور واخلي لمبه شي ـ د اغيارو زړونه
وخانده ـ لاس را ـ د ډيوو په شان خبرې وکړه

چې تاو راتاو ئې شي لفظونه ـ د غزل په شانې
عابد ته نن خپلو کمڅو په شان خبرې وکړه

۱۵ـ فرورى ـ ۲۰۰۱ء مردان



محبت څۀ دے ۔ ستا لاس دے ۔ کله سوال ۔ کله جواب شۀ
چا چې وبائیله سراب شۀ ۔ چا چې وکتۀ ګلاب شۀ

هره پاڼه ستا تصویر وۀ ۔ هر یو لفظ ئې چې غزل وۀ
هاغه زړۀ ذرې ذرې شو ۔ رانه ورک هاغه کتاب شۀ

اوس د ستورو به رڼا کیږي۔ د تیارو به تکل ګرځم
ستا د مخ ۔ زلفو ۔ ارمان کیږي ۔ زړۀ مې لاړ خانه خراب شۀ

د سپرلی د سرو ګلونو د زړۀ حال به څۀ افشا کړی
د وطن پښتون زلمی ته چې کتاب لوستل عذاب شۀ

لیونے شانې هلک وۀ ۔ چې هر ښکلی بانډې ورک وۀ
هاغه ستا عابد چې څۀ شۀ ۔ نۀ څۀ سوال شۀ ۔ نۀ جواب شۀ

٢٢ـفروری ـ٢٠٠١ء مردان



هره ساه ګلاب دے ـ هر نظر بربرکے دے
زړۀ منین هم عجیبه دے ـ بس اوتر بربرکے دے

(ورشه ورشه او زما د غزل لفظ لفظ بړي قربان کړه
هغه ګل چې خفه شۀ وي ـ ترې لوفر بربرکے دے)

بیا پاګله هوا نولی ـ نن مالوچ ګلونه
بیا دوکه د وچو پاڼو په څادر ـ بربرکے دے

دے یو تال ـ چې بړې سپوږمی څانګی د ستورو په چمن کښې
بس یو خوب دے محبت ـ یو مسافر بربرکے دے

یو خندا ئې لکه ساز ـ ښکاری نرګس په کټوری کښې
ول خفګان ئې لکه څان نه ـ مرور بربرکے دے

هره ساه وېشی عایده ـ هره لپه کښې رنګونه
څۀ خوشبخته خوشبوی ـ څۀ بختور بربرکے دے

۲۵ـفروری۲۰۰۱ء مردان



د مستو هواګانو او ګل شر دے ۔ چې زما دے
سپرلي باندې د هر ښکلي نظر دے۔ چې زما دے

سپین ګل په سپینه پاڼه راته جوړ کړی ۔ ښکلے ۔ وائي
دا زۀ یمه ۔ او دا زما هنر دے ۔ چې زما دے

هر څو که د خپل خوئي نه یار مجبور دے ۔ لرې ګرځي
زما پرې دا یقین دے ۔ دا باور دے ۔ چې زما دے

نور څۀ دی دې کتاب کښې مې د ژوند ۔ علامتونه
د مړ پرېړکي دا بو وزر دے ۔ چې زما دے

منمه چې دنیا ته به ۔ ګل مانه ۔ جدا ښکاري
عابده خو دا ۔ ښه ده ۔ خدائے خبر دے ۔ چې زما دے

۲۸۔فروری۔۲۰۰۱ء مردان





هره خیره ـ سبا د نوم ـ د زندګی اواز دے
خوانی خُمار دے ـ د شرابو د مستی اواز دے

سپرلی تری رنګ اخلی ـ ګلونه تری خوشبو پټوی
زما جانان ـ د داسې مستے رنګینی اواز دے

د داسې درد معنٰی به څهٔ وی ـ چې ئې څرګنکې نهٔ وی
خدایه دا ژوند دغسې تول د تنهای اواز دے ؟

نهٔ تنده ماته شوه ساقی ـ نهٔ صراحی ماته شوه
دا شور د څهٔ دے ـ؟ دا د کومې خوشحالی اواز دے

هم مرګ ته ګوری ـ هم عابده په قاتل پسې ځی
څومره پریشانه ـ د الفت د مجبوری اواز دے

وینی ـ چې ګل ژاړی ـ شبنم ژاړی ـ رنګونه ـ ژاړی
لا دې د باغچه هم دا زړه مې ستا یادونه ـ ژاړی

د بې اسرې خوانی ارمان ـ الوتې وچې پاڼې
لکه صحرا کښې چې په ګل پسې بادونه ـ ژاړی

یا خو زړګیه ـ هر څۀ پاتې شو ـ یا وصل یار
دا چې ربار خوری هره ساه کښې قسمونه ـ ژاړی

د خدائے له پاره وایه چرته یې ـ چې نۀ دې وینم
لاریسې دا لارې ـ کوڅې ـ وشو عمرونه ـ ژاړی

ستا د الفت چپو ماشوم کړو ـ د عابد هر نظر
مخ ته یې کا داسې نیولې ئې لاسونه ـ ژاړی
٤ـ مئی ـ ۲۰۰۱ء مردان

د ژوند مرثیه

هن
دا ژوند لا څه شے دے
بس یوه دوره ـــ؟
چې نۀ په اسمان وی نۀ په زمکه
د فطرت یوه لویه مجبوری
چې ـــ نۀ ئې انتها معلومه او نۀ ئې ابتدا معلومه
بس خو وائی ـ ژوند دے
او ژوند
ژوند یو نۀ لیدونکے خوب دے
چې په تعبیر ئې صرف دوه لفظونه لیکلي کېدېشي
او هغه هم
بس
د خدائے کار دے

مئی ۲۰۰۱ء مردان

(د مور د مرګ د غم په تاثر کښې)

CONFUSION

زۀ ډېر زيات ستړے يم ـ خو خدائے زده چې په څۀ ستړے يم
ستا د وعدو نه ستړے ـ نانا ـ د ژوند د ناکړدو نه ستړے
په هره ساه کښې يو خواهش ـ يو ناممکنه خواهش
په هر قدم د ورستنی وران شۀ وی بل فکرونه
کله د ستورو تمنا ـ کله د ګلو نوستل
زۀ پوهه نۀ يم ـ چې زۀ څۀ غواړمه ـ څۀ ته ګورم
زما د شکو د محل وبۀ وبۀ سوچونه
زۀ څۀ ته ناست يمه ـ د خدائے له پاره ما پوهه کړه
ستا د وربل سپوری ته ـ نانا ـ د خپل خاموش غزل سپوری ته
زما د ذهن دائيره کښې مختلف رنګونه
سرې د پتنګ وزرې ـ ستا د ګلابی شونډو چاپ
کله په سپين تندی د تور خفه خفه خال سپورے
په غنمی دنګه مری کښې د زنځير سپرلی ته
زۀ خبر نۀ يم ـ چې زۀ څۀ وينم ـ او څۀ وايمه
زۀ شاعر يم ـ خو بنديوان يمه په تار د خوشبو
ليږ مې ته هم د خپل نظر په پستو لهجو واخله
زۀ ډېر زيات ستړے يم ـ خو خدائے زده چې په څۀ ستړے يم

٦ـمئی ـ١٠٠٢ء مردان

☆

نمر ـ سپرږمي ـ خوشبو او ګلاب ـ زۀ او تۀ
مسته هوا ـ جام او شراب ـ زۀ او تۀ

تولې قيصې خوب ـ تولې رشتې دروغ
بس خو يو ريښتونے کتاب ـ زۀ او تۀ

ګل وي ـ نشته ـ کوم دی ؟ اوس ريښتيا هئين
زر مي ورته ووې ـ جناب ـ " زۀ او تۀ "

چا سره احساس وۀ ـ نور ـ د بل د غم
بس خو ګله شو په عذاب ـ زۀ او تۀ

هر سرے عابده ـ ورک له يو بله
يو بل پسې ورک بې حساب ـ زۀ او تۀ

۱۹ ـ مئی ـ ۲۰۰۱ء مردان

☆

ورک ورک ـ ذرې ذرې ـ سترې ستومانه ـ زندگی کړم
لا نور به څهٔ اتبار په سر گردانه ـ زندگی کړم

دوه لارې ـ د غرمې ګل ـ یا غزل د ګل په ژبه
حیرانه محبت ته دې جانانه ـ زندگی کړم

یو ساز ـ چې د رنګینې حادثې ـ دعا ترې ووری
مجبور په عاشقۍ باندې دنیا ـ نه ـ زندگی ـ کړم

ما تل لکه د نمر په زیر وجود هم ـ لار وهلې
زهٔ ناسې بغاوت ته جوړ ـ جانانه زندگی کړم

فقیر دې د کوڅې ـ سر د غزل په تار تړلې
نن پوهه په جواب خپلې پرېشانه ـ زندگی کړم

ما خوب ګڼهٔ ـ چې تا مې ګل په لاسو کېښې ریجې کړو
عابده حقیقت شو ـ چې بیل ستا نه ـ زندگی کړم

۲۵ـمئی۔۲۰۰۱ء مردان



تل به یو خاے یو ـ دا لفظونه ئې لیکلی پرېښي

چا دوه ګلونه په یو سور ربن تړلی ـ پرېښي

څو تصریرونه ـ څو خطونه ـ څو وعدې د بهار

بس دا یو څو نخښې ـ په تول ژوند کښې ښاغلی پرېښي

دا به هر ګام د انتظار قیامت څه نوې نه دے

یار همېشه مونږه هم داسې دردېلی ـ پرېښي

نور به د دې نه سېوا مرګ د ارمانونو څه وی

چې د راتلو تول قسمونه هاغه ښکلی ـ پرېښي

اتبار د مېنې درله نور عابده څه درکړمه

ستا په سر ګوره ـ دی هر چا راسره ـ کلی پرېښي

۴ـجون ـ۲۰۰۱ء مردان



سپرلی ئې د ګل ګل خوانی نوستلی دی په لار کښې
یو ښکلے دے ۔ چې ماته ئې خندلی دی په لار کښې

ژوند مرګ وه ۔ خو کۀ ستا د مست نظر اشاره نۀ وه
دېوال باندې چا ښکلی ته لیکلی دی ۔ په لار کښې

قرار به مې زړۀ څۀ واخلی ملګرو اوس په کور کښې
خوارۀ خوارۀ چې ګل راته کتلی دی ۔ په لار کښې

یو اوښکې دی نمکینې ۔ بل وېۀ دی د انګورو
چا څښلی دی په کور کښې او چا څښلی دی په لار کښې

عابده چا له مونږ چې تقدس د قلم ورکړو
نن مونږ ته د قد کرښې ئې رانښکلی دی په لار کښې

۱۹ ـ جولائی ـ ۲۰۰۱ء مردان

☆

دی الوتي رنګینی په هره خوا ـ هوا خوانی ده
چي دا مست غزل د چا دے ـ دا د چا هوا ـ خوانی ده

سپوږمی ناسته په ګل څانګه ـ د خوشبو مشال ته خاندی
څۀ چپی چپی یادونه ـ څۀ هوا هوا ـ خوانی ده

یا خو ستا د کور سپرلے دے ـ یا زما د غزل شور دے
د اواز ګلونو نوستي په خندا ـ هوا ـ خوانی ده

ته چي راشی په تندی می د ډېر شونډو تصویر کېږدې
زما دا هوا ژوندون دے ـ زما دا هوا ـ خوانی ده

هر نظر د ګلاب پانه ـ هره سا رنګین خوبونه
اوس خو ومنه زړګیه ـ چي ریښتیا ـ هوا خوانی ده

زما هر تار کښې د لمنې ـجذب کړي ستا نامه ده
زما هر خل خار کړي ستا په یو ادا ـ هوا خوانی ده

مونږه دواړه یوُ عابده ـ د خفه موسم وریځې
نه زما هوا خوانی ده او نه ستا هوا خوانی ده

۱ ـ اګست ـ ۲۰۰۱ء مردان



دی د هر سری ـ غمونه دلته کیبي
خوک اخلي ـ "پردي غمونه" ـ دلته کیبي

گل پکښي ریبي ـ لېوني در په در
وېشي پسرلي ـ غمونه ـ دلته کیبي

خکه ساقي تاله راځي ـ هر سړے
وینځي د زړګي ـ غمونه ـ دلته کیبي

نوره د دنیا څۀ معنٰی ـ نۀ راځي
گام په گام کیبي دی ـ غمونه دلته کیبي

بنکاری ـ چې دا خلق هم زما په شان
بس په لبو ځبیي غمونه دلته کیبي

هلته هم یو غم دې په سر ـ سوال جواب
هم دی ـ لېوني غمونه ـ دلته کیبي

کور چې د خندا غواړي ـ عابده ـ تل
بیا خو به راځي ـ غمونه ـ دلته کیبي

۱۷ ـ اگست ـ ۲۰۰۶ء مردان

☆

راګوري په شا شا ۔ خو يو يوټې ۔ ولړېږي نا
هر ښکلے لکه څې د زمانې ۔ ولړېږي نا

زړګيه ۔ سوال کوه ۔ چې بې اسرې نه شې محروم
ګردش د ساقي جان د پيمانې ۔ ولړېږي نا

دا زړۀ به مې رېښتيا چرته مئين شي ۔ بيا به څۀ کړې
څوک داسې دروازه کېښې په خانے ۔ ولړېږي نا

هر ستورے راته ښکاري ۔ ښکه ستا د تندې خال
سپوږمۍ چې رانه څې د تورې شپې ۔ ولړېږي نا

عابده ښکه اوښکې مې ۔ چپې چپې د سيند شوې
په منابه په ښندا ورې منګے ۔ ولړېږي نا

۲۸۔اګست۔۲۰۰۱ء مردان

(صوتي قافيې)



ته چې خاندې ـ لکه ساز د ګل غوړېږم
چې خفه شې ـ د شبنم غوندې څڅېږم

دا خان بنۀ راسره پټ کړه په څادر کښې
زمانه ډېره خرابه ده ـ وېرېږم

په سينه چې ستا شونډو چاپ ته ګورم
لکه لوند بربړکے ـ نمر ته ـ ګلابېږم

سرۀ وېښتۀ په سپينو ګوتو تار په تار کړه
زۀ د سپند لمبو ته هسې خوشحالېږم

د ژوندون غمونه ډېر شو ـ ستا له مينې
لېږ مې لاس په لاس کښې واخله ـ راغورځېږم

بېګا توله شپه تصوير ياندې دې پروت ووم
جوړې سوز مې په اعصابو شوې ـ پوهېږم

چپ شه چپ شه چې غيږ ونۀ کړې ـ عابده
اوس له ډېرې ګمنامۍ نه ـ رسوا کېږم

۲۰ـ اګست ـ ۲۰۰۱ء مردان



ټیک ده ـ ستا وعدې ته هم کتې نۀ شم
یار ـ خو تلوسې ته هم ـ کتې نۀ شم

وخت مې داسې کړېښې ـ په مخ ـ راخکلې
اوس چې ـ ائینې ته ـ هم کتې نۀ شم

خم ـ خو ولې داسې سرګردانه یم
شانه ستا کوڅې ته ـ هم کتې نۀ شم

نۀ کۀ مې ساقي ـ تنده لیدې نۀ شي
زۀ د وار کاسې ته هم ـ کتې نۀ شم

ټیک ده ـ چې عابده ـ شپه په بڼه نۀ وي
دې د ژوند غرمې ته هم ـ کتې نۀ شم

۱۸ ـ اګست ـ ۲۰۰۱، مردان

☆

اوس مې هاغه زور د نظر چرته دے
ورک شو رانه - کور د نظر - چرته دے

ګرځي تنهائي مې - په تپوس تپوس
شور د بنګړو - شور د نظر - چرته دے

ورخ په ورخ زياتيږي مې - خواږه د درد
ستا هغه تکور د نظر - چرته دے

اوس مې په غزل - ستا د رنګونو شال
هاغسې راخور د نظر - چرته دے

دا د زړه چمن عابده - بې له ګل
هاغه شان سمسور د نظر - چرته دے

۳۱ ـ اګست ـ ۲۰۰۱ء مردان

اظهار

ګلې تا څۀ ووې۔۔؟
تا ماسره بې کچه محبت کړے دے۔۔؟
تاته زما خوشحالي ګراني دی د خان له غمه۔۔؟
خو تۀ د شرم او حیا په تار تړلې وسې۔۔؟
تاته زما د غیږ خوارۀ لکه د ګلو خوب دے۔۔؟
تۀ چې ما ووینې ۔ نو بیا دې زړۀ قرار نۀ کوی۔۔؟
تۀ زما مینه د خپل مست پېغلتوب وینه ګڼې۔۔؟
تا ته زما لاس د تمام جهان اسره ده ګلې۔۔؟
یه په ما ګرانې ۔ دا دې څۀ ووې ۔ دا څۀ دې وکړل۔
زما د ژوند په هره پانه خُماری خوره شوه
هر یو ګلاب د زلمیتوب می شرابی شو۔ څانګې
د زړۀ په کور کښې می اوروونه سرۀ ګلونه نولی
د عمر عمر د غم ساندې می سندرې شولې
شور می په زړۀ خور د خاموشو هواګانو شولو
د اوښکو ډوب ډوب سېلابونه می چپو واخستل
تنده می زیاته د خواهش شوه ۔ د شیرینې ګناه
یه په ما ګرانې۔ دا دې څۀ ووې ۔ دا څۀ دې وکړل
په ما دې څان د محبت په اباسین لاهو کړو
اور دې قسم دے په روانو وبو ولګوۀ

۲۶۔ستمبر۱ ۲۰۰ء مردان

زندګی

بربنډ یادونه دې زما په زړهٔ شبنم وروېږی
زما هر څاڅکې د خولې ماته شراب ښکاره شی
یو ګلابی پرېږکے مې په سینه ربېږی
لاس مې خالی دی ـ خو په شونډو مې د منیو خوند دے
یو تود احساس مې د وجود په هر یو رګ کښې خور شو
ساه مې بې کوره ده ـ خو کور مې د زړګی ودان دے
لکه په غېږ کښې د وریځو باغندې مې څانګې
په هر نظر د خُماری هوا یو ډُهند شانی دے
لکه په زنګ د ویو شنه زمکه ـ مهین تصور
چې مې خوئیږی هر قدم برې تېنګېدې نهٔ شمه
فضا اوده ده ـ خو یو شور دے د مستی خاموشی
ګرېوان مې نشته ـ خدایه لوټ شومه ـ وېهٔ وبهٔ شوم
وجود مې توّل لکه د ښیو صدفې قطره شو
جام دې رادبخوا کړه ـ چې دا اب حیات توئی نهٔ شی
لږ لاس دې دېخوا کړه ـ چې نن درله خوانی درکړمه
خبر دے کهٔ ورک شم ـ خو چې تاله زندګی درکړمه

۲۶ـ ستمبر ۲۰۰۱ء مردان



تا که په نفرت کښې انتها وکړه
ما په محبت کښې انتها وکړه

ته ئې رانه واخستې هم زړۀ ـ خوانې
ژوند په خپل قیمت کښې ـ انتها وکړه

ستا او زما نوم دے د هر کور په ور
خلقو په محلت کښې انتها وکړه

دومره رانږدې شوې ـ چې دې وینم نا
نن دې شرارت کښې انتها وکړه

زۀ د سپوږمۍ باغ او ته مرغۍ د بنار
نن دې په الوت کښې انتها وکړه

ګل مې د غزل په ربن وتړۀ
نن خو مې وحشت کښې انتها وکړه

خان دې په دښمن ـ عابده ـ دوره کړو
دا دې حقیقت کښې انتها وکړه

۱۸اکتوبر۲۰۰۱ء مردان



زما په زړه باندې وریږي ـ په ګوګل وریږي
څومره ګولۍ په پښتنو چې ـ په کابل وریږي

څنګه خان غلې کړمه ـ څنګه لاس په سترګو کېږدم
ینګړې ماتیږي ـ هم سېلاب کجل وریږي

تاریخ ګواه دے ـ چې مې سر چاته ټیټ شۀ وې نۀ دے
کنی دا کاڼی د ستم څو په ما تل وریږي

ښکاری چې بیا څوک په یو بل پسې بې واره ژاړي
څو ورځې وشوې ـ دا وریځې مسلسل وریږي

یاران کۀ هر څۀ هر څۀ وائي ـ کۀ منی نۀ منی
په ټول مردان مې رنګ عابده د غزل وریږي

۹ـاکتوبر ۲۰۰۱ء مردان



څهٔ بلها خوند کوی په عمر پس یو بل ته کتل
ګله دړدونه شمېرل ګله بهارونه شمېرل

د محبت رشته اوس صرف پیکه شهٔ وي ګلاب
لکه د نمر غشي د واورې په سینه ښخېدل

دلته خوشحاله ځانګې هم نیسي پرېشان خوبونه
دلته اتبار نشته د ژوند په ناقلاره مزل

نهٔ غرور لوئې وهٔ ـ نهٔ بېښتو ـ خو د ضدونو شور وهٔ
لارې جدا شو ـ څهٔ ما نهٔ منل څهٔ تا نهٔ منل

د هرې اوښکې ګلی غوارې شبنمی رنګونه
ګله به راشي په لاس ستا مازیګر رنګه وربل

پس خو صحرا کېښې د غرمې د ګل لوګر سوالونه
څهٔ به عابد وی ـ څهٔ به وی ستا د عابد دا غزل

۱۲ ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۱ء مردان



زړه د ګل کرلو ـ شپه راغلې ده
ژوند پرې د نوستلو ـ شپه راغلې ده

تورې شوې وریځې ـ شبنمے شو یاد
بیا ساقي د څښلو ـ شپه راغلې ده

یو بل پسې ځغنت ـ پرېرکو هسې
نن د الوتلو ـ شپه راغلې ده

شور دے ـ خاموشي په ګډاګانو دی
تیک د غځه کېدلو ـ شپه راغلې ده

جام ئې د سپوږمۍ ـ راوړې خان سره
مئے کښې د لامبلو ـ شپه راغلې ده

ګل پاڼدې عابده د یو مست غزل
بیا نن د لیکلو ـ شپه راغلې ده

۱۶ ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۱ء مردان



خکل مې کړو ګلاب ـ ته راته یاد شولې
نن څۀ بې حساب ـ ته راته یاد شولې

پوئې نۀ شوم ـ چې پوئې شوم ـ کۀ پوئې نۀ شومه
پند مې کړو کتاب ـ ته راته یاد شولې

ګله د ژوندون ـ ورکو سوالونو کښې
شوم چې لاجواب ـ ته راته یاد شولې

خور به هر نظر مې شو ـ غزل غزل
وۀ مې څښل شراب ـ ته راته یاد شولې

نور به د توبې د ګناه ـ څۀ وایم
دا مې شو ثواب ـ ته راته یاد شولې

خاورې به عابده ـ قرار ومومم
ګوره بیا ـ جناب ـ ته راته یاد شولې

۹ـ نومبر ـ ۲۰۰۱ء مردان



دا کتاب د زندګی هم ـ عجيبه رنګه کتاب دے
چرته مينه بې حسابه ـ چرته تنده ده ـ سراب دے

چرته خانګي چې رنګونه ـ چرته مستي چې وزمې وی
زۀ متين په هاغه ګل يم ـ زما خوښ هاغه ګلاب دے

هره ساه امتحانونه ـ هر قدم کښې تيندکونه
بې له تانه چې تيرېږی ـ دا خو ژوند نۀ دے ـ عذاب دے

نور به څۀ وايم ـ د مينې معنٰی څۀ ده ـ په تاريخ کښې
محفوظ کړې ما کتاب کښې ـ ستا د لاس هاغه ګلاب دے

نۀ مې زړۀ ورله ورکړې ـ نۀ مې زړۀ غوښتې عابده
خفه شۀ وې رانه بيا په څۀ خبره ـ چې جناب دے

۱۹ـ نومبر ۲۰۰۱ء مردان

چې کوم ښکلے رانه ګوری ـ له خدا نه ګل خوريږی
رانه ښکاری په تندی مې ـ لا تازه د شونډو چاپ دے

☆

شور دې د بنګړو دے ـ چې ژوندے یمه
سورے د لمبو دے ـ چې ژوندے یمه

ساه مې پکښې توله ـ چې انختې ده
کار دې د کمخو دے ـ چې ژوندے یمه

ژوند کۀ په هر ګام کښې ـ شوه تيارۀ د مرګ
خل ـ دې د لمبو دے ـ چې ژوندے یمه

زۀ خو ستا مئين يم ـ په تا مر يمه
خيال ـ د ليونو دے ـ چې ژوندے يمه

څومره مجبوري دی ـ ژوند ته وګوره
زور دې د ښېرو دے ـ چې ژوندے يمه

هره ورځ عابده ـ په دار خېژمه
دا احسان د شپو دے ـ چې ژوندے يمه

۱۷ـ دسمبر ۲۰۰۱ء مردان

نمر پربوته

فضا خاموشه ده۔ خفګان هر یو نظر اخستے
د پښتونخوا غیږې ګریوان ۔ غیږې ګریوان پاتې شو
تار د مطرب ګوتو کښې وشلیدۀ ۔ هر ساز اوډۀ شو
هره نغمه د ساندې ویر شو ۔ هر یو ګل لمبه شو
په هر قدم د نیمګرتیا یو پرقهدونکر احساس
یو تت تصویر ۔ لکه څوک سترے له ژوندونه ۔ ژاړی
یو شور او زوږ دے ۔ هر سرے دې ستومانی اخستی
یوه تیره کریکه راځی ۔ د زندګی له کوره
لکه راکاری څوک خدا له ۔ په مخ دواره لاسه
لکه څوک ولی د بنادی د کور تمبی په ګټو
ژاړی په چغو چغو ۔ ګوری د اسمان په لوری
په دواړه لاسه ئې لمنه د پښتو نیولی
هر یو بیغور ئې ۔ د فطرت سینه په کانړو ولی
هره خبره ئې څپیړه ده ۔ د زمکې په مخ
څومره لوئې ظلم دے ۔ پخپله دا ژوندون ورکول
څومره زیاتې دے ۔ زندګی سره د مرګ دا تړل
هر څۀ دې وړی ۔ خو چې ناځاپه فیصلې نۀ کیدې
د شمار سجدې په څۀ غرض چې د کعبې نۀ کیدې

څومره په بنه وه ۔ باتوران چې رانه نۀ بیلیدۀ
چې د رضا تندے همېش لکه د نمر ځلیدۀ

۳۰ ډسمبر ۲۰۰۱ء مردان

(دلوړے ایکونکی افضل رضا په ناځاپی مرګ)



ما وې د نوي کال شعر به ستا په نوم ليکمه
خو ښۀ نۀ ښکاري ـ غم چې د خندا په نوم ليکمه

او او ـ په ما الزام د خودسرۍ دے ـ په دې وجه
قيصه د توري شپې چې ـ د سبا په نوم ليکمه

رېښتيا دي او کۀ نه ـ اوس مجبورۍ د الفتونو
ښېرې دې چې اشنا هم د دعا په نوم ـ ليکمه

خائيرې نه هيڅ خاطر کښې ـ ستا د حسن تعريفونه
خو څۀ د چا په نوم او څۀ د چا په نوم ليکمه

جامې لکه پرهر ته ـ په زور اچوم د ګلو
قيصه د زړۀ چاودون د مسيحا په نوم ـ ليکمه

کېدې شي چې خبره د کور ـ باتې شي په کور کښې
يو خط د زړۀ د غلا ـ نن د اشنا په نوم ليکمه

عابده په رېښتيا چې ـ محبت کرم بې ايمانه
نامه د بې وفا چې ـ د وفا په نوم ليکمه

۲ـجنوري ـ۲۰۰۲ء مردان



نازک ئې دی د زړه هسې نازونه ۔ خدای دې خبر کړی
راغلې د ځوانی دی پرې بادونه ۔ خدای دې خبر کړی

توتې مې د زړګی پرتې ۔ د نسر په کټوری کښې
لیدلې څۀ ناشنا مې دی خوبونه ۔ خدای دې خبر کړی

رانولی مې په مخ ۔ د چونګ ایرې ۔ چې ورته ګورم
پراته په ائینو داسې ګردونه ۔ خدای دې خبر کړی

یا ستا د کمځو ولونه ۔ یا لفظونه د غزل دی
راګېر پکښې زما د ژوند رګونه ۔ خدای دې خبر کړی

ریبیږی ۔ لکه باد سره غوټی ۔ د ګل په سپوری
لرزیږی دوه زلمی منیان زړونه ۔ خدای دې خبر کړی

عابده بس اخستې د جواب د ویرې غم یم
مونږ ټول عمر له کړی دی سوالونه ۔ خدای دې خبر کړی

۳۔ جنوری۔۲۰۰۲ء مردان

☆

هغه پوئې شوې د وختونو ـ هېڅ په پته نۀ دے
څوک چې خبر لالیه ـ ستا له محبته نۀ دے

دا به ستا ناز وی ـ زۀ منم ـ ګلاب په شونډو مړل
لا مې زرګر خبر له دا سې شرارته ـ نۀ دے

د عمر عمر د ستم سبق ئې ـ دا راکړې
هر څۀ چې دې ـ خو ستمګر دومره بې پته نۀ دے

لاړه له ګوتو نه مې پرې شوه ـ باڼیوه د مینې
ما خو وئېل چې اسمان شته ـ سر مې بې چته نۀ دے

ګل خو بانه غواړی خندا له ـ د سپرلی د هوا
چا وې چې زړۀ مې په تربونو ستا راتلۀ ته ـ نۀ دے

لاړه ـ ټوټې شوه ائینه ـ تنهائی یو په دوه شوه
تۀ اوس هم وائې ـ چې لا غم په سل کرته نۀ دے

دا چې محفل په محفل هر چاته ئې ـ ذکر کوې
ستا د عابد دا غزل دومره بې قیمته نۀ دے

۱۴ـجنوری ـ۲۰۰۲ء مردان



لیمه پرېوځي - سر پرېوځي - هم پښتو پرېوځي
چرته وقار چې د شملو - او د پټکو - پرېوځي

ستا پښتنې مینې خو داسې - په وختونو دروند کړم
د زمانې باد مې پخپله اوس په پښتو - پرېوځي

شوه تار په تار چې لوپټه - د ځوانۍ مرګ انتظار
خود په خادر مې اوس یارانو - له اوګو پرېوځي

څهٔ به د مینې نظر - دښتې د ارمان ووهي
د قام زلمی چې مې ورځي - نو په لوګو پرېوځي

هر څهٔ حلال وی په هغوی - هره ګناه ئې ثواب
څوک چې ساقي ته سم له ورایه په سجدو پرېوځي

هیڅ بند ئې نهٔ راځي عابده - چې اوس څهٔ وکړمه
پټکے له سر مې - چنار قد ته - په کتو پرېوځي

۱۵-جنوري-۲۰۰۲، مردان

التجاء

وخته تاو شه ـ باده مست شه
گله خور بهار بهار شه
هر نظر مې لېونۍ کړه
هره ساه مې په ګډا کړه
هر احساس مې د ګل غېږ کړه
ما دیکه کړه دغه تال ته
چې سوچونه مې رنګین شي
چې خیالونه مې زلمي شي
چې مې زړۀ خانه خراب شي
چې د وخت له جاله ووځم
بیرته خوان شمه تکړه شم
د خیام قیصه تازه کړم
د دوزخ قیصه دروغ کړم
داسې شور شمه نغمه شم
چې د مرګ په سر چپه شم
بیا د مینې په دنیا کښې
نوې رنګ په ګلېدو شي
بیا مې زړۀ په درزېدو شي
بیا په ګل باندې مئین شم
بیا شپا مې د ژوند ساه شي
بیا نکهت شم په هوا شم
بیا مې هر بنګلې جانان شي
چې قسمت مې ګلستان شي
وخته تاو شه باده مست شه
گله خور ـــــــــــــ

۱۸ ـ جنوري ـ ۲۰۰۲ء مردان



يوازې زما ستا خواني نه ـ هر سړے كوى
يو خل دوه خو په ژوند كېږي مينه ـ هر سړے كوى

يو زۀ نه يم چې ستا د انتظار په نمر ولاړ يم
دې بنار كښې گذاره په وينه هر سړے كوى

اشنا د زړۀ رشته گورې د نيت په نوم خليږى
په خلۀ گنې خبره سپينه هر سړے كوى

ما ستا د نوم غزل چې پكښې خائے كړو نو رنگين شو
قيصه گنې د ژوند رنگينه هر سړے كوى

څۀ وشو كۀ عابده ما يو گل په زړۀ كښې خائې كړو
څۀ غلا خو د لوفر سپړلي نه هر سړے كوى

۳۰ـجنوری ـ۲۰۰۲ء مردان

☆

مسته هوا وه ـ او پياله راته ساقي بخښله
ګناه ته چا کتل ـ تقدير چې مجبوري بخښله

چا مې په سترګو لکه ګل ـ پرېرکي کېښول
چې بې خودي مې د نظر ورته مستي بخښله

بنه وه غزل مې د ګل پاڼي ترې راټولي کړلې
ګني نو چا دې سمندر ته زندګي ـ بخښله

وجود مې ټول لکه د ګلو ـ په شبنم ولامبل
بيا يو هلک او جينۍ يو بل ته خواني ـ بخښله

هاغه ماشوم ـ اخر ماشوم هسې له زړه نه وېستم
چاته چې ما عايده ـ ټوله شاعري بخښله

۵ـفروري ـ۲۰۰۲ء مردان



خاندې مې خکه د غزل په ائينه کښې ـ سپوږمې
د شونډو چاپ ئې رالېږلې لفافه کښې ـ سپوږمې

د خپلې مينې ازاله زما له زونده ـ غواړې
نېټه ئې کېښوه د راتلو راته په شپه کښې سپوږمې

ستركې له شرمه مې كړې ښتې ـ د ګلاب لمن كښې
د تصور په مخ مې خكل كړه ستا دوكه كښې سپوږمې

ټول عمر ګرځي لكه نمر هسې له تاوه سوې
چا چې ليدلې وي يو ځل هم لويټه كښې سپوږمې

ښه ده چې زلفې دې نجوړ كړلې ـ چې شين شو اسمان
كنې فنا وه د ګرېوان په توره شپه كښې سپوږمې

داسې مې زړه لكه اسمان هسې داغي په ستورو
عابده ښكارې راته اوس د مئے پياله كښې سپوږمې
۲ـفروری ـ۲۰۰۲ء مردان

☆

خپل زړه راته ښکاريږي په ګريوان کښې د ګلاب
خوشبو محسوسومه اوس په ځان کښې ـ د ګلاب

هر لفظ مې د غزل ښکه سوالګر دے د بهار
کمې چرته څۀ راته شي ـ په شان کښې د ګلاب

هن واخله ـ کۀ سينګار پرې د خوشبو د غاړې کيږي
خواني مې پاڼه پاڼه ـ په ارمان کښې د ګلاب

احساس مې لکه مست بريښکے ـ شو په تويونو
ستا شونډې چې مې ښکل کړلې ګمان کښې د ګلاب

عابده زۀ او ګل چې اور وږۀ شو ـ نو لا ښۀ شو
چا کړې تماشه وه ـ په باران کښې ـ د ګلاب

۷ـ فروری ـ ۲۰۰۲ء مردان

چکله

دا د نیلام کوڅه ده
دلته کیږي هر څۀ شته ـ راخه ګله ـ ستا څۀ پکار دی
دلته غیرت په پټو سترګو مرګ ته چغې وهی
دلته کیږي شرم مۀ کړه ـ دلته تیندکونه مۀ خوره
دلته وجود لکه پابند په زولنو کیږي نۀ دے
دلته بنائیست لکه پټ شوي په پردو کیږي نۀ دے
دا د نیلام کوڅه ده ـ دا د راحتونو کور دے
دلته کیږي هر څۀ چې کوې ـ ښۀ په ازاد مټ کوه
دلته شراب او کباب دواړه ښۀ حلال رزق دے
دلته هیڅ جرم د غمو په خوراک نشته دے
دلته د شپې ورځې ـ د ښۀ او بد حساب نشته دے
دلته انسان هیڅ قیمت نۀ لری ـ پریشانه مۀ شې
دلته دولت د مخ کالې دے ـ دلته زر چلیږی
دلته که زور لرې ـ نو بیا هر یو نعمت خرڅیږی
دا د نیلام کوڅه ده ـ دا د راحتونو کور دے
دلته کیږي هر څۀ شته ـ راخه ګله ـ ستا څۀ پکار دی۔

۵ ـ دسمبر۱ ۲۰۰، مردان



ستا د بنائیست ـ زما د عشق ـ د زمانې داغونه
چرته پاکیزې د تندي نه ـ د سجدې داغونه

ژبه دې توره شه رقیبه ـ مخ دې تور وسه ـ تل
چې مې په سپینه لمن ـ سپینه مینه پرېدې ـ داغونه

هغه اثر دې د کوثر اوس هم ـ خېرو کښې شته
ډېر کهٔ واعظه په خېرو ـ پاکوې داغونه

تا لوېټه څنډ کړه ـ ما څنډ وهٔ څادر ـ خو نهٔ ځي
څومره پاېنهٔ دي دا د مینې ـ پېښتنې ـ داغونه

اوس هم ستا خط او ستا تصویر مې په کتاب کښې پروت دے
څومره خوږهٔ وي دا د تېرې زمانې ـ داغونه

دا خو ښکاره نخښې عابده دي د مینې د شر
دا چې دې ښکاري په سینه باندې دوه درې ـ داغونه

۱۴ـ فروری ـ ۲۰۰۲ء مردان

THE SONG OF MARDAN

دروزا مې د زړګي ـ د دوارو سترګو مې ارمان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
له سره راته ګران ـ له خپله تنه راته ګران دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
دا خاوره چې زما د بابا وينه پکښې رنګ ده
پښتو ـ د پښتنو چې د کابل سره ئې څنګ ده
دا ما ته بدخشان دے ـ هم ايران دے ـ هم افغان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
دا دې د ونو سيورى مې ـ ملګرى د وختونو
دا دې د ګودر غاړې مې ـ ګواه د الفتونو
دا دې په رنګينو خو مې غزل تراوسه خوان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
تېر کړې پکښې ما د ماشوتوب ښکلي وختونه
هم تېر پکښې په ما د زلميتوب ښکلي وختونه

دېره چې مې پکښې د سترګو تور ښکلې جانان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
رنګونه د سپرلي ئې په کوڅه کوڅه الوزي
خوارۀ د محبت پکښې چپه چپه الوزي
ښکلا پکښې ډېره ده ـ د رنګونو ګلستان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
دې دلته هر پرونې ـ لوپټه کښې حياګانې
رانغښتې ځادرونو کښې زلمو دي وفاګانې
هوا ئې لېونې تپه ـ هر ګل ئې غزل خوان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
عابده کۀ څوک تل د کراچې سندرې وائي
څوک ډېر د پېښور کۀ د سوالي سندرې وائي
خو ماته ولې بيا هم ـ دا مردان لکه اسمان دے
مردان خو مې مردان دے
چې مردان دے
۱۶ـ فروري ـ ۲۰۰۲ء مردان

(د مجلا طررو په اواز د هغۀ په ورمې کېسټ کښې ريکارډ)

☆

ن ئې راته وړې ـ د وعدو کتاب به نۀ ګوري
ا د لېونی زړۀ د سلګو ـ کتاب به نۀ ګوري

زيه مې منی ـ خو د وئيلو حق ئې نۀ منی
وائي چې بس صرف د پښتو کتاب به نۀ ګوري

هر چاته ريښتيا ريښتيا خبرې ـ چې به مخ کوی
دلته کښې د داسې ائينو کتاب به ـ نۀ ګوري

مينه ـ وروروَلی ـ وفا ـ الفت او بيا د يار کلے
ا ډوډو کښې پروت له زمانو ـ کتاب به نۀ ګوري

هيڅ بې هېڅه ولې ازار اخلې ـ د خوانی د غم
بس دې نور د ژوند د پايندو کتاب به نۀ ګوري

خکه خو عابد تراوسه ـ ستا د نوم په فال اوسی
مينه چې کوې ـ نو د پښتو کتاب به نۀ ګوري

۲۸ـ فروری ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

په يو تحفه ئې د ګلاب ـ د خط جواب راکړو
په کوم انداز راله جناب ـ د خط جواب راکړو

د شوندو چاپ ـ ورړوکے زړۀ ـ دوه د پتنګ وزرې
مستې خوشبو ئې د شباب ـ د خط جواب راکړو

څۀ په خندا ئې نيته راکړله ـ د کال انتظار
د عمر عمر ئې عذاب ـ د خط جواب راکړو

هم زما خط ئې ټول په اوښکو ـ لفظ په لفظ وينځلې
هم زما خط ئې په جواب ـ د خط جواب راکړو

په دواړه مخه ئې ليکلې تش ـ سلام ـ عابده
دا ئې ريښتيا چې لاجواب ـ د خط جواب راکړو

۱ـ مارچ ـ ۲۰۰۲ء مردان



تا چې راته څه وې ـ ما منلې دي
زهر مې په ليو ليو ـ څښلې دي

(وائي ـ اسمان ژاړي ـ د څو ورځو نه
وايه تا څهٔ داسې اوربدلې دي)

تا له مې خندا د ژوند ـ گټلې ده
ستا په نوم مې ټوله شپه ژړلې دي

يو دې د بنائېست ـ بل د ځوانۍ په نوم
مستې ـ دوه غزلې مې ليکلې دي

(ماته د ماښام تیاره ـ حال ووائی

تا څنګه کېږې نن اچولی دی)

تل برېرکو ـ خپلو وزرو کښې

ځاځکی د شبنمو رانغاړلی دی

ښکلے يې ـ بيا بيا شيشې ته مخ ګوره

تل مې دا دروغ خان ته وئيلی دی

ستا د تندی خال او ستورے څنګ په څنګ

ما د وريخ غېږه کښې ـ ليدلی دی

چا چې هم عابده انصاف غوښتې دے

هاغه خلق دار باندې ختلی دی

۴ ـ مارچ ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

لکه لوفره خوشبوئی چې - ناقلاره ګرځي
زندګي داسې د رنګونو منتباره - ګرځي

دا هم يو رنګ - د نرګسي مينې - اشنا وګڼه
څوک دې د لارې ګرځي - څوک درته په لاره ګرځي

د زړه د صبر چل مې - هيڅ راله په لاس نۀ راځي
سترګې مې تا پله جانانه - بې اختياره ګرځي

د عشق په څۀ وائې - هغين په کومو لارو سر کړي
لکه پاګل پرېږکے بې انتظاره ګرځي

ستا په محفل کښې شپې ته شپه وټيل - توبه شه مرګ دے
په دې ګناه عابد تراوسه لا سنګساره ګرځي

۱۱- مارچ-۲۰۰۲ء مردان

☆

نیسی لمن مې ـ چې ورخمه د وختونو په لور
ستا د نظر چپې مې وُړی د بهارونو په لور

سر خو لا پرېږده ـ چې ما مرګ ته هم کتلی نهٔ دی
کله چې تلې یم ـ د مینې د نرخونو په لور

پروت مې په لپه کېنې ـ زخمی برېرکے د نظر
کوری په برهٔ د بې رحمه اسمانونو په لور

ستا د الفت ارمان مې زړهٔ باندې وریږی پرخه
کهٔ د ازغو په لوری ځم ـ کهٔ د ګلونو په لور

ژوند رانه لا تومره په منابهٔ وُړی ځوانی ـ عابده
څومره چې زهٔ نعرې وهم د موسمونو په لور

۱۱ ـ اپریل ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

تا داسې راکتل ـ چې اشنا ـ تنده لېوني شوه
د زړۀ او له نظره سېوا ـ تنده ـ لېوني شوه

تا خکل کړه لفافه ـ او ما دې خط په دواړه مخه
ستا هینه لېوني ـ او زما تنده لېوني شوه

دې دلته کښې هم داسې ـ روایت د مساواتو
څوک سترے شو په څښلو ـ د چا ـ تنده لېوني شوه

یو پانه ـ چې یاد یوړله د خان سره په مخه
ن داسې ستا د یاد په ګډا ـ تنده لېوني شوه

عابده د دیدن د بارانونو په څۀ وائې
چې څومره راوریږی نو لا تنده ـ لېوني شوه

۱۷ ـ ابریل ـ ۲۰۰۲، مردان



زړه مې په کور کښې يو بوټې نۀ لګی
چې دې هيڅ پته د وعدې نۀ لګی

ستا د نظر برېښکی ـ او بهار
د دې خطونو لفافې ـ نۀ لګی

يا دې لاس راکړه او يا برېږده چې خم
يار ـ محبت کښې مې بانې نۀ لګی

شی به زړګونو کښې ګروهش ـ يو سړے
په هر يو قبر شنې جنډې نۀ لګی

ستا د بدن د سپوږمی باغ ته ګوری
زړۀ ـ په ګلاب کښې ـ د وږمې ـ نۀ لګی

هر وخت خبرې کړی په خلقو پسې
زما ـ عابد سره په دې ـ نۀ لګی

۲۶ـ اپريل ـ ۲۰۰۲ء، مردان

☆

ورک مې کړه په ورکو لارو راشه ـ ته
لېږ د نورو بښکلو نه ـ جدا شه ته

خبر دې کۀ زۀ نمر هسې ـ لمبه شمه
اے د سپوږمۍ ګله ـ په خلا شه ته

څوک دی ـ چې د زړۀ نه مې خبر دی نور
بس خو خپله غمه ـ په خندا شه ته

ټولې سوداګانې دې نور سر وخوړی
بس خو په دې سر کښې مې سودا شه ته

خدائیګو چې اشنا به شې ـ هر چا سره
لږ خو د عابد سره اشنا شه ته

۱ـمئی ـ۲۰۰۲ء مردان



ستا او زما په مینځ کښې - دا خلق هیڅ نۀ شی کوې
د قسمت لیک کښې د دنیا خلق - هیڅ نۀ شی کوې

تۀ د خدا پلوشې - دغسې ګل ګل - وروه
وژه لا ژوندے یمه اشنا - خلق هیڅ نۀ شی کوې

ستا د کرم طمعې ته ناست دی ساقی - باتې له ژوند
د عمر تیری دی بلها خلق - هیڅ نۀ شی کوې

هر څۀ چې کیږی - ښۀ او بد - دواړه له برې کیږی
بیا څۀ ثواب او څۀ ګناه - خلق هیڅ نۀ شی کوې

لکه د مست پرېرکی د وزر رنګ او تۀ - یو
خدائے مې قبوله کړه دعا - خلق هیڅ نۀ شی کوې

خنک ئې عابده په ترشل پاندې اوس سر ماتوې
څۀ شوې- چې وې به دې - زما خلق هیڅ نۀ شی کوې
۱۴-مئی-۲۰۰۲ء مردان



ما د وخت یادونه ـ لا د خان سره ـ وړې نۀ شی
دا زمانه ګله ـ دا دیوال ـ رانړوې نۀ شی

شی به ارمانونه ګناهګار مې بې خطا خطا
دا اودې نشې دې ـ له اوده سترګو راتوې نۀ شی

دومره خو شوم یوهه ـ چې مې زور د محبت شته دے
ماته چې رامخ شی ـ نو پرونے تینګوې نۀ شی

زۀ هاغه پښتون ته اخر څنګه پښتون ووایم
یو د پښتو تکے چې ـ په څېره هم لیکې نۀ شی

هغه د کچه عمر ـ الفت ورته یادیږی جوړ
خاندی ـ خو عابده ـ له حیا خواله راتلې نۀ شی

۲۱ـ مئی ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

ما له خو ستا ـ ارمان خواني وخوره
تا له د چا ـ ارمان خواني وخوره

ګلې ـ مئين له دې ـ خبر شوې کنه
طمعې ـ ژړا ـ ارمان ـ خواني وخوره

"شراب حلال دی د نظر" واعظ له
د دې ګناه ـ ارمان خواني وخوره

څوک د دروغو په وعدو تېروتل
چا له ریښتیا ارمان ـ خواني وخوره

ژوند کښې مې یو څلې له زړه ـ عابده
بس د خندا ارمان ـ خواني وخوره

۲۴ـ مئی ـ مردان



منم چې ستا درشلې ياره ـ بې سوالونو نۀ دی
خۀ وکړم ـ کرښې مې د لاس ـ د منتونو نۀ دی

دا هواګانې ـ دغه ستوری ـ ورځې شپې خبر دی
ستړګې پوټې مې پټې کړې ـ اميدونو نۀ دی

خدائے زده چې چرته باديوې رانه د مينې لارې
کنې لا پرېښې مونږ سرونه د تارونو نۀ دی

وس راوريږی ـ زندګی ده ـ په ګل پرخه پرخه
ستا د خيالونو پسرلی ـ د تصويرونو نۀ دی

خدائے دې نشه نشه خوانی ـ چرې بې خوبه مۀ کړه
لا خو دې زلفې هم یاد کړې ـ ارمانونو نۀ دی

د وخت ستم ته ګوره ـ زړونه په کوم رنګ بیلوی
لارې جدا ـ بیلې چنې مو د کوروونو نۀ دی

زما غزل پکښې خوانی موندلې ـ ګل موندلې
چا وې چې دا شارې کوڅې ـ د الفتونو نۀ دی

راغلې خه بنۀ دې وکړه ـ هسې هم راتلې به سبا
پاتې هېڅ رنګه اتباروته ـ په وختونو نۀ دی

زړونه ـ عابده د یارانو درته څۀ ووایم
وچې وریځې دی ـ بوتې د بارانونو نۀ دی

۲۳ـ مئی ـ ۲۰۰۲ء

(په خوب کښې) خیل کور مردان

☆

ستا چنار خواني راته معلومه ده
خپله زندګي ـ راته معلومه ده

ستا د نوم غزل وايم ـ ساقي له خم
لاره جنتي راته ـ معلومه ده

دوه زړونه ـ يو ځاے چرته ليدې نۀ شي
خدايه ـ ستا خدائي راته معلومه ده

ژوند پکښې ګل ګل شي ـ پانه پانه شي
چپ شۀ ـ عاشقي راته معلومه ده

وائي دې عابده ـ رقيب بد د يار
دا بې ايماني راته ـ معلومه ده

۲۶ـمئي ـ۲۰۰۲ء مردان

☆

توري وریخې ـ لکه مینه د شپا ـ سپوږے دے
په دردېدلې غزل ـ خوږ ستا د خندا ـ سپوږے دے

ے د سپوږمۍ بڅکلو ـ زړه ستاسو ـ مینه ستاسو حق دے
زمونږ په شپو باندې هم ستاسو د خلا ـ سپوږے دے

د چا د مینې ـ دوه ګل پاڼې مې ـ په شونډو پرتې
په ټول وجود مې ـ د خوشبو د مستۍ ساه ـ سپوږے دے

شور د موسم هم ـ کله کله ـ د زړه شور شي اشنا
د دېوال سپوږے دې مئین ته ـ د دنیا سپوږے دے

یو زما سر دے ـ چې عابده بس په سپوږی نه شو
کنی د ژوند په هره لاره کښې ـ بلها سپوږے دے

۲۹ـ جلائی ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

چې لېدلې ئې "زما اوښکو خوړلے" جېنې خط دے
نن عابده خکه زړۀ پورې نيولے - جېنې خط دے

د لفظونو په اسمان کښې - د سپوږمۍ د ناوې جنج دے
کۀ راغلې په نامه مې - د يو ښکلے جېنې - خط دے

هر نظر ئې شال د شګو - هره ساه ئې د نمر غرونه
څوانۍ څۀ ده اے زړګيه ؟ د پاګلے جېنې خط دے

د موسم په لفافه کښې - د ووۀ رنګه ګل پاڼې
د شبنم په ژبه يار ته - نن ليکلے جېنې خط دے

د احساس په خوشبويو کښې - د نرګس په کتورو کښې
د غزل په رنګ کښې پټ پټ - رالېږلے جېنې خط دے

دا چې مرګ د مينې نۀ دے - نو عابده اخر څۀ دی
د بازار د خلقو مخکښې - نن شلولے جېنې خط دے

۴-جون-۲۰۰۲ء مردان (صوتي قافيې)

☆

ستا د لاس خطونه رانه ورک شو تول
لاره ـ بهارونه رانه ـ ورک شو تول

مونږ چې پکښې دواړه ـ څنګ په څنګ کښې وو
هاغه تصویرونه ـ رانه ورک شو تول

مرګ مې شو اشنا ـ د انتظار دیدن
لوټ شومه ـ خوبونه رانه ورک شو تول

پاتې د رڼا جولۍ کښې هیڅ نۀ شو
ستا د شپو ګلونه ـ رانه ورک شو تول

داسې راته ګل ـ عابده وکتل
خدائیګو چې سوالونه رانه ـ ورک شو تول

۲۳ـ جون ـ ۲۰۰۲ء مردان



مرم ۔ خو په یو لار یمه ۔ پښتون یمه
ستا په انتظار یمه ۔ پښتون یمه

پانې د تاریخ مې ۔ ګواهي لري
فخر د دستار یمه ۔ پښتون یمه

زۀ د موسمونو منتیار ۔ نۀ یم
زۀ سدا بهار یمه ۔ پښتون یمه

نور د ژوند په هر څۀ باندې شتۀ یمه
بس خو په دې خوار یمه ۔ پښتون یمه

پرېښې په دانه غنم جنت دې ۔ ما
ننګ ۔ غیرت ۔ وقار یمه ۔ پښتون یمه

ګله منتونه زما ۔ زده نۀ دي
خبر دے کۀ نادار یمه ۔ پښتون یمه

نوره هیڅ ګناه ۔ عابده نۀ لرم
بس دا چې په دار یمه ۔ پښتون یمه

۲۶۔جون۔۲۰۰۲ء مردان



د پښتو کلي دے ـ اشنا ـ خبرې نۀ هېرېږي
هر څۀ چې کېږي ـ زما ـ ستا ـ خبرې نۀ هېرېږي

بس خو په زور سترګې په هر څۀ پټول دي ـ اشنا
ګنې ستا چم کښې د جفا ـ خبرې نۀ هېرېږي

تلۀ د رقيب په څنګ کښې ـ تل زما د کور په لاره
هر څۀ هېرېږي ـ ولې دا خبرې ـ نۀ هېرېږي

څو چې د زړۀ د سېږمې کور کښې ـ د سپرلي اختر وي
د سپينو ګلو د دعا ـ خبرې نۀ هېرېږي

د غزل سترګې دي عابده ـ د لفظونو غُنچې
چا نه هم ستا د فن "زړا خبرې" نۀ هېرېږي

۲-جولائی-۲۰۰۲ء مردان

☆

دا د شیشي هسي خواني ـ بازار کښي مه ګرځوه
کاڼي نظر د هر سړي بازار کښي ـ مه ګرځوه

مخ دي سپوږمي ـ زړه دي چمن ـ زلفي دي کور د غزل
دا د ښینو زندګي ـ بازار کښي مه ګرځوه

د کور سپرلے په کاغزي ګلونو مه ښځوه
موتي کښي ګېر پرېږکي ـ بازار کښي مه ګرځوه

د بې اسرې کېږکي د غم امتحان ـ ولي اخلې
د میخاني پیالي ساقي ـ بازار کښي مه ګرځوه

ګرېوان دي کلک کړه ـ چې خیال نور نه شي د زړه د اسمان
دا د ګلابو کټوري ـ بازار کښي مه ګرځوه

شي هېڅ بې هېڅ به ګناهګار ـ د لوېټو د ګلي
عابده لاس کښي صراحي بازار کښي ـ مه ګرځوه

۴ـجولائی۔۲۰۰۲ء، مردان

☆

قاتل مې وژني نا ـ د انتظار په اور مې سېزي
ريزه ريزه مې نولي ـ د اتبار په اور مې سېزي

(رقيب سره چې ـ ځي له شرارته راته ګوري)
په ګل باندې ولي ـ د بهار په اور مې سېزي

زير شال د قسمونو ـ په ارمان د مينې خور کړي
ظالم په هر قدم ـ په هره لار ـ په اور مې سېزي

لوظونه ئې دروغ ـ هم سلامونه ئې دروغ شو
هم يار په اور مې سېزي ـ هم ربار په اور مې سېزي

عابده خاورې خوب به د سکون په غېږ کښې وکړم
غمونه د يارانو د دې ښار ـ په اور مې سېزي

۱۰ـ جلائی ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

د انکار په کور کښي وسم د اقرار په کور کښي وسم
چي ستا مينه مي ارمان شو ـ ناقلار په کور کښي وسم

د نرګس په ګل کښي ناستي ښاپيرۍ دی ـ ستا خبري
چي نشو نشه يم ـ د خمار په کور کښي وسم

د نمر ځانګو اچولي دی ګجري ـ د ګلو پاڼي
د رنګونو کتاب لولم ـ د بهار په کور کښي وسم

د هوسي سترګو کښي ښکاری ـ لکه غيره د خوبونو
ګله ناسي دي د ستري انتظار په کور کښي وسم

د خفه سپوږمي په باغ کښي ـ د غوړمي ګل په ګدا دے
نه که نه راځي خو بيا هم ـ د اتبار په کور کښي وسم

دلته مينه غوښتنه جرم ـ دلته زړه وړکول کفر
د صليب په کور کښي وسم هم د دار په کور کښي وسم

اوس عابده خلق وائي ـ ميخانو کښي هم بانګونه
اوس به نه ګناهګاريږم ـ که د يار په کور کښي وسم
۱۱ـ جولائی ـ ۲۰۰۲ء مردان



د غم په کور کېنې ـ د ښادۍ تصور څنګه وکړم
ستا نه بغېر د ژوندګۍ ـ تصور څنګه وکړم

زما د برخې د اسمان ځانګړو ـ لمبې نیولې
زۀ به په غمېږ کېنې د سپوږمۍ تصور ـ څنګه وکړم

پس لکه خکل چې کړی خوشبو ـ برېږکے ـ د ګلاب
نور دې د مینې لېونۍ ـ تصور څنګه وکړم

لا چې تراوسه پکښې زۀ هم د خان خېل نۀ شومه
د دې وطن د ازادۍ تصور څنګه وکړم

د بدن ځانګړو چې عابده د غزل ـ غزل کړم
اوس به د نورې شاعرۍ تصور څنګه وکړم

۱۳ ـ جولائی ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

په ګل مئين دے ـ د رنګونو په غُنچه پسې مرى
ورزه مې لوفر پرېرکے دے ـ په وږمه پسې مرى

شور د اجل دے ـ کنه ژوند د مرګ په خلهٔ کښې خاندى
څوک له شرابو توبه ګار ـ څوک په کاسه پسې مرى

ستا د يادونو سيوږمې اوس مې هم ارمان د نظر
خيال مې لا اوس هم هاغه ستورى ـ هغه شپه پسې مرى

د بدلېږونو دېوال هر څومره کهٔ ډنګ شى اشنا
پتنګ د مينې لمبونے به په لمبه پسې ـ مرى

عابد کهٔ هر څومره پښتو وکړى ـ خو بيا هم اشنا
ستا په لوظونو پسې مرى ـ ستا په وعده پسې مرى

۱۲ـ اګست ـ ۲۰۰۲ء مردان

COMPLEX

زړه مې په داسې لوری تلهٔ غواړی ـ چې غېږ مهٔ کوه
خیال مې لوفر د ګلابي ربا اواز پسې مری
لکه چې غېره د ګلاب پابو کښې پټه خاندی
داسې مې ذهن نن رنګینې سزاګانې غواړی
لکه اوتر پربرکے چې خوشبویی پټوی
د زړهٔ سپوږمی مې داسې غواړی شینمی خبرې
لاس کښې مې جام دے ـ د سرو زرو د شرابو نه ډک
د غزل سترګې مې د سپینو زرو مخ پسې ځی
یا خو یو حد د خوشحالی دے چې پوهېږمه نا
یا د لفظونو ائینې مې پرېشانو اخستې

خدایه بس هیڅ نور خبر نهٔ یمه ـ چې څهٔ وکړمه
د ماضی کندې ته ورکوز شمه کهٔ حال واخلمه

ژوند د روزګار غمېږې له یوسم ـ کهٔ تور خال واخلمه

۲۰ـ جولائی ـ لاهور کښې غرمه ۱۲ بجې

غزلیه سندره

چې په خندا خندا حالونه د زړګي ووایو
هله په دې ناقلارۍ ته زندګي ووایو

چې موسمونه راته ګوري او ګلونه خاندي
چې ستوري پټ کړي په وریځو کښې مخونه ـ خاندي
چې هواګانو ته قیصې د پسرلي ووایو

چې په تندی ستا د خوانۍ د مینې خال پوري شي
چې په ما نوم د جادوګرو د بنګال پوري شي
چې خلق مونږ ته او مونږ دوی ته لیونی ووایو

چې ته بنګړي لیچو ته واچوې او شور ترې جوړ شي
زما د مینې په لمنه یاندې تور ترې جوړ شي
چې خپلهٔ ته د یو بل بیا مجبوري ووایو

چې پابندي مو د الفت په ارادې ختمې شي
چې دا وعدې عابده سر شي او نیتې ختمې شي
چې جام په لاس په تېز اواز ساقي ساقي ووایو

جون ـ۱۹۹۷ء مردان

MAD

زۀ واقعي چې پاګل يم
بالکل پاګل
خو نه
پاګل خو خکه نۀ يم
چې ستا خاموش محبت راته تراوسه ياد دے
پاګل خو هغه وخت وم
چې زۀ هم خاموش پاتي شوم
ستا د لوپټي په سيوري ناست وم او تۀ مې نه ليدې
ستا د محبت لاس مې په سر پروت وۀ او زۀ ناخبره وم
تا راله د نظر په جام د ژوند وينه راکولې او ما نۀ پيژندې
کاش چې ما هغه وخت ستا لمنه رانيولې وې
او ځان مې د يو داسې سيورې لاندې کړے وو ۔ چې
سپرلي مې ټول تماشې له راتلل
اے په ما ګراني ۔۔۔ خو تۀ هم ماته پاګله ښکارې
خکه چې تا د يو پاګل په انتظار ټول ژوند تير کړو
او هغه پاګل ته لا تراوسه دا پته هم نۀ وه
چې يو پاګل محبت زما د راتلو لارې څارې
واقعي چې زۀ پاګل يم
خو نه
مونږ دواړه پاګلان يو
د محبت پاګلان

۳۔اګست۔۲۰۰۲ء مردان



اشنا ـ زما ـ ستا محبت ـ په ګوته نۀ پټیږی
دا حقیقت دے ـ حقیقت ـ په ګوته نۀ پټیږی

د بهار کور دې زندګی ـ د ګلو خوب دې خوانی
دا د چنار چنار قامت ـ په ګوته نۀ پټیږی

د زړۀ لوګړې فرښتې د غم سنډرې وائی
د انتظار د موسم نیت ـ په ګوته نۀ پټیږی

چرته چې خاندی ـ د وجود جام کښې ـ د زړو وینۀ
داسې کوګه ـ داسې محلت ـ په ګوته نۀ پټیږی

هر بنکلے ستا د زړۀ قرار دے ـ نۀ په هر یو مئین ـ؟
عابده ستا دا یو عادت ـ په ګوته نۀ پټیږی

۳ـ ستمبر ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

ستا د قسم ـ ستا د وعدو ـ ستا د لوظونو یاران
د تنهائي په اور وریږي د یادونو ـ باران

د خدا نرمي نرمي باني ـ او د اوښکو کتاب
لکه په سپین څادر وریږي د رنګونو ـ باران

زه خو مئین یم ـ شمعي ـ ته راسره ولې سوزې
د انتظار په شپه بنۀ نۀ وی د غمونو ـ باران

ستا د خبرو خوشبوئي ـ ستا د زلفانو درياب
د درد په کور ـ پونه پونه ـ د غزلونو باران

زړۀ مې بېشانه ـ پرېشانه دے ـ د خدائے په خاطر
جانانه وخانده ـ لږ وکړه د ګلونو ـ باران

د زېړو ګلو په څادر ـ لکه تصویر د سپرږمي
ستا د عابد په دې غزل دے ـ د لفظونو باران

۹ـ اګست ـ ۲۰۰۲ء مردان



ژوند کښې چې يو ستا ـ کمې پوره نهٔ شو
باتې شو بلها کمې ـ پوره نهٔ شو

مينه ده ـ کهٔ راغلې خو ـ بيا هم اشنا
اوس هم ښکارى دا ـ کمې پوره نهٔ شو

ويښې کهٔ مو بلې کړې ـ ډيوې ډيوې
بيا هم د رڼا کمې ـ پوره نهٔ شو

يو ورځ هم د ژوند امتحان ـ کم نهٔ شو
يو ورځ د دعا ـ کمې پوره نهٔ شو

ستا ډېرو کتو ـ عابد وړو ستړکې کړو
هر وخت وائى را ـ کمې ـ پوره نهٔ شو

۱۰ ـ اګست ـ ۲۰۰۲، مردان

اسمان

زما د خيالونو او فکرونو دنيا
چې پکښې د غمونو او سوچونو جولاګانو له زمانو زمانو
پخې جالې جوړې کړې دي
چې د سپرلو د وږمو دراتلو هغه تولې لارې پکښې هم بندې شوې دي
او پکښې داسې تيارۀ ده
چې د نمر د رڼا څيره پکښې هم نۀ شي راتلې
کله کله به پکښې چرته د مظلومې کمترې د مجبورې اواز راغې
خو دغه هم ګردونو به خپلو لمنو کښې رانغښتې دي
او بس خو پکښې د شپې تيارۀ او د ورځې رڼا دواړه يو شان دي
خو بيا هم نن چې کومه د يادونو سيلۍ راغله
او زما د زړۀ د چمن خزان وهلې پاڼې ئې په مخه واخستلې
نو ورسره ور سره د دغه روښندان نه ئې هم څه قلرې دوړې او ګندونه
والوزول
او زما د اميدونو چينه چينه نظر ئې يو ځل بيا دغه تنده غوړې سراب پله
بوتلو
او چې ما د مودو تېرې او ارماني نظر په دغه دريچه واچوۀ
نو واقعي چې اسمان پکښې داسې ښکاره شو لکه د باران نه پس
چې ټول کائينات د نمر رڼا ته په ګډېدلو وي
خو په داسې اسمان به څۀ وکړې چې نۀ ورته پردې وئيلې شم
او نۀ راله په لاس ورځي
بس صرف اسمان دے او هغه هم بې ستورو اسمان

۲۵ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

داسې راته ښکارې زندګي ته يې
ساه د هر مئين پرېرکې ـ ته يې

هم په هر يو ساز کښې موسيقي ته يې
هم خوره په شونډو خاموشي ته يې

څوک هم پکښې يې له تا نه ـ ځاے نه شو
نن هم تمنا مې د زړګې ته يې

ورکه ورکه ساه ـ معلوم معلوم ارمان
عشقه چې مستي له مجبوري ته يې

ښکه مې غزل په هر ځا ښه لګي
سترګو کښې اشنا د هر سړي ته يې

ما په اوښکه اوښکه ژوند ګټلې دے
زه نه يم قهدې رښا قهدې ته يې

زه د نمر په دشته کښې د شګو شال
خال خو د سپوږمې په اننګي ته يې

ما خو درته خان لکه ګل سپردې دے
هسې په خپل خان باندې شکي ته يې

ښکه ئې لفظ لفظ کښې ساده ګي بربښي
ګله د عابد چې شاعري ته يې

۱۵۔دسمبر۔۲۰۰۲ء مردان

غیرت

زۀ روزانه خپل مرګ وینم
او روزانه راله خپل مسیحا د تازه زهرو ډکې پیالې راکوي
زۀ خو مره بختور یم
او یا
شاید چې ډېر زیات ګناهګار ۔۔؟
ځکه خو روزانه د نوي مرګ له پاره بیا بیا راژوندے کېږم
زما د لارې هر یو ګل ماته داسې ازغے ښکېږي
چې د پښتو د تلو غرېکې مې به زۀ کښې راچوکه کېږي
ماته خو داسې ښکاري
چې یو زۀ پاګل یم او باقي ټول روغ دي
ځکه چې د دنیا دستوروونو له ئې خپل غیرت او پښتو غورځولې ده
او یا زۀ روغ یم
او دا ټول ظالمان او یزیدان دي
چې لکه د حسین مې هره ورځ د فرات په غاړه ډوبو په ارمان وژني
خو ظالم به چاته وایم
کوته به چاته نیسم
ځکه چې زما قاتل زما خپل مسیحا دے
خو زما مسیحا ته هم دا پته نشته
چې زما د دله توب د ژوند نه د خپل ذاتي غیرت مرګ ښل خله خوښ دے
ځکه چې زۀ په اصلي معنو کښې پښتون یم
او پښتانه په زهرو نه مري
په غیرت مري۔

۸۔ دسمبر ۲۰۰۲ء مردان

نوې رنګ

د مستو هواګانو په نغمو کښې یو اواز پټ دے

یو داسې اواز

چې د نوی ژوند نوې اهنګ دے پکښې

یو سرور دے او مستی وَروی

ماته د تنهائی په غمجنو لمحو کښې د خوشحالۍ زیرے راکوی

او ورسره راته یو داسې خوند راکوی

چې په ټول وجود مې د مستو غزلونو بونې وَروی

او د وجود ټول مسام مې یو شبنمی شان احساس محسوسوی

۲۲ـ دسمبر ۲۰۰۲ء مردان

(د خیل واله په شپه)



مینه مینه ـ واوره واوره یم ـ لمبه یم
ستا ارمان یم ـ ستا په طمع ـ ستا اسره یم

ته هوښیار هوښیار سپرلے د انتظار یې
زه د طمعې د صحرا د ګل سینه یم

هره ساه یو ریښمی سان حرارت د ے
ستا د توم د غزل کور ـ پکښې ږیره یم

زه خو چرته هم پوره نه شوم بې ستا نه
بې له ما ـ ته څنګه وائې ـ چې پوره یم

د پاګلې هوا لمس د احساس ژوند وی
زه د تمر په څیره هم تروتازه یم

د مئین زړه دنیا هم د پاتې درد وی
کله کله د اختر په ورځ خفه یم

څوک د اوښکې په سپرلي هم زړه تهرباسي
زه عابده د سپرلي د اور غرمه یم

۲۹ ـ سپتمبر ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

دومره ډېر خوارۀ د وخت دردونو راکړل
چې بس ټول محبتونه مې په شا ـ کړل

ستا د نوم پرېرکې راله ـ ژوند راکړو
د رنګونو امېلونه مې ـ پېدا کړل

انتظار دې د خط ـ مرګ د خوشبويو شو
د لمبو ګلونه ټول ئې ـ په ژړا کړل

د سپوږمې زلفې ـ د نمر په مخ خورې شوې
د رڼا د بدن سپورې ئې ـ جدا کړل

د خاموشه ډېوې ساه ـ شبنمې اور دے
د اواز اوراورکې ئې په ګډا ـ کړل

دلته نمر د تهذيبونو ـ تيارو ډوب کړو
د شيشو تاجونه ټول ـ ګاڼو ډريا کړل

د غزل مذهب ئې ښه ده ـ چې کامل دے
کنې مېنې د عابد هر څۀ رسوا کړل

۲۴ـجنورى۲۰۰۳ء مردان

☆

ستا حسن دے ۔ خوانی ده زما ۔ شور دے د ګلونو
لا اوس هم په دې لار کښې بلها شور دے ۔ د ګلونو

کېږی نیمه الفت دے ۔ او لحظه نیمه لیدل دي
ژوند څۀ دے ۔ د رنګونو ګډا ۔ شور دے د ګلونو

نیولي د لفظونو ائینې ۔ پریږکو دي
کوم لوری ته چې ګورم اشنا ۔ شور دے د ګلونو

د کابو په خنګل کښې ۔ انقلاب د شیشه مخو
تصویر د زندګی په ژړا ۔ شور دے د ګلونو

بیا ښکاری چا لمنه ۔ د ازغو په مخ خوره کړه
دا نن خو څۀ عابده جدا شور دے ۔ د ګلونو

۲۷۔جنوری۔۲۰۰۳ء مردان

لحاظ

هاغه هم وخت وه ـ چي په هر لحاظ زلمے ووم زه
زما د سترګو له خماره په شراب شرمېدل
زما د سر د پټکي ول کښې په پښتو خلېده
زما د خلې د هر يو حرف نه يه قيصې جوړېدې
زه چي په لاره به تلم خلق به خاموش ودرېدل
ما چي به يو ځل يو خبره له خلې وويستله
بس بيا به هاغه يو خبره زما سا وه د ژوند
زما د بړېتو نه به وينې څڅېدلې مدام
زما څادر به د اوګې د رواجونو تاج وه

بيلها ګلونو له تل ما وينې د زړه ورکړې
هر يو ازغے د دې چمن زما په وينه ګواه

خو نن چي ما ځان د الفت په دائيره کښې راوست
ځان مې په تار د محبت وتړه زړه مې ورکړو
قسم دې هاغه د پښتو خويونه ووتې رانه
بس يو مئين يم په اصلي معنو مئين انسان يم

چي صرف مينه مې ايمان شو او لحاظ مې مذهب

۳ـ فروری ـ ۲۰۰۳ء مردان



خط راته لیکی ـ خو ناء
ګل بالی ـ یاری خو ناء

خی ـ ولې راخی خو ناء
زړه مې ـ خپلوی خو ناء

زړونه دی ـ خان پېژنی
دی ـ پرېږکی خو ناء

ښکلی که بې شمېره شی
ستا په رنګ کښې دی خو ناء

زړۀ مې ستا په زړۀ باندې
دے څۀ لیږ شکی خو ناء

تیک ده چې خفګان ډیر وی
څوک چاسره مری خو ناء

هسې راته خاندی ډیر
نور مې څۀ منی خو ناء

هسې عابد غواړی جام
نور کنی مئے څښکی خو ناء

فروری۔۲۰۰۳ء مردان



خفه خفه وشو وختونه ـ اشنا ـ سپین نهٔ کړې شو
مونږ په یوه طریقه زړونه ـ اشنا سپین نهٔ کړې شو

دا خان له کار دے ـ چې مو سپینې شولې سترګې په لار
دې زمانې راله سرونه ـ اشنا سپین نهٔ کړې شو

دوران یابنهٔ کړل په کوم رنګ ګوره ـ رنګونه ـ زړونه
کهٔ غوارو ډیر ـ خو چا نیوتونه اشنا سپین ـ نهٔ کړې شو

نوې منینو ډاسې ډک کړل ـ د الفت په نعرو
اوس په چونو مو ډیوالونه اشنا ـ سپین نهٔ کړې شو

خدائے زده عابد پکښې څهٔ څیلې چې ساقي توله ورځ
نن په میږلو هم جامونه ـ اشنا سپین نهٔ کړې شو

۶ـفروری ـ ۲۰۰۳ء مردان



مینه کېږي څۀ غلا ـ کارونه نۀ کوي
ګوره عابد دا کارونه ـ نۀ کوي

څښکل به دې واعظه ـ خو جومات کېږي نه
خلق ناروا کارونه ـ نۀ کوي

وی د درد سپېڅلي ئې تل خفه خفه
څوک چې به دعا ـ کارونه نۀ کوي

شمعې د پتنګ ژوند پورې ـ خانده مه
مري په تا ـ خطا کارونه ـ نۀ کوي

دلته تش د خلې مسلمانان دي ټول
وائي بسم الله ـ کارونه نۀ کوي

ستا مینې عابد له ژوندة باتې کړو
کور له څۀ سودا ـ کارونه ـ نۀ کوي

۷ـفروری ـ۲۰۰۳ء مردان



ستا له کتو ـ ستا له خندا نه مې زړه ـ نه مړېږي
عمرونه وشو ـ ولې ستا نه ـ مې زړه نه مړېږي

دا بېماني راکښې ستا مينې کړه پېدا ـ همدمه
عقبا منمه ـ خو دنيا نه مې زړه نه مړېږي

لا خو په سر مې نوستې ـ ستا د ښو ستورې نه دي
ګرانه ده ـ ډومره په اسانه مې زړه ـ نه مړېږي

منم چې جرم وي ـ الفت کښې راز د زړه ښېتول
ستا د پښتو شونډو د غلا نه مې ـ زړه نه مړېږي

ژوند او خواني ئې راله خاورې کړه عابده ـ بيا هم
د هاغې ښکلې له ارمانه مې زړه ـ نه مړېږي

(بې ايماني)

۸ـفروری ـ۲۰۰۳ء مردان



زړۀ ماتول ـ زما کتاب کښې نشته
ستا پرېښودل ـ زما کتاب کښې نشته

کور کښې به څښېمه ـ خېر دے نۀ به راځم
توبه ایستل ـ زما کتاب کښې نشته

لکه وریځ ـ اوښکې ښکاره څڅوم
پټ پټ ژړل ـ زما کتاب کښې نشته

زۀ بې ایمان لکه د خلقو نۀ یم
حق ـ پټول ـ زما کتاب کښې نشته

یا مې سوال ومنه ـ یا راکړه جواب
دا تلل راتلل ـ زما کتاب کښې نشته

په نۀ څۀ کار ـ عابده ښکلو سره
زړۀ بدلول ـ زما کتاب کښې نشته

۸ـفروری ـ مردان

☆

نه له نظره ـ نه له زړه ـ جدا شو
چاته به څهٔ وايو ـ به څهٔ جدا شو

هسې دروغو ته نور څهٔ حاجت دے
نهٔ تلې ـ به شا دې راکاتهٔ ـ جدا شو

داسې تلخي مو شوه ـ ترمشهخه اشنا
هم له نظره ـ هم له زړهٔ ـ جدا شو

شونډې دې يو څهٔ ـ سترګې بل څهٔ وائي
په يو کاله کښې ـ بېېتانهٔ ـ جدا شو

ورک مې عابده شو هم زړهٔ ـ هم قرار
هم رانه لوئے او هم وارهٔ ـ جدا شو

۸ـفروری ۲۰۰۲ء مردان



غم ـ سلګو ـ ارمان او د زړۀ پته ده
دا د چا نادان او د زړۀ پته ده

هره یوه پښته ئې ناځایه وي
چا ته ـ ؟ د اسمان او د زړۀ پته ده

اوښکې اوښکې کور او د زړۀ رومال
دا مې د ګرېوان او د زړۀ پته ده

زۀ خوشامندو ته د چا نۀ ګورم
ما ته د خپل ځان ـ او د زړۀ پته ده

هر سړے عابده خپل خواهش ته غل
چا ته د جانان او د زړۀ ـ پته ده ـ؟

۹ـفروری ـ ۲۰۰۳ء مردان



چي هر نظر ئي د غزل د ګل نظر ماتوي
په هاغه ښکلي دا پاګل زړه مي خپل سر ماتوي

چا ته چي ګورم د خپل ذات قبر کښې ښخ ولاړ دے
ریښتیا چي دا خلق دې خاوره باندې سر ماتوي

بیا د انار د ګل ګلجرې خورې د نمر په څېره
بیا د پاګلې هوا شور د احساس ور ماتوي

په مونږو بس هاغه کاغذ مې بیا په ګوتو راغلے
د شونډو چاپ دې راله نن هم دا ځیګر ماتوي

زړه او بیا ستا د مخ نه دورې په ګلونو ښندل
نا نا - دروغ دی - چي فرهاد په تېشې غر ماتوي

څوک به عابده د فطرت د شور سپرلی ته کښېنی
د وخت تود باد پرېرکي له هم وزر ماتوي

۱۰-فروری-۲۰۰۳ء مردان



تا ته زما ـ او ماته ستا نه ـ پته ولګېده
تشي په زورر کلي جانانه ـ پته ولګېده

سکون دې نشته په نصیب کېږي ـ د لېمو سېوري ته
ما ته ـ زما سترې ارمانه ـ پته ولګېده

زما په غم ـخومره درد من شو ـ د سرو زرو ګلاب
شین شو ـ په شا لاړ له خندا نه ـ پته ولګېده

د دې غزل خواږه مې خکه ـ شو خواږه د بهار
ما ته الهام شو له اسمانه ـ پته ولګېده

چا ته چې ګوره په منابه دے ـ هیست اخستي
دے هر سړے په ژوند ستومانه ـ پته ولګېده

په زړه دې یو ځل وی ظالمه ـ په خله یله وائي
شولې عابده بې ایمانه ـ پته ولګېده

۱۰ـفرورئ۔۲۰۰۲ء مردان



یو مست نظر غواړی الفت غواړی نن
مینه مې یاره زوړ عادت غواړی نن

هر سړی کور سره جومات جوړ کړے
هر سړے خان له جنت غواړی نن

تا ته ډرکوری - ماته کړی خبرې
زړه مې زلمے شو - شرارت غواړی نن

چا چې ډېرونه تل ډرکړی دی - زړه
سنا له قلمه نزاکت غواړی نن

عابد د ژوند په ناکړدو کښې گوره
څه لېونے دے - محبت غواړی نن

۱۱-فروری-۲۰۰۳ء مردان

☆

ستا دې راتلو ته او دې وخت ته ګوره
اوس دې قيصو ته او دې وخت ته ګوره

هينه ده ـ ښۀ وکړم ـ ګنې خبر يم
زړه ډرزېدو ته او دې وخت ته ګوره

يوازې پاته او د اوښکو سفر
دے تقاضو ته او دې وخت ته ګوره

سپرلے دے ـ نولي به سر خاورې ـ خاندې
ستا لېونو ته او دې وخت ته ګوره

عابده مړ به دې کړی خلق واوره
ستا ګرځېدو ته او دې وخت ته ګوره

۱۱ـفروری ـ۲۰۰۲ء مردان



یو دی ـ ستا خوانی او د غزل کتاب
أف توبه ـ ساقی او د غزل کتاب

ستړے ستړے ژوند ـ ریزه ریزه حالات
ته ـ خندا ـ مستی او د غزل کتاب

مرګ هم راکوی څڼه په خوږه خوږه
رائي کړل ازغی او د غزل کتاب

بس خو یادوی دې په بیا بیا راته
دا پرېږکی او د غزل کتاب

هیڅ فرق هم نه لری په خپلو کښې
ستا دا لیونی او د غزل کتاب

پاتې به عابده تر قیامته وی
ستا ـ زما ـ یاری او د غزل کتاب

۱۲۔فروری۔۲۰۰۳، مردان

☆

په اوبو کړېږي ـ د خوشبو په لور الوت ـ کول دي
ستا مينه څۀ ده ـ؟ بس په خوب کېږي شرارت کول دي

(څوک ترې خبر ـ چې فرېښتې هم په غزل پوهيږي
د خدائے په ورانديې د کافر د نوم صفت کول دي)

پيغمبري ګلونو سپړدې صحيفې د زړونو
د ناوې لاس پاندې د زړۀ نه نن محبت کول دي

اسمان دې نولي موتيا ـ سپرلے دې سپرې شوندې
زمونږه کار خو په دنيا کښې محبت کول دي

د غم د څيرې په سپل تلې مرغې ـ چا ونيوې
هر څۀ چې کيږي ـ دې سېلاب کښې حرکت کول دي

نور اوس عابده ژوند د شکو په پُل نۀ تيريږي
يا ماتول دي دا تندے يا بغاوت کول دي

۱۳ـ فروري ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

ووری چې په ګلو شبنمي باران ـ او ته راشې
لاس چې عابد مروړی په ارمان ارمان ـ او ته راشې

نمر چې اخری سلګی وهی د شفق غېږه کښې
زه یم ـ ستا یادونه وی ـ تنها میدان او ته راشې

هر نظر په زړے د رنګونو د تالونو شی
هسې چې مې تېر شی په زړه ستا ګمان ـ او ته راشې

خاندی چې ملګری رابوړې او ستا خبرې کړی
وبه کړی خوند ـ دې کښې چې لا په ایمان او ته ـ راشې

خاندی چې اوبو کښې بلبلونکے ډیوې رقص کوی
کوری چې عابد خان ته حیران حیران ـ او ته راشې

۱۵ـفروری ـ ۲۰۰۲، مردان



وارووه وارووه شراب ـ ساقیه
راوله ژوند کښې انقلاب ـ ساقیه

یو دا موسم ـ سپرلی ـ وریخ او ځوانی
بل زما زړه خانه خراب ـ ساقیه

ژوند غواړی ـ ژاړی د تیارو منځ دی
وخاندہ ـ لرې کړه نقاب ـ ساقیه

ورکړه جام ورکړه ـ واعظ مه ژړوه
وګڼه وګڼه ثواب ـ ساقیه

ژوند دې بهار وسه ـ بدرنګه مه شی
ماله ګلاب ـ زما ـ ګلاب ساقیه

غواړی هر څوک درنه په سوال سوال نظر
چرته هم نشته ستا جواب ـ ساقیه

کور د سپوږمی ـ پکښې ګلاب د غزل
دې ستا نظر ـ دې ستا شباب ـ ساقیه

عابد دې توبه کړه ځوانی په خُم کښې
تنګ شو د ژوند له ډېر عذاب ـ ساقیه

۱۸ـ فروری ـ ۲۰۰۳ء مردان



عابد تا بربېږدی ـ داسې چرته کېږی
دا څنګه کېږی ـ داسې چرته کېږی

زۀ دې ژوندے یم ـ او به تا دې ازغی
داسې ورېږی ـ؟ داسې چرته کېږی

عقل ـ له مینې خارولې نۀ شم
زړۀ ډېر څۀ غواړی ـ داسې چرته کېږی

زۀ دې خندېږمه ـ د ژوند په لاره
خلق دې ژاړی ـ؟ داسې چرته کېږی

زۀ دې عابده ـ لمن روغه ساتم
ګل دې دوړېږی؟ ـ؟ داسې چرته کېږی

۲۰ـ فروری ـ ۲۰۰۳ء مردان

(دې غزل کښې بعضې قافیې د تجربې در مخه راوړلې شوې دی)

☆

لا سترګو غم لیکم د زړونو درزېدۀ لیکمه
لا محبت په نوم قیصې د ژوندانۀ لیکمه

مرګ ته نازونه د ډیوو د لمبو سترګې بنائیم
ستا انتظار لیکمه - ستا مراوې کاڼۀ لیکمه

ستا د خال سپوږے مې راخې په هره کړنه د ژوند
هیڅ پوهه نۀ یمه - چې څۀ وایم او څۀ لیکمه

ړوړې خندا دې کرم - شکې د خپل ګرېوان په مستۍ
وس دے د ګل د خوشبویو په نامه - نۀ لیکمه

خبر دے یاران کۀ زما سپوږے تل په کانړو ولی
زۀ چې پښتو لرم - زۀ بیا به ئې هم بنۀ لیکمه

لا مخ سپوږمې دې رایادیږی - د وربل په شپه کښې
لا چې ربا ربا لیکم - دا چې تیارۀ لیکمه

لا دې دوران خلق همېش په دعاګانو پائی
لا دې دوران به وایه څۀ خوارۀ تراخۀ لیکمه

خط مې عابده ګرځوی یار د بازار په خلقو
چا ته به څۀ د دې د پاڅه حال د زړۀ لیکمه

۱۱-مارچ-۲۰۰۳ء مردان

☆

کله د ورځې مې زړۀ تور ـ کله په شپه خفه یم
ویښتیا خو دا دی ـ چې بې وجې تل خفه خفه یم

زمونږه څوک دی ـ چې زمونږ تر منځه راشي درشي
غمرونه وشو بې له تا اشنا ـ راځه ـ خفه یم

د تنهای سپرلے مې سپری د غمونو غوټی
په هره پرخه باندې مرم ـ هره ورمه خفه یم

واغلمه ستا له کوڅې ـ ټیک ده چې پښتو مې وکړه
ولې اوس مرم په هر قدم ـ هره لحظه خفه یم

واتلل دې سر وخوری ـ خو دا چې وې ئې بیا رانشې
زړۀ خو عابده د نازک په دې غصه خفه یم

۱۲ـ مارچ ـ۲۰۰۲ء مردان

☆

کله د سیلاب سیلاب ـ شباب ـ زور دې وینه مه شه
تل وسه زما د سر ګلاب ـ زور دې وینه مه شه

تل دې زما درد ـ زما سینه کښې به تویږنو وی
تـه غورځنګ غورځنګ ـ دریاب دریاب ـ زور دې وینه مه شه

ونبایه خوانی ته دې نازونه د غزل غزل
ولوله زما د ژوند کتاب ـ زور دې وینه مه شه

خبر دے کۀ تۀ تېول عمر زما به مخ ابرې نولې
وۀ خو به دا وایم ـ چې جناب ـ زور دې وینه مه شه

ن مې ورته بس عابده ـ دومره قلرې ووئیل
مه رالېږه خبر ـ د خط جواب ـ زور دې وینه مه شه

۱۳ـ مارچ ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

زمینه کښې ورمې خل خط لیکلو باندې وخت لګی
ونې چې مرغې وې الوتلو باندې وخت لګی

یو خلې چې پرې شی ـ فاصلې پکښې تر منځه شی
تار وی ـ که رشته وی ـ خو ترلو باندې وخت لګی

لمس خو د وجود یوازې نه وی ـ د خوبونو کور
زړه ـ د چا تر زړه پورې ورتللو باندې وخت لګی

دا د محبت له تجربې وتې خبره ده
یار ته مخامخ په حال وئیلو باندې وخت لګی

یو خلې چې راشې ول ـ او یوسې کانکوک ! هوا
ګوره که تادی کړې بیا ـ سپردلو باندې وخت لګی

پرپرده په توتې زړګی ـ عابده لار کښې څه کوې
پروت دې وی راځه ـ راټولولو باندې وخت لګی

۱۴ـ مارچ ـ۲۰۰۳ء مردان

کانکوک:۔ باویره



هره خبره ئې ګلاب هسې ـ ده
خوانې ئې ټوله د شراب هسې ـ ده

ما خو بل هيڅ نه ـ کتلی نۀ دی
زړۀ کښې ګيله مې د جناب ـ هسې ده

پوئې دے ـ چې تار ستا د وعدې کچه دے
طمع د زړۀ خانه خراب ـ هسې ده

کاڼۀ ئې ټول لکه د پرخې پرخې
خندا ئې ټوله د حباب هسې ـ ده

زما به خائے ـ ټولې دنيا ته ګورې
بانه ئې ما نه د حجاب ـ هسې ده

خنک به عابد د ډوبېدو نه بچ شي
د ګل ادا چې د درياب هسې ـ ده

۱۵ـ مارچ ـ ۲۰۰۳ء مردان



نۀ په خندا شۀ ـ نو ګلونه ډېر دی
زړۀ چې زلمے وی ـ الفتونه ډېر دی

سړے به ووایه ـ چې څۀ څۀ کوی
زندګی کمه ده ـ غمونه ډېر دی

نۀ چا کښې فکر ـ نۀ احساس شته د زړۀ
تېک ده لاسونه ډېر ـ سرونه ډېر دی

رنګ پکښې ستا د ښائېست ـ چرته برېښی
منمه لارو کښې مخونه ډېر دی

نوې انداز غواړی ـ لفظونه غواړی
عابده شته بلها خیالونه ـ ډېر دی

۲۰ ـ مارچ ـ ۲۰۰۳، مردان



وي ئی نشته ـ ما چی څښتل ـ تهٔ وګوره
خان چی کړو ساقي بدل ـ تهٔ وګوره

مري ستړګی ـ نری مسکا او لاس کښی جام
دا کتل او داسی چل ـ تهٔ وګوره

شپه د ژمی ـ تیز باران او تهٔ لري
هله راشه ـ اور کړه بل ـ تهٔ وګوره

تا باندي چی داغ لګی ـزهٔ نهٔ ګورم
شم دي زهٔ دمینی غل ـ تهٔ وګوره

کل په لاس ـ اوتر اوتر ـ لونده هوا
دا خو دے ښکاره اجل ـ تهٔ وګوره

شوم د محبت راته ـ اوس نهٔ ګوری
ما ورته ـ هر څهٔ بخښل ـ تهٔ وګوره

نن عابده ـ هر ملګری ـ بل ته وي
چا ووي ـ دا خوږ غزل ـ تهٔ وګوره

۳۔اپریل۔۲۰۰۳ء مردان

☆

ارمان ارمان لمحې خو خامخا راځي به ژوند کښې
یار ـ څۀ نه څۀ کمې ـ خو خامخا راځي به ژوند کښې

یو عمر وشو ـ تا خپله وعده ترسره نۀ کړه
یو ځل دوه پسرلے خو ـ خامخا راځي به ژوند کښې

رنګونه د تصویر مې ـ ورخ تر ورځه پیکه کیږی
دا چا وې ؟ چې مزې خو خامخا ـ راځي به ژوند کښې

یو چونګ له ستورو ډک ـ او بل کښې خاورې ستا د چم
خواني او سرې غوټې خو ـ خامخا راځي به ژوند کښې

عابده تور ګلاب د تورې شپې ـ هم علامت دے
تيارې او پلوشې خو خامخا ـ راځي به ژوند کښې
۱۵ اپريل ۲۰۰۳ء مردان

(صوتي قافيې)

☆

بیا هاغه زړو لارو باندې ځم ۔ راته یادېږي
د زړه په دربېلو مې قسم خوړم ۔ راته یادېږي

رنګونه د ګوډې د تال مې تول په شوندو خاندې
تصویر په هر قدم دې خکلوم ۔ راته یادېږي

باران ستا د یادونو۔ ده "هولی" پکښې رنګین شوم
لمحه د ګل په تار ترم ۔ راته یادېږي

خوږې زړه مې تسلي هسې ۔ چې اوس به دا دې راشي
شپې ورځې د لوظونو دې شمېرم ۔ راته یادېږي

د پتې خوشبوۍ شوندې ۔ چې خکل پرېږدي کړې
ستا خیال لکه غزل ۔ غزل کوم ۔ راته یادېږي

خبرې د سپوږمۍ ۔ د ګل په خلې او ستا لیکلې
عابده سرے وژني ۔ ستا قلم ۔ راته یادېږي

۱۸۔اپریل۔۲۰۰۲ء مردان

هولی:۔ د هندوانو یو کلیزر رسم چې پکښې تول به یو بل رنګونه توي او خوشالي کړي۔



دا د ژوند تراخه او توبه ستا ستم
زه بوازي ـ ته او توبه ستا ستم

پانه پانه خیال ـ کچه کچه ارمان
دا توره تیاره ـ او توبه ستا ستم

هاته خو جدا نه بنکاری ـ ستا نه خار
اور کښې سوزېدهٔ ـ او توبه ستا ستم

زړهٔ زلمے ـ شراب ـ د لوفری جشن
تاو د تنارهٔ ـ او توبه ستا ستم

ولې به عابد پکښې ډوبېږی نا
یو د سیند وبهٔ او توبه ستا ستم

۱۸ ـ اپریل ـ ۲۰۰۳ء مردان



خانی کڅه غریبی ده ـ پیمانې د مېخانې
زما خو زندګی ده ـ پیمانې د مېخانې

دروغ دی ـ ټول دروغ دی ـ دا رنګونه دا خوبونه
خوانی خو بس خوانی ده ـ پیمانې د مېخانې

سجدې کوی وریځو ته ـ او ګل نه طوافونه
د چا چې مجبوری ده ـ پیمانې د مېخانې

تصویر د خوشبویو دے ـ محبت ـ انتظار ـ تنده
د ګلو ستو مانی ده ـ پیمانې د مېخانې

رندان خو دې ساقی څکه رانیسی ـ د لمنې
د دوو زړونو مستی ده ـ پیمانې د مېخانې

غټب غټب ئې د محفل په دروازه باندې لیکلی
د ګل ـ عابد ـ یاری ده ـ پیمانې د مېخانې

۲۲ـ اپریل ـ ۲۰۰۳، مردان



ستا چې د خلوص ډکه وعده نۀ وه
خکه مطمعینه مې اسره نۀ وه

کور مې دغزل وۀ ستا تصویر او یاد
شپه وه او ټول کور کښې ائینه نۀ وه

بې له زندګۍ په تخلیقاتو کښې
خدایه ـ چرته بله هنګامه نۀ وه

تاسره په خلۀ بله بانه نۀ وه
ما سره په لاسو کښې ډیوه نۀ وه

تول ژوند راله دي وسوسو وخوړو
ما باندي مئينه چي به وه نه وه

وي خاندل خو بيرته ني ونه كتل
دا منم وره وه خو ساده نه وه

بې د محبت د هواګانو نه
وه زندګي وه خو داسي بنه نه وه

كېږده به ګل لاس كليمه ووايه
تېره به ما كومه مرحله نه وه

ورک به ووم عابده هره لاره كښي
بنه ده چي به تا مي عقيده نه وه

۲۸ـ اپريل ـ ۲۰۰۳ء مردان



نۀ راته د ورځې نۀ د شپې ـ پته
ولګېدله يار ـ ستا د وعدې پته

ښکارى ـ د هر چا نه تۀ ورک شوې يې
غوارى ـ هر سړے ستا د کوڅې ـ پته

ما باندې احسان د بهار څله کړې
ماته خو دې شته دې ـ زمانې ـ پته

زۀ د څۀ باچا او حکم څۀ زما
تا چې د نيولې ـ د بکې ـ پته

دلته کیښې په شپو کیښي خلق ویخ وسی
شته درته د دې کلی خانے ـ پته

داسې خو به گران شی ـ تلۀ راتلۀ ـ د زړۀ
نۀ اخلي اشنا ـ نۀ راکوې ـ پته

مینه دې والله ـ دې د خوشبو محل
نۀ چرته ښکاره شوې ـ نۀ دې شتې ـ پته

دې د هوا کور ـ د انتظار لمن
راشه ـ لگی نا ـ د زمانې ـ پته

څکه خو عابده خلقو هېر کړلې
هر چاته په خط کیښې چې لیکې پته

۱ـمئی ـ۲۰۰۳ء مردان

(صوتی قافیې)

☆

څۀ په منتونو ـ خدائے راکړي مې
یاره ـ په سوالونو خدائے راکړي مې

دې مې ـ د ژوند پانه پانه ـ ستا تصویر
ټول په کتابونو ـ خدائے راکړي مې

خکه مې د زړۀ هره ذرّه کښې ـ مې
ماله په دردونو خدائے ـ راکړي مې

دا ووۀ رنګې باران ـ ساقي او جام
څومره په رنګونو ـ خدائے راکړي مې

څنګه دې لمن ـ ڈومره زر پرېږدمه
پس ته په عمرونو ـ خدائے راکړي مې

چرته څې عابده ؟ داسې نۀ کیږي
نن خو په لاسونو ـ خدائے راکړي مې

۱۱ـمئ ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

نه ته رضا شوې ـ نه خواني ـ نالګي ختمه نه شوه
يو چم کښې وسو ـ دشمني ـ نالګي ـ ختمه نه شوه

هاغه د عمر خفه ځانګې ـ دخفګان پشکال
زما د زړه او د سپرلي ـ نالګي ختمه نه شوه

ما وې چې ستا راتله به ـ زيړے شي به د درد د غزل
شوه يو به دوه مې ـ قسمتي نالګي ـ ختمه نه شوه

ګرانه ده ـ ستا او زما تله په يوه لار ـ رقيبه
د مرګ او ژوند ده ازلي نالګي ـ ختمه نه شوه

هر ځه مې لاړل ـ د خواني قيصه ـ هم لوټې لوټې
بس خو عابده غريبي ـ نالګي ـ ختمه نه شوه

۱۲ـ مئی ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

نور څۀ باتې زما اوس له اسمانه ـ رائې نۀ کړې
یو سوال وۀ ـ تۀ مې وغوښتې جانانه ـ رائې نۀ کړې

تۀ څۀ خبر ـ دا جالې مرغو ـ څو خله تازه کړې
جانانه رائې کړې ـ څو به اسانه رائې ـ نۀ کړې

نور څۀ وه ـ څو یو دوه بانې مې شونډو له غوښتلې
راځه راځه زما سترې ارمانه ـ رائې نۀ کړې

هغه چې ئې زما به نوم پېژنلې ـ به امېل کښې
دانې ئې تولې توئې کړې له ګرېوانه ـ رائې نۀ کړې

عابده د ژوند لار کښې ـ مخامخ به یو ترعمره
اواز به راکوې ـ څو چې له شانه ـ رائې نۀ کړې

۱۳ـفروری ـ۲۰۰۳ء مردان

☆

کاتۀ دې بنکلے خط ـ وعده مهينه ـ لفافه ده
رنګونه دی ـ ورمې دی ـ مينه مينه لفافه ده

پراته پکښې ګلونه د غزل ـ ټکی سازونه
سپرلی راوړې ځان سره رنګينه ـ لفافه ده

عمرونه وشو يو يو ـ خو نۀ تلې ـ نۀ راغلې
زما او ستا قيصه ـ بې نومه ـ سپينه لفافه ده

سرې سترګې د سپوږمۍ ـ لکه شوګير وهلې پاڼې
سيلۍ د غم ورلې لونګينه ـ لفافه ده

ستا خوا کښې ـ تا سره ـ ستا دنظر لاندې پرته ده
زما نه بختوره خو نيازبينه ـ لفافه ده

اشنا رقيبان نۀ شی ـ لاس نيولې مې لمن ته
پرته تراوسه ما سره ستا مينه ـ لفافه ده

زړۀ ټول د محبت د ځاځکې ځاځکې ائينه يم
عابده رنګ زما د زړۀ په وينه ـ لفافه ده

۲۴ـمئی ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

بنه راته پته دۀ ـ چې سوال مې قبلېدې هم نۀ شي
وزۀ مې مجبور له خپل عادته ـ صبرېدې هم نۀ شي

هر سړي سترګو کښې ازغي نيولي ـ اور نيولي
سړے له ويرې نه په ګل منېدې هم نۀ شي

په هره لار کښې تنهائي ډاسې په شور دی ـ چپ شه
چې څوک يوازې له خپل کوره راوتې ـ هم نۀ شي

د عمر عمر د ديدن د سوال جواب ئې راکړو
واغږے پټ مخ ـ وې وئېل نا ـ دا يو ېتې هم نۀ شي

ما چې وروکتل ـ نو وې کتل رقيب ته ـ وې ئې
توبه توبه ـ بنده په لار چا سره تلې هم نۀ شي

عابد چې جام په يو ساه وڅښۀ ـ نو ساقي ته برند شو
څومره تراخۀ دی ـ په ګوټ ګوټ سړيه ـ څښې هم نۀ شي

۲۷ـ مئی ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

هر طرف کۀ شور وی ـ خو په شور کښې چاته نۀ وایو
مونږ زرۀ کښې پرتې هم ـ په بېغور کښې ـ چاته نۀ وایو

دی داسې مجبوری چې ـ کۀ هغه دے ـ او کۀ زۀ یم
وینو روزانه یو بل ـ خو کور کښې ـ چاته نۀ وایو

سېزلې زمانې داسې خاموشه یو ملګرو
وسو کۀ هر څومره په سور اور کښې ـ چاته نۀ وایو

مونږ چې عقیده لرو د ژوندې ساه په نوی ژوند
پنځ کۀ شو په ژوند باندې هم ګور کښې ـ چاته نۀ وایو

دا زمکه د درد نېر دے ـ عابده دلته څۀ اتبار
ورک دې شو ـ بدنام دې شو هر لور کښې ـ چاته نۀ وایو

۲۸ـ مئی ـ ۲۰۰۳ء مردان

تبرۀ والۀ ـ دوبرېبهلولو نالی

☆

زما په شان د ګل نه صبر شه خانیه ـ چپ شه
یاد به شي باد سره لوفر پرېږکیه ـ چپ شه

دا به څوک بیا د هغه ګل د کور پوښتنه کوي
ستا تپوس نۀ کوي دروېږه مه زړګیه ـ چپ شه

مونږ د رانډو د ښار ډېوې پېژنو ـ خان پېژنو
مونږ ته د وار خبرې مۀ کوۀ ساقیه ـ چپ شه

دا د سحر سحر قیصې ـ هر چا ته څله کوې
څوک به دې مړ کړی په دې شپه کښې لېونیه ـ چپ شه

د وخت نه مخکښې ولې مرې زړګیه ـ څې او راځي
وعده ئې کړې ده ـ بس اوس دا دې راځیه ـ چپ شه

پرېږده چې نۀ راځي عابده ـنو بس نۀ دې راځي
زړه راله مۀ چوَوه ـ په ارام کښېنه سړیه ـ چپ شه
۲۸ـمئی۲۰۰۳ء مردان



ستړې ژوندون دے او دمه دمه فضا ۔ غرمه ده
ستا انتظار دے ۔ شګې بربښي په هر خوا ۔ غرمه ده

هاغه مئين ۔ چې ستا د شونډو په مسکا ۔ سوزېدو
هاغه مئين دے ۔ او د هاړ توده هوا ۔ غرمه ده

په هره اوښکه کښې مې ستا د سترګو ستورې خاندې
هره قطره کښې مې د وينې ۔ په ژړا غرمه ده

پرېږده يا تلې يا راغلې ۔ د ژوند دوه لارې دي
يا له شوګيره ډکه شپه ۔ يا د سوډا ۔ غرمه ده

د واورو کور دے ۔ ستا د لوظ د راتلو ۔ انتظار
د سپرلي کور باندې قيامت دے ۔ څه ناشنا غرمه ده

يو پله مينه ده عابده ۔ بل طرف امتحان
زه ستا تصوير باندې راخور ۔ خوره په ما غرمه ده

۲۔جون۔۲۰۰۲ء مردان

☆

خۀ مړاوی مړاوی ګوری ـ په تازه تازه نظر کنبې
په زړۀ وروی ستوری ـ په تازه تازه نظر کنبې

مستی دی ـ چې ویښېږی ـ په وړۀ وړۀ زړګی کنبې
رنګونه دی ـ چې اوری ـ په تازه تازه نظر کنبې

وعده کړی ـ هم پرده کړی ـ هم خندا کړی ـ هم ستم کړی
هم نمر لری ـ هم سپوری ـ په تازه تازه نظر کنبې

وفا ـ مینه ـ حیا ـ مستی ـ خمار ـ ادا ـ ستونه
دی ټول د غزل توری ـ په تازه تازه نظر کنبې

عایده د کم عمره محبت ـ أستاذی ګوره
سپرلی په ګلو پلوری ـ په تازه تازه نظر کنبې

۷ـجون ـ۲۰۰۳ء مردان

☆

ستا د نظر۔ ستا د جولی ۔ شراب شراب یادونه
خمار خمار ۔ تالی تالی ۔ شراب شراب یادونه

پرته به شوندو ئې د ګل د پاڼو مسته ۔ خوشبو
دې هر نظر ئې د خوانی ۔ شراب شراب یادونه

پرېږده چې وورېږی ۔ دا خولې خولې ورېځې
پرېږده چې والوزی رانی ۔ شراب شراب یادونه

موسم د وخت لاسو ته اچوی ۔ ګجرې د بهار
راورې خان سره سیلی ۔ شراب شراب یادونه

راشه عابده ۔ که ګېږې ۔ وینې د ژوند رنګونه
سپین زیږ ګلونه د سپوږمی ۔ شراب شراب یادونه

۲۶۔جون۔۲۰۰۳ء مردان

☆

زما او ستا هغه قيصه ـ اوس دلته هر څوک کوی
پته د تورې شپې وعده اوس ـ دلته هر څوک کوی

يو زما زړه ـ د سپوږمۍ سترګو نه ـ شبنم نه غواړی
څه نه څه رنګ کېږي دا نشه ـ اوس دلته هر څوک کوی

شعور ئې بند کړو په تعويز کېږي ـ او دعوې د عقل
خدائے سره ـ ځان سره ـ دوکه اوس دلته هر څوک کوی

مخکښې به يو پريکړے چرته په ګل مئين وه
ولې دا چل توبه توبه ـ اوس دلته هر څوک کوی

عابده يو ستا د زړه سترې ژوند قيصه خو نه ده
ښار کېږي له ښاره دا ګيله ـ اوس دلته هر څوک کوی

۱۴ـجولائی ـ۲۰۰۳ء مردان

☆

مینه ـ رنګیني ـ شاعري ـ ستا له پاره غواړمه
زه خو په سوال سوال زندګي ـ ستا له پاره غواړمه

زه خزان وهلې وچه پاڼه ـ زه تصویر د مرګ
دا په چاودو شونډو سپرلی ـ ستا له پاره غواړمه

ماتې د لفظونو ائینې شه ـ ورک د ستورو کور
زه خو دا خاني ـ ملنګي ـ ستا له پاره غواړمه

اے چې ته خفه ئې ـ نو اور بورې شه د ګل په ساز
زه خو دا د روح تازګي ـ ستا له پاره غواړمه

وي ویشته رقیب په ګلاب ـ وي خاندل عابده ـ بیا
وې ئې راته داسې مستي ـ ستا له پاره غواړمه

۱۶ ـ جولائی ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

څوک چانه ځان خفه کړی ـ څوک له چانه ځان خفه کړی
سړے چې له ژوند تنګ شي ـ نو له ځانه ځان خفه کړی

هیڅ فرق به خدایی کښې به دې نه راځي ـ زړګیه
څوک زمکې نه خفه ـ کۀ له اسمانه ځان خفه کړی

دا رنګ د محبت دے ـ دا دستور دے د بی مخو
لوطونه چې ورباد کړې ـ زړ به ځانه ـ ځان خفه کړی

اے ـ ځۀ به د پښتو د لمن تار ـ د لوظ کور شی
ظالم کوره دې داسې بې ایمانه ـ ځان خفه کړی

وې خوښ مې دې عابد ـ خو بس اکثر به نۀ خیره
مخ جوړ کړی ـ ځان له کېنې ـ له هر چا نه ـ ځان خفه کړی

۲۲۔جولائی۔۲۰۰۳ء مردان

☆

داو به کړی اشنا سروونه ـ داسې بې پښتو نهٔ دی
ستا د مېښانو زړونه ـ داسې بې پښتو نهٔ دی

شپه وی۔ که سحر وی ـ ماله څرېکه ژوند راوړی
ښه دی ستا نه ـ ستا غمونه ـ داسې بې پښتو نهٔ دی

ما خو درته وې زړګیه ـ دا یاران نهٔ دی
تا راته وې څه چې خو ـ نه ـ داسې بې پښتو نهٔ دی

اے نهٔ خو لاس وغواړه ـ نو بیا کوه د سر کېلې
دا د لېونو چمونه ـ داسې بې پښتو نهٔ دی

وژهٔ وائیم ـ عابده چې وخت خرڅ شو ـ فن پېسه شوله
تهٔ وائې ـ چې نا وختونه داسې ـ بې پښتو نهٔ دی

۳۱۔جولائی۔۲۰۰۳ء مردان

☆

(مانه چې جدا شوې ـ نو خوشاله يې
يار ـ به دې دروغو مې ـ همخياله يې)

نه د ورځې هوسې ـ نه د شپې قرار
زړه ـ وايه ـ دا څه پسې ليواله ـ يې

يې به ـ د چا ـ يې به ـ د بهار امېل
ژوندۍ ـ د دردونو زړے ـ ماله يې

هره يوه لاره دې ـ ازغې ازغې
بس خو د ګل څانګه ـ تنوله تاله يې

هغه څښتنه ـ خو توبه عابده ـ هغه ګوره
بيا به راروان ګوره ـ سيا له ـ يې

۴ اګست ۲۰۰۳ء مردان

☆

څوک ګرځي په تعبير ـ څوک په خوبونو پسې ګرځي
په څۀ نه څۀ رنګ ټول ـ ورکو څيزونو پسې ګرځي

چپ کښه ـ غږ ونۀ کړې ـ اے د عقل پېغامبره
لا اوس هم بلها خلق ـ تعويزونو پسې ګرځي

بدلون به د وخت خاوري شي نغمه ـ د ګل په ژبه
همزولي مې د ښار ډوډۍ مخونو پسې ـ ګرځي

د زړۀ د زلميتوب جواز په نور اسانه ـ څنګ وي
لوفر پرېرکے دے ـ په ګلونو پسې ګرځي

خلوص غواړي ـ وفا غواړي ـ مستي او مينه ګوري
دا څۀ ګوري عابد ـ کومو وختونو پسې ګرځي

۸ـاګست ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

ستا د وعدو ـ ستا د خندا له کوره نۀ شم وتې
زړۀ کۀ مې ډېر غواړی ـ بې ستا له کوره نۀ شم وتې

ټیک دی ـ چې نۀ وائې ـ نو یم به ـ د ادا لېونے
بس ـ د پښتو او د وفا ـ له کوره نۀ شم وتې

خط مې قبول کړه ـ د غزل ادا مې واخله سلام
نور خفه کېږه مه اشنا ـ له کوره نۀ شم وتې

هیڅ خبر نۀ یم ـ چې جذبه د محبت څۀ وائی
بس نۀ راځې ـ له دې سودا ـ له کوره نۀ شم وتې

عابده ورشه ـ د محفل ملګری ټول خبر کړه
ډېر ناروزګار یم نن سبا ـ له کوره ـ نۀ شم وتې

۲۰ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان



ډېر لرې تلۀ دی ـ د چا سترګو کښې کاتۀ ـ ومنه
مۀ خه ـ په دغه لاره مۀ خه ـ زما زړۀ ـ ومنه

په دې ـ ضلونو خو پښتو بلها په سر وخته
په عمر پس ليدۀ دی ـ نن خو څۀ نه څۀ ـ ومنه

وره هوسی ـ چې په خپل خان ئې هم اتبار نۀ راځی
زړۀ مې ـ غمونو په دا رنګ کړلو وېۀ ـ ومنه

مينه خاموشه خوشبوئی ده ـ د خوانی د ګلاب
راکړه ـ لاس راکړه ـ څۀ باور د ژوندانۀ ـ؟ ومنه

څۀ دی ـ خو بس رشته دې نۀ وی ـ د قلم او ژبې
خلق رضا دی ـ خو عابده بس يو تۀ ـ ومنه

۲۱ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

خان مې لاهو کړو ـ محبت له مې دنيا ورکړله
ما ستا يادونو له ـ خوشبو د موتيا ورکړله

هره خيره مې ـ د هر سرې د زړه اواز شۀ
ما د غزل ژبې له داسې اسانتيا ـ ورکړله

چا ته ئې حسن ـ کۀ بې شانه غرور ناک وبخښۀ
چا له ئې هينه کښې سل رنګه لېونتيا ـ ورکړله

د ژوند خوارۀ ليدل ـ زمونږ د تندى کرښې نۀ دى
دا ده ـ چې بيا هم مونږ هر چا له مسکينتيا ورکړله

د مابنامې د ګرمې جشن دې ـ او غريکې خاندى
د تضاد ژوند ـ چا له دمه چا له ـ ستړيا ورکړله

هيڅ ئې په يو نظر ـ عابده منم ـ نۀ کميږى
بنکلو له خدائے هسې په هر څۀ کښې شوميا ورکړله

۲۲-اګست-۲۰۰۳ء مردان

☆

غزل چي وچيږي ـ لفظ لفظ د زړه سودا ـ باره کيږي
څه وائي ـ خيال دې څه دې وايه ـ د هوا باره کيږي

ما په وزر وزر ليکلي د ګل ـ ستا نامه ده
ما دې رشته کيږي تپوس نه دې کړې ستا ـ باره کيږي

هاغه دې ـ بربوته نسر ـ وګوره ـ ته بيا رانغلي
هابنام شو ـ بيا کرم ربيمه ـ د سبا باره کيږي

د عمر پس د ديدن سوال ـ خلق په شرط نه کوي
د محبت قانون جدا وي د دنيا ـ باره کيږي

رقيب دې خدائے له بيي سپک کړي ـ خو پاګل زړګيه
غلے شه ـ خلق داسي نه وائي د چا ـ باره کيږي

بربړده ـ چي عشق د نظر ئي تول ـ په زړه کيږي بوسم
نور په څه ياد ساتي عابده ـ ګل زما ـ باره کيږي

۲۷ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

نۀ به ګل غوړېږي ـ نۀ به غوړېږي خپل اختيار ـ په زړه
نن راته نوې قيصه کېږی ـ د بهار په زړه

زمونږ بې دربغه مينې ـ څۀ رنګ راوړه ـ ګوره کنه
کېږی د ګلو تذکرې ـ نن د شوګمار ـ په زړه

ما د روزګار په غرض زده کړې د ښار تولې ژبې
بيا هم ښۀ نۀ شوم ـ چې مې پوئې نۀ شو دا ښار ـ په زړه

د ګلاب څانګې له خو رنګ به د خوانۍ ـ وګټو
هيڅ شرم نۀ دے ـ کۀ ملګرو شو په دار ـ په زړه

کوی په خپلو کينې ـ تول ګوره ـ په يو بل تيصرې
پس خو يو زۀ يم ـ ماله رانغې دا کار ـ په زړه

د شبنمی لهجې قيصې تل ـ له وفا ډکې وی
ښکاری غزل همېش عابده ـ مزېدار ـ په زړه

۲۸ ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء، مردان

☆

څۀ زۀ پاګل د محبت ـ او څۀ ستا ياد راسره
تږلوم پانه پانه خان غم دے د باد ـ راسره

ماغه د ورک برېږکی قيصه ـ او درد د ګلاب
نن هم تيرېږی په ما مرې زړۀ نامراد ـ راسره

اے ـ تا نه څۀ پته ـ چې څوک ډېر خاندی ولې خاندی
مانه تپوس وکړه ـ دې پروت د غم جهداد ـ راسره

ما خو شکست د محبت خوړلې نۀ دے ـ په سر
تږلې بيا ولې ـ دې خلقو دې فرهاد ـ راسره

دا د جولی کاڼی ـ ګيلې د ستمونو نه دی
هر حۀ کوی عابده ـ تل خپل اعتماد راسره

۲۹ ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان

جهانداد ـ دا لفظ په درېو سېلابو کښې دے خو د شعر د بحر له پاره ما په دوو کښې ليکلې دے۔

☆

ګلاب ګلاب شو ـ ګوره خدائے څهٔ رنګینی ورکړله
ستا د یاد رګ رګ له مې وینه ـ د زړګی ورکړله

هره خبره ئې ـ د هر سړی د زړهٔ اواز شهٔ
مونږ د غزل ژبې له دومره سادګی ـ ورکړله

زما د سپوږی نه هم تختی ـ ما په ګانړو ولی
هاغه ظالم چا له چې ما تموله خوانی ـ ورکړله

څهٔ بختور وهٔ ـ ګوره ورکړله خدائے ـ څهٔ مرتبه
ستا د جومات په مشینخ کښې نن یو شرابی ورکړله

ورشئ ـ کهٔ اخلی ترینه فیض ـ د کتابی ژندګی
په دغه کلی کښې ـ بیا له خدائے زیرکی ورکړله

وائی ـ عابده ـ چې د زړهٔ به ـ په خلهٔ نهٔ راولې
زما یارانو له خدائے ـ بنه مسلمانی ـ ورکړله

۳۰ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان



هیڅ هم بوئي نه شوم چي څنګ تېره شوه ځواني ـ قسم دے
بس خو يو بار دے ـ دې دوران کښې زندګي ـ قسم دے

عمرونه وشو ـ خو غورځنګ دمينې پرې نه وتۀ
ياد دې تراوسه راله شپه کښې ـ څي راځي ـ قسم دے

هاغه چي ستا د ګجرو تال ئي وۀ ارمان ـ د مينې
هاغه زړۀ نن هم دې زما ـ بنګړي بنګړي ـ قسم دے

رندان به خود مې د نوم فال ـ د وار کاسې له نيسي
څوړلي ما ـ ستا په ډک جام باندې ساقي ـ قسم دے

راشه ـ چي سا د تنهاې د اندېښنو ـ تازه شي
لګي بادونه په هر لوري د سپرلي ـ قسم دے

زړۀ د سري وشي ـ چي سري کتاب کښې کېږدم
يو دي ـ عابده ستا غزل ـ پرېږکي ـ قسم دے

(سره لي)

۳۱ـ اګست ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

نه۔ هېرېدونکې ۔ ګلورينې سلسلې وګرځي
بعضې قيصې ۔ د ژوند رنګينې شان لمحې وګرځي

(نه يوه لاره کښې رقيب شته ۔ نه پردې چرته څوک
سرې ۔ بهر کۀ له خپل ذاته يو پوتې ۔ وګرځي)

ليوه شان غېږه کۀ د مينې ورکړې ۔ بنۀ به وکړي
مزدور مئين دې تږوله ورځ ۔ فرې فرې وګرځي

څمه ۔ ليکم نوې ائين د محبت ۔ لاليه
لږ خو مسکې شه ۔ چې دستور د زمانې ۔ وګرځي

دلته کښې کيږي داسې تل ۔ د محبت ارمانه
څۀ نوې نۀ ده ۔ کۀ سپين مخې له وعدې وګرځي

د مينې زيه خوشبوئي ده ۔ انقلاب د ګلو
بنائي مئين سره ۔ چې سر پرې د جذبې وګرځي

يوه خبره درته کړم ۔ ګله خفه پرې نۀ شې
يقين مې نۀ دې ۔ چې عابد دې له کوڅې ۔ وګرځي
۱۔ستمبر۔۲۰۰۲ء مردان

☆

چرته پټیږي د سپرلو خبرې ـ لرې لاړې
زما او ستا هغه یو څو خبرې ـ لرې لاړې

هینه جلبه غواړي ـ دستور د زمانې نه منی
چې شه زړګیه ـ د پښتو ـ خبرې لرې لاړې

د سپینو زرو بډنونه ـ او غمی شان زړونه
لاهو شوې لاړې په ویو خبرې ـ لرې لاړې

ما درته وې ـ چې محبت مسته هوا ده ـ مه کړه
زړګیه ستا د درزېدو خبرې ـ لرې لاړې

د زړه لوګې فرښتې او ستا د یاد بادونه
نن د غزل د رنګینو خبرې ـ لرې لاړې

څکه زلمی ګرځي عابده په اسمان د غرور
چې د دوران د جینکو خبرې ـ لرې لاړې

۳ـ ستمبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

ژوند په قدم قدم اوږونه کړی ـ نهٔ منمه
چې وخت به لاړو کیږي ګلونه کړی ـ؟ نهٔ منمه

د برخې ژوند ـ د شبنمی احساس تازه تصور
په هره ساه کیږي امیدونه کړی ـ نهٔ منمه

دلته کیږي ځانګې د ذهنونو ـ تعویزونه نیسی
دا خلق یاره تش وهمونه کړی ـ نهٔ منمه

د فن چمن کیږي ښېرازی د ادب ځنګه راشی
ټول بس د یو بل صفتونه کړی ـ نهٔ منمه

د فن چمن کیږي ښېرازی د ادب ځنګه راشی
ټول د ادل بدل لفظونه کړی ـ نهٔ منمه

دې کیږي به ځهٔ راوړی عابده ـ غزل رنګ د ګلاب
دا موسمونه ـ نفرتونه کړی ـ نهٔ منمه

٤ـ ستمبرـ ٢٠٠٣ء مردان

☆

زانګلې ـ همره دې وه بيا وعده ـ په دې خبره
لاس دې راواچوه ـ اشنا راځه ـ په دې خبره

د سپوږمۍ لپه کښې د ستورو اننګې دي ـ مینه
اوس وايه څنګ دې زړه منی ـ؟ کوه ـ په دې خبره

زما د خط جواب ـ په لاس د رقیب ـ څۀ معنیٰ شوه
ډېر مې خفه دې زړۀ اشنا ـ خدائے شته ـ په دې خبره

دا خو څۀ نوې نۀ ده ـ ما کۀ سوال د مینې وکړو
ما وې چې ولې خاندې یار ـ؟ بنه بنه ـ په دې خبره

ماله هېڅ چل عابده نۀ راځی ـ پښتو هېروِل
شل څله باتې دې شی کلے ـ څه په دې خبره

۶ـ ستمبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

لیونی - مینې لیونی ووژل
ستا د راتللو خوشالۍ - ووژل

(مرګ خو یو لفظ دے - چې معنیٰ نه لری
دلته کښې خلق - زندګۍ ووژل)

نوره تشریح دمحبت به څۀ وی
ټول پتنګان خپلې مستۍ - ووژل

څوک دې ساقی په یو نظر وده کړل
څوک دې په طمع د پیالۍ - ووژل

زړے - د نوی دور نور - څنګه دے
زلمی تلاش د مزدورۍ - ووژل

ریښتیا خو دا دی - چې عابده روره
یاران خو ستا دې شاعرۍ ووژل

۷۔ستمبر۔۲۰۰۳ء مردان



مړو دې په وعدو ـ او اتبار هم کوو
ستا د نه راتلو انتظار ـ هم کوو

(مینه ده زمونږه د یو بل سره
اوس د دې خبرې اظهار هم کوو)

رنګ د انتظار په ګل کښې اچوو
دا چې ملازې د بهار هم کوو

مینې د غالب[1] هسې شل نه کړلو
څۀ نه څۀ خبرې د کار هم کوو

نۀ کوو خبرې ـ په پردې ژبه
دا پښتو په یاره په دار هم کوو

چا وې چې عابده د ګل مینه کښې
نرخ د محبت د بازار ـ هم کوو

۹ـ ستمبر ۲۰۰۳ء مردان

[1] ـ د غالب ددې شعر په ضد کښې (عشق نے غالب نکما کر دیا ورنہ ہم بھی آدمی تھے کام کے)

INCOMPLET

دا څۀ سپرلے دے چې نۀ ګل شته ۔ نۀ خوشبو نه قرار
د ژوند په هره یوه پانه تنهائي او ژړا
یو تریخ احساس ۔ چې دامید په مړی غلی ناست دے
په هر قدم هر څۀ بائېلل دی داو کول دی د خان
په هره لپه کښې فریاد ۔ هره جولۍ کښې سلګۍ
په هر نظر کښې یوه تنده ۔ یو خواهش یو ارمان
داسې تیاره ده ۔ چې رڼا هم پکښې ستړګي مړې

یو داسې لفظ ۔ چې ډېر اسان وی ۔ خو لیکلی نۀ شی
ژوند داسې حد ته ۔ په تپوس تپوس راوستې یمه
تېزه هوا ده ۔ خو ستا یاد پکښې نوره هم نشته
داسې تصویر ۔ چې تصویر شته ۔ خو تصور ئې نشته
کڼ پتنګان لکه سپوږمی پسې په جمع روان
د رڼای تمناګانې ئې تیارې ۔ د ژوندون
داسې اواز ۔ چې پکښې ساز او سوز له یو بله ورک
داسې رشته چې هېڅ تعلق پکښې تر منځه نشته
داسې اواز چې د ساحل د سینې شګې نولي
داسې راڼې چې د لفظونو ائینې ماتوی
داسې کتاب چې هره پانه کښې ئې پروت دے ګلاب

هس کۀ ئې ګورې ۔ اے ۔ کۀ غم دې د خپل زړۀ کموې
واخله "سپوږمی په سمندر" کښې د "ساحل" په ارمان
۱۴۔ستمبر۔۲۰۰۳ء مردان

د (ساحل یوسفزی) دکتاب "سپوږمی په سمندر کښې" په مخکښنه کښې واوروړلی شو



زړه وران شي بهار کیښي ـ قدرتي کار دے
دا بس په دې کار کیښي ـ قدرتي کار دے

څومره چې ئې قصد د هېرېدو ـ وکړم
راشي راله لار کیښي ـ قدرتي کار دے

هم زړه دروغژن ـ هم بې ایمانه شي
دا د مینې تار کیښي ـ قدرتي کار دے

تل راسره بد ـ د ژوند په لارو کیښي
کېږي په اتبار کیښي ـ قدرتي کار دے

هسې سړے ور له او بلې له ځي
دا په انتظار کیښي ـ قدرتي کار دے

ښځه مې د نامې چرې زغمے نه شي
دا مې په هر یار کیښي ـ قدرتي کار دے

مات شو د سپوږمې په لاس د ستورو جام
ستا ـ نظر ـ خمار کیښي ـ قدرتي کار دے

چا له چې هم لاس عابده ورکړمه
پرې مې زړې په لار کیښي ـ قدرتي کار دے

۲۶ـ سمتبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

کور په کور ونوستې مستی د گریوان - څېرته لاړې
زما او ستا هغه قیصې - د گریوان څېرته لاړې

زنه هغه پوهه چې ترې لاړه لوېته په کومه
نه زه خبر چې مې تپی د گریوان څېرته لاړې)

هر انتظار د خفه ځانګې د ګل سپوری ته ناست
خدائے خبر څه شوې خوشبوی د گریوان څېرته لاړې

دا زمکه ښار د محبت دے - دلته هر څڅ فنا
چا ته دا پته چې مرغی د گریوان څېرته لاړې

هره ارزو لکه مالوچ وریخ خوره شوه
په د ګل پاڼې - په سپږمی د گریوان - څېرته لاړې

ده هره ساه د لوېتې هسې ګلرېزه هوا
خدائے زده عابده ښاپېری د گریوان څېرته لاړې

۲۸-ستمبر-۲۰۰۲ء مردان

☆

(زما په ژبه د ګل نوې ذایقه ـ ولیکه
وخته ـ ته هم زما په نوم یوه تپه ـ ولیکه)

زما د نوم سپوږمۍ به کم نه شي ـ په کور د غزل
لاس دې ازاد ـ چې څه لیکلي شي نو څه ـ ولیکه

دلته څوک لولي افسانه ـ د سترګې شه وي ګلاب
هر سړي غواړي چې خوشبو خوره ـ ولیکه

(زه به یوه لمحه کیني دا توله دنیا ـ ترې شم
ته به یوازې کله راشي یو شېبه ـ ولیکه)

د شور تصویر به هله جوړ شي ـ د سپوږمۍ په رخسار
د خال په ځای دې په تندې زما نامه ـ ولیکه

عابد ایمان راوړه ـ د مینې په کتاب واعظه
ورشه او دا د هر جومات په دروازه ـ ولیکه

۳۰ـ ستمبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

مستزاد غزل

مسته ترانه شومه ——— خم لور په لور
خور په زمانه شومه ——— هم کور په کور

هیڅ عنوان چې نه لری ——— نیسکرې وی
داسې افسانه شومه ——— د غم د شور

هر ځل نوې کیږمه ——— بیـــه کیږمه
ستا د خلې بانه شومه ——— اوس وایـــه نور

تنده د دریاب ومـــه ——— کچکول د ګل
اوس د نمر پونه شومه ——— قـــرار د اور

تل دی دشمنی پالل ——— غـــذاب ګټل
پوئي په یارانه شومه ——— پېـــغور پېـــغور

نه شوې د غارمو څادر ——— دمـــه ارمـــان
زه ستا ائینه شومه ——— په تا مې پوز

ورک شومه پښتون شومه ——— ادا د ګـــل
در شومه دانه شومه ——— د درد تـــکور

توئي شومه عابده تول ——— لوټ لوټ شومه
ماته پیمانه شومه ——— څـــلور څلور

۱۔اکتوبر۔۲۰۰۳ء مردان



د ژوند تصویر خاندی ـ بهار دے ـ یاره
وګړېږه ـ تا سره مې کار دے ـ یاره

دلته به رګ رګ کښې ـ سېرلی وسیږی
مردان خو ټول د ښکلو ښار ـ دے یاره

مونږه ژړل ـ چې ګل کاغذ ته راغے
اوس خو الفت هم کاروبار دے ـ یاره

ریښتیا خبره څوک هم نشی زغمے
انصاف د هر سړی پکار دے ـ یاره

پردې مې به سپوری ـ مړې ډیوې د نظر
دا دې انکار دے ـ که اقرار دے یاره

د دې پاګل د مینې څه باور دے
د عابد هر یو ښکلے یار دے ـ یاره

ستا د عابد به تاته ـ څه وایمه
نه ئې څه کار شته ـ نه وزګار دے یاره

۲ـاکتوبرـ۲۰۰۳ء مردان



کله تصویر پیکه ـ کله رشتې ورانې شي
د لاس په کرښو کښې ـ بلها بلها قیصې ورانې شي

(د هوسې سترګو کښې ـ د تېرې شپې زړا د سپوږمۍ)
په زیږ بهار کښې لکه مستې پلوشې ورانې شي

ودې ودې وریځې خاندي ـ د لفظونو شال کښې
برېږده چې نن د زړه لوفرې فرښتې ورانې شي

ستا د تصویر ـ ښکل کړې بانې مې ـ جاګیر د ارمان
د وږوږو کور کښې نخښې څه رنګ د لمبې ـ ورانې شي

بعضې وخت وښائي په سترګو کښې برېښند وختونه
عابده کله کله خدائېګو اښې ـ ورانې شي

۳ـاکتوبرـ۲۰۰۲ء مردان

☆

ډېر لږې راغلې ـ ستړے مۀ شې ـ بلها کار دې وکړو
په عمر پس ديدن دې راوړه ـ اشنا ـ کار دې وکړو

شنۀ ګلابونه د خوانۍ به شي ـ څادر د خولو
ما له دا ډېره ده اشنا ـ کۀ زما کار دې وکړو

د نمر به ټُل باندې لوټ شوې قافلې د رڼا
د خندا شګې دې کړې باد ـ د صحرا کار دې وکړو

ژوند مې وډۀ پرېږدې وۀ ـ وخته ولې غل شوې
د ګل قيصه دې چاته وکړه ـ؟ د چا کار دې وکړو

ياران باني ګوري عابده ـ دشمنې له هسې
شوې چې ايمان باندې مئين ـ کوم خطا ـ کار دې وکړو

٤ـاکتوبر ـ٢٠٠٣ء مردان

☆

الزام ئې په سر اخلی په ښکاره باندې ـ خان وژنی
اوس هر سړے د ښکلی په بره باندې ـ خان وژنی

د مینې د خدا د ښو ستوری خو لا پرېږده
مئین د یو نظر په اشاره باندې خان وژنی

نن بیا مې د ارمان خوبونه ـ سترګې د شور مېږی
نن بیا د تندې ژوند یوه لمبه باندې خان وژنی

دې ښار کښې د دمه دمه رڼا انتظار سپوږمے
سړے لکه د شکو په چپه باندې ـ خان وژنی

نمجنې شان لمبې او ریښمی شان حرارت دے
عابده ـ زړۀ د یاد بېه بېه باندې خان وژنی

۴ـاکتوبر۲۰۰۳ء مردان

☆

د دومره بنې قیصې نه پس د پاڅېدو مۀ وایه
پس له عابده ـ د غزل د اورېدو ـ مۀ وایه

خاندې په سترګو کښې ـ د مینې لېونی وریځې
توره رنا ده ـ د ډیوو د بلېدو مۀ وایه

د خوشبویو خزان دے ـ هر خوا د مرغو انقلاب
د خدائے خاطر وکړه راځه ـ نور د وعدو مۀ وایه

د ګل په لپه کښې مې دوبه شوه خواني ـ لاهو شوم
مۀ وایه نن راته ساقي د میو څښتو مۀ وایه

پروت په احساس د موتیا ځادر ـ خاموش یادونه
نن خو عابده راته کور نه د وتو ـ مۀ وایه

٦ـاکتوبرـ٢٠٠٣ء مردان



اوسی په زمکه ـ فېصلې د اسمانونو کوی
ډېر خلق اوس هم محبت په تعویزونو ـ کوی

د شاړ ذهنونو خاوندان مې شو ـ د فن ملګری
لوئې خبرې همېشه د کتابونو ـ کوی

په هر یو لفظ کښې په زما د زړۀ داغونه ستائی
چرته کۀ ـ کېنې څوک تفسیر ستا د خالونو کوی

وینځلې سترګې ـ برېښېدلې قرار ـ شور د هوا
مئین دې څومره وظیفې د اتبارونو کوی

عابده یاتې څۀ اتبار شو اوس د خیال او غزل
د لار ملګری مې دعوې چې په شعرونو ـ کوی

۱۳ـاکتوبرـ۲۰۰۳ء مردان

☆

وخته ـ قربان ـ كۀ دې مستې راوستې
بيا كۀ لمحې دې پخوانې ـ راوستې

ما به سپورلر كړې ـ كه د خان سره دې
باده ـ د ګل نه خوشبوې راوستې

ما وې ورېږى ـ پرخه پرخه غزل
د ساه ورمې چې دې سيلې ـ راوستې

ته خو به زور د خوانۍ نۀ ـ پوهېږې
خولې به ما دې لېونې راوستې

شونډو كښې ست ـ هم اشارې دنظر
زړګيه ـ چرته زندګې ـ راوستې

تيارې د زلفو خورې ـ ستا به مخ شوې
به زړۀ زما ئې ـ سپادلې راوستې

خانګې وختونه به تار تار د خمار
موسم دمينې بې خودې ـ راوستې

ريښتيا شو نن ـ شراب ـ كباب ـ عابده
ساقي محفل ته جينكې ـ راوستې

۱۶ ـ اكتوبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

ستا نه بغېر سالګره

د ماښام په شپنمی تیارۀ کښې
زما مېز ـ د ملګرو د راکړې شوې
تحفو ـ ګلونو او کارډونو نه ډک دے
او په دې خاموشی کښې د ګلونو خوشبوی لا تراوسه
په کمره کښې خورې ورې دی
خو ـ ولې زړۀ مې خفه دے
ما د ګلونو هغه وچه ځانګه
د دراز نه راوخکله ـ کومه چې په تېره سالګره باندې
تا د راکولو سره وئیلې وو
"زۀ به د دې د وچېدو نه مخکښې مخکښې واپس راځمه"
ما خپلې تږې او رپېدونکې شونډې
د محبت په دې وچې ځانګه باندې کېښودې
سترګې مې بندې کړې
او ټول درد او ټولې وېښکې مې د خپل وجود د ذات کښې
ځائې کړې

۱۷ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۳ء مردان (ترجمه)

☆

زما غزل دے ـ په ما گران دے له هر چا ـ ښکلے دے
هغه په دې ښار کښې د ټولو ته سهوا ـ ښکلے دے

د نرگسی بهار ډمه ډمه احساس ډے ـ د گل
د سترګی خال دے ـ په لاس نۀ راځي ـ تا شنا ښکلے دے

هره خندا کښې نې د مینې ـ اسمانی رنګونه
څکه خو خوښ دے د هر چا ـ چې د الله ښکلے دے

زله ډېرو ورځو راسره وۀ ـ خو بېګا مابنام
زۀ په دې پوهه شوم چې څومره مې ا شنا ښکلے دے

د دې پاڅه نور صفت به نې د حسن ـ څۀ وی
بس خو ظالم په بلها ښکلو کښې ـ بلها ښکلے دے

ماله دا ډېره چې سجدې مې انتخاب ته کیږی
خبر دے عابده ـ کۀ څوک وائی چې زما ښکلے دے

۲۳ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

وعده د محبت هېروه مه ـ هغهٔ ته وایه
عمرونه و شو بس دے اوس راځه ـ هغهٔ ته وایه

یو خیال ـ لکه بېه بېه غزل ـ د هواګانو
د زړهٔ هره قیصه ربزه ربزه ـ هغهٔ ته وایه

اغوستی ارمانونو می خولی د امیلونو
تیریږی تا ـ د اوړی سره غرمه ـ هغهٔ ته وایه

ما ډېرې دورې ښنه کړلی له مخه ورته ـ کله
څو بیا دې هم تصویر پیکه ـ هغهٔ ته وایه

وک وک شوې اخر لاړې تولې پاڼې له کتابه
څو ستا د یاد غنچه تازه تازه ـ هغهٔ ته وایه

د ونګو په صحرا کښې ـ د بی رنګه تمر بهار دے
لمبه لمبه د ژوند هره لمحه ـ هغهٔ ته وایه

عابده کهٔ وریبښ شوې ـ چرته لاړې هغه چم ته
څوک ناؤری د بوازې ژوند تبه ـ هغهٔ ته وایه

۱۵ـ نومبر ـ ۲۰۰۳ء مروان



ادا به کړي د حسن څهٔ قيمت ـ د زړهٔ په وينه
پياللې چې څوک نهٔ شي ـ محبت د زړهٔ په وينه

دې بنار کښې په تمبو تښې عهدې دي ـ شجرې دي
انسان نشته ـ چې وپالي الفت ـ د زړهٔ په وينه

صحرا د وچو شګو ـ د هوا او زما شر دے
واکاړمه بس کرښې د قسمت د زړهٔ په وينه

ستا مينه ـ چې يو خوب دے ـ د خاموشه بهارونو
ليدلې ما ګلاب دي قط په قط د زړهٔ په وينه

"عابده نن هغه هم رانه مخ پټوي ګوره
اکثر به ئې ليکهٔ چې راته خط ـ د زړهٔ په وينه"

۲۰ـ نومبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

د عمر عمر شک هم ـ اندازه ښکاري سري ته
وعده چې د راتلو وی ـ شپه وږده ښکاري سري ته

چې وښکي د یادونو ـ د مستي سترګو کښي راشي
بیا تېرې رسوای هم ـ رنګینه ښکاري سري ته

سبب د لیونتوب مي د هوښیار انتظار دا دے
ترخه خبره مینه کښي ـ خوږه ښکاري سري ته

ستا سترګو کښي وده وده سحر او ګل د طمعې
سراب لکه د لرې نه چینه ښکاري سري ته

لمبې د محبت کله په واورو کښي پټېږي
ګل شونډې دې پروني کښي ښکاره ښکاري سري ته

یو ورک شاني غزل لکه یو ځریکه د یادونو
سفر د امیدونو تل دمه ښکاري سري ته

عابده د غمجني خندا ټول مطلب هم دا دے
ژوندون چې بې اسرې شي ـ مرګ اسره ښکاري سري ته
۱ـ دسمبر ـ ۲۰۰۳ء مردان

☆

بهار بهار دې مینه ده ـ وعده د ګلو پاڼې
وربیږي په غزل مې هره شپه ـ د ګلو پاڼې

صله د بختورۍ ګناه هم ـ د غم بهار شو
خوږې وږې برتي مې په سینه د ګلو پاڼې

غمجنې خاموشۍ ـ نولۍ په سر د ډېرو ستورو
ګل بیا ده رالېږلي نن تحفه ـ د ګلو پاڼې

(تراوسه لفظ په لفظ دې راته یادې ـ ستا خبرې
تراوسه ټولومه لا هغه د ګلو پاڼې)

تصویر مې د ریزه ریزه خوانۍ د رنګ په ژبه
هس واخله د زړه ویني مې ـ دا دوه د ګلو پاڼې

دا دومره سر زورۍ دمحبت به دې لاهو کړي
خبره کله کله مې منه ـ د ګلو پاڼې

تار تار چې دې عابده د شپا د زلفو ـ ژوند وه
اوس ګرځه لار په لار کښې ـ ټولوه ـ د ګلو پاڼې
۲۳ـدسمبر۲۰۰۲ـ، مردان

☆

ساز د غزل ـ سر د وعدې ـ دا بې خودي ـ توبه ده
د درد قيصه ـ ورک انتظار ـ شور د خواني ـ توبه ده

ژوند يو عذاب ـ وخت دنسر تاو ـ خوب د شوګير ـ تلوسې
بې له تا ګران ـ دا امتحان ـ وه ليوني ـ توبه ده

لار د سپوږمۍ ـ شور د رنا ـ اور د شبنم ـ لمبه ګل
لاس کښېږ ستا لاس ـ پل ستا په پل ـ اُف دا مستي ـ توبه ده

کوره وريخ ـ ساه د هوسۍ ـ دعا ذکلو ـ ژوند دے
غېږ د نظر ـ زړۀ ستا په سا ـ دوه ښاپيرۍ ـ توبه ده

وڼه سحر ـ ستړے رنا ـ ښکل کړې پاڼې ـ ستا فن
مبهم غزل ـ عابده بس ـ مۀ کړه خوارۍ ـ توبه ده

۲۹ـ دسمبر ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

نیازبین نایزبین کتل ـ هوښیار نظر او هغه شپه
د مینې د تعلق ورمینے شر او هغه شپه

د ګل د پانو رنګ په شونډو پروت ـ او زیړ بهار
الوتې خوشبوئي ـ وده سحر ـ او هغه شپه

تصویر د هغه بنګلې د کتاب په سینه پروت
لمیه لمیه احساس ـ د واورو غر ـ او هغه شپه

سر درد ـ لکه خوشبو هسې وک وک په ګل کښې خور
بیا خدائے خیر که راشي دسمبر ـ او هغه شپه

تراوسه مې د زړه د ژوند سازونه پرې ژوندي
وعده ستا د راتلو ـ سیا اختر ـ او هغه شپه

وزر وزر د یاد وړه ـ د سپوږمې د ناوې جنج
لمحه لمحه عابده زړه اوتر ـ او هغه شپه

۳۰ـ دسمبر ـ ۲۰۰۲ء، مردان



تېرې چې په ما دی ـ څوک خبر نهٔ دی
تولې قيصې ستا دی ـ څوک خبر نهٔ دی

ما به وې ـ دروغ دی ـ د سپوږمۍ قيصې
اوس وايم ريښتيا دی ـ څوک خبر نهٔ دی

څهٔ چې کړې ما دی ـ کلے تول خبر
څهٔ چې کړې تا دی ـ څوک خبر نهٔ دی

يره ـ چې ورسې خل ـ کتابونو کښې
ايښې ګلاب چا دی ـ؟ څوک خبر نهٔ دی

اوس جينکۍ ګرځي ـ په زلمو پسې
اوس کاڼي جدا دی ـ څوک خبر نهٔ دی

چاودې چاودې شونډې ـ او خاندل توبه
دا برخې زما دی ـ څوک خبر نهٔ دی

نن ئې وئيل ـ لارې د وجود زما
په عابده ستا دی ـ څوک خبر نهٔ دی

۳۱ـ دسمبر ـ ۲۰۰۲ء مردان

☆

زړه مې ـ ستا ليلو پسې لېواله دے
ګل ـ په بلوشو پسې لېواله دے

خيال مې د لوفو پرېرکې په شان
نن په الوتو پسې ـ لېواله دے

هيڅ د تعلق ـ جواز چې نهٔ لري
زړهٔ هاغه رشتو پسې ـ لېواله دے

بوټي شه ـ چې په ژوند ستوماڼه شوې دے
څوک چې ستا لېدو پسې ـ لېواله دے

ژوند مې ـ چې تل خان پکښې بائېللې دے
هاغه حادثو پسې لېواله ـ دے

ګورم چې عابده ـ کوم هلک ته نن
څې په جينکو پسې ـ لېواله دے

۱-جنوری-۲۰۰۴ء مردان

☆

مینې له عنوان ـ چرته کېږي ګورمه
ستا د سر تاوان ـ چرته کېږي ګورمه

ابتې هغې ـ هر څۀ کتابونو کښې
اوس به وايه خان ـ چرته کېږي ګورمه

زرۀ له د يقين او ګمان ـ جنګ کښېم
خمه ستا په شان چرته کېږي ـ ګورمه

مينه خو مې خدايه ـ پوره نۀ کړله
کار خان له اسان ـ چرته کېږي ګورمه

هم چې مې روا ـ هم ناروا منی
داسې يو جانان ـ چرته کېږي ګورمه

داسې هواګير ئې نن ـ راوکښل
الوزم ـ اسمان چرته کېږي ګورمه

دلته کېږي عابده ـ فرښتې وسی
دلته به انسان ـ چرته کېږي ګورمه

۲ـجنوری ـ۲۰۰٤ء مردان

ډولۍ

بعضې وخت

چې ځان له چرته يوازې يم

او دياډونو هواګانو

د پېريانو ډولۍ

چرته په جنج روانه کړې وي

او يو دم پرې د ماشومانو نظر ولګي

نو بيا نه ډولۍ وي

او نه جنج

بس يو يو په خلا پاتې شي

داسې

لکه زه چې يو ځل بيا

ستا د ډولۍ نه يوازې پاتې شم۔

۲۔جنوری۔۲۰۰۸ء مردان



ستوري جولي کېږي ـ نمر په غاړه او سپوږمي په لاس کېږي
ستا د وعدو کرېنو ته ګورم ـ د خوانۍ په لاس کېږي

زما د نوي دور ژوند د زلمو ـ ټول په ارمان
ګل په کتاب کېږي ـ او کتاب دې د جینۍ په لاس کېږي

د وجود پاڼې مې وک وک ـ لکه سپړلې د غزل
لاړه هره ساه مې د لفظونو بنایېری په لاس کېږي

د هاغه نه ګور بیا جنګ بوږله ډولي ـ ژړا ده
بیا یو زلمی ډوب شو د ورکې خوشالۍ په لاس کېږي

ستا د نوم کانی زاله خکه ائینه زړه مات کړو
کړنې مې وکتې همېش د خوشفهمی په لاس کېښې

اوس د خوبونو وښکې نه نیسی غنچې د ارمان
اوس ډیوې نه پړدی څوک د ګلو د زانی په لاس کېښې

هره قیصه ئې "شهزاده لا زلمے شه وې نه دے"
د کم عمری ارمان ګډېږی د ابی په لاس کېښې

زړه به تندی تراوسه ستا د ارمان ګل ګرخوم
زما یقین دے چې هر کار دے بس د خدائے په لاس کېښې

دلته یو څاڅکې هم عابده د اتبار ـ عذاب دے
ژوند یو ګوډی ده ـ او ګوډی د لیونی په لاس کېښې

جنوری۲۰۰۴ء مردان (مصرتی قافی)

کنفیژن

زۀ تا هېرول غواړم
بس اوس هم داسې مناسبه ده
خو چې هېرول غواړم نو اخر څنګه دې هېر کړم
څکه چې تۀ خو بیا هم یو حقیقت یې
څۀ خوب خو نۀ یې
دلته خو د زړۀ دا حال دے چې څۀ ووایم
کمبخت------
هېره نۀ کړې شوه دۀ ها غه سلسله
چې چرې وه هم نا
هغه یو خیال
چې تر اوازه راونۀ رسېدۀ
هغه یو خبره
چې ما تاته چرته ونۀ کړې شوه
هغه یو ربط
چې زمونږ تر منځه چرې وۀ هم نا
ما ته یاد دی هغه هر څۀ
څۀ چې چرته شوې هم نۀ وو۔

جنوری ۲۰۰٤ء مردان (ترجمه)



مرم به وفا هغه شان ۔ مئین یمه
نن هم په تا ۔ هغه شان مئین یمه

څاڅکی څاڅکی ژوند ۔ او لیپې لیپې مرګ
اوری په ما هغه شان ۔ مئین یمه

تا دمینې تار د غم ستلره کړه
زه خو اشنا هغه شان ۔ مئین یمه

هاغه چې مجنون څنګ په لیلا مړ وه
زه په شپا ۔ هغه شان مئین یمه

نن هم زه عابده ۔ ستا په خوږ غزل
ولیکه دا ۔ هغه شان مئین یمه

۶۔فروری۔۲۰۰۴ء مردان



پرهر باندې د مالګې دوړېدو له پاره ـ راشه
نن بیا مې د یوازې ـ پرېښودو له پاره راشه

غمجنې خنداګانې دی ـ ډیوې د تیارو ژاړی
وخت وشو ـ لېږ د سترګو خوږېدو له پاره راشه

تصویر دې د پیکه یادونو ـ رنګومه
شبنم لکه د ګل د ورېدو ـ له پاره راشه

معنی خو به د ژوند په خلهٔ پېدا شی د دړدونو
زما په هره وینکه خندېدو له پاره راشه

عابده ـ زړهٔ مې بیا ـ ووهٔ رنګی خوبونه وینی
هغهٔ تهٔ وایه بیا د شوګیرو له پاره ـ راشه

۸ـ فروری ۲۰۰۸ء مردان

په مطلع کېنې دلاندې مصرې له پاره د فراز د دې شعر منتبار یم
(آ پھر سے مجھے چھوڑ کے جانے کے لئے آ)

یاد

یاد دې اوس هم په شپه کښې کله کله پېښه وکړي

داسې تازه

لکه یو ګلاب چې د خپلې خوانۍ ورمبۍ ساه اخستې وي

داسې ناقلاره

لکه د هوسۍ بچې چې په ورمبي ځل

د مور په سېورۍ پسې په توپونو سر وي

داسې اوتر

لکه سړے چې په ورمبي ځل د خوانۍ خوب ووینې

داسې مدهوشه

لکه یو ساز چې دشرابو په نشه خمار شي

نه یقین وکړه

زما دې ستا په سر قسم وي

یاد دې اوس هم په شپه کښې کله کله پېښه وکړي

۱۲۔فروري۔۲۰۰۴ء مردان



ستا نه بخبر پایمه ۔ حیران یمه
څنګه دروغ وایمه ۔ حیران یمه

تا راته نن څۀ په مینه ۔ وکتل
هسې په خندایمه ۔ حیران یمه

شک مې شو اشنا ستا په ستم ستم
زړۀ کښې دې سودایمه ۔ حیران یمه

کله وائې داسې ۔ کله داسې یې
دا یمه کۀ دایمه ۔ حیران یمه

څومره لوئې دروغ وو ۔ چې موږ یو به یو
څنګ درنه جدایمه ۔ حیران یمه

راشه ۔ د عابد هم یکښې واوره نن
ما ته وائې ۔ ستا یمه ۔ حیران یمه

۱۴۔فروری۔۲۰۰۴ء مردان

☆

هم دلته کېنې په تېره کړو دا شپه ـ کهٔ مې منې
دا لارې ډېرې ګرانې دی ـ راځه ـ کهٔ مې منې

داشور د خاموشۍ ـ چې دړنا ګلونه سېړی
اوس بس دے ـ نوره مړه په کړو ډېوه ـ کهٔ مې منې

دے دلته کېنې لوئے جرم ـ وېښ احساس د ارمانونو
زړګیه چې ونهٔ کړې شوګیره ـ کهٔ مې منې

بنهٔ پوهه ئې ـ خو بیا هم راته وائې ـ نهٔ پوهېږم
هم هاغه یو خیره ده ـ هغه ـ کهٔ مې منې

انجام ئې هېڅ بې هېڅه ـ د دوو زړونو بیلېدل شی
عابده بس دې پرېږده دا قیصه ـ کهٔ مې منې
۹ـ مارچ ـ ۲۰۰۴ء مردان

(د خیال زوی "خلاں لطیف" د زیږون په ورځ)

☆

پس یو خل دغه ګل خکولول ۔ غواړی اخر زړه دے
چې تنګ شی ۔ خامخا به څه چل ۔ غواړی اخر زړه دے

د ستوګو د اسمان په لمن ۔ بیا د ستورو شور دے
تصویر دې د یاد بیا رانیول غواړی ۔ اخر زړه دے

ته څه ۔ خو کبتوری نسکوروه مه ۔ د لوطونو
څۀ طمع د راتلو خو لرل غواړی ۔ اخر زړه دے

پنډول پنډول ازغی دی ۔ ستا د ښار د خلقو ژبې
پښتو به څۀ رنګ کښې کول غواړی ۔ اخر زړه دے

لمحه لمحه د ژوند عابده ۔ پس د تال جوته ده
یو خوب خو به سا سا کښې لیدل غواړی اخر زړه دے

۷۔اپریل۔۲۰۰۴ء مردان



زما بنکلیه ـ دا غم به دې لاهو کړی
ستم مه کوه ـ ستم به دې لاهو کړی

د اسمان مینه یا تندر ـ یا کلی وی
د رقیب د سر قسم به دې لاهو کړی

نهٔ ګل وینې ـ خو د ګل احسان دې هېر دے
د غرض دغه کرم به دې لاهو کړی

نهٔ به سر ئې چې دنیا برېږدې ـ زړګیه
دغه لارې ـ دغه چم به دې ـ لاهو کړی

نهٔ خو نهٔ منې عابده ـ ریښتیا وائې
دا قیصې د خیال قلم به دې ـ لاهو کړی

۱۰ ـ اپریل ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

ژوند نه بې نیاز څهٔ خبر ـ چې شور د زندګی څهٔ دے
(عشق وکړه ـ بیا وګوره ـ چې زور د زندګی څهٔ دے)

ما ته د هوښیار پرېږکي ـ لېونتوب دا ووې
بې له محبته ـ مطلب نور ـ د زندګی څهٔ دے

وګوره ـ سپوږمی د نمر د غېږې بلوشې نولی
اوس خو تپوس مهٔ کوه ـ چې کور د زندګی څهٔ دے

وږنی د اواز اوراورکی خان ـ په غمجن بهار
ګله چې پوهېږې ـ چې پېغور د زندګی ـ څهٔ دے

زهٔ خو درد د مینې ـ بس په دې عابده پوه کړم
بې له خوږ غزله ـ نور تکور د زندګی څهٔ دے

۱۶ـ اپریل ۲۰۰۸ء مردان

WITNESS

نۀ ژوندگی په هاغه رنګ ده نۀ خوانی دلکښه
هاغه ګلدان نن د جولا محل دے
هاغه دراز هم هاغه شانې بند دے
زۀ دا منم چې پکښې ډیر څۀ شته دے
خوبې له تا د څۀ معنٰی نۀ مومم
لاس کښې مې تار ستا درشتې ګوتنجې پروت
نظر مې هغه شان د تندې سیلی
راشه
بس راشه نور زیاتې مۀ کوه
راشه
بس راشه چې دا هر څۀ سم شی
ترتیب د ژوند په هر یو کار کښې راشی
لیږ شان خوارۀ په انتظار کښې راشی
راشه
بس راشه په ریښتیا راشه نن
زما د ژوند د هر یو خوب شاهده

۱۷ ـ اپریل ـ ۲۰۰٤ء مردان



خدایه د خوانی ورمې خطا راته راوبخښه
شک کښې د ثواب شوې ګناه ـ راته راوبخښه

اورم چې ته هم رقیبه ـ زړه لکه دریاب لرے
خه کنه ـ نو بیا خو خپل اشنا راته ـ راوبخښه

ما خپله عقبا درته بخښلې ـ خو په شرط د دې
ته هم خدایه ـ دا خپله دنیا ـ راته راوبخښه

یو د غمیږې ساه وی ـ بل د شوندو په لمبو کښې ژوند
دا راته راوبخښه ـ یا دا راته راوبخښه

زړه د بې وفا موسم په اوښکو وروست کاغذ یمه
لیږه د عابد د غزل ساه ـ راته راوبخښه

۴-مئی-۲۰۰۴، مردان

☆

لارلې ؟ نه منې خيره مې ؟ اشنا مې نه يې؟
بيا شاته څه ګورې ـ رضا چې په رضا مې نه يې

ستا محبت شبنمی اور دے ـ د خوبونو څيره
لکه نمر مازيګر يې ـ خو د ماښامې ـ نه يې

ما دې هر خيال لکه د ستورى ـ کټورے ساتلې
يوې لحظې له هم له زړه څنې جدا مې نه يې

په خيال قلم مې يې خائې کړې ـ په خپل سر خائې کړې
ښتو۔ کټلې په سوالونو او دعا مې نه يې

د ژړاګانو د بهار دا خاموشي مې وژنې
عمرونه وشو ـ ولې نه راځې ـ شها مې نه يې

ستا د خط رنګ مې لا تراوسه په غزل کښې برېښي
يې مې ـ دا چا وې چې عابده د ژوند سا مې ـ نه يې

۱۲ـ مئی ـ ۲۰۰۴ء مردان



نه هغه شه۔ نو زه نه یمه ۔ خفه سړیه کینهنه
لاس را ۔ زړې خبرې پرېږدوه ۔ سړیه کینهنه

په تا لیکلې نوې غزل وایمه نن ۔ واوره
وختي دې لا ۔ خه لاړ به شې ۔ راځه ۔ سړیه کینهنه

خبره چې اکثر ستا د راتلو شی ۔نو ته پاځې
منت خو کله مې منه ۔ سړیه کینهنه

دا ژوند دې ۔ دې ته خلقو بلها عمر دې خوړلې
خپل وار ته انتظار دې لږ کوه ۔ سړیه کینهنه

عابده په ځان خلق خامخا پوهوې ۔ غله
وړوکیه هه په لاره کینې ساده سړیه ۔ کینهنه

۱۴۔مئی۔۲۰۰۴ء مردان

☆

څۀ عجيبه ده ـ چې د عقل نه بهر شي ـ بنۀ شي
سړے چې مينه کېښې له ځانه ناخبر شي ـ بنۀ شي

دلته د خلقو د شعور حدونه نۀ دي معلوم
دلته چې څومره څوک له هر څۀ نه منکر شي ـ بنۀ شي

ما ته د خان د ناپ او تول هيڅ ضرورت نشته دے
زما يقين دے ـ په چا عشق چې زورور شي ـ بنۀ شي

اوس هم چې دوه مښهان ووينم ـ راياد شي راته
خاورې له ژوند به مې غمونه چرته لر شي ـ بنۀ شي

بعضې وخت ژوند د کور او کلي هم عابده ـ مرګ شي
کله نا کله خو سړے چې مسافر شي ـ بنۀ شي

۱۷ـمئی ـ۲۰۰۴ء مردان

☆

غزل غزل ئې هر انداز دے ـ شاعری ده پکښې
هغه زما د زړه اواز دے ـ شاعری ده پکښې

دے هر نظر ئې ښاغلې ښاغلې له زمزمه تازه
په ټولو ښکلو کښې ممتاز دے ـ شاعری ده پکښې

زما دمینې د لفظ لفظ خواږه ئې هره ادا
ظالم کۀ هر څومره بې نیاز دے ـ شاعری ده پکښې

دلته پرتې په ټولو سترګو د رڼا ذورې دی
دلته په هر تصویر کښې راز دے ـ شاعری ده پکښې

ټیک ده چې ښکاری به عابد تاته ساده لیونے
کنې نو ټول د مینې ساز دے ـ شاعری ده پکښې

۳۱ـمئی ـ۲۰۰۴ء مردان



څه دا زړه هم لا هلک ـ وه څه موسم هم داسې وه چې
هر نظر د غزل ساز وه ـ هغه چم هم داسې وه چې

مونږ د زړه به ورکړه نه وو ـ خو د ګل به وېش خفه وو
غم څۀ ډېر هم هم داسې وه چې ـ نصيب کم هم داسې وه چې

په بلها موده پس لار کښې راته ودرېدۀ ـ مسکے شو
څه صهبا زړه وه ډېره ـ څۀ کرم هم داسې وه چې

نه دې تکے د پښتو کړم ـ نه دې پرېښودم ډېلن ته
څۀ خېر ووه زړګيه ـ ستا قسم هم داسې وه چې

د عابد په مرګ هر ښکلې ـ دا يوه خبره وکړه
ښه ده ښه ده ـ په قلار شو ـ د ده غم هم داسې وه چې

۲۳ـجون۲۰۰۴ء مردان

☆

په عمر پس هغه کوڅې ته مې نن ـ ډېر وکتل
هيڅ پکښې نه وو ـ اينې ته مې نن ډېر وکتل

تا څه وې مينه د غربت د صحرا باد ـ يورله
تا پسې سترې شوګيرې ته مې نن ـ ډېر وکتل

ما د خپل ذات ايرې ـ نن تولې په ګنګا لاهو کړې
څۀ په لاس راغله ـ ستا کعبې ته مې نن ډېر وکتل

خان راته خدائيګو بختور ستا د ستم ښکاره شو
ذرې ذرې چې ـ زمانې ته مې نن ډېر وکتل

نه پکښې رنګ د زندګۍ وه ـ نه غورځنګ د خوانۍ
خپلې جلبې ته ـ ستا ښهرې ته مې نن ډېر وکتل

هم هغه وشو ـ چې عابده څۀ د وخت مرضي وه
هر څو که کلک شومه ـ توبې ته مې نن ډېر وکتل

۲۷ـ جون ـ ۲۰۰۴ء مردان



شور به هر يو توري دي. نشته سکون چرته هم. زړونه ټول حقه حقه ټول دي او ګله کلے دے. وايه اوس به څه کيږي

ورک شوي رڼا نه چرته. ستړے شوم. ستړونه شوم. هيڅ اسره مې باقي نه. ژوند ټوټکړے دے. وايه اوس به څه کيږي

ما وې زه او ته به يو. وخت به تيرونه وي. شور به وي. امن به وي. خاندي به ګل ګل فصل. زه به تانه ګورمه

خو څه نه. خوشي لاړه دغه ژړي د تيارو بيا. مالي د خوشبو نيوې. هر څوک غلے غلے دے. وايه اوس به څه کيږي

ښوره اوس مجبوره يو. ښوريږو زړونه ويشلي. ښوريږو شو ډرې ډرې. ښوره شو خالي خالي. ښوره. ښوره نه يو اوس

نه هغه او زه دلته. اوږد دے ژوند اوږد دے ژوند. راشو مخامخ شو خو. هغه وخت اوس تللے دے. وايه اوس به څه کيږي

ژوند به هر يو حال عذاب دوزخ مې به. نه ښه مې به. هاغه ستا ښکاره دی. ستا ګې به بره اورې. وژنې مې لحظه لحظه

بس دے. نور جنګ نه کووم. خان سره. خپل زړه اسره. نه هم ستم نه کړه نور. غم مې زړه خوړلے دے. وايه اوس به څه کيږي

ستا نه څه بره پروا. اوس شونه هم ورک شونه. نه باقي دی ستا تعلمي. نه باقي د ژوند څه رنګ. هره لاره غم او غم

خپل ځی ګل بردی مې دی. بس خو خپل غرض کړی. نشته ستا غوندې څوک. هر ځا خان ژړلے دے. وايه اوس به څه کيږي

۳۰ـ جون ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

مینه ډېر بنه شے دے ـ منم ـ خو زړهٔ زلمے غواړی
دا داسې ګل دے ـ چې دستوری کتوره غواړی

خدائے دې قات نهٔ کړی ـ ستا د زلفو د دریاب اتېې
کنی نو ژوند د تنهای مرګ دے ـ بانې غواړی

انسان خو بړېږده ـ دلته وخت هم د غربت اسیر دے
دلته لا اوس هم جوماتونه ـ وظیفې غواړی

ستا د نظر احساس ـ او مینه د پاګل زړګی مې
د شور تصویر دے ـ د لفظونو اتېې غواړی

ما ورته یاده چې وعده کړه ـ نو عابده وې وېل
دې لېونی ته ګوره ـ تېرې زمانې غواړی
۱۱ـجولائی ـ۲۰۰۷ء مردان

(صوتی قافیې)



ګل یې که ازغی ـ خو ماته ښکلی یې
هر غنګه چې یې ـ خو ماته ښکلی یې

مه خه ـ په سپین سترګې زمانې پسې
تور دې یې خاني ـ خو ماته ښکلی یې

زه د محبت قدرونه پیژنم
تل اوسه پردی ـ خو ماته ښکلی یې

په د یې حجابه سپوږمی سپوږیه
تل کړه مې سپوږې ـ خو ماته ښکلی یې

خدائے دې تل عابد سره ـ اشنا لره
مه راځه تر دې ـ خو ماته ښکلی یې

۲۲ـ جولائی ـ ۲۰۰۹ء مردان

(صوتی قافیې)



شو به په خندا ـ یقین مې نۀ راځی
دې دور کښې دا یقین مې ـ نۀ راځی

راغلې بې منته ـ ګورې ـ خاندې ـ خې
وژنې مې ـ اشنا ـ یقین مې نۀ راځی

نن به رانه خې ـ دا راته پته ده
رابه شي سبا ـ یقین مې نۀ راځی

خان چې کړی د بل د غم په غم کښې ورک
داسې په هیڅا ـ یقین مې نۀ راځی

نۀ به هم عابده ـ شې د کار سړې
خدائیګو به تا ـ دا یقین مې نۀ راځی

۱۴ ـ جولائی ـ ۲۰۰۴ء مردان



خبر دے که ته نه يې ـ ستا اسره خو شته
خان باندې مې ډومره بهروسه خو شته

څه که تا قيصه کښې ـ لار ـ بدله کړه
دواړه چې يو ځائې وو ـ سرنامه خو شته

ته زما د زړه د کتاب پاڼه يې
شکر دے لا څه نه څه رشته خو شته

تنده د ګلاب ـ صحرا د شنو ونو
عشق له شبنمي شانې لهجه خو شته

نوري د الفت کليمې مۀ وايه
دلته که کعبه نشته ـ سجده خو شته

ډېر عمر کۀ تېر شو ـ خو ما پېژنې
کور کښې مې اشنا يو ائينه خو شته

زړۀ د بې پروا فقير ـ جوګيه ده
درد له د باغونو خزانه خو شته

ستا د مخ غزل خو ورکېدې نۀ شي
غم غلطېدو له مې بانه خو شته

څۀ کۀ هر نظر د ربا دوره ده
خبر دے د تصوير په مخ دمه خو شته

چرته خپې عابده په دې توره ورخ
لار به شي راخه ـ لا سپينه شپه خو شته

۱۸ ـ جولائی ـ ۲۰۰٤ء مردان



نن بیا دې د زړه سره څهٔ کمے شان محسوسیږی
هر ساز کښې د غزل ـ د مینې سوے شان محسوسیږی

اشنا نهٔ زما ژوند یې ـ زهٔ منم خو کله کله
دا ژوند هم حقیقت کښې څهٔ پردے شان محسوسیږی

هر رنګ یې لکه برښنې په ګل واورې ـ وربدلې
یو بنګلے دے ـ چې تل لکه غمے شان محسوسیږی

غنچې غنچې نیولې د انار ونو ـ جامونه
نظر نن د ساقی راته سپرلے شان محسوسیږی

هنر یې د غزل ـ په تندی برښنې ـ ایتونه
هر څو که عابد زوړ شو ـ خو زلمے شان محسوسیږی

۲ ـ اګست ـ ۲۰۰۶ء، مردان

☆

والوزه ـ اے خیاله ـ پانه پانه شه ـ بې واره خه
نن مې د غزل امېل په غاړه کړه بهاره ـ خه

اے د ناقلاره سحر ارمانه ـ نور مې څۀ وژنه
ماته دې احسان معلوم دے ـ خه په خپله لاره خه

زۀ د تندې ژوند او د احساس خشکدن پېژنم
بس دے کنه ـ نور مې غمه پرېږده په قلاره ـ خه

هاغه زۀ يم ـ هاغه د نمر ځانګې ـ هاغه ورک نظر
څۀ دې راله راکړه ـ اے د عمر انتظاره خه

دړده ـ کۀ په ژوند مې چرې ځې ـ نو درته سوال کوم
کوره يو ځائې ـ بل ځائې چې ايسار نۀ نشې په لاره ـ خه

اوس خو خامخا به حسابېږې ګمراهانو کښې
چا درته عابده ونېل ـ تل په نېغه لاره ـ خه

۲۶ـ اګست ۲۰۰۴ء مردان

☆

راځي بلها بلها باني د يو قيصي د پاره
ته مرور نه شي ـ خان غلي كرم د دې د پاره

زه د احساس د خوشبويو د بڼار ساده مئين يم
ازغي په زړه راخكم ـ د ګل د تماشي د پاره

منم چي زړه دراياب لري د باراني د پاره
چي غاره نه ردي ـ نو بس نه ردي د وعلې د پاره

دا ته د كوم خلوص تپوس كوې ساده زړګيه
اوس خو الفت هم كوي خلق د مزې د پاره

دغه يو در وه ـ چي مي ناز وه د ارمان ـ خو لاړې
چرته هم پاتي نه شو خائې اوس د دمې د پاره

منم چي هيڅ هم پاتي نه شو ـ خو سلام خو اخله
بعضي كارونه خلق كړي د زماني د پاره

غم د روزګار ئې شو اخر روزګار لوګر د خواني
موري د عمر خرڅوي د يو نشي د پاره

ښه چي خفه يې ـ نو كوه مينه د ښكلو سره
خلق خو وائي عابد جانه ـ ستا د ښې د پاره
۱۶ ـ ستمبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

یو ورک اواز ـ ارماني لاره ـ او ټپه د پښتو
د غزل ناوې له وږم خان سره تحفه د پښتو

ته داسې څۀ وایه ـ چې شور نشته ـ نو زور مو نشته
د زړۀ په وینو به ساتو ـ بله ډیوه د پښتو

زۀ فرهاد نۀ یم ـ زۀ سر نۀ ماتوم ـ غر ماتوم
خدائے دې نسکوره نۀ کړی چرې هم کاسه د پښتو

دا دې لا څۀ ورې ـ چې ساز هم شو په سوز کښې بدل
نه نه دا نه منم ـ چې ماته شوه رشته د پښتو

په ښۀ شاعر کښې ـ بې سندرې ـ بې غزله ناست یو
په دې عابد خو کول غواړی یو جرګه د پښتو

۱ اکتوبر ۲۰۰۶ء مردان

☆

شوه فضا غزل غزل ـ موسم ښهٔ شو
تا په شا راوکتل ـ موسم ښهٔ شو

ژوند د تندي ساه وه خو دا ښه شوله
تا زلفان را ښندوهل ـ موسم ښهٔ شو

ما وې چې به څهٔ رنګ ستا صفت کووم
ښهٔ نه وه ـ تا وخندل ـ موسم ښهٔ شو

پرېږده چې نن وژاړم ـ چې وخاندې
څهٔ پته ـ که بیا یو ځل ـ موسم ښهٔ شو

بل دې وسې تل ـ ستا د بوسې مضیال
وائی چې عابد غزل ـ موسم ښهٔ شو

۹ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

د خپل زوی ځلان له دوه قطعې

يو يو سلګی دې لکه غشې مې بنخيږی په زړه
الله دې نور له هر مرضه کړه بچ پـه امان
زه دجهان غريب بې وسه او مجبور يـه څه کړم
بس خو الله دې لکه نوم په تول جهان کړه ځلان



خدائے دې را نه ولی بيا چرې هم په تا څه مرض
نور مې اعصاب د اذيت زغملو پاتې نه دی
ستا د سر هر کانړے دې راشی زما سر له خبر دے
نه ځلان وسه نور زما په دې جهان کښې څه دی

۱۴ـ اکتوبر ۲۰۰۰ء مردان

(شپې دوه بجې)

☆

ډېر که پرېوځم ـ خو روان یم ـ د منزل په اسره
د مینې لاره لنډوم ـ د خپل غزل ـ په اسره

تا وې نۀ وډېږه ـ هم دلته کېنې ـ زۀ خم او راځم
ژوند لکه باد تېره شو د یو بل ـ په اسره

یو انتظار ـ بل د صحرا د غرمې ورک لېونے
نۀ څۀ خبر ـ تېره ځواني شوه په کوم چل ـ په اسره

دا خو یو زۀ ووم ـ چې ستا نۀ راتلۀ مې هم راتلۀ وو
څوک تېروي شي د ژوند زهر د اجل په اسره

زۀ نۀ تمغې ترم ـ او نۀ مدحې د خان وایمه
ډیوه د فن بله ساتم د خپل عمل په اسره

اے دغه کلي کښې یو ته نۀ یې ـ بلها ښکلي دي
عابد پاګل دے ـ چې فال نیسي د مزل په اسره

اکتوبر ۲۰۰٤ء، مردان

☆

مسته خواني ـ يار ښکلي په ښنګ ـ وخت د بهار نغمه ده
هره لمحه د غزل ساز دے ـ هره لار نغمه ده

خاندې په سترګو کښې ـ ګلپاڼې رېږدي ـ راګوري
ځومره د کار موسم دے نن ـ څومره د کار نغمه ده

ته اوس هم شک کوې ـ لا ځان درته بې لوظه ښکاري
زما په خله خوږه تراوسه د اتبار نغمه ده

تا وې ـ چې ژوند د مرګ د ساندې اخري اواز دے
ما وې ـ چې ژوند د محبت د انتظار نغمه ده

نه نه دا مه وايه ـ چې ژوند به وي ـ او بيا به نه شو
دا دې راخستې څه د عمر د بيمار نغمه ده

پرېږده چې لفظ لفظ ئې د زړه په کتوري کښې کېږدم
دا خو زما ـ د بدنصيبه عابد يار ـ نغمه ده

۲۹ـاکتوبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

I MISS YOU

نن چې محبت د هر مئین روزګار شوی دے
او د زماني تاوده هوا هم
د ګل د غیږې د شبنم تیرې شوې ده
هر سړے د اختر د خوشالو تحفې
د خپل زړګي په وینو رنګوي
او د خپلې یارانې په پیکه شوې څېره کښې
د تازګۍ راوستو په خاطر
د خپلو خپلو ارمانونو په نوم لیږي
هرې پښغلې او هر زلمي
د خپلې خوانې د علامت او امانت په خاطر
کچه کچه کلی خپلو مئینو ته په خطونو کښې
په ووړه رنګې رېبونو تړلی دی
نو زۀ هم انسان یم
زړۀ مې هم شته او احساس مې هم شته
او په دا سې موقع
ستا د نیمګړتیا ډېر شدید کمے محسوسوم

☆

د نمر په پانه ليک غزل ـ زه او ته ـ داسي داسي
نظر مي داسي داسي غواړي ـ او زړه داسي داسي

ولکه واپس چي يوځي خان سره څوک خپل خطونه
هاغه ظالم خو نن يوازي کړم ـ څه داسي داسي)

نن خو مي پوئي کړه چي د ګل او خوشبو څه رشته ده
تل راته وائي چي زه داسي او ته ـ داسي داسي

ته غرور مه پرېږده ـ خو ما خپلي پښتو ته پرېږده
ته داسي داسي څه ـ او ګله څم ـ زه ـ داسي داسي

يو وی توبه له هر څه پس ـ بل وی توبي پسي ـ بيا
خوبنه دي خپله داسي داسي او کړه ـ داسي داسي

چا د رنګونو شال په سر کړو ـ څوک سرتوري بنه شو
ته داسي داسي شوم عابده ـ او ته داسي داسي
۲۹ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۹ء مردان

☆

د هر غزل مې هره سا ـ خوشبو ده
زما په ټول وجود کښې ستا ـ خوشبو ده

خدائے خیر خاوره ئې د چا د چم ده
دې موتیا کښې څو ناشنا ـ خوشبو ده

(واړه کورونه ـ یکښې کورې ونې
د کلی بنار نه څۀ جدا خوشبو ده)

ګل ئې کوې شی څۀ نسبت د خوانی
بس د هغې هره ادا ـ خوشبو ده

چپ شه ـ په زړۀ کښې پټېدې چرته شی
مینه د بنګلو د دعا ـ خوشبو ده

ستائی جوړ بیا ـ عابد غزل کښې ګلاب
نرې نرې لګی هوا ـ خوشبو ده

۲۹اکتوبر۲۰۰۴ء مردان

☆

ستا قسمونو در به در کړو ـ ستا لوظونو ورک کړو
مونږه په تا بې وفا ـ ستا مستو نازونو ورک کړو

ژمن په ورمبی ځل په خبرو مو سپوږمی ولیده
مونږ سره چرته ؤه جواب ـ چې ئې سوالونو ورک کړو

زۀ د رنا هسې قهدی ډیوو کښې نۀ وسېږم
زۀ هغوی نۀ منم ـ چې څوک وائی ـ غمونو ورک کړو

په عمر بس ئې رالېږلې دے ګلاب او رومال
مونږه ساده تل اسمانی نمائښتونو ورک کړو

بعضې وخت ګل له خپله زوره هم غزل غزل شی
لا ورکېدو نۀ وو عابده ـ خو وختونو ورک کړو

۲۹ اکتوبر ۲۰۰۴ء مردان

☆

نه مې دا زړه پاګل منی ـ او نه هغه پاګله
خدائے خیر ښکله به تیریږی نن دا شپه ـ پاګله

خدائے خیر ـ شور به د دردونو د جنج ـ چرته رسی
څهٔ زهٔ پاګل د محبت ـ څه راسره ـ پاګله

بیا به محفل ته د غزلو اوربلو له نه ځي
لیږ شان خو راشه ـ غوږ مې کیږده په سینه ـ پاګله

تر څو به بهي په زخمونو د ګلپاڼي ږدمه
وس دې نور صبر رانه نه شي یو ذره ـ پاګله

وائی چې مینه تسکین مومی تل د غلا په دیدن
داسې یوازې کله ـ څه ـ راځه ـ پاګله

ښکله به مرګ دې نن عابده سپین خادر اغوستې
تا خو تل غوښتې د رنګونو لوبیته ـ پاګله

۳۰ اکتوبر ۲۰۰۴ء مردان

☆

چې په لیلو ئې زما ـ زړه ـ جوړیږي
نن ئې تصویر په دېواله ـ جوړیږي

خواني صحرا کښې د غرمې ګل دے
د دې کاغذ نه کیښتي نه جوړیږي

مالوچ مالوچ وریځې ـ اوري راوړي
موسم خو بیا د تله راتلو جوړیږي

ګل مې ترلې د غزل په زبن
د دومره غم نه اخر څه جوړیږي

دغسې ـ ګله څه راځه یواځې
ستا پرې څه نه ـ خو زما زړه جوړیږي

ته چې له مخه کومې دورې خندا کړې
د ګل د سترګو ترې ـ رانجه جوړیږي

زاړه دردونه ـ او رنګینې پېښې
ستاو د خوار عابد ـ جوړ ـ نه جوړیږي

وې ئې تپوس له د عابد څله خم
یا به جوړیږي ـ یا به نه جوړیږي

۱۔نومبر۔۲۰۰۴ء مردان

☆

معلومو کرښو کښې لاسونو ته به ۔ څۀ وګورو
د وچو پاڼو مابنامونو ته به څۀ وګورو

مونږه تل خوب کښې د لمبو په سمندر ۔ الوتي
د زړونو منهنج کښې ډېوالونو ته به څۀ وګورو

پچل چې په سترګو کښې مو زده نۀ دي ۔ د خوب پېټول
بیا ائینو کښې خپل مخونو ته به څۀ وګورو

هره قیصه کښې ئې غلام د شکو زول وړې دے
د لویو خلقو ۔ وړو زړونو ته به څۀ وګورو

(لاخو په خپلو اشارو هم راله تلۀ نۀ راځي
د سرِک سرو او شنو بلبونو ته به څۀ وګورو)

نۀ دې انداز کښې زړۀ رابنکون شته ۔ نۀ د لفظ سادګی
عابده تش رنګین خیالونو ته به څۀ وګورو

۲۔نومبر۔۲۰۰۸ء مردان

☆

خفه خفه موسم دے لېږ خو په خندا شه راشه
لکه د وښکي مې په سترګو کښې خلا شه ـ راشه

وجود مې چوی ـ لکه د ناوې په لاس شنې نکرېزې
دسپوږمۍ ګله ـ لرې مه خه ـ خواله را شه راشه

لکه ماشوم هسې مې خکل کړه ـ نن په دواړه مخه
لکه دمور مینه ـ هر لفظ دعا دعا شه ـ راشه

لېږې شان بیا به دې کاغذ ـ نخښې د خال تازه کړه
خبر دې یو خل هاغه شان بیا نن بې وفا شه ـ راشه

ماله تراوسه لکه ګل د مینې چل رانغې
ته خو هوښیار یې کنه ته خو مې سزا شه ـ راشه

مونږ حادثو ته هم د خدائے د رضا ـ سپوږے وایو
نشته ګناه کښې څۀ ګناه ـ راځه رضا شه ـ راشه

د کور سپولے دے ـ په پردی کتاب مې نۀ سودیږی
اے د عابد د غزل ګله په هوا شه ـ راشه
۳ـ نومبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

تازه غزل په اضطراب د خوشالی وارووه
یو څو قطرې په دې ګلاب ـ د خوشالی وارووه

د اوړی سره غرمه ـ او تنده د پاګل روژه دار
لیږ په دې سر راله شراب د خوشالی وارووه

ژوند د رنګینې حادثې ـ ووړه رنګی رنا ده
خبر دے په غم مې نن جناب ـ د خوشالی وارووه

په زوره سپرلی کښې ـ د تازه ګلی هم سا دوبیږی
یس دے دا پاڼه د کتاب د خوشالی ـ وارووه

بیا د هوسی د ملا نه ناستې مرغی والوزوه
بیا مې زړګیه په عذاب د خوشالی وارووه

نه ئې لامبو د مینې زده ده ـ نه هنر د کیږدئ
لیږ څو عابد په دې دریاب د خوشالی وارووه

۳ـنومبر۲۰۰۹ء مردان



ما خو وې اقرار به لېوني کړي
څه پته ؟ انکار به لېوني کړي

اوس به ئې هم لاس کښې ګل نیولې وي
اوس هم انتظار به ـ لېوني کړي

لاړه لکه باد د ځوانۍ ـ تېره شوه
څه پته دا کار به لېوني کړي

بیا به ئې ـ کتاب کښې خط انغښتې وي
بیا په چا اتبار به لېوني کړي

ما به یادوي ـ خاندي به ـ ژاړي به
بیا د ګوتو شمار به لېوني کړي

بیا به نن قطار د لېونو لګی
سبل نن د بازار به لېونی کوی

بیا به نې زیر شال راپسر کړې وی
طمع د بهار به لېونی کوی

خم چې د غزل زبن ترې تاو کړمه
بیا د ستورو شمار به لېونی کوی

خاندی د خفه ونې ـ خوشاله ګل
ژاړی ـ غم د یار به لېونی کوی

نۀ ووهه خبر عابده ـ داسې چې
شانه هم ګلدار به ـ لېونی کوی

ژاړه مه ـ عابده ښکلی قات نۀ دی
څه راځه ـ خپل کار به لېونی کوی

۵۔نومبر۔۲۰۰۴ء مردان



احساس د ژوند د ارمانه خو راته پرېږده کنه
اے داسې مه څه ـ څه نه څۀ خو راته پرېږده کنه

ماسره څۀ دی ـ د غزل کتاب کښې څۀ ولیکم
د زړۀ مالک شي ـ لږ دا زړۀ خو راته پرېږده کنه

د سپرلي نمره ـ د موسم د ناوې جنج کښې مۀ څه
سپورے د ګل د ډېوالۀ خو راته ـ پرېږده کنه

زړۀ ورانه سرائې ده ـ یکښې تل اوسی زاړۀ دردونه
یو څو یادونه مېلمانۀ خو راته پرېږده کنه

زه د رنګدارې زمکې غل نه یم ـ پاکلې هوا
څمه وایس ـ نخښې د پلۀ خو راته پرېږده کنه

زما د ټول وجود په پاڼه ستا غزل دے
عابده رنګ د ژوندانۀ ـ خو راته پرېږده کنه

۷ـنومبرـ۲۰۰۴ء مردان

☆

ذري ذري شوې۔ خو خور نه شوې د ارمان اوازه
يه د پښتو غزله ـ يه د ګل جانان ـ اوازه

نه دې وبه د نمر نصيب شوې ـ نه صحرا د ونګو
د دشتې ژونده ـ د خوبونو د ډرمان اوازه

ما اوربدلې دے غزل د ګل د نوم زندګی
اوس وركېدې نه شم ـ د زرۀ د بيابان اوازه

يو تمنا دې راله ګل نه كړله ـ چرته ډوب شوې
زما د ټول عمر د سترې ژوند خلان ـ اوازه

نه خو زاهد يې ـ نه انديش يې ـ چې دې ناز يوسمه
اے د عابد د غزل سازه ـ د مردان اوازه

۱۰ـ نومبر ـ ۲۰۰۸ء مردان

☆

لیه لیه ـ ستوری ستوری دی ـ سنګار دے
هر غزل مې ستا د مست نظر ـ خمار دے

د سپوږمۍ دوبنکې ژوند هم افسانه ده
دا رڼا د دې د سپین بدن ـ بهار دے

خط مې پاڼې پاڼې نولی په سر ـ خاندی
دا اظهار دے ـ کۀ انکار دے ـ کۀ اقرار دے

هر طرف نه راته خلقو سترګې سرې کړې
هر سړے د هغه ښکلی طرفدار دے

څۀ په مینه ئې عابده ـ وې رقیب ته
اے ـ د دۀ خبره مۀ منه ـ وزګار دے

۱۳ ـ نومبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

خبر دے چې دې هېروه وعده ـ راځه
هس لاس دې راواچوه ـ راځه راځه

دې سره بنده کېنې زړورتیا راځي
دغه شاني تل یواځې څه راځه

ماسره نور څهٔ دي ـ دا یو زړهٔ مې دے
هس ـ چې ستا پکار دے واخله څه ـ راځه

خدائے مهٔ کړه ـ چې دا ورونه پورې شي
دا څه وائې ـ نا نا ـ هره شپه راځه

زړهٔ دشګو شال ـ تهٔ د هوا محل
لوټې شي ـ بس دې مهٔ مې کړوه ـ راځه

دې بانډې روغیږې نا ـ اباد وسې
چرته خو به قبر مې ګل پړده ـ راځه

ښکلې په ډېوال عابده ـ ولیکل
سپوږې ته دمې له ـ په غرمه راځه

۱۴ـنومبر۲۰۰۴ء مردان

☆

په ګل چې پرېوته ـ قطره قطره برباد شو ـ ياد شو
هاغه شبنم ـ لکه غزل د مينې ياد شو ـ ياد شو

(اوس چې ووږګورم ـ نو خه ـ زړه به مې نه پرېوځي
هغه ته وايه ـ چې مې دا سبق هم ياد شو ياد شو)

هر څوک به مړ مشال کښې کور ته د سپوږمۍ نه رسي
دا خو يو وخت وه ـ چې فرهاد هم نامراد شو ـ ياد شو

نه که د خيال په ساز کښې خور شوې ـ د احساس اواز شوې
مينې دې هم د موسمونو پرې زاد شو ـ ياد شو

اوس نه ورانيږي له کتابه ـ نه تيروځي په تا
عابد تاجدار چې غزل شو هم استاد شو ـ ياد شو

۱۸ ـ نومبر ـ ۲۰۰٤ء مردان

☆

خوند خو به وکړی چې اظهار د زړه قرار کښې ورک شی
بس چې ته راشې ـ او بهار د زړه قرار کښې ورک شی

بعضې وخت ګرانه شی ـ چې ګل نه دے ـکه رنګ د غزل
کله نا کله خو قرار د زړه ـ قرار کښې ورک شی

ته د وریخ سیورے ایسار کړه ـ زړه ربا راورمه
بربېړه چې نمر د انتظار ـ د زړه قرار کښې ورک شی

د وچو پانړو په ماښام ـ بل ډیوسې مشال دے
منې که نا غځګه اتبار د زړه قرار کښې ـ ورک شی

سپوږمې کښې څوک دی ـ دا د چا کور د ربا نه ډک دے
دا څوک دی ـ تل ئې چې رخسار د زړه قرار کښې ورک شی

زړه به تور خال کښې د شبنم د لمبې ـ ساز پېژنم
عابد دې بربېړه چې یو وار ـ د زړه قرار کښې ورک شی

۲۰ـ نومبر ـ ۲۰۰۸، مردان

☆

بیا هم راته ګران دے ـ کۀ اشنا نۀ دے
هاغه یو سړے ـچې نااشنا نۀ ـ دے

ګوري حیران خکه ـ هري پېښې ته
زړۀ ـ چې مې دې ښار کښې لا اشنا نۀ دے

ډېر کۀ مهربانه شي وخت ـ اوس پرې څۀ
زړۀ چې زلمے نۀ دے ـ په هوا نۀ دے

نخښې به زما د مینې ښې نۀ وي
ګل خو ګڼې دومره بې وفا نۀ دے

پروت مې به تلې کښې اوښکې ژوند
چا وې چې موسم د موتیا ـ نۀ دے

هاغه ریښتې قسمت ـ او ویش احساس
بس خو یا زما نۀ دے ـ یا ستا نۀ دے

ګرانه ده حمزه ـ چې عابد ـ لار ته شي
رنګ چې په دعا ـ د بې نوا نۀ دے

چرته هم عابده ـ چې ئې واورمه
ښکاري راته ـ دا غزل زما نۀ دے

۲۲ـنومبر۲۰۰۴ء مردان

☆

څه ښکلے ژوند وی ستا دميني د سپرلي د مزې
په کال کښي يو ځلي راتلۀ ـ او دومره ډېرې وعدې

زړۀ له يو اواز هم ډېر وی ـ ويښېدو له پاره
خلق به وائی په دروغه ملامت يې ـ پاڅه بس دې)

پرخه به نمر ورکيږی يا پرخه کښي نمر ډوبيږی
حاله ئي څۀ ـ زۀ خو مئين يمه د ګل د څېرې

د وچو پاڼو دې سيلی ته ـ دې سپوږمی ته ـ تا ته
ورکيه څله ځي نن بيا وايه په ورکه پسې

زۀ به دوو ټکو کښي بس دومره ئي صفت کوې شم
د انار ځانګو اچولي د خوبونو ګجرې

هره خندا ئي د غزل د موسم ـ شنۀ ګلونه
هره ادا ئي ربښتی حرارت ـ نوستي بني

د ګلی والې مرغی ژوند د ښاريې په اسمان
په سپين سحر کښي شوګيرې ـ په توره شپه کښي غرمې

هاغه تصویر چې په تندي ئې ایتونه لیک دي
هاغه قیصه چې الفاظ نهٔ لري ـ نن واوره خاني

زما د کور د سپرلي جشن هم ـ قهلی رڼا ده
دنسر په پل باندې رواني د ډیوو قافلي

زهٔ وریسي د ستورو جام ـ او رانه مخکښې مخکښې
ګلاب ګلاب شان خوشبوداري شونډې ـ دوه خزاني

نهٔ لاس ازاد کړه ـخو زهٔ لاس په لاس ترلي ېنهٔ یم
نن خو دې نهٔ پرېږدم ـ اوس وایه رانه چرته به ځې

کیښتی رواني د لفظونو ـ د خواني په دریاب
منځتې غواړی ـ هر یو څاڅکے د سپوږمۍ کټوره

ستا د زیر شال په سپوری ناست ـ دمه دمه انتظار
د ګل په ژبه د غزل قیصه نن بیا ده ـ مني؟

د نسر په پاڼو نولي بیا پرخې د تورې رڼا
څکه خو ځي عابده بیا ښار ته په توره شپه کښې

۲۳ـ نومبر ۲۰۰۴ء مردان

(صوتي قافيې)

☆

هر نظر ئې د رنګونو کهکشان دے
نن دا خدائې راباندې څنګه مهربان دے

یاری غواړی ـ بس مینه ئې ایمان دے
عشا عابد دے ـ نۀ هندو نۀ مسلمان دے

هلته نۀ ودرېدې ـ دلته نبض ودرېد
حالات یو شان دی ـ کۀ زمکه کۀ اسمان دے

زما وینکه هم زما د چونګ دنیا ده
مغرور کړې راته خان هسې اسمان دے

ما وې ژوند په تل روښان د ګوډی تال وی
خبر نۀ ووم د نظر دوکه اسمان دے

هره اوښکه د امید مې زیر بهار دے
ستوری خاندی په وېو کښې لاندې باندې

څۀ خو شته چې زړۀ مې پرخه پرخه کېږی
څۀ خو شته ـ چې کله کله راته خاندې

هر تصویر دې راته بنائې په تیاره کښې
ستا دا خیال څومره ورانې کوی ـ شېطان دے

په عمرونو بس لیدۀ څۀ دی قیامت دے
نتیجه ئې نن پخپله امتحان دے

هره سا مې لګه ساز د ګلاب ـ سترې
شي يار لارو نو خبر شوم په ـ ما ګران دے

شکر شکر چې هر خيال مې د خپل کور دے
د غزل وسعت مې تلې تر ايران دے

سپورمې بيا بنې بنې رڼا رانولې
شهزاده مسافر تلې ـ زاروان دے

اے د "تان" د در ملنګه زارې ولې
پختونخوا نۀ سهې خه پښتونستان دے

د غزل هنر مې هر ځائې کښې ممتاز دے
کۀ خوشال دے ـ کۀ حميد دے ـ کۀ رحمان دے

د زاهد ملګرے هر يو افلاطون وۀ
د عابد د وخت شاعر هلاکو خان دے

حمزه لارو ـ چې مرض ئې وۀ د شعر
د جديد غزل وقار د عابد جان دے

د مردان يادارن ډېر ـ شاعران ډېر دی
خو عابد پکښې بيا خاص د غزل خان دے

۲۴ نومبر ۲۰۰۴ء مردان

خوشحال خان خټک ـ عبدالحميد بابا ـ عبدالرحمان بابا ـ عبدالروف زاهد ـ حمزه شنواری



هر مخ مې د کتاب دے ابتدا د غزل ـ ژوندۍ
خبر دې نۀ شوم هيڅ په انتها د غزل ژوندۍ

يو لفظ د محبت دے ـ يو رڼا د غزل ـ ژوندۍ
ترلې دۀ خدائے ماسره وفا د غزل ـ ژوندۍ

هر څو کۀ دې زما د درد قيصې ـ بربړکې کړل
وژړۀ کيږي مې نا بيا هم په بل چا ـ د غزل ژوندۍ

يقين مې د لفظونو په سپرلې د وفا نسته
تر څو به راسره يې ـ اے زما د غزل ژوندۍ

هر خيال مې لکه وچې وچې پاڼې په جنج ـ لاړۀ
له کومې خوا دې راوړله هوا د غزل ـ ژوندۍ

سپوږمۍ لکه د نمر په څانګه ناسته ـ زيږ بهار دے
بنې بنې دې خور کړم په دنيا د غزل ژوندۍ

وزر وزر د ګل مې ـ کۀ عابده ـ ائينه کړه
قيمت تراوسه نه شو لا ادا د غزل ژوندۍ

۸ـ دسمبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

رنا چې څومره د سپوږمۍ په تول وطن خوره ده
په څاڅکي څاڅکي کیږي خوشبو ستا د بدن خوره ده

نن هم زما د کتاب پاڼه پاڼه ستا د نوم ده
نن هم په ما ستا د خندا د نسر لمن خوره ده

عمرونه وشو ـ خو د ناوې د لاس ګل وران نه شو
په دې کاغذ وریخ تراوسه د دیدن خوره ده

ورمیږ باران د محبت ئي ـ د نازونو مرګ شو
بیرون غوټی وه ـ خو چې شپه تېره شوه ـ نن خوره ده

ګله د لاس کړښو ته ګورم ـ ګله ستا تصویر ته
د طمعې پرخه لا تراوسه په چمن ـ خوره ده

دمه دمه شان انتظار او سترے شپه عابده
ودې رنا د هر ارمان په پیرهن خوره ده

۹ـ دسمبر ـ ۲۰۰٤ء مردان

☆

د رڼا پل ـ د سپرلي شال ـ بېګا سبا جدا دے
ژوند د ګل ساز دے په هر رنګ کښې په هر ځا ـ جدا دے

(دا کائنات هم د نظمونو يو کتاب دے د خدائے
چې هر يو لفظ ئې د غزل شعر دے ـ جدا جدا دے)

زۀ د پاګلې هوا کور پېژنم ـ شور پېژنم
دلته مطلب د محبت او د بنګلا جدا دے

نۀ د ګلونو چترې ونيسه د نمر په کتاب
د بهارې پشکال هر سبا بېګا جدا دے

هر يو عادت ئې د لوفر پرېرکې تصوير دے
په هر نظر ياندې جدا ـ په هره سا جدا دے

دا يو يقين کۀ د وجود عابده ـ لر کړو ـ نو بيا
نۀ زۀ د ګل نۀ يم جدا ـ نۀ ګل له ما جدا دے

۳۱ـ دسمبر ـ ۲۰۰۴ء مردان

☆

لاره د نمر کور د سپوږمۍ پکار دے
ځۀ خو مطلب د زندګۍ پکار دے

هاغه کاغذ ـ چې ستا د لاس ارمان دے
هاغه کاغذ د زندګۍ پکار دے

ځۀ ښکلي خوند کوی ـ "په لاس نۀ راتله"
دا يو عادت خو د هوسۍ پکار دے

يو د غزل ـ يو د وزر ـ اسمان دے
دا يو زما ـ يو د مرغۍ پکار دے

د وچو پاڼو خواهش ـ وچې شونډې
ځۀ خو علاج د غريبۍ ـ پکار دے

د خاموشۍ د شوور په سپينه شپه کښې
ځۀ نه ځۀ رنګ د عاشقۍ ـ پکار دے

ټولې ستا یاد ربښتم ربښتم ـ غزلې
سوال ـ د ګلونو د چترې ـ پکار دے

د خدائے خدائی کښې دا یو زړۀ لرمه
او هغه هم د لېونی ـ پکار دے

زړۀ بې پروا فقیر ـ او مینه یو سوال
داغ ئې والله له د ګوډی پکار دے

ګل به لېونې څو د هلک هم شرط دے
اول تصویر ئې د جینی ـ پکار دے

څو به ولاړ ـ ګورو تماشې د یو بل
ور ماتول د خاموشی ـ پکار دے

ژوند څی ـ عابده سیا خدائے خبر شه
چل به هر رنګ تن د مستی ـ پکار دے

۳جنوری۲۰۰۵ء مردان

☆

لکه خوشبو په هواګانو کښې راخور ـ یو ښکلې
د غزل ساه ـ د زړهٔ قرار ـ د درد ټکور ـ یو ښکلې

په یو یو لفظ کښې ئې چپې چپې سپوږمی ګډیږی
لکه تصویر د محبت په پاڼه خور ـ یو ښکلې

په خوشبو وینځلې سترګې ـ په باد وړې زلفې
د ګل نه پاک ـ ریښم ریښم ـ د سترګو تور ـ یو ښکلې

د نمر په شان خلق به ـ دې باندې ډېر ښهٔ پوهیږی
د هوا زور ـ د ډیوې شور ـ د سپرلی کور ـ یو ښکلې

زهٔ دلوفرو فرښتو د سر څادر پېژنم
زما د ټول کتاب په هر غزل سمسور ـ یو ښکلې

۵ـجنوری ۲۰۰۵ء مردان



وروک په رنا ـ سوې پتنګ ـ روان یم
زور که مې شته نشته د جنګ ـ روان یم

(راشه بس غو هسې په مخه راشه
نن سبا زه هم په غورځنګ ـ روان یم)

زه د غربت د ښار ـ بې تاجه بادشاه
زه د نواب دور ملنګ ـ روان یم

مینه د شک په تار تړلې نه شم
نه خم په څنګ درنه په څنګ روان یم

خدایه صفت دې د قدرت په څه وی
لویه دنیا کېښې دې شوم تنګ ـ روان یم

زه په ولاړ موسم کېښې هم عایده
بېرنګه نه یم ـ ستا په رنګ روان یم

۵ـجنوری ـ۲۰۰۵ء مردان



شی په کلونو کښې اباد د زړه کورونه ـ وران شی
اکثر په یو باران د عمر تصویرونه وران شی

ما په ټول ژوند کښې هم د لاس کرښو ته ونه کتل
ما نه لیدلې ـ چې لیکلې قسمتونه وران شی

د نادیده مینې ارمان هم د هوا غزل وی
اکثر کتو کتو کښې یو بل ته ـ نیتونه وران شی

مینه چې تل یو رنګ کښې وسی ـ تغیر نۀ لری
د ناوې لاس نه دومره زر خنکه ګلونه وران شی

د چا د شګې خیال عابده څۀ ووایم
د سیند یوه څپه کښې څومره امیدونه وران شی

۱۳ فروری ۲۰۰۵ء مردان

☆

څه د خدائے شان دے ـ چې څوک وینم ـ پکښې تا وینمه
زۀ د قاتل په مخ کښې هم ـ ورک مسيحا وینمه

زۀ ډګلونو څادر نه ټیرم په ناپ د ارمان
زۀ سپینه شپه کښې د تقدیر توره رڼا وینمه

په چونګ وبو کښې ډوبېدۀ هم په نصیب نصیب وی
زۀ خو چې ګوم لوری ته ګورم ـ نو صحرا وینمه

د هوا رپ هم راته ستا د زلفو پانې ربی
د هوسې زړۀ شومه ـ په خپل سیوری هم تا وینمه

بیا یو وَرې ـ لویه وعده په انتظار کښې راکړه
بیا په کاغذ د وبو څاڅکې کښې دنیا وینمه

د لار په مېنځ کښې ودرېدل ـ ګوتې شمارل عابده
هغه مې وینی لېونتیا او زۀ ئې غلا وینمه

۱۴ فروری ۲۰۰۵ء مردان

☆

له درده ورک محبت ـ د خندا بنار د خوانی
ستا او زما د لوظ کور ـ ساز په هر تار د خوانی

زما د اوښکو کتاب هم ستا خوشبویو ګلاب کړو
زما هر شعر ستا ائینه ـ پکښې سنګار د خوانی

هاغه خفه شان جینی ـ هاغه خندني انتظار
هاغه زیړ شال ـ هاغه امید ـ هاغه بهار د خوانی

د واورو کور کښې ائینې ـ د ګل په غېږ کښې بهار
څۀ دې باور د زندګی ـ څۀ دې اتبار د خوانی

نن هم وریږی په لفظ لفظ مې پلوشې پلوشې
هاغه ناتار ستا د دیدن ـ هاغه ناتار د خوانی

تازه تازه شانې لهجه ـ تازه غزل ستا د نوم
بوډا ارمان عابده بیا روان په لار د خوانی

۱۶ـفروری ـ۲۰۰۵ء مردان

☆

لکه د اوښکې هر ازغې په زړه ربېلې يمه
ته څه خبرېږې دې وخت څه رنګه نوستلې يمه

چا لکه ستا ـ سره د مينې راشړلې يمه
چا د خپل زړه په مات کودې کښې ګل کړلې يمه

زړه هاغه سانده يم ـ چې ساز مې د غزل اواز دے
هر چا په خپل رنګ کښې په خپل انداز وئېلې يمه

څه لوئې دروغ دې چې په مرګ خلاص شې سړے له غمه
زړه خو ستا غم په ورغ کښې شل ځله وژلې يمه

زړه د پښتو په نوم د ښېر غوښتو ملګرے نه يم
زړه د وريښ په ښېر په اور هم وربدلې يمه

زړه د موسم د وچو شونډو ربښتې ارمان يم
لکه هوسې د ګل په ساز هم ترهېدلې يمه

د وخت څه مه وايه ـ که ډېر هم لکه ورځ کانړ شو
خو ستا د ياد د بڼ سيلۍ کښې الوتلې يمه

ما محبت د زړه مشال ګڼه ـ عابده خو تل
هم دې رڼا د خپل اميد په اور سېزلې يمه
۳ـ مارچ ـ ۲۰۰۵ء، مردان

☆

رنګ شوه د غزل دنیا په تېر عمر
ګېر شوم محبت کښې بیا ۔ په تېر عمر

بوڼې شوم ۔ نن هیله ۔ ستا په خاموش نظر
واخستم د وخت سودا ۔ په تېر عمر

زړه پوهه په تا له زمانې ووهه
تهٔ بوڼې شوې اشنا په ما ۔ په تېر عمر

اے نوې جینۍ ۔ تازه تازه بنګلې
ډېر به شي ارمان زما ۔ په تېر عمر

څله وریسې زرګیه وزنې خان
څنګ راشي ۔ وره شپها ۔ په تېر عمر

مرګ مې څنګ عابده ۔ کړې بدل بدل
وڅې کړه اخر دعا ۔ په تېر عمر

۸۔ مارچ ۲۰۰۵ء مردان

☆

بس دې راځه ـ دا ډېر ځلونه به دې بنۀ خفه کړي
د هوا شور ـ زېږ موسمونه به دې بنۀ خفه کړي

دا خاصيت دے د الفت ـ چې به خندا وېسي غم
اکثر کتاب کېښې بنۀ شعرونه به دې بنۀ خفه کړي

د دې قهدي قهدي سپرلي ـ عاشقي هم لېونتوب
لوفر مابنام ـ زلمي خيالونه به دې بنۀ خفه کړي

خفګان نه ځۀ جوړيږي ـ خار ـ هسې خواني مۀ نوله
دا موسمي نمائيشونه به دې بنۀ خفه کړي

داغه وار تېره خوشالي ـ چې د تصوير ادا ده
لکه د وخت تلې پېرونه به دې بنۀ خفه کړي

عابده بيا بيا د ارمان مخ ته رومال مۀ نيسه
دا بيګه شوې تصويرونه به دې بنۀ خفه کړي

۱۳ ـ مارچ ۲۰۰۵ء، مردان



شایسي دغسې راځه ـ کوه وعده دغه شان
چې تېره نۀ شي بیا به ژوند کېږي بله شپه دغه شان

چې هر اتبار ئې د راتلو شي ـ زندګی د هجران
اراده دغه شاني بنه وی او جذبه دغه شان

د محبت د لارې مخ هم د هوا غزل وی
ژوند به دې بنۀ وی ـ کله کله مې منه دغه شان

د ورمېنی ماښام سپوږمی ده ـ ستا د سترګو رڼا
یوه لحظه دې دا سپرلے ـ هم ئې ورمه دغه شان

دې اسمانی رنګه ربو بلها نمرونه ډوب کړه
چې زما نۀ منې ـ نو بیا سرېه څه دغه شان

د زمانې باد که عابده ډېر لوفر اواز شو
خو زۀ هم دغه شاني پاتې ـ هم هغه ـ دغه شان

۱۶ـ مارچ۵ ۲۰۰ء، مردان

مشین

زما د ډېر عمر نه يو ارمان وه
چې داسې يو شعر ولیکم
داسې يوه کرښه ولیکم
يا داسې يوه خبره ولیکم
چې ته پکښې داسې ښکاره شې لکه اوس چې ښکلې ښکاره يې
چې يو يو لفظ نې ستا د يوې يوې ساه سند شي
او زه د خپل نیمګړې محبت په عدالت کښې
کم ازکم دومره خودا سترګې وچتې کړم ـ او
ووايم
چې او "زه هم په تا مئين يم"
خو داسې يو لفظ
داسې يوه کرښه
يا داسې يو شعر
لا تراوسه ما ونه ليکلې شو
او نه به ئې د دې نه پس چرته وليکلې شم
ځکه چې بعضې وخت
ژوند په داسې مرحلو او لارو روان شي
چې د خپلې خوښې په سا خستو هم قدغن ولګي
او وجود صرف يو مشين باتې شي
او
مشينان هيچرې هم د جذباتو نمائندګي نه شي کولی

۱ـ اپریل ـ ۲۰۰۵ء مردان



ستا او زما مینه ده
دا خیره سپینه ده

څهٔ دا ژوند ـ ازغی ازغی
څهٔ هوا مالګینه ده

خوبنه د ساده زړهٔ مې
مسته هم رنګینه ده

ژوند مې پښتو مرګ پښتو
ژبه هم مې وینه ده

بس خو یو زمونږ قیصه
پاتې د سپرلی نه ده

خاندی سپوږمی ـ وګوره
ستا هسې شوخینه ده

وخت وشو ـ خو دا جيني
نن هم لونګينه ده

بل ستا د بوسي مثال
شپه توره حسينه ده

مينه سوال او زړه فقير
دا قيصه سنګينه ده

زړه له درده تود ګلاب
ستا خندا واورينه ده

اُف د دې غزل لهجه
ستا په شان مهينه ده

ياده مې عايده ـ لا
اوس هم ماه جبينه ده

۳ـ اپريل ـ ۲۰۰۵ء مردان



ستړے بلها ـ یو مست نظر خو راته وکړه
لږ شان د غزل د ساز ـ خبر خو راته وکړه

اوس خو وخت اسان کړو محبت ـ خطونه پرېږده
وي ئي ھں ـ بیا فون په دې نمبر خو راته وکړه

پرېږده چې سپږمۍ مې د ګرېوان شي بانې بانې
ته یو اشاره د بام په سر خو راته وکړه

هاغه چې د نمر د تندې خال پکښې غزل شي
بیا هاغه قیصه د مازیګر خو راته وکړه

راشه ـ اے هوا ـ د پردې ښار په شور کښې راشه
غلې شان ټپه د خپل ګودر خو راته وکړه

۶ـاپریل ۲۰۰۵ء مردان (نیمګرے)



لیره شان یاری به راسره کوې
دا مهربانی به راسره کوې

خیال کیني هم زما چېرې دا نه راتلل
نه هم دشمنی به راسره کوې

ومنه ـ چې ستا هر څه زما دی تول
څه څه رښتنی به راسره کوې

څه بنکلي اتار د نیمي لارې وی
هینه تر سپرلی به راسره کوې

هیڅ هم پاتي نه شو راسره ـ زما
نور به څه نصیبه راسره کوې

یه عابده سوال زما د میني دے
وی به خلق وی به ـ راسره کوې ـ ؟

۲۰ـ اپریل ۲۰۰۵ء مردان



څهٔ دی ـ؟ اے هوا ـ د هاغه یار څهٔ خبر شته کهٔ نا
بیا د نوي طمعي ـ انتظار ـ څهٔ خبر شته کهٔ نا

وخته دا د ښاڅکي ښاڅکي ژوند ـ قیصه تر څو به وی
دي د کاغذ ګل له د بهار څهٔ خبر شته کهٔ نا

هاغه یو تندے ـ چې پرې د مینې ایتونه دی
څنګ ـ هاغه فقیر له څهٔ د کار ـ څهٔ خبر شته کهٔ نا

دا زمکه د زړهٔ به درد اباده ـ دې اباده وی
خبر دے کهٔ درمان له د بیمار څهٔ خبر شته کهٔ نا

یه د عمر عمر مسافره ـ خپلې خاورې له
تا باندې قربان له تانه ځار ـ څهٔ خبر شته کهٔ نا

دا د ژړاګانو بهارونه ـ او دا زړهٔ او تهٔ
درد له د زړګي د لاله زار ـ څهٔ خبر شته کهٔ نا

اے د غزل سازه ـ د عابد د محبت ادا
بس یو پوټې مینه ـ لږ خمار څهٔ خبر شته کهٔ نا

۲۱ـ ابریل ـ ۲۰۰۵ء مردان

☆

که غلے غلے ځي ۔ او که په شوره زما وروره
ځي دواړه لارې يو پله ۔ تر ګوره ۔ زما وروره

اے بس دے نور دا نمر دې سترګې بل چاته ځلور کړي
ګوره به د پښتو وير په سرتوره زما وروره

يو ځاځکے ۔ چې د مينې سمندر پکښې ځايږي
دا ليه د وفا ځه شه نسکوره زما وروره

يو ځل چې ئې د مستې تماشې تالونه يوسي
بيا ځائې له سرے نه راځي تو ګوره زما وروره

د نمر د رڼا بل باندې روان جنج د يادونو
ولاړ د محبت فقير بې کوره زما وروره

صنم چې دالفت کليمه هم عابده غږ وي
ځو دا وروړ دې مړ کيږي له پېغوره ۔ زما وروره

۲۲۔اپريل۔۲۰۰۵ء مردان



(دچا نامه لویه ـ د چا د کور دېوال وچت دے)
هر څۀ چې دی ـ خو د دې ښار د خلقو خيال وچت دے

زمونږه جوړه بس د يو تېکی په سر پاتې ده
ماته ارمان ـ ګل د خپلې ګوډې تال وچت دے

واخله ـ زړۀ واخله ـ نور څۀ نه ـ بس يو د مينې نظر
قيمت ئې کم دے ـ دا منم ـ خو ګورې مال وچت دے

زما قسمت د اسمانی افسانې ورانې کړېنې
فال مې ښۀ نۀ دے ـ خو کتونکې مې د فال وچت دے

چې يو يو پاڼه ئې د ياد د سپرلی باد راښولی
هاغه تصوير مې لګولې په دېوال وچت دے

ژوند مې عابده ـ بس د هاغه خلقو خار ـ خنې
د چا چې فن سره هنر هم د کمال وچت دے

۲۳ـاپريل ـ ۲۰۰۵ء، مردان

☆

ښکلے يې ـ ګل يې ـ ژوند يې ـ مست بهار يې
يې په ـ چې هر څۀ يې ـ زمونږ خو يار يې

هيڅ دې اے وخته ـ په رموز پوئې نۀ شوم
د زړۀ بازار يې ـ تول د ښکلو ښار يې

ما ته زما دا ناقلار زړۀ وائي
نۀ په هم مانه جدا ښۀ وېزار يې

خواني دې څۀ ده ـ د سپرلي مرجان دے
زرګيه ـ څنګ د هر سرې ښکار يې

خې او راځي ـ خو لاس په لاس نۀ راځي
د هوا زړۀ يې ـ د ريښمو تار يې

سپوږمي د ستورو منځ له راغله ـ بس دے
زړۀ خو ورځم ـ نۀ خې ـ کۀ نا ـ ايسار يې؟

ږک دې کړو تول کتاب د ګل د پاڼو
نۀ هم عابده ـ خدائيګو ښۀ وزګار يې
۲۰۰۵ء مردان

احساس

(عابدیات ورمنی برخه)

چاچا کریم بخش غزل ایوارډ ۱۹۹۸ء

د ۱۹۹۱ء نه تر اپریل ۱۹۹۳ء پورې کلام

☆

له پنډۍ نه۔

۱۲۔جنوري۔۱۹۹۸ء

ستا سوغات احساس را ورسېده۔ ډېره مننه چې زما غونډې ګوشه نشین ته یې خپله پېرزوینه کښې یاد کړو۔کتاب مې په ډېره مینه ولوستو، په ډېره مینه ښکه چې د کتاب هر مخ سرې د نوو نوو محسوسو، احساساتو سره مخ کړی۔خدائے دې ډېر عمر او برکت درکړی۔

زه د ګران استاد حمزه شنواری د دې خبرې سره پوره متفق یم۔ چې" عابد یو خیل ګول کښې ښه شاعر دے"

او د عبدالروف زاهد وینا هم په ځای ده۔ چې" دا مجموعه د فن په هر نظر او زاویه پوره معلومیږی" ۔او پوره ښکه معلومیږی چې دا سې وجدان لړزونکی شعرونه لری۔

واعظه څله مو راسپړې فلسفې د زړونو

په تصور یو څو مخونو باندې ژوند تېروو

ایاز داوړے

پر خط نه اقتباس

☆

امتیاز احمد عابد د پرېښتې صفتی د پر ذهین ژلمی نوم دے۔ چې د ژلمیتوب په تې واکړ اس سوز هم د معاشرې او چاپېرچل په تبدیلیو نظر لری۔او هم د خپل فن پالنه د حالاتو په تناظر کښې د خپل وجود په وینه کړی۔ دا مجموعه د فن په هر نظر او زاویه پوره معلومیږی۔او د هغه په همزولو کښې د هغه د نوم انفرادیت ښکاره کړی۔ د هغه دا لږ عمر هم د ژوند د بلیها حادثو نه ډک دے۔او د دغه حادثو هغه شاعر کړے دے۔او د هغه احساس لې

ژوندے مسائلې دي . د حبيب جالب مرحوم دا شعر د هغهٔ د ژوند په احاطه کړلې شي .

اپنی تو داستان اتنی ہے
غم اٹھائے شاعری کی ہے

زهٔ د هغهٔ د درد په حواله د هغهٔ د فن د صفحتونو پُرلو نه تېرل نهٔ غواړم . او نهٔ زما نوم د ادب په حواله چرته د ظالمانو په فهرست کښې شامل دے . د هر اديب او شاعر د فنی زندګی تعين وخت کوی . او خکه زهٔ نور څهٔ وئيل زيات نهٔ کنړم .

عبدالروف زاهد (ايډوکيټ)

مردان . ٦ . دسمبر . ١٩٩٧ء

☆

د امتياز عابد د هر شعر خيال نازک او لطيف دے . او بيا ئې د دغه خيال د ابلاغ له پاره د نازکو ، روان او اسان لفظونو انتخاب کړې دے . چې موسيقيت او غنايت هم لری . او تغزل ئې هم برقرار دے .

د عابد د غزل يو بل اهم خصوصيت د هغهٔ اوږدو اوږدو رديفونو استعمال دے . چې يکښې نيمه خبره شوې وی . او بيا داسې رديفونو له زور خيال اتول او په زړهٔ راښکونکو لفظونو خبره پوره کول او دهغې ابلاغ کول يو ګران فن دے . او ښاغلے عابد په دې ګران فن کښې کامياب ترين ښکاری . او دا ئې د مردان د غزلګو شاعرانو نه د انفراديت غټه وجه ده .

عظمت هما مجاز

هسکه مېنه

شيخ ملتون ټاون مردان

١٧ . اکتوبر . ١٩٩٨ء

☆

امتیاز احمد عابد په خیال چابیر چل کښې هغه څه وینې ،کوری او محسوسوی چې هغه زمونږ غونډې د عامو خلقو په خیال او خاطر کښې هم نه راځی ـهغه زلمے دے ـ خو تجربه ئې پخه ، فکر ئې زور ، او د خیال مارغهٔ ئې ډیر تیز دے ـ د غزل په هیئت ډیر ښۀ برڅیږی۔

عابد دژوند شاعر دے ـهغه په خپله شاعری کښې د خیال نور ډیره ښه عکاسی کړی ـدژوند هره پیښه ، هر غم او خوشالی دامې په خوږه پسته او روانه ژبه کښې لیکی ـ چې د لوستونکی زړۀ او روح ته ډیرې تسکین رسی۔

طاهر بونیرے

درې میاشتنی "جرس"کراچی

تبصرې نه اقتباس ـ۱۹۹۳ء

☆

د عابد کلام په هر لحاظ د ډیرو فکر ،مونږ کې شعور او ذهین عابد زیرے دے۔

اسرار د طوروز مردان)

(وحدت)۲۶ـستمبرـ۱۹۹۲ء

☆

د عابد غزل نه یوازې د هغهٔ همزولی متاثره کړی دی ـ بلکې د خپلو مشرانو او زړونو کښې ئې هم ځان له ځائے پیدا کړے دے ـمناقلے الیاس بادل وائی چې " هغه د (غزل تاجدار) دے " مشران او استاذان وائی چې هغه د "غزل نمائنده" شاعردے ـ خو کهٔ زهٔ د امتیاز احمد عابد صیب باره کښې دا ووایم نو غلطه به نهٔ وی ـ چې عابد د غزل تاجدار نه بلکې غزل د عابد تاجدار دے۔

وصال احمد وصال

"د غزل تاجدار" مضمون نه اقتباس

ورځپانه "وحدت" پیښور

۱۶۔دسمبر۔۱۹۹۲ء

☆

امتیاز عابد صاحب نے زندگی کی تلخیوں کو بہت قریب سے دیکھا ہے۔ ور اُسے محسوس کیا ہے۔ لیکن یہ اس کے فن کا معجزہ ہے۔ کہ وہ غم دوراں کو بھی غم جاناں میں اسی طرح ڈال کر پیش کرتے   کہ قاری کو خوشی کے ساتھ ساتھ ایک چٹخارب بھی محسوس ہوتا ہے۔ وہ اپنے غزل میں قاری کو اس طرح اپنے ساتھ کھینچ لیتا ہے۔ کہ قاری کے دل سے اہ تو نکل جاتی ہے لیکن اسے خبر نہیں ہوتی۔

ان کے شعروں میں اتنی بے ساختگی ہے کہ ہر قاری دوران مطالعہ یہی محسوس کرتا ہے کہ گویا یہ تو میرے دل میں تھا۔ اور یہی بات فن کمال کی معراج ہوتی ہے۔

امتیاز عابد صاحب معجزوں اور تخلیقوں کا شاعر ہے۔ وہ زمان کی پریوں کے چہروں سے وہ پردے ہٹانے والا شاعر ہے۔ جو فکر دوسرے شعرا کرام میں بہت کم ملتا ہے۔ وہ دل کے دھڑکنوں کے اس احساس کا خالق ہے کہ محسوس تو ہر کوئی کرتا ہے لیکن اظہار کوئی بھی نہیں کرسکتا۔

وہ اپنے فن۔ اپنے غزل اور اپنے سارے فکر کو اس پر نچھاور کرتا چلا جاتا ہے۔ جو ادب میں سیاسی انقلاب سے پرہیز کرتا ہے۔ اور فن کو صرف زندگی کے لیے پیش کرتا ہے۔

جہاں تک امتیاز عابد کا تعلق ہے۔ وہ فن پر دو عبور ہے۔ لیکن گمنام نہیں ہے۔ اس کے شعری مجموعے "احساس" پر اسے "بابا کریم بخش ایوارڈ نے یہ بات ظاہر کی ہے کہ وہ اپنے فن میں یہ کمال رکھتا ہے کہ اسے سراہا جائے۔

اور جب تک امتیاز عابد جیسے لوگ اس مٹی میں پلیں گے اور ان جیسے لوگوں کا خون اس فضا میں شامل ہوگا۔ تو ایسا کوئی بھی وقت اور کوئی بھی لمحہ نہیں آسکتا کہ مردان کا ادبی سرمایہ کم ہوجائے۔

ہدایت الرحمان ہوتی

"پشتو غزل کا تاجدار" مضمون سے اقتباس

ماہنامہ (منظر) پشاور ۲۰۰۰ء



ستا د خلې وعده نيمګړې پاتې ده
ژوند مې يو قيصه ـ نيمګړې پاتې ده

وينه راله تو له غزل وچه کړه
لا د يار نامه نيمګړې پاتې ده

خوب دې رانه زلفو تختولې دے
سترګو کې مې شپه نيمګړې پاتې ده

هله ساقي شايه کاسه ډکه کړه
خله کښې مې توبه نيمګړې پاتې ده

پاتې نه شو ـ يو خل تر سحره يار
دا يو تجربه نيمګړې پاتې ده

خبر دے کۀ عابده ـ بنګلو پرېښې بې
دوی نه همېشه نيمګړې پاتې ده

مردان

☆

ماتې څو توتې دې د بنګړو راسره پاتې دی
نخښې دې يو څو بس د وعدو راسره پاتې دی

ښاغلی مې د اوښکو څکه توې نه کړه له سترګو نه
دا يو څو ملګرې د جرګو راسره پاتې دی

دی کۀ وچې شوې وې ـ پرتې د زړۀ کتاب کښې مې
دا د ګل غوټۍ دې د کمڅو راسره پاتې دی

پرهارونه چې وهيتۀ مې وی ټبر ـ شونډې مې وچې وی
دا يو دوه بانې دی د "زونډو" راسره پاتې دی

نور به سروقده ستا د مينې درته څۀ وايم
کانې د څو ښکلو د کوڅو راسره پاتې دی

پوئې نۀ شوم ـ عابده ـ څو څۀ دا رنګه شپها وزې
زهر يو پوټې د ستا ختو سرراسره پاتې دی

۳ـ ستمبر ۱۹۹۱ء مردان

☆

الزام به د ژوند څۀ وايو ـ د چا په سر پرېوځي
يو ستا په سر پرېوځي ـ يو زما په سر پرېوځي

هيڅ نوې د يارانو د ستم څمونه نۀ دي
هميش له د شپو کاڼي د سبا په سر پرېوځي

لا اوس خو به دې دوره د راتلو هم ناسته نۀ وي
دا تندر چې د تلو دې بيا اشنا په سر پرېوځي

واعظه په توبو او په شرابو نۀ بيج کيږي
دا نور د محبت دے ـ له هر خوا په سر پرېوځي

عابده چې څوک مې د قلم سره اشنا کړل
نن هاته قلم بنائي ـ او زما په سر پرېوځي
٤ـ ستمبرـ١٩٩١ء
مردان



هره ذرزا مې د زړه ـ ستا نوم اخلي
خکه یاران ګله ـ زما ـ نوم اخلي

ستا تصور خپله ورمه ده د ګل
ډېر که سپړے دې هم په غلا نوم اخلي

نه که هر څو کوي پېرزو د ژړا
زړه به همش دې په خندا نوم اخلي

بدلول غواړي اوس قیصه د ژوندون
خلق تر څو به د اشنا نوم اخلي

څه هنګامه ده ؟ چې اوتر دې بنکلي
دا عابد څوک دے ؟ دوی د چا نوم اخلي

۵ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء
مردان



خه چې اشنا پاڅو ۔ بغاوت وکړو ۔ نو بوئې به شو
نن به به ښکاره دا محبت وکړو ۔ نو بوئې به شو

بې له دې نه کېږی ۔ اشنا د نذدیکت احساس
لېږ شان به له یو بله نفرت وکړو ۔ نو بوئې به شو

وائی خلق هر وخت چې هر څۀ به "ارادو" کېنې دی
مونږ "ستا" د غوښتلو به لېږ "نیت" وکړو نو بوئې به شو

ستا د نظر کلی کېنې منم چې "غریبی" نشته
خبر دے لېږ اظهار به د "حاجت" وکړو نو بوئې به شو

اورو چې عابده ښکلی مری به خپل صفت همېش؟
ذکر به ئې خه نن د محلت وکړو نو بوئې به شو

۷۔ستمبر۔۱۹۹۱ء
مردان

☆

خپله جوړیږی ـ محبت کېږي سرے څۀ کوي شي
هر څۀ چې کیږی ـ په قسمت کېږي سرے څۀ کوي شي

وی چې رخسار ـ شونډې ـ باڼۀ ـ زلفې ـ خوانی او سپرلی
وایه ریښتیا داسې قیامت کېږي سرے څۀ کوي شي

زړۀ هم په لاس کېږي ـ ژوندون هم د یو وعدې نذرانه
ستا د ښائیست قدر و قیمت کېږي سرے څۀ کوي شي

زړۀ په درزا ـ نظر اوتر اوتر ـ بل نوې دیدن
خود په خطا شی ـ دې حالت کېږي سرے څۀ کوي شي

بس یو نظر ـ د قدم خاورې هم ښکل کړې یا ـ نه
عابده نور هغه مهلت کېږي سرے څۀ کوي شي

۸ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء
مردان

☆

هر خوا ځي ظالم ـ خو د زړګي طرف ته نه راځي
هر څۀ د محفل مشهنځ کيږي کوي ـ طرف ته نه راځي

ګرځي ډانګرو کښې د ذاتي انا په نوم همېش
دا د سترګو اوري دې ساقي ـ طرف ته نه راځي

يو ځل چې هم ستا د سترګو سيند کې ځان لاهو کړو چا
عمر له ګرداب کې مشهنځ له ځي ـ طرف ته نه راځي

ګله چې راځي ـ نو هنګامه په چمن راولي
مست دې لګه ستا هسې سپرلي طرف ته نه راځي

يو چې دې د ښکلو ښار ته راوستم او بل شراب
مۀ غواړه عابده اوس خواني ـ طرف ته نه راځي

۹ـ ستمبرـ۱۹۹۱ء مردان

☆

هسې ویرېږې ـ په وعده کښې وایه څۀ نۀ کېږی
کله ـ د ستورو په دې شپه کښې وایه څۀ نۀ کېږی

نخښې د پلونو تختوی ـ شکې راوړی غاړې له
اشنا د سینه یوه چپه کښې وایه څۀ نۀ کېږی

خبر دے ـ رقیب ته مې نوم واخله ـ خو سوچ وکړه اشنا
د ژوند په لویه سلسله کښې وایه څۀ نۀ کېږی

شونډې چیچل ـ په ترخ کتل ـ زلفو له تاؤ ورکول
د نوې پېغلې لوبته کښې وایه څۀ نۀ کېږی

ستا نوم عابده ـ د رقیب په خلۀ او کړې ماشومان
د ګل په تنګه شان کوڅه کښې وایه څۀ نۀ کېږی

۱۱ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء

☆

نن دې په وعده راتلهٔ اشنا ـ خبره نوې ده
خکه خو مې زړهٔ دې وارخطا "خبره نوې ده"

ما خو دې تول عمر د قدم ښکالو ته وکتل
نهٔ راتلهٔ په لوظ دې وېل چا ـ خبره نوې ده

تېرې کهٔ مودې هو يو کوڅه کښې د زړهٔ سره شوې
بيا هم ښکارې داسې ـ زما ـ ستا ـ خبره نوې ده

هر خل عشق ژړلې دی ترشل کښې ـ حسن تلې دے
دا خبره نوې ده ـ نهٔ دا خبره نوې ده

کرانه د عابد زړهٔ کښې جفا ؟ بيا د ښائيست په نوم
ستا په خلهٔ منم چې د وفا ـ خبره نوې ده

۱۲ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء
مردان



تیږېږی ستا په یاد کېنې ـ ژوندکی ازغی ازغی ده
اشنا کۀ راوریږی بری سپرلی ـ ازغی ازغی ده

ستا خوئی کې خامخا به څۀ ترخ والي وی بې لوظه
خیره مې تر شوندو چې راځی ـ ازغی ازغی ده

مونږ خود به د هر ګل مخ له ستګار کړۀ په وینه
ملګرو هره لاره چې ازغی ـ ازغی ـ ازغی ده

ستا زلفې چې راسپړی ـ ستا رخسار ته کتې نۀ شی
نن ګوره دا هوا ـ شرارتی ـ ازغی ازغی ده

یو ستا د ژوند د نوستې نوستې زړۀ قیصه خو نۀ ده
عابده دلته سا د هر سړی ازغی ازغی ده

۱۳ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء
مردان

☆

چرته اشنا تا منل ـ چا چې به کاڼي ويشتل
تول به به ما وربدل ـ چا چې به کاڼي ويشتل

غم مې د زخم نشته ـ غم خو بس دا دې زما
تول مې ملګرې وه خپل ـ چا چې به کاڼي ويشتل

خله له غيرو وکړو ـ هسې زړګيه ګيلې
هر خوا مې خپل راختل ـ چا چې به کاڼي ويشتل

ما ورته نه وې اشنا ـ مينه ښکاره بنه نه وى
نن خپله خان کړولو غل ـ چا چې به کاڼي ويشتل

بوئې شه عابده چې اوس ـ ورک به تر مرګه نه شې
نن هغوى خوښ کړو غزل ـ چا چې به کاڼي ويشتل

۱۴ـ ستمبر ۱۹۹۱ء مردان



زړه په سینه کښې قرار څرته کوی
"ظالم" د مینې اظهار څرته کوی

کوم یو ته ووایم ؟ قاتل د زړګی
وژنی مې غلې ـ ګذار څرته کوی

ستا طمعې طمعې خو د خان هم نۀ کړم
څوانی اشنا ـ انتظار څرته کوی

دی کۀ شل څله حرام څښیل ـ واعظه
ګناه ته خیال مې خمار ـ څرته کوی

دې د بنائیست د بڼاریو سوداګر
عابد څه بل څۀ روزګار څرته کوی

۱۶ـ ستمبر ـ ۱۹۹۱ء مردان

☆

کله چې راتلو کېښې دې د تلو خبرې وخاندې
خکه د زخمونو په لمبو - خبرې وخاندې

نه چې وائي - مرګ نه دے - نو څۀ دی ؟ ژوند خو هم نه دے
ستا او رقيب چې په ورتلو - خبرې وخاندې

ولوتې ژوندون په يو نظر د مېخانې - ساقي
څۀ کۀ د تش جام د کرنګهلو خبرې وخاندې

داسې دا په وړه کېښې د نيمګړې ديدن څۀ معنی؟
کيښنه چې د زړونو د جذبو خبرې وخاندې

هره لار کېښې غم د "غنم رنګې" ملګرتيا کړې
څۀ رنګه د ژوند د رنګينو خبرې وخاندې

تول عمر عابده څوک به څۀ رنګه چپ پاتې شي
پرېږده چې ګل رنګ ته په سلګو خبرې وخاندې

۱۷-ستمبر-۱۹۹۱ء مردان

☆

په مونږه شه وي د قسمت او د ازل لوبې دی
ژوندون هم توليې سروقده مسلسل لوبې دی

هم پابندی دې په نامه ـ هم يادول دې زره کښې
ستا محبت هم يو لوئے غم دے ـ بل په بل لوبې دی

مونږه زخمونه په هر تار باندې گنډو ـ او شليږی
تاته خو بس دغه د زلفو خوروول لوبې دی

يو دغه فرق مو دې پاتې اوس د مينې لار کښې
ماته راتلل که دی اسان ـ هغه ته تلل لوبې دی

نور د گل محو کيفيت عابده نه پيژنم
په يو نظر کښې ژوند لری ـ په بل وژل لوبې دی
۵ـاکتوبرـ۱۹۹۱ء
مردان



ستا له خاطره په اوروونو باندي ژوند تېروو
ده څومره ګرانه ؟ خپل سرونو باندي ژوند تېروو

واعظه څله مو راسپړې فلسفې د زړونو
په تصور یو څو مخونو باندي ژوند تېروو

دی معمې د تورو زلفو ـ حل کېدونکې نه دی
بس څو د خیال په هنرونو باندي ژوند تېروو

نۀ دې بانۀ پښتانه تېټ نۀ کړي ـ کچه مو نۀ کړي
خبر دے کۀ مونږه په زخمونو باندي ژوند تېروو

زندګی څۀ ده ؟ بې له تا ـ دې یو نیمګړے موسم
په یخه ژمېره یخ بادونو باندي ژوند تېروو

یو کۀ تور رنګی ـ په دې څۀ ـ مخ ته مو مۀ راګورې
په نظریو د سپینو زړونو باندي ژوند تېروو

نۀ د ګل مینه شوه راڅپله ـ او نۀ مونږ شو د ګل
بس څو عابده په شعرونو باندي ژوند تېروو

۱۵ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۱ء
مردان

دردونه

زړګیه د یادونو له دې ښاره چرته لړې
د غم د سرحدونو نه هم اخوا خه چې لاړ شو
چرته چې د وخت د تقاضو غوښتنې نۀ وی
چرته چې پابندی چې د ارمان لاره کښې نۀ وی
چرته چې نامه نۀ د نفرت وی ـ نۀ د مینې
چرته چې نۀ دړد وی ـ نۀ احساس او نۀ شعور
چرته چې یو زړۀ د بل زړۀ لارې له هم نۀ ځی
چرته چې د دور پسرلی هم پېښه نۀ کړی
چرته چې خزان هم په ګلونو چرته نۀ وی
چرته چې نیضونه خواهشاتو پسې نۀ ځی
چرته چې خیالونه بندیوان نه وی بهرو کښې
چرته چې فکرونه فقط ځان له پاره نۀ وی
چرته چې شخصیت چې له هنره غوره نۀ وی
چرته چې نامه ګټل غرض نۀ وی زړه
چرته چې د "تۀ" او "زۀ" تعین نۀ وی زړګیه

چرته چې د حورو تصور هم لرې تختي
چرته چې پردی نهٔ وی نهٔ خپل وی نهٔ یاران
چرته چې د نمر سترګه په ګوته نهٔ پټیږی
چرته چې سپوږمی هم محتاجی نهٔ کړی د ستورو
چرته چې بې خوفه ـ بې خطره زندګی وی
چرته چې ساګانې منتونه کړی انسان ته

راځه راځه تر څو به حاسدانو کښېنې وسېزو
ترڅو به یو بې نومه ـ په خپل شتهٔ نوم کښېنې عابدهٔ
راځه چې د دردونو له دې ښاره چرته لرې
د غم د سرحدونو نه اخوا څه چې لاړ شو

۱۶ـاکتوبر ـ ۱۹۹۱ء
د شپې ۱۱ بجې خپل کور مردان

☆

''ښکلا مې ناځاپه په زړه باندې راوربلې''
لکه د اوښکې په لېمه باندې راوربلې

یاد کښې مې بیا بې پته راغلې - تا ته څه تپه ده
څاڅکے وڼه شوې اوج وانه باندې راوربلې

احساس دې څه وه - باچائي دې شوه په زړونو زمونږ
لکه سپرلے مې ژوندانه باندې راوربلې

نور به دې څه ستائینه کړم د زړه په تار د ''حسن''
نمر شوې - راوختې - تیاره باندې راوربلې

نه راتلې لاس له - ستا زلفې جادوګرې کمځې
ډېر کله ښکلا د عابد زړه باندې راوربلې

۱۱- نومبر-۱۹۹۱ء

مردان (طرحه قلندر مومند)



ما خوشحالي د زوندانه ـ په لار کښې ونه ليدې
عمرونه وشو چې مې ته ـ په لار کښې ونه ليدې

اورو چې ځي ستا د ديدن قافلې ډېرې په لار
حرام ـ چې يو ورځ مې د زړه په لار کښې ونه ليدې

دا هم د مينې د يو لوري خاصيت وګڼه
په يو قدم چې ته ما بنه ـ په لار کښې ونه ليدې

ماته معلوم يې ـ قسم مه خوره ـ "قسم خوره اشنا"
څه ګړه يو نن مې د "هغه" په لار کښې ونه ليدې

ستا په نامه باندې شو قتل ـ په الزام د تيارو
خو عابد ته د نمر خاته ـ په لار کښې ونه ليدې

۱۱ـ نومبر ـ ۱۹۹۱ء مردان

☆

یکا داسې په زړه مې څه بې واره راوربېږي
بې کوره شوله ساه مې بې اختیاره راوربېږي

شوي څومره چې ته لرې - فاصلې د زړونو سر شوي
اترسه - بې کمانه - بې اتاره راوربېږي

وس دغه حقیقت مو اشنا منهنځ لره کافي دے
چې ځاځکې ځاځکې وینه له پرهاره راوربېږي

نم سترګو کښې ډېره دے - زړه غونې اندېښنې دی
څه زور دې د راتلو دے - څه بې واره راوربېږي

منمه چې ستا زړه بې هم بې کوره وی یوازې
اشنا ته په عایله هم څه بېسیاره راوربېږي

۱۲-دسمبر-۱۹۹۱ء
مردان

☆

اوښکې ډېره وې به لېمو کښې خو راماتې نهٔ شوې
چې دې وعدې په نيمه خلهٔ هم راته "زاتې" نهٔ شوې

شوې اے زړګيه لکه ګل د کتاب پاڼو کښې اوږ
نهٔ د يوې کمڅې د حسن نظر ماتې نهٔ شوې

وشوې چې جدا د ژوند په لاره ـ څه بيه ډېره بيه ده
زهٔ کهٔ تنها شومه ـ تهٔ هم څهٔ پوره پاتې نهٔ شوې)

لاسو کښې جام ـ نظر په زمکه ـ ساقي څهٔ معنی شوه
نن دې يو دم د عابدانو توبې ماتې نهٔ شوې

۱۵ـ دسمبر ـ ۱۹۹۱ء مردان

☆

هم راکتل په وروستو وروستو ـ هم انکار په خله کېږي
داسې څوک نه کوي اشنا ـ د لوټې لار په خله کېږي

خبر دے که ماته ګوتې نيسي ـ مخامخ هم رقيب
له "خاطر ژوند" وي همېشه د سور انکار په خله کېږي

ستا د انکار او د اقرار تر مېنځه داسې ښکاري
لکه خزان اوسي اشنا د دې بهار په خله کېږي

ماله په خله لاسونه مه ږده ـ لېږ چاپېر وګوره
اشنا صفت دې ستا د حسن د بازار په خله کېږي

زۀ هم د وخت حالاتو داسې سرګردان کړم ګله
ګله ستا نوم ـ ګله مې وي نوم د روزګار په خله کېږي

لا د کمځو ولونه دې مه سپړه لا نه شم درتلې
وخت ودرولې دی ډېر خلق دې د ښار په خله کېږي

ښکاري عابده چې د ټول عمر احسان ختموي
لاسو کېږي کانې دي ـ ستا نوم دے ـ د هر يار په خله کېږي

۱۶ـ دسمبر ـ ۱۹۹۱ء

☆

بیا چې دې په لار کېښې د وعدو ـ لاسونه ونیول
مخ ته مې یادونو د مودو ـ لاسونه ونیول

رامې غلۀ په زړۀ کېښې چې ټرخمه ـ خبر دې مینه ده
څۀ وکړم اشنا ـ رانه پېښتو لاسونه ونیول

څوک چې مو بهر کړه ـ له تیارو نه رڼاګانو ته
ن د ژوند په لار راته هغو لاسونه ونیول

کړم نۀ دے رقیب ـ کۀ دې ستا چم پله مې نۀ پرېږدی
راته هره لار کېښې خپل پردو لاسونه ونیول

لا هم د واعظ د بې صبرۍ څرګنده نخښه ده
جام ته مخامخ ئې د توبو لاسونه ونیول

یوئې شه بدلېدونکې دے ـ عابده د وخت زېرے هم
ن چې زندګۍ ته لېونو لاسونه ونیول

۲۱ـ دسمبر ـ ۱۹۹۱ء مردان



مونږ باندې چې لګي الفتونه دي
ستا که جوابونه ـ قيامتونه دي

خار دې د ساګانو له خوشبو شمه
سم پرله پسې دي ـ بهارونه دي

شپه څه ده ـ سحر څه دے ـ ماښام څه ـ دے
بس خو ستا يادونه دي ـ يادونه دي

مه پوښته اشنا رانه ـ چې چرته ځم
ابتې ستا په پل مې قدمونه دي

هره لار کښې هر کټ پېر ته ګورمه
هر کټ پېر کښې اوتې کټ پېرونه دي

دا د سوال ورېښې دي ـ عابده نن
کانې ورېدلې ـ بارانونه ـ دي

۲۵ـدسمبرـ۱۹۹۱ء مردان

☆

مړاوې ستر ګې ـ مړۀ کتل او مړۀ شراب
بس خو به کاسو کښې ګډېدۀ ـ شراب

خلۀ باندې مې نوم د جام ـ؟ توبه توبه
ماله دې ستا ياره دا "کاتۀ" شراب

څومره چې منت کووم ـ په هوش مې کړه
دومره راکوی ـ ساقي اوۀ ـ شراب

جام په لاس ـ نظر ښکته ـ خولې خولې
ګرانه برابر دی دا د "نۀ" شراب

خيال اول ـ توبه وروستو ـ عابده ـ واه
څنګه به په مونږ حلالېدۀ ـ شراب

۲۷ـ دسمبر ـ ۱۹۹۱ء مردان

تلوسې

دی وختونه پېټه نیولې ـ هره سا راخکلې ښکاری
دې نسجن شانې موسم ـ د نمر رڼا راخکلې ښکاری
هم خاموشه کائینات دی ـ کوټې خلو باندې پرتې دی
سترګې ټړلې د حالاتو په یو خوا راخکلې ښکاری

سپوږمی هم کله ښکاره شی ـ کله پټه په وریځ کښې
پاڼې هم د اونو ربی ـ غلې یو بل ته څۀ وائی
په هر زرۀ کښې حادثې ـ دی هر نظر اوتر اوتر دے
څوک کۀ غواړی څۀ وئیل هم ـ څو هیڅ هم وئیلې نۀ شی
ستوری هم خوارۀ وارۀ ټول ـ ډیوې بلې دی پرقیږی
هر طرف ته خاموشی ده ـ څوک څۀ نۀ وائی خاموش دی
کۀ هر څو اظهار کول دی ـ اشارې کوی د لرې
شپه تیریږی نه ـ وږده ده ـ سپین سبا راخکلې ښکاری

د چمن حالت هم داسې ـ چې سپېرۀ باد برې الوتې
د هر ګل پاڼې دی مراوې ـ تازګی نشته غوټو کښې
کائینات هم سا راخکلې ـ زمکه غلې اسمان غلې
لکه چپ وی لګېدلې په هر ذهن په هر فکر

زۀ یخپله هم تنها یم ۔ هم تنها تنها ماحول دے
ازغو هم د ګلو شاته ۔ ځان دې پاتو کښې انغښتې
څۀ بې دمه شان حالات دی ۔ هره ژبه ګونګه
معلومیږی خو څۀ داسې چې دنیا راځکلې ښکاری

ماته ښکاری انتظار دے ۔ ما ته ښکاری د چا طمع
بې له دې نه بل څۀ نشته ۔ د چا لارو ته کتل دی
ورکو لارو باندې تلل دی ۔ ورکو لارو ته کتل دی
چا شین سترګې جور وئیلې د راتلو دی معلمیږی
کۀ هر څو هر څۀ خاموش دی ۔ خو ګډیږی خوشالو نه
اوس به راشی ۔ اوس به راشی ۔ غلې غلې داسې وائی
ښکه شپه ده ۔ وخت ایسار دے ۔ د سحر زیری ته ګوری
تلوسې دی ۔ د زړګی هره درزا راځکلې ښکاری
څوک نسر راروان دے ؟
چې رښا راځکلې ښکاری

۲۸۔دسمبر۔۱۹۹۶ء
سحرۀ بچې خیل کورر مردان

☆

بیا مې په زړۀ راغلې ـ د زړۀ سره ـ په عمرونو پس
شور شولو سینه کښې ـ سا په بره ـ په عمرونو پس

لږ غوندې دې زړۀ پوئې کړه ـ چې یو دم د تلو نۀ وائې
هسې هم ننګاره شې ـ مسافره ـ په عمرونو پس

مونږه دې د یاد لمن په اوښکو ورسته کړې ده
وخانده څۀ ووایه ـ اختره ـ په عمرونو پس

ټیک ده په وعده راسره خې ـ خو سروقده بیل
لږ را په "دې" لار شه ـ مروره ـ په عمرونو پس

خبر دے کۀ عابد ته اوس ـ یاران تیارۀ کوی په لار
ته چې راغلې سترګو ته ـ نظره په عمرونو پس

۳۰ـدسمبرـ۱۹۹۱ء مردان

☆

اشنا به محبت کښي ائيني لار کښي ځوک نۀ نيسي
مۀ ګوره ـ خو واوره چې پرديې لار کښي ځوک نۀ نيسي

ښيل به دي واعظه ـ خو کاسي لار کښي ځوک نۀ نيسي
ګوتي مېخاني پله ـ تسبي لار کښي ځوک نۀ نيسي

ځۀ خو به ليدل چې لېونو دي لمن ونيوه
هېڅ بي هېڅه ګله روغ سړے لار کښي ځوک نۀ نيسي

وی کۀ زړۀ کښي ښيرې خو ـ بيا هم د پښتو کلے دے
دا زړې خبرې ـ پښتني ـ لار کښي ځوک نۀ نيسي

شوه چې "خواني مرګه" تلوسه ـ ستا د ليلو فرې
دومره پلو بره هم ـ تر دې ـ لار کښي ځوک نۀ نيسي

دا د بې خودی کتل ـ او دا شراب شراب نظر
ځنګ به خپلي زړې به توبې لار کښي ځوک نۀ نيسي

شو چې خلندۀ ستا د راتلو احساس د زړۀ کور کښي
خبر دے کۀ عابد ته اوس ډيوې لار کښي ځوک نۀ نيسي
(صوتي قافيې) ۱۳ـ جنوري ـ ۱۹۹۲ء مردان



ته راته ساقي شوې ـ خو زما تنده مړهٔ شوې ده
بس چې تا راوکتل اشنا ـ تنده مړهٔ شوې ده

چا ته به دې سترګې ـ چا ته زلفې ـ چا ته زړهٔ خوږ وی
واوره چې زمونږ دې په خندا ـ تنده مړهٔ شوې ده

سام دې د جام درونډ دے ـ ژبه هم لاسونه هم نيسی
وه ـ خو ستا په مخکښې مې نن بيا تنده مړهٔ شوې ده

وته سرور چې د نظر دې له شرابو نه
خکه ميخانه کښېښ د هر چا ـ تنده مړهٔ شوې ده

نوره د خواني عابده څهٔ درته قيصه وکړم
اوس هاغه په شپږ کښې د سبا ـ تنده مړهٔ شوې ده

۳۱ـ جنوری ـ ۱۹۹۲ء مردان

☆

اشنا چې درته ګورم د نظر په دریچو کښې
هر ځائې راته ښکاریږي ـ هر سحر په دریچو کښې

د خلقو هسې شک دې ـ چې ته لاړې ـ زما هېر شوې
هر یاد مې دې ستا ابښې ـ د ځیګر په دریچو کښې

نه تا ته شوم سپین نیتې ـ نه رقیب مې لمن پرېښوه
زړګي مې سکون نه شو د یو در په دریچو کښې

د ژوند په هره لاره چې ورځمه ـ ته ولاړ یې
دا څه رنګه احساس دے د پرهر ـ په دریچو کښې

نه تا ساقي جام ورکړو او نه ګل شاته نظر کړو
عابد له زمانو پاتې نهر په دریچو کښې
۱۲ـ فروری ـ ۱۹۹۲ء
پېښور نه مردان ته په لاره



حیا چې دې د حسن انګو کېږي خلېده
اوچته مې شمله وه ـ پښتنو کېږي خلېده

احساس دې د راتلو څه داسې وه ـ چې په صحرا
ډېوه د سحرونو وه ـ تیارو کېږي خلېده

شاید چې په راتلو دې وه ـ دا حد د خوشالي
چې اوښکه پښتنه هم په لېمو کېږي خلېده

بس اوښکې مې جرګې کړلې لېمو کېښې د خپل خان
دا ستا چې مدعا راته ککو کېږي خلېده

خمار نظر او سره وېښته په تندي تال
نشه وه د شرابو په پیالو کېږي خلېده

عایده کیفیت په ئې مونږ کوم کوم لرو یاد
په تلو کېږي خلېده هم په راتلو کېږي خلېده

۲۶ـفروری ـ۱۹۹۲ء

مردان (د حمزه شنواري د غزل په رنګ کېږي)

☆

راتله دلارې منبخ کيږي او کاته د سترګو لاندې
اورې د سترګو رپ کې ښکلې زړه د سترګو لاندې

دا کرښې د تندي مې د وختونو تقاضې دي
بې شمېره دي ستونه مې پراته د سترګو لاندې

اشنا د مينې سوال چې ابتدا کيږي د ديدن وه
ستا ياد شي موسېلو کيږي شرمېدله د سترګو لاندې

مايوسه چې وايس شو ستا د لورې ارمانونه
څه تله د سترګو لاندې څه راتله د سترګو لاندې

هيڅ پوهه نه وو ـ پوې دې په هر څه کړه خلق ګله
عابد چې ډک محفل کيږي دې څاره د سترګو لاندې
۳ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ء
په قريمه روزه مردان



تا چې په اوګو وربل له نوې رنګ ورکړې دے
بیا دې نن زمونږ اجل له نوې رنګ ورکړې دے

خاندي هر يو ښکلې چې راوځي - ځي چې ورشو لېږ
ښکاري چې ساقي محفل له نوې رنګ ورکړې دے

مونږ به هم جونګړې خپل کتاب کښې په سرو وليکو
نن کۀ هغوی خپل محل له نوې رنګ ورکړې دے

هسې خو بلها سخنوران دی - چې غزل ليکي
وائي - چې عابد غزل له نوې رنګ ورکړې دے

۱۳ مارچ-۱۹۹۲ء مردان(نيمګرے)

مقطع د غالب د دې شعر په تاثر کښې
کہتے کہ غالب کا ہے انداز بیاں اور



چې ستا نه لرې شي نو هاغه زندګی به څۀ کړی
روایه مړ چې په ازغی شي څوک ـ سپرلی به څۀ کړی

دا خو ما ولی ـ به روزګار دی ـ بې روزګاره نۀ دی
چې زۀ هم نۀ راځم نو وایه ؟ لېونی به څۀ کړی

د سوال نه مخکښې چې ئې خووند خلې ته د زهرو راځی
یارانو تلۀ څوک مېخانې ته د ساقی به څۀ کړی

چې فرق نۀ پرې باسی ژوند باندې ذره قدرې هم
زړګیه وایه څوک "بادونه جنتی" به څۀ کړی

ورک دې شی شل خله عابده ـ د کمځو ولونو کښې
چې بنده یار ته رسوی نو په "زړګی" به څۀ کړی

۱۴ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ء

مردان

☆

نه که دا وائي چې وعدې زما فطرت کښې نشته
تيتبول تاته هم تندے ـ زما فطرت کښې نشته

ساقي که مړ شمه له تندې ـ وى که ژوند مې په دار
جام په سجدو شو ـ او سجدې زما فطرت کښې نشته

د هغه شوق دے چې خېرات د مينې زه وغوارم
زما دا ضد ـ چې تقاضې زما فطرت کښې نشته

واعظه بنه وائي چې يو دی ـ لوئي وبښته ـ زولنې
خو يو توبې ـ په لاس تسبې زما فطرت کښې نشته

عابده وواېه چې بوئې شي رقيبي وختونه
ماتې خوړل له زمانې ـ زما فطرت کښې نشته
۱۹ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ء
مردان

☆

سترګو دې ښکاره کړه ـ کۀ دې خلۀ خبره پټه کړه
يا چې دې په تلۀ کښې د راتلۀ خبره پټه کړه

پوهه ووم انکار کۀ دې کوه ـ زر به دې کړې وۀ
وۀ دغه اقرار ـ ښکه دې زړۀ خبره پټه کړه

نۀ تلې ـ خو روان شوې ـ وارخطا شوې چې ـ دې وليدم
پوئې شوم چې له ما دې څۀ نۀ څۀ خبره پټه کړه

وبه وينې تول به نسر خاتۀ کښې د تياره قيصه
څۀ کۀ ئې عابنام به پرېواتۀ خبره پټه کړه

دا خو دې پخپله د عابد نامه ښکاره کړله
تا چې له هر چا نه هم د دۀ خبره پټه کړه

۲۵ ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ ء

په ۲۲ روژه د شپې ۱۰ بجې خېښل کرز مردان

☆

ښن چې په محفل کښې په خندا ـ په نظر ـ نۀ رسو
ته شوې او کۀ زۀ بدل ـ اشنا په نظر نۀ رسو

خان مو کۀ تر ژونده ستا د چم خاورو کښې خاورې کړو
بیا هم ستا الزام ـ چې د ښکلا په نظر نۀ رسو

یوئې شه څۀ خلل به لا د مینې ورۀ کښې باتې وی
دا چې ښن د زړۀ د یو دروزا ـ په نظر ـ نۀ رسو

وزیر شو هم پیکه ـ بس هسې شو تاله ترغه
خدائے زده چې شو ولې وارخطا ؟ په نظر نۀ رسو

ته عابده هاغه خلق غوارې ـ چې تا نۀ غواری
هر څۀ باندې رسو ـ ولې ستا په نظر نۀ رسو

۲۹ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ء

مردان



ستا د چم لاره مې تر اوسه کرانه هېره نۀ شوه
قيصه د زخم مې د زړۀ چې رانه هېره نۀ شوه

ستا د خلې دوه ټکي وو ۔ ماته دې وې "واخله کنه"
ساقي د جام هغه خبره چرانه هېره نۀ شوه

لار د رقيب د کور ازغنه هم رنګينه هم ده
ماته شوه هېره ۔ ولې کوره ستا نه هېره نۀ شوه

اوس کۀ محفل ئې کښې هم او کۀ مقتل ئې کښې
راځي خندا پسې ۔ دا لار زړا نه هېره نۀ شوه

دومره ئې واک عابده مونږ ته دے د زړۀ کلي کښې
هر څۀ مې هېر شو په ايمان ۔ دا رانه هېره نۀ شوه

۱۲۔اپريل۔۱۹۹۲ءمردان

ناخبره

چې مئين دې په بنګړو او په شباب شوم
کبر ببرو کښې شومه ډوب په لوئې سېلاب شوم

د نګه غاړه ـ سپين رخسار او شنې شنې سترګې
لکه تنده ووم اوبۀ په مخه راغلې
د صحرا په اوچ سراب باندې سېراب شوم

تورې زلفې ـ سره لبان او برندې ورزې
لکه شپه شوه ـ سپين سحر کښې تندر پربوت
زۀ په خيال کښې لاړم اوختم افتاب شوم

په ناز ناز هر يو قدم ـ د ګودر غاړه
خوان سپرلے ـ لمده فضا ـ خواني جوبن کښې
ناخبره ـ ستا په زلفو کښې ګلاب شوم

بس خو ته وې ۔ او بل زه ووم ۔ تنهائی وه
تصور وه ستا د زلفو ۔ ماښامې ۔ وه
په خان بوئې نه شوم ۔ نشه شومه ۔ شراب شوم

دومره لوې لوې لاړمه په خيال کښې
چې "ته" خان راته ښکاره شوې او "خان" ته سم
بس پښېله شرمنده شومه ۔ نقاب شوم

خو باران شو ناڅاپی ۔ تصوير ئې وران کړو
زه ئې بيل کړم له خپل خانه ۔ بيا تنها شوم
زه ئې ويښ کړمه له خوبه ۔ وې سحر ده
بيا نه ته وې ۔ او نه زه ووم ۔ نه تصوير ستا

بس يو بابه ستا دمينې د کتاب شوم

۲۶۔مئی۔۱۹۹۲ء
سحر ۸ بجې خيل کور مردان

☆

غم دې وسېده زما ځيګر کښې ناخېره
وې لګه چې څوک به يو ور ډر کښې ناخېره

مرګ د ارمانونو مې هم دا شي اشنايانو
ګوري مخامخ چې به نظر کښې ناخېره

دا ئې هم احساس راوېښوؤ د لېونتوب مې
خان چې کړو ظالم به مازيګر کښې ناخېره

خدائے خبر چې کوم راتلونکے پل ئې به نظر وؤ
پېغله سا نيولې وه ـ کودر کښې ناخېره

دا نه شوه چې ورکړو تا ـ ساقي لاس به محفل کښې
عابده څو دې نشه وؤ نن سحر کښې ناخېره
۲ـجون ـ ۱۹۹۲ء
مردان

☆

هر قدم دې ګل وي ـ چې راځي ګلونه نولي
اشنا په کومه ورځ چې د "وعدې" ګلونه نولي

واعظه د موسم دې زلميتوب ته نظر وکړه
خه خله مو په ژبه د توبې ګلونه نولي

هم بل ته مې نوم اخلي ـ هم مې ځان کښې ګلرنګه
ازغي راکوې هلته ـ کۀ دلې ګلونه نولي

دا تورې تورې شپې د انتظار به مونږه وخورې
اشنا چې څو د مينې په ـ رښتې ګلونه نولي

زما د ژوند ګلاب دې له ما وا نۀ خستۀ ـ لاړې
اوس خله مې مزار له څې راځي ـ ګلونه نولي

وختونو به دې سا له عابد اوښکې وي لاليه
بيا تۀ چې د خوانۍ په زمانې ګلونه نولي

۲۶ـ جون ـ ۱۹۹۲ء ليډى ريډنګ اسپتال پېښور

☆

هر څل به ورانېدله کله څو څله جوړېدله
وعده د ګل په شوندو هېرېدله ـ جوړېدله

نه تا پوښتنه وکړه او نه ما ترې ځان خبر کړو
اشنا د زړه خبره وه ـ پخپله جوړېدله

یو دم د زړه دروا شوله ـ خیالونه په ګډا شو
خندا چې انګو کښې دې راتلله جوړېدله

ما هم د صراحي په طرف لاس خکه وړده کړل
کاسه دې مخ مخې کښې ګډېدله جوړېدله

هیڅ نه وه ـ خو دا هر څه وو ـ عابد ته په محفل کښې
پیاله وه کله ډېره وه ـ ماتېدله ـ جوړېدله

۳۰ـجون ـ۱۹۹۲ء
مردان

☆

ناست کۀ یو نزدې ـ ولې خیالونه لرې تلې دی
یو دوه کښې ګلرنګه ـ رانه زړونه لرې تلې دی

اوس دې په راښېنه هم د زړۀ تنده ماتیږی نا
خار دې له بنګړو شم ـ ارمانونه لرې تلې دی

هسې نا چې ورک شو ـ دې مدهوشه سحرونو کښې
زلفې راخورې کړه ـ نظرونه لرې تلې دی

ډیر کۀ می د وخت هر یومزل په ګام کښې ووهۀ
هر چا ازغې راکړه ـ بهارونه لرې تلې دی

څوک د زړۀ تسکین کړمه ـ په چا سترګې خورې کړمه
هر مخ زیړ زیړخلې دے ـ رنګونه لرې تلې دی

درد می د زړګې څۀ دې ؟ څو هره څریکه ستا نامه
څومره محبت کښې می ـ زخمونه لرې تلې دی

هر نظر کښې زیړے د ژوند ـ هره ادا مرګ لرې
څومره د دې دور ـ ښائیستونه لرې تلې دی

چم په چم عابده هر ازغې ته کۀ می خان ووې
نشته د ګل مخو موسمونه لرې تلې دی

۲ـجولائی ـ۱۹۹۲ء
۷ـبجی کالج چوک مردان

☆

سترګی راواروه چی مات کړو د نظر انتظار
څو به وعده کښي راکوې ؟ د مازیګر انتظار

څی چی ډیوې به وینو بلی کړو ـ رڼا کړو محفل
څو به کوو تورو تیارو کښي د سحر انتظار

زه د ښائیست د اللهیتو د باد وهلی اونه
د صحرا مښمخ کښي یم ولاړ ـ کړم د دلبر انتظار

هم دې یقین په نه راتلو لرو ـ هم لاره کښي ناست
څه کړو ګمان ذرې ذرې ـ څه سراسر انتظار

وانغلی ګوره په وعده ـ ګرمی دې پرې نه ښوده
ډېر که می وکړلو اشنا ـ د دسمبر انتظار

موږ ته معنٰی واعظه مه ښایه د ژوند د مزو
تا څه لیدلی مزې د "تاخیر انتظار"

چرته یو چم کښي راته یو ښکلی هم لرې نه کړو
ډېر که می وکړلو عابده د هر ور انتظار

۷ـجولائی ـ۱۹۹۲ء
مردان

☆

څوک مې هم پوئې نۀ شو د زړګی په درد
تېره مې شوه ټوله زندګی په درد

زړۀ کښې ځايوی يارانو "ګل" هغه
څوک چې لېږ پوئې وی د "ازغی" په درد

هر پېغور ئې اخلو په خندا خندا
څو مره مړۀ يو موږ ۔ په لېونی ۔ په "درد"

بيا ئې په شا وکتل ۔ مسکے شو لاړ
خدائېګو لېونی کړو "دې سړی" په درد

ځانته چې مې ځان عابده ووې تل
ماسره هغه رشته پالی په درد

۱۷۔جولائی۔۱۹۹۲ء مردان

☆

رقیب ته مې خپل ووئیل ـ اشنا ته مې خپل ووئیل
څوک مې هم خپل نه شو ـ که دنیا ته مې خپل ووئیل

بنه شوه چې دې ووئیل پردې راته ـ خوشاله شوم
ما ترې ګوره څهٔ جوړ کړهٔ ـ چې تا ته مې خپل ووئیل

دا مې نادانی نهٔ وه ـ خو فرق ورکېدهٔ زمونږ
چا چې به وېشتم ـ هم هغه "چا" ته مې خپل ووئیل

اخلی "ستا" نامه ګوره ـ تراوسه "زما" نهٔ شوله
څهٔ کهٔ د زړګی هرې دوزا ته مې خپل ووئیل

رانهٔ کړه رڼا واله عابده د وختونو نمر
ډېر کهٔ د ژوندون هر یو سیا ته مې خپل ووئیل

۲۰ـجولائی ـ۱۹۹۲ د شپې ۱۰ بجې خپل کور مردان

☆

نۀ اشنا یوازې او نۀ ما ـ نۀ کتل لار کښې
یو بل ته ـ خلق ډیر وۀ ـ څو هیچا نۀ کتل لار کښې

هر څو کۀ مونږ لمنې له زارۍ نیولې باد ته
سپړلې کړې قسم وۀ هم اشنا ـ نۀ کتل لار کښې

یو ته وې چې دې لاس راکړو تنها دې ـ لیدې نۀ شوم
اے غمه ـ ماته چا هم را په شا نۀ کتل لار کښې

گل چینه لاس دې شاته کړۀ ـ پښیله دې تول یوئې کړل
گنې تراوسه گلو ته دنیا ـ نۀ کتل لار کښې

عابد ته یادېدې په هر قدم کښې سروقده
هر څو کۀ ناکړدو کښې ورته تا نۀ کتل لار کښې
۲۹ـجولائی ـ۱۹۹۲ء
مردان

☆

قدم په قدم هر ځاې کښې ودرېږي ـ چې دا څوک دے
په شا راګوري غلې ـ هم شرمېږي ـ چې دا څوک دے

نه نیغ ورته کتې شم ـ او نه بل خوا ترې نظر ځي
کاسه ئې د مخ نمر غونډې ځلېږي ـ چې دا څوک دے

یارانو جوړ په سوال د نظر ژوند ورکوي ـ راغے
تادې په هر ځا زړونه درزېږي ـ چې دا څوک دے

ښائست کښې جوړ له ځانه ئې ورک شوې ائینه کښې
ښو ښو کښې ګوري ـ هم موسېږي ـ چې دا څوک دے

خوبونه د خوانۍ ئې واله تول ازغي ازغي کړل
عابده نه هېرېږي ـ نه خپلېږي ـ چې دا څوک دے

۱۸ ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء مردان

☆

نۀ تاته حاته شی او نۀ ماته حادثه شی
نظر مو یو کېږۀ څۀ وی ؟ دنیا ته حادثه شی

یارانو چې څوک پوئې وی ـ نو خاموش وسی محفل کښې
اوتر اوتر کتل اکثر وفا ته ـ حادثه شی

دا نا چې پوهېدمه نا ـ نو څکه مې غیر نۀ کړو
اشنا خو ستا نامه څۀ وی ؟ هر خوا ته "حادثه" شی

اتش نوم دے د بې مخو چې بیا نۀ راځی په لوظ
وعده یادول دلته کښې هر چاته حادثه شی

عابده که دې خوښه وی ـ نن نه ورځو محفل ته
اکثر د رقیب مخبې تلۀ ـ اشنا ته ـ حادثه شی

۱۹ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء مردان

☆

ما ښکاري يادوي ؟ ولې ګمنام ـ نامه مې ناخلي
تصوير مې خکلوي ـ سحر ماښام ـ نامه مې ناخلي

هر څو که د نظر په مېخانه کښې مې سېراب کړي
کتاب د محبت کښې بس ګلفام ـ نامه مې ناخلي

دا څومره په خوارو زهرو ياران رانه ژوند اخلي
که ولې مې کاږو په هر ګام ـ نامه مې ناخلي

زړګيه ښکلي هم جوړ د يارانو په قدم شو
رقيب سره چې څي ـ وکړي سلام ـ نامه مې ناخلي

بيا هم ګورې عابده له هر ګله رانه ګران دے
هر څو که راکوي راله الزام ـ نامه مې ناخلي

۲۲ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء

د شپې ۱۰ بجې خيل کور مردان

☆

هر څو کهٔ مې منت کوه ـ جانان نهٔ ودرېدهٔ
وې "برې مې پرده لمن ـ خم په ایمان" نهٔ ودرېدهٔ

ما وې تماشه کیږی ـ د بازار خلهٔ ده ـ شوم چپ
اشنا کړې قسم وهٔ په قران ـ نهٔ ودرېدهٔ

قیامت په ما او تا شو ـ چې ترې لاړلو ساقی
محفل کښې ګرځېدهٔ جام د دوران ـ نهٔ ودرېدهٔ

چې ستا د تورو زلفو په تیارو کښې ورکېدل
ورتلهٔ دې په صحرا تول مېلمان ـ نهٔ ودرېدهٔ

هر څو کهٔ مې عابده ګوتې برې کړلې سماج
بیا هم ولې قلم مې وو روان ـ نهٔ ودرېدهٔ

۲۲ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء

شپې ۱ بجه خیل ګړ مردان



نه تاته وډرېدل ګله ـ نه ماته وډرېدل
یاران وایه ریښتیا ؟ دلته کښې چا ته وډرېدل

د ګلو اشنائی څه وه ـ شو پاڼې پاڼې ټول
ازغی وه پېښتانه ـ د ګلو شاته وډرېدل

سوالونه په هیبت هیبت که وو په زړه کښې ډېر
په ژبه مخامخ چرته اشنا ته ـ وډرېدل

اشنا خو ټش غمونه د بې کسو وو د وخت
هم ما ته وډرېدل ګوره هم تاته وډرېدل

تا هم عابده تېره کړه ما هم خوانی په اور
څه وایه بهارونه دلته چا ته ـ وډرېدل
۲۳ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء
سحر ۱۰ بجې کچهری مردان



نور به مې څنګه يادوې ؟ چې وه د ځه طلبګار
ستا د وربل ـ ستا د څيګو ـ ستا د لېمه طلبګار

لا ستا نفرت ورله اشنا محبتونه ورکړل
دومره راتلو ـ څومره چې ګوره تا شړه طلبګار

بيا هم ستا نوم ئې به زړګی صفا ـ بنکاره وليکه
وه که هر څو به تا هئين ـ ستا د تياره طلبګار

تانه ئې خپل ژوند چې غوښته د ''خپل زړګی'' به بدل
اوس اشنا ته وايه ـ چې بد وه کنه ـ بنه طلبګار

دومره ئې کړم خالی ـ تنها تنها لاره کښې
څومره عابده چې مې زړه وه ـ د هغه طلبګار

۲۵ اګست ۱۹۹۲ء مردان

☆

یاران مو پېژنی چې مونږ خانونه نۀ بدلوو
"خپل رنګ کښې اوسو همېشه" رنګونه نۀ بدلوو

یو خل مو ووې چې بس سر تیتېدۀ نۀ منو مونږ
ژبې به پرې کړو - ولې خپل لفظونه نۀ بدلوو

اشنا راځه - حاسدان سوزی به - خپل اور کښې همېش
منزل زمونږه دے - چې خپل ګامونه نۀ بدلوو

ستا هسې شک دے - چې یل بنګلی ته مې ذهن وکتل
سترګې کۀ نوې کړو اشنا - خیالونه نۀ بدلوو

ما وې زما زړۀ خبر دے واخله - کۀ دې زړۀ پکار وی
بنګلی وې "مۀ کوه عابده - زړونه نۀ بدلوو"

۳-ستمبر-۱۹۹۲ء

☆

تاسره خې ـ خو د اغيار په لاره نۀ شي تللي
اشنا عابد د پردي ښار په لاره نۀ شي تللي

سپوږے کۀ ستا د زلفو لرې شي ـ نو ګرانه به شي
بې له دې فکره ـ څوک د دار په لاره نۀ شي تللي

صنم ژوندون په اور ترل دی ـ په نامه د اقرار
څۀ وکړم زړۀ مې د "انکار" په لاره نۀ شي تللي

پوئې شه چې خپل ژوندون به هم تول په ګمان تېروي
څوک چې د بل چا د اتبار په لاره نۀ شي تللي

ستا د شنو سترګو اثر ـ داسې شين ګوښين کړو مئين
ټکرې خورې ـ ژاړي خار خار ـ په لاره نۀ شي تللي

چې پښتو نۀ لري ـ د سپور فکر خيرې کوي
ګله عابد د هاغه يار په لاره نۀ شي تللي

۵ـ ستمبر ـ ۱۹۹۲ء مردان



ستا د کوڅې نه يې تهمته وتل
اشنا ژوندے دی له قيامته ـ وتل

دې راته ژوند د دار په سر کښې تول
ستا د نامې ـ ستا د محلته وتل

کلے ـ کور ـ هر څۀ پرېښودې شم اشنا
دی راته ګران له محبته وتل

وۀ کۀ هر څو لاره ازغنه د ژوند
پېښتانۀ چرته له همته وتل

وۀ چرته ست د غنم رنګې نظر
ستا عابدان چې له جنته وتل

۱۰ـ سپتمبر ـ ۱۹۹۲ء
د پېښور په لار



کۀ ماته سروقده ـ له وعدو نه وتل گران دي
نو تاته د لوظونو هېرېدو نه وتل گران دي

ستا ضد وۀ ـ ضد دې مات کړو ـ محبت چې دې مجبور شو
زما لار کښې پښتو ده ـ د پښتو نه وتل گران دي

هر څو کۀ لرې لار شو ـ انکار وکړو له يو بله
دا واوره د زړۀ سره د رشتو نه وتل گران دي

اېساره دې خدائے نۀ کړي ـ ستا په شونډو کښې نامه مې
اکثر جوړې سلگۍ شي ـ د سلگو نه وتل گران دي

هر څۀ دې په سر سترگو ـ خو "سپين مخيه" دا واوره
کيلي مينه کښې مۀ کړه ـ د کيلو نه وتل گران دي

يو ځل ئې چې هم ورکړو ـ چا له لاس د ژوند په لارو
تر عمره بيا عابد ته له هغو نه وتل گران دي

۱۳ـ ستمبر ـ ۱۹۹۲ لحقيل کور مردان

☆

ستا د نظر غېږه کښې وده بنۀ يو
خېر دے په لمبو باندې دې مړه بنۀ يو

لا به مو وقار د مينې خلند شي
خلق چې مو بد گڼي نو بنۀ بنۀ يو

تاو د انگو دې چې سېزل کوي
ستا راکاتۀ ډېر دی ـ مونږ بې زړۀ بنۀ يو

پرېږده چې دې اوښکې شو په سترگو کښې
زړۀ کښې به دې ورک شو ـ په لېمۀ بنۀ يو

مينه مو څۀ وکړه ـ خان مو وبائېلۀ
نۀ دې په راتلۀ او نۀ په تلۀ بنۀ يو

لا به شو ښکاره عابده ـ مينه کښې
خلق مو دې ولي ـ په ويشتۀ بنۀ يو

۱۴ـ ستمبر ـ ۱۹۹۲ء

انکار

هاغه د ناز کتل ـ ویښتل د ګل په پانو اشنا
هاغه مدهوشه بهارونه ـ مږه شراب د نظر
هاغه د یو بله خفګان ـ په پټه پټه خندا
هاغه خولې خولې ماحول ـ هاغه ګرمی د موسم
هاغه د مخ پټول لاسو کښې ـ په غلا غلا کتل
هاغه بنګړي په سپینو لیچو ـ په شړنګا کښې وعدې
هاغه په غوږه نیمه شپه کښې شوګیرې د فراق
هاغه بانې د نه راتلو ـ هاغه د توکو وینکې
هاغه د تول ژوندون په نوم د ملګرتیا خبرې
هاغه له خلقو بغاوت د محبت په نامه
هاغه د زلفو ماښامې د "اوړی" سره غرمه کښې
هاغه د مخ په نمر ګرمی د "ژمی" یخې ورځې
هاغه د ډک پېغلتوب نوستې خوشبو ـ هغه "سپرلی"
هاغه انکار دې د دروغو ـ د "خزان" د موسم
هاغه نکریزې په لاسونو ـ هغه سره ګلونه

هاغه اوده کتل ۔ په ډک محفل کښې په غلا
هاغه د شونډې سر په غاښو کښې نيول او غصه
هاغه په سترګو کښې وېنا د "صبر صبر" ماته
هاغه د زوړ وخت داستانونه مې ياد شو ۔ اشنا
که ده ريښتيا ۔ خو بس دروغ راته ښکاره شو هر څه
تا چې نن غېږ ونکړو لاړې ۔ بې سلامه له ما
تا چې نن ونه کتل ورستو ۔ فطرتاً "شينوګی"
نو واوره دا خو ستا انکار دے ۔ د څو ورځو به وی
زه هم پښتو لرم ۔ زړګے مې بې بتی نه منی
زه هم کولې شم انکار د خپل اقرار پشانې

داسې انکار ۔ چې تر قيامته به انکار پاتې وی

۱۴۔ستمبر۔۱۹۹۲ء
مردان

☆

چرته چې ستا لارې ته وګورمه
د ژوند قضا - لارې ته وګورمه

ستا د "نبانیست" رنګ مې ښکاره کړی نظر
ډېر کۀ په "غلا" لارې ته وګورمه

څۀ کۀ روان شم - پاڅم - نېغ وو څمه
هر ځائے په شا - لارې ته وګورمه

ستا وعده څۀ وی ؟ ستانه هېره مدام
زۀ - هر سبا لارې ته وګورمه

نۀ یې ضدی - زۀ هم پښتون عابد یم
څنګ به دې بیا - لارې ته وګورمه

۱۴-ستمبر-۱۹۹۲ء
مردان

☆

پس خو چې تا وکتل ـ ژوندی شو توول
مړه وه ـ خو تا وخندل ـ ژوندی شو توول

شو قاتل نظر دې د سپرلي هوا
څو مره چې تا ووژل ـ ژوندی شو توول

نيست دې رامعلوم شو ـ رقيب سترګې يې
تا په بېو وويشتل ـ ژوندی شو توول

څه به مو لاسونه ـ وړدول ـ ساقي
سترګو کښې مو وڅکل ـ ژوندی شو توول

کړل دې محبت عابدان ـ تش د نوم
څه که دې د نوم په خل ـ ژوندی شو توول
۱۵ـ ستمبرـ۱۹۹۲ء
د شپې ۱ بجه خيل کو مردان

☆

غواړی رانه ژوند په هر قدم کښې د مرګ زيړے دے
خله کښې د يارانو هر قسم کښې د مرګ زيړے دے

هغه شه د رقيب به دې ـ په سر چې دې لاسونه ږدی
دا ئې بې وسی ده ـ دې کرم کښې د مرګ زيړے دے

څنګه د وطن په غلې مې ګل وريل کښې وتومبی
خور چې په راښيل ـ ګلاب ـ شرشم کښې د مرګ زيړے دے

ډير کړه دې ''درتله'' غوارم ''کوځې'' ته وخت نيولې يم
کوره ''مسلمان'' ته په ''حرم'' کښې د مرګ زيړے دے

ته پرې تحرير عابده توله د ژوندون قيصه
څه کړه د دې دور په قلم کښې د مرګ زيړے دے

۲۴ـ ستمبر ـ ۱۹۹۲ء د شپې ۱ بجه خيل کور مردان



څو به لاره ګورو ستا د پېتو نخښې
چرته دې هم نښته د راتلو - نخښې

خدائې خير - که پاتې تر سحره شم
چا راله راکړی دی د شپو - نخښې

ټول مې دی راتلو باندې له مرګه تېر
وائې ټول حالونه د تللو - نخښې

جوړې مې په پېتو کېښې زولنې دی نن
ستا هغه څو ماتې د بنګړو - نخښې

څو به مې نامه پټه ساتې زړه کېښتې
نه پټېږی ګله د رشتو - نخښې

خپل مې هم يارانو رقيبان شو ټول
بد مې يادوی - راځکې په بڼو - نخښې

جوړ مې کړه په شوندو د خپل شوندو چاپ
څه نه څه خو پرېږده د وعدو - نخښې

خلق دې عايده راکوی ازغی
مونږ به ورکوو تل د سپرلو نخښې

۲۸-سپتمبر-۱۹۹۲ء
د شپې ۱۱ بجې خپل کور مردان

☆

کۀ راګوری راته ډېر ـ خو په خندا رانه ژوند اخلی
په بخت خومره زورور یم ـ مسیحا رانه ژوند اخلی

څنګه نوم ئې په خلۀ واخلم ـ څنګه خان کړمه په ګوته
څوک پردے نۀ دې قاتل مې ـ خپل اشنا رانه ژوند اخلی

هر سحر وی ستا په غم کښې ـ هره شپه دې وی یادونه
څۀ خو دا رانه ژوند اخلی او څۀ دا رانه ژوند اخلی

دی کتل مې خپل ارمان او نۀ کتل د رقیب ویره
دواړه خاپه زما مرګ دے ـ خامخا رانه ژوند اخلی

تیغ چې رانشی ـ مسکے شی ـ په شا وګوری ـ روان شی
یار په څۀ رنګ کښې عابده ـ په وفا رانه ژوند اخلی

۸ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۲ء مردان

☆

ډېر کۀ مې ورورکتل خوبیا هم څۀ رنګ نۀ لري
ګله ستا تصویر دے ـ خو بس تا سره څنګ نۀ لري

نشته چې سرور ستا د مئے رنګو سترګو میو کښې
جام کۀ دې د سرو ـ خو مستي نۀ لري کړنګ نۀ لري

زی لکه سپرلے چې پښه نیولې د راتلو په لار
لېچو کښې ستا پراته بنګړی ګلې شړنګ نۀ لري

څۀ به هاغه مینه او وعدې وی ـ د ژوندون په نوم
زړۀ کښې چې خلوص نۀ وی ـ ضمیر کښې چې ننګ نۀ لري

هسې د پښتو نه عابد ستا لمن پرېښوې نۀ شي
زړۀ کښې زمونږه ـ د زړۀ سره اهنګ نۀ لري

۱۱ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۲ء

سحر کچهری کښې مردان

(د غزل مطلع د خپل ملګری خان بهادر حسرت د تصویر په لیدو)



په خان کځ پوهېدم ـ نځ پوهېدمه ـ خو درتلم
هر څو کځ دې په چم کښې مړ کېدمه ـ خو درتلم

نځ لاره مې نیوې شوله رقیب او نځ ستم
اشنا په هر قدم کځ غورځېدمه ـ خو درتلم

دا څا وې چې د وخت ستم به تا رانه کړی هېر
هر څو کځ د ژوند لار کښې ژړېدمه ـ خو درتلم

ارمان چې مې په زړځ کښې وځ ـ لیدل ستا د رخسار
تیارو کښې کځ د زلفو ـ ورکېدمه ـ خو درتلم

زځ هم عابده ستا غوندې مئین وم په نظر
محفل کښې کځ د ښکلو قتلېدمه ـ خو درتلم
۲۳ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۲ء

(د خپل روحانی رهنما زیارت کاکا صاحب ننوتار کښې)



په تلو کښې د زړه سره د دردونو تپوس مهٔ کړه
تېرېږی په موږ څنګه ؟ د وختونو تپوس مهٔ کړه

اشنا به سپین سحر کښې ـ ستورې چرته پاتې کيږي
در څار دې له رخساره ـ د سوالونو تپوس مهٔ کړه

ياران مو هسې نه چې په لمن پاندې داغ کېږدی
محفل کښې په خندا د ارمانونو تپوس مهٔ کړه

ما وې "پرون دې ولې هسې خان کړو ناغرضه"
وې "نوې نوې وايه ـ د عمرونو تپوس مهٔ کړه"

کاسې دی چې بې واره ستا په نوم پاندې ئې اخلی
اشنا د عابدانو د نيتونو تپوس مهٔ کړه

۲۷ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۲ء

ماسخوتن ۹ بجې خيل کور مردان



تا سره مينه او اشنا ستا په وعدو اعتبار
په پټو سترګو دی کول تش په ازغو اعتبار

راځه چې وشيندو خوانی په هره لاره د ژوند
نشته دې ګله د دې وخت په پسرلو اعتبار

برېږده وېښته ډاسې خوارۀ وارۀ ـ تاودې ورځې دی
سېوری ته بنۀ يو ـ ستا نه ځار ـ څۀ په غارمو اعتبار

عمر په دار دی تېرول ـ زړۀ په اورونو سېزل
ستا په بنګړو بانډې باور ـ ستا په کمڅو ـ اعتبار

نن دا دې بيا دې جوړې څېلی دی په لېو لېو
څوک به عابده وکړی ستا اوس په توبو اعتبار

۱۳ نومبر ـ ۱۹۹۲ء

مردان

☆

یو ستا لار کښې ازغی دی یو زما لار کښې ازغی دی
اشنا خه کنه ـ وایه ـ نور د چا ـ لار کښې ازغی دی

سحر به د مخ څهٔ کړو ـ چې شراب د نظر تښته
ماښام د زلفو بنه دې ـ د سبا لار کښې ازغی دی

وخت ابنې پابندی ده ـ د حالاتو یه نیضونو
کوښې ته دې درخم ولې اشنا ـ لار کښې ازغی دی

ستا نهٔ کتل له نازه ـ او بیغور د رقیبانو
څهٔ دا لار کښې ازغی دی او څهٔ دا لار کښې ازغی دی

وعده ئې چې پښتو کښې اشنا تاسره ده کړې
عابد به درخی خبر دے کهٔ بلها ـ لار کښې ازغی دی

۲۳ـنومبرـ۱۹۹۲ء
غرمه ۳بجې په لاره لاره مردان

بې نومه

زړه د وختونو مسافر په يوه شاړه دښته
د انتظار تبې کومه د زړګی په صحرا
هغې لمحې ته په کتنه يم - چې اوس به راشي
هره ښکالو ئې ښکلوم په چاودو چاودو شونډو
هره درزا مې د زړګی ارله لالچ راکوی
د ګورو زلفو شينمی سترګو او سپينو لېچو
په هره سا کېنې مې يو غم راځی - خو نه پوهېږم
تراوسه نوم ئې راله نه راځی چې څوک دے هغه
بيا هم په هر ماښګر ناست يم - د ګودر په غاړه
هرې چپې ته هر کلې وايم - زړه ماتې شانې
دا مې وی خيال چې جوړې دې پسې به راشی هغه
خو نا - دا هم دروغ شی - ريښتيا پاتې نه شی
زړه د زړه ماتی انتظار غاړې ته لاس واچوم
شم راروان په ورستو وګورم - خو نه رانه شې
په د ښائيست د کلی ګله سنا خوشبو څنګه ده

ستا "ترموالې ستا د شونډو" په شبنم وزغمی
که نا ـ زۀ اوښکې کړمه پاکې ـ دغه هم دروغ دی
خو نا دروغ ورته لا هغې پورې نۀ وايمه
خو چې ريښتيا ورته وئيلې نۀ شم ـ ستا په نامه
نن کۀ رانغلې ـ خو خه خبر دے ستا فطرت داسې دے
کله سبا به شی ـ خه اوس به دا قيصه هېره کړو
کېدېشی نمر کښې راته نۀ او ستا نامه ښکاره شی

او ستا بې نومه نامه ورکه شی ـ زما په نامه

۳۰ نومبر ۱۹۹۲ء

ماښام ٦ بجې خيل کور مردان

☆

ما په خيګر او تا په زړۀ وليکل
"يو به يوځائے" مونږ دا په زړۀ وليکل

ستا د نامې د سر نامې حرفونه
رقيب په لاس او ما په زړۀ وليکل

شو ستا محفل کښې په دار ۔ باتې نۀ شو
چا چې ريښتيا ۔ ريښتيا په زړۀ وليکل

راغلې ۔ راجخت شوې ۔ لاړې ۔ زړۀ مې لاړو
دا دې يار څۀ زما ۔ په زړۀ وليکل

نوم به دې هم عابده وانخلي څوک
تا کۀ ياران بلها په زړۀ وليکل

۲۰۔دسمبر۔۱۹۹۲ء

مشام ۴ بجې بازارکې مردان

☆

په لېو که مې څښکل ولې کاسې خو خواله نۀ راتلې
بېګا چې له محفله اشنا تلې ـ خو خواله نۀ راتلې

په دې به هم اشنا د رقیب زړۀ ودۀ مونډلی وی
د لرې چې کولې دې وعدې " خو خواله نۀ راتلې"

حیران یمه چې غواړې رانه لاس به کومو سترګو نن
پرون چې مې غوښتې ـ نو یو بېتې خو خواله نۀ راتلې

څۀ یو خوا کۀ شراب وو د کاسو ـ بل وۀ نظر کښې ژوند
خو نۀ کۀ به هغې راتلې ـ په دې خو خواله نۀ راتلې

ولاړ چې وۀ عابده پرون لاره کښې ګل ـ پوئې شوعه
بس دا خکه وخکلې دې توبې ـ خو خواله نۀ راتلې

۳۰-دسمبر-۱۹۹۲ء
د شپې ۱۰ بجې خیال کور مردان

☆

د نوی کال نوې ماښام او جام
دې ستا په نوم ـ په شونډو جام او جام

وخت رانه غواړی ـ نوې لار او خیال
زهٔ یم ـ چې اخلمه ستا نام او جام

ناخلم په شمار ـ زهٔ د تسبو په شمار
وایم واعظه بس ګلفام او جام

دواړه لری د غم علاج ـ شراب
مازیګر ستا کتل په بام او جام

نهٔ ژوند زما ـ نهٔ خوانی ستا ـ مدام
راځه چې واخلو انتقام او جام

خاندی رېبار ـ مېخوار ـ عابد او ساقی
راغے د ښکلی نه پېغام او جام

۱ ـ جنوری ۱۹۹۳ الحیل کور مردان

☆

نه ژړا کېږي شته راحت نه په خندا زندګی بنه ده
دروغژن په شم چې وايم "بې له تا زندګی بنه ده"

دا به تا خوشالومه ـ دا به ګران ئې راته ګله
چې په خلهٔ به درته وايم ـ بس اشنا ـ زندګی بنه ده

نور څهٔ نشته خو تهٔ هلته ـ او زهٔ دلته دواړه ژاړو
نهٔ زما زندګی بنه ده او نهٔ ستا زندګی بنه ده

بس کهٔ خوبنه دې وی څه چې ـ دواړه يو شو فراق ورک کړو
ليږ به پوئې شو سروقده ـ چې ربښتيا زندګی بنه ده؟

تاسو څېنی چې تول ملګرو ـ ليږ عابد ته هم ست وکړی
ليږ قرار به شی له غمه ـ بېکاری دا زندګی بنه ده

۲ـفروری ـ۱۹۹۳ء

مابېام ٦ بجې خپل کور مردان



نه تا کړه خپله او نه ما خپله کړه
دلته کېښې مینه وایه چا ؟ خپله کړه

ما هم د "درد" تکی ته خپل ووئیل
د بیو زیه چې اشنا خپله کړه

خوئی کۀ رقیب د "یذیدانو" کوی
لاره ما هم د "کربلا" خپله کړه

دواره ستا لارې دی ـ کۀ زلفې کۀ مخ
چا یکښې دا ـ چا یکښې دا ـ خپله کړه

لاره عابد د "تنهایی" په طرف
تا "بې لوظی" چې د "دنیا" خپله کړه

۱۷ـفروری ـ۱۹۹۳ء
اسلام اباد

ماته زما د ژوند معنی وښایه

زۀ د غنچک نه را پرېوتې پانه
چې نۀ انداز لرم نۀ نو ستې خوشبو
نۀ بهارونه ښارم ـ نۀ مې سپرلی پېژني

زۀ دا سې ورک تکے یم
چې څوک مې لیکی هم نا
چې څوک مې لولی هم نا
نۀ مې تحریر کښې شته رنګ
نۀ مې معنٰی کښې اثر

زۀ د سې ورک ستورے یم
چې نۀ ګردش کښې تلې شم
نۀ خپل مقام پېژنم
نۀ ځان تیارو کښې وینم
نۀ تا رڼا را کړله
زۀ بې منزله انسان چې نۀ به ورستو تلې شم
نۀ مخکښې لار وینمه
نۀ مې شعور به ځائې شو

نه مي احساس شو راويښ
نه مي خپل ځان وليده
نه بل چا خپل کرم خدايه
نه تا منزل راکړلو

نو ته ما پېژنې زما معبوده
چې زه هم ستا د ښکلو ښار کښې وسېم
ماله دې هم سينه کښې زړه راکړے
ماله دې هم د انسان رنګ راکړے
بيا هم تراوسه دې زه پوئې نه کړمه
چې ته ما نه پېژنې لايه خدايه
که نا دا ما لمنه پرېښې ده ستا ـــــ؟

بس يو وړوکے شان جواب غواړمه

ماته زما د ژوند معنې وښايه ـــــ؟

۲۱ ـ فروری ـ ۱۹۹۳ء
مازيګره بجې بازار کښې مردان

☆

ساقي نن په شرابو لمبېدلو ته مې زړه کېږي
بيا ستا د نظر سيند کښې ډوبېدلو ته مې زړه کېږي

لاس "ته" چې راله راکړې - راوچت مې کړې - خفه شې
اشنا خدائېګو نن داسې بربوتو ته مې زړه کېږي

له ورايه په خان ولې په توبو يوېږې خلق
واعظه خو سم وايه چې کاسو ته مې زړه کېږي

نن بيا د انتظار لارو له نوې سبا راکړه
نن بيا ستا د دروغو خو وعدو ته مې زړه کېږي

بس ستا له مخه غلې يم - عابده - لاس مې بند دی
ګنې نن خو کاسو سره ورتلو ته مې زړه کېږي

۲۶ـ فروري ـ ۱۹۹۳ الد شپې ۱ بجه په څلورمه روزه مردان

☆

عمرونه وشو خو اشنا ـ يو بل ته نۀ شو کتے
مينه مو وکړله ـ خو لا ـ يو بل ته نۀ شو کتے

زړونه هم غواړي ـ نظر هم غواړي ـ چې يو شو اشنا
مونږ يو چې هر ځل شو ناشنا ـ يو بل ته نۀ شو کتے

ځېر دے ازغو هم لا د ګل مخ ته کتلی نۀ دی
مونږه کۀ ګله لا په غلا ـ يو بل ته نۀ شو کتے

خلق خو زور د خداګانو د نظر يادوی
مونږه کۀ وکړله ژړا ـ يو بل ته نۀ شو کتے

لږ شان کۀ سوچ وکړو عابده ـ په تېر شوی مزل
مونږه به هم خدائيګو چې بيا ـ يو بل ته نۀ شو کتے

۲۸ـفروری ـ۱۹۹۳ ليه ۷ به روژه خيل کور د شپې ۱۱ بجې مردان

☆

لمبې که د رخسار ئې قیامتونو نه پېرزو شي
تکور به زندگی ته د وختونو نه پېرزو شي

بیا ناخالي ترقیامته یو قدم هم مېخانې ته
ساقي چا ته چې یو ځل نظرونو نه پېرزو شي

نور څه وی خو دردونه مې د ژوند شي په تویونو
خواږه چې د "ګل مخې" د یادونو نه پېرزو شي

لا ستا په دلکشي د خال سبوا له پېغلتوب شي
سپرلو ته رنګونه د بادونو نه پېرزو شي

بیا لاس ئې د جنون وی د بنائېست په ګرېوانه کېنې
عابده چاته ـ یو ځل چې مخونو نه پېرزو شي

۱ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ء
مازیګر ۵ بجې مردان



ماښام مې هم اشنا شو ـ هم سحر سره دوستي
اشنا چې مې کړه جوړه ستا ـ نظر سره دوستي

مودې وشوې چې هسې هم څوک ګوري راته نا
ستا غم دے ـ چې کوي مې د ځيګر سره دوستي

پښې وختونه سپور دي ـ هم سپرلي پيکه پيکه
راځه ـ چې دا روژې وکړي ـ اختر سره دوستي

اشنا "ستا" خپلول وۀ ـ کۀ دې "زلفې" وې کۀ "مخ"
چا "شپو" سره دوستي کړله ـ چا "نمر" سره دوستي

په لار به د ازغو عابده ځې ـ اخلې به "ګل"
چې "زر" خپلوې کړې به د "زرګر" سره دوستي

۲ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ ليه نيمه روژه د شپې ۱ بجه مردان



نۀ تا محبت پرېښوده ۔ نۀ ما محبت پرېښو
کنې له داغ له وېرې خو دنيا ۔ محبت پرېښو

دا ولې د راتلونکو پسرلو زېرې واپس شو
دا چا محبت خپل کړلو ۔ دا چا محبت پرېښو

ناڅاپه چې ورېځې راخورې شوې په هر لورې
دا څوک زارې ؟ دا بيا د چا ۔ اشنا محبت پرېښو

يقين وکړه چې مړ به په ورشل د ژوندانۀ شي
دا زړے دې را مۀ شه ۔ چې "شها محبت پرېښو"

عابده هسې وائې خو "ګل" هم په تا مئين دے
ژوندې به پاتې نۀ شي "دې" که "تا" محبت پرېښو
٢۔مارچ۔١٩٩٣ء
د شپې ١١ بجې خپل کور مردان

☆

نۀ چې هم ځې او هم خوانی راته په شا نۀ ګوری
ښکاری جوړ ځې مې زندګی ـ راته په شا نۀ ګوری

زۀ کۀ ځان هم ورکوم خدایه ـ قدم نۀ ودروی
دا څنګه ښکلی دی چې ځې ؟ راته په شا نۀ ګوری

هم ئې کړو مخ لاسو کښې پټ ـ او هم کاسې په حساب
مړ به شم داسې کۀ ساقی ـ راته په شا نۀ ګوری

ځی تاسره مې ژوندون داسې ـ چې تېوس مۀ کوه
هره لمحه مې د زړګی ـ راته په شا نۀ ګوری

هره لحظه راته ژوند اخلی ـ هر قدم کښې مې مرګ
خپل راته هم ځې ـ هم پردی راته په شا نۀ ګوری

خدائے خبر یاتې کۀ عابده شو ـ ژوندی تر سبا
ځې راته اوس تېوله خدائی ـ راته په شا نۀ ګوری

۴ـ مارچ ـ ۱۹۹۲ ئغر به ۳ بجې مردان

☆

وژنی مې جوړ خان پسې ؟ عمرونه وشو نۀ راځې
کړخم هغه "ګران" پسې ؟ عمرونه وشو نۀ راځې

کل مې د ارمان لاسو کښې مړاوې شو - پرېوځمه
اوس سپرلی - خزان پسې عمرونه وشو نۀ راځې

ولې بنکته ګورې ؟ بره وګوره - زړګیه نن
لاس اوس په ګرېوان پسې - عمرونه وشو نۀ راځې

هر يو داغ اشنا دلته - غريب په لمن ايښې دے
يو تهمت په خان پسې - عمرونه وشو نۀ راځې

ښکارې چې عابده - بيا ئې ټول ښکرې مات کړې دی
شرنګ ماته زندان پسې - عمرونه وشو نۀ راځې
۱۱ - مارچ - ۱۹۹۳ء
د شپې ۱ بجه خیال مېکور مردان

☆

لاس مې هم ستا په لور اشنا ـ حيګر هم ستا په طرف
نه پاتې کيږی رانه څې نظر هم ـ ستا په طرف

څرېکې وهي ـ څو تا قاتل نه کړې بيا هم اشنا
زما زړګے هم تاسره ـ پرهر هم ستا په طرف

څنګ دې څوک "زلفو" ته لاس ونيسي او "مخ" ته لمن
"ماښام" هم تا پانډې منين "سحر" هم ستا په طرف

اے د ښائيست د چمن پېغلې غوټۍ ـ وسپوږه خان
کرځی د عشق لېونې در په در هم ستا په طرف

نه څۀ خبر چې څو د وخت خدايان خفه شو تربنه
عابد چې تېت کړلو الله ـ خپل سر هم ستا په طرف

۱۶ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ء

س شپې ۱۱ بجې خپل کور مردان



اشنا د ګلو منځ کښې په ازغو باندې ژوندی یو
مونږ څومره په خوږو کښې په ترخو باندې ژوندی یو

نه ستا د در سری شو ـ نه په خپل نظر پوره شو
اے وخته ـ څومره ورکو حادثو باندې ژوندی یو

هر مخ کښې راته ته ښکارې ـ نو څکه ترې خارېږو
لا چا کړته وئېل چې تماشو باندې ژوندی یو

هر خل دورې ته ستا په مینه ګورو ـ چې جوړ راغلې
تل بس د خپل خیالونو په ښکلو باندې ژوندی یو

رقیب که ستا په سر باندې د ژوند په مینه مست دے
مونږ هم ګورې اشنا خپلې پښتو باندې ژوندی یو

هر ځائې عابده خلق مو د ښکلو په نوم وژنی
څوک څه خبر چې مونږ صرف وعدو باندې ژوندی یو

۱۶ ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ له شپې ۱۱ بجې خپل ټکور مردان



(یو نغمه د محبت ده ـ د موجونو یو چپه ده
زندگی کښې نور څۀ نشته ـ زما ـ ستا یوه قیصه ده)

بې له تانه ژوندون څۀ دے ـ بې له تا نه خواني څۀ ده
یو شلېدلې شان څادر دے ـ یو سوری شان لوپټه ده

سکون ـ مئے ـ مستی ـ خندا ـ ساقي ـ خواني او محبت ستا
ټول یو رک شان تصور دے ـ بس د خیال یوه دوکه ده

زیه پرې شه ـ لاس مې مات شه ـ شې بل څوک غوارم بې ستا نه
"ګل زما کړې ـ ما د ګل کړې" دا دعا ـ دا مې تپه ده

چې همېش ئې مونږ راځکلو ـ د تیارو په لور عابده
نن هغوی نه سحر تختي ـ نن په هغه خلقو شپه ده

۱۷ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ء
دیښمنی ۴:۳۰ بجې خیل کرر مردان

☆

کریوان کۀ مې تار تار شولو ـ کۀ پرې مې شوه لمنه
زوم ستا له مخه چپ ـ کنې راخکې مې شوه لمنه

دا چا وئيل چې تار هم د لمن ؟ ميده بنکاره کړی
اظهار خو ما ونۀ کړو ـ کۀ ريخې مې شوه لمنه

ستا تللو د رقيب سره اشنا کړمه کوز سترګې
باور وکړه چې دبره ـ بې پردې مې شوه لمنه

څه ګل لاسو کښې يوړه ـ څۀ ازغو سورې کړه
نۀ هلته شوله باتې ـ نۀ دې مې شوه لمنه

عابده اوس يه چا ـ چا نه نظر اړوو لار کښې
حصې شوله تول چم کښې ـ چې توتې مې شوه لمنه
۱۸ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ء
مردان

☆

بې ستا له نومه په اختر به مينه څۀ ماته شي
تنها ـ تنها ؟ په مازيګر به مينه څۀ ماته شي

صنم چې ياد دې مرور نۀ دې ـ خو تۀ چې لاړې
لاسې بې نمره په سحر به مينه څۀ ماته شي

شراب هم ډېر ـ تږې هم لا ـ خو جام نسکور د نظر
بې له منګې نه په ګودر به مينه څۀ ماته شي

ينۀ وي ـ منمه تنهائي ـ خو چې وصال هم لرې
بې ستا له درده په پرهر به مينه څۀ ماته شي

تۀ کۀ لېږ وګورې ـ عابد ته ـ نو مرګ زغلي ترېنه
چا وې اشنا چې "په نظر به مينه څۀ ماته شي"

۲۳ ـ مارچ ـ ۱۹۹۳ء
داختر په شپه مردان

☆

خندا ۔ قهر ۔ انکار ۔ اقرار ۔ وعدې راته یادیږی
نن بیا به موډو پس هغه قیصې راته یادیږی

خان وژنم ۔ خو نظر مې خان ته نه راړوی بنګلی
بې واړه خکه تیرې ورخې شپې راته یادیږی

اشنا نه قیلېدونکې نامراده ۔ ارزوګانې
ستا در زما تندے ۔ هغه سجدې راته یادیږی

لیمهٔ کښې اشارې ستا ۔ او ګل شونډو کښې جامونه
په خلهٔ کښې د واعظ هغه توبې راته یادیږی

بې وار زړهٔ به لرزا شی ۔ بې خودی شی ۔ شونډې وچې
عابده چې دا کومې زمانې راته یادیږی

۲۳۔ مارچ۔۱۹۹۳ء
مردان

☆

دا چې خوشبو ده ـ هر خوا زړے د بهار تلې دے
بیا جوړ په هېره کښې څوک ښکلې په دې لار تلې دے

دا د رانجو نری شان دوړه چم کښې هسې نه ده
نخښې دی ښکاری ـ د چا پل قطار قطار تلې دے

بې واره هر منین بې هوشه دے ـ خالی خیګر دے
خدایه جوړ بیا د زړۀ په لار هغه شوکمار تلې دے

موسم هم خاندی ـ حالات هم جامو کښې نه ځاییږی
ستا تصور چې پرې اشنا خمار تلې دے

لاس ئې نیولې خامخا د محبت په نوم دے
هر یو رقیب چې مې عابده په مزار تلې دے
۲ـ اپریل ـ ۱۹۹۳ء
مردان



زړۀ داسې هيڅ څوک نۀ ماتوی چې څې
څۀ نخښې د لاس خلق پرېږدی - چې څې

لېږ شان په شا وګوره - ضد مۀ کوه
کله د بل هم خلق منی - چې څې

ونيسی ګرېوان نۀ مې - بنۀ وخاندی
زور د مينې څومره راکوی - چې څې

لاس ورکړی رقيب له - ګوری ماته نېغ
خان پسې مې څومره دردوی - چې څې

يو له بناره تلل عابده - بل غلې؟
شور څو خامخا کړی - لېونی چې څې

۸ـ اپريل ـ ۱۹۹۳ لس شپې ۱۱ بجې مردان

☆

ستا یادونو ختمه کړه ـ خواني کۀ مې څۀ پاتې وه
خار شوه ستا له نومه ـ زندګی کۀ مې څۀ پاتې وه

څۀ د وخت حالاتو ـ څۀ د ژوند تقاضو ورانه کړه
نخیته ستا د شونډو ـ په تندی کۀ مې څۀ پاتې وه

ستا د "اشنای اقرار" پرون ډېرې زړې کړله
کله ستا په چم کېښې "اشنائی" کۀ مې څۀ پاتې وه

ستا په اوګو لاس د پل ـ پردی تصور ختمه کړه
یو وړه ارزو ستا ـ په زړګی کۀ مې څۀ پاتې وه

څۀ کړه د ملګرو ستمونو ـ څۀ روزګار ابرې
لږه شان عابده ـ شاعری کۀ مې څۀ پاتې وه

۱۰ ـ اپریل ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۱ بجې مردان

☆

ست سترګو کښې ـ خندا په خلۀ ـ توبه د يو وړوکی
دې عمر کښې دا دومره تجربه ؟ د يو وړوکی

شې لکه شنۀ انګور د مخ په اناړونو
نشه کۀ پېمانه وه ؟ کۀ جوښه د يو وړوکی

ما خود زړۀ ته راجوخته ـ لکه اوښکه د لېمۀ کړه
ې لوظه چې واپس کړله جرګه ـ د يو وړوکی

دا چا وې محبت چې د عمرونو په لحاظ دے
د لويو هرمره کېږی حق پوره ـ د يو وړوکی

د زړۀ د ويران کور په دروازه باندې عابده
په خيال خاپې ما ليکلې ده ـ نامه د يو وړوکی
۱۳ ـ اپريل ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۰ بجې خيال کور مردان

☆

چا کړله په ګل ـ چا په انګار ژوندګی تېره کړه
ما ستا د راتلو په انتظار ژوندګی تېره کړه

زه او ستا يادونه ـ شکې شکې ـ بې منزله يون
بس يو مسافر لکه په لار ژوندګی تېره کړه

هر ځل مې باور وکړو ـ اشنا ستا د سبا په نوم
ما هم د ساګانو په اتبار ژوندګی تېره کړه

اوس به راشي ـ اوس به راشي ـ لاړله شپه تېره شوه
هسې مسيحا ته يو بيمار ژوندګی تېره کړه

نه جولی د مور نصيب او نه غېږه د ګل خپله
تا عابده هم ټوله "تار تار" ژوندګی تېره کړه

۱۸ ـ اپریل ۹ بجه خیل کور مردان

ائينې د الفتونو

(عايديات دوېمه برخه)

ګروپ اف پبلیکېشنز پاکستان غزل ایوارډ

قمر راهي پښتو ادبي مکتب د غزل توصيفي سند

د ۱۹۹۳ء نه‌تر ۱۹۹۴ء پورې کلام

☆

امتیاز عابد کۀ هر څو د غزل شاعر دے ـ او زیات عبور ورته په غزل حاصل دے ـ
خو ورسره ورسره د هغۀ نظمونه هم د چا نه کم نۀ دی ـ د هغۀ کرم غزل چې کوزې نو یې له بله
ښکلي وی ـ ځکه خو ورته ملګری د "غزل تاجدار" وائی ـ او حقیقت هم داسې دے ـ ځکه
چې هغه خیل هر غزل سره ډیرې خوارې کړی ـ او داسې لیکل یې کړی دی ـ چې ښۀ ښۀ
استاذان ورته ګوته په خلۀ دی ـ

علی ګوهر مشتاق
ورځپانه "وحدت" پېښور
کښې مضمون نه اقتباس
۱۷ ـ فروری ـ ۱۹۹۹ء

☆

زۀ هغۀ ته د غزل شاعر محض د هغۀ د بیسیار غزلګو په وجه نۀ وایم ـ بلکې زۀ یې په
دې وجه د غزل شاعر ګڼم چې هغۀ ته د غزل روح ، مزاج ، او جسامت په ډیر ښۀ ډول معلوم
دی ـ یا مننۀ یا مننۀ رومانی خیالونو ته یې د خپلو احساساتو او تجربو په رڼاکښې په ډیرو خوږو
خوږو ټکو د تغزل رنګ ورکړے دے ـ

محب وزیر
"جرس" جنوری مارچ ۲۰۰۰ء
تبصرې نه اقتباس

☆

د پښتو ژبې ډېر لږ خلق به داسې وي ، چې د امتياز احمد عابد له نوم نه به ناواقفه وي .

ځکه چې د پښتو ژبې مشرانو ليکونکو کښې د پېښور حمزه شنواری ، د اکوړی اجمل خټک ، د لورالائی بلوچستان ميال کاکړ او ابوالخير خلاند په خيله پېژندګلو لري . او د غه شان په کشرانو ليکونکو کښې امتياز احمد عابد يو منلے شوې نوم دے .

سيد مسيح الله وزين

روزنامه (جنګ) بلوچستان

۲۶۔جولائی۔۱۹۹۳ء

☆

بعضې جذبې ۔ بعضې احساسات ۔ بعضې محسوسات بلکې په اصله لهجه کښې بعضې شاعری داسې شاعری وي چې د هر سړی د زړهٔ اواز وي ۔ او د سهل ممتنع په مصداق هر څوک دا وائي چې دا خو زهٔ هم کولې شم ۔ خو چې کاغذ او قلم راوخلی ۔ نو به دې مجبوره شی چې واقعی دا صرف او صرف د امتياز عابد کمال دے .

غفر علی حيران (طورو)

مردان

☆

مځينو باندې وېشى تماشې د الفتونو
دې کلى کښې وسېږى يو "ښاړے" د الفتونو

نامه کۀ رانه خپله د ژوند ورکه شوه ملګرو
پوره نۀ شوې يو حال تقاضې د الفتونو

کېدېشې چې ستا عکس پکښې نظر ته مې ښکاره شى
موډې شوې چې کورم " آئينې د الفتونو"

واعظه له توبې سره به پاتې شې محرومه
الله دې بندې نۀ کړى دروازې د الفتونو

عابده کۀ زما منې ـ يو ځل خو خه چې وڅښو
بيا خدائے خبر کۀ راشى ـ زمانې د الفتونو

۲۰ـ اپريل ـ ۱۹۹۳ء خيال کور د شېخ لس بچې مردان

☆

نه انکار شو ـ نه اقرار شو ـ چې دا ولې سروقده
یس تر عمره انتظار شو ـ چې دا ولې سروقده

سر دې کېښوده رقیب له په اوګه ـ او خاندې ماته
نه خزان شو ـ نه بهار شو ـ چې دا ولې سروقده

ما راټول کړو په خاطر کښې ـ تا جولۍ ترې کړه راډکه
خو غم کم نه شو ـ بېسیار شو ـ چې دا ولې سروقده

ورځ تر ورځه سهوا کیږی ـ د ارمان د دیدن تنده
ټول د زړونو مو روزګار شو ـ چې دا ولې سروقده

لېونی که دې بې شمار دی ـ مئینان که دې بلها دی
خو عاید پکښې په دار شو ـ چې دا ولې سروقده

۲۲ـ اپریل ـ ۱۹۹۳ء مردان

☆

ته مانه لري ـ زه له تانه جدا ـ څه به کیږی
دا ژوند به څه رنګه تیریږی اشنا ـ څه به کیږی

په هر قدم ستا د ارمان ازغی مي خی په پښتو کښي
په هره ساه کښي امتحان دے زما ـ څه به کیږی

دروغ دی ـ ښکلی چي وروکوری ـ نو ژوند ورکوی
ما ئي قدم په قدم وژنی خندا ـ څه به کیږی

یو هغه وخت وه ـ چي یو ورځ به بي دیدنه نه وه
څه ورځي دا دی چي ژړیږو تنها ـ څه به کیږی

وائي دې سترګي ـ زندګی د بهار خوب دے اشنا
ښائي دې زلفي ـ شوګیرې دی بلها ـ څه به کیږی

هاغه عابد ـ هاغه پاګل ـ هاغه تاجدار د غزل
هغه که مړ شو ـ نو خدائے مه کړه چي بیا ـ څه به کیږی

۲۲ اپریل ۱۹۹۳ء
د شپي ۱۱ بجي خیل کور مردان

یادګیرنه ـ (په ۱۹۹۲ء کښي زما ملګرو په ما اخبار کښي یو مضمون "د غزل تاجدار" لیکلي وه ـ مقطع کښي هغي ته اشاره ده)

☆

کله دې تصویر ـ کله خطونو ته چې وګورم
وژارم بې پته ـ ستا لوظونو ته چې وګورم

داسې به هېرېږې ستا نه هر څۀ ـ هېڅ خبر نۀ وم
لوټ شومه بې خایه ـ ارمانونو ته چې وګورم

یاد شي راته هاغه لېونتوب او بې وسې د زړۀ
هاغه ورکو لارو ـ لېوالونو ته چې وګورم

نېغه مې شمله شي د پښتو ـ چې راته وګورې
درشي حیا تاله ـ ستا خالونو ته چې وګورم

راشي د خوانی به سرمایه باندې عایده ناز
بس خپله کمره کښې کتابونو ته چې وګورم

۲۶ اپریل ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خیل کور مردان

☆

مئے د نظر په لېو ښېېي ـ خلق د يار د کوڅې
ښومره رنګين ژوند تېروي خلق ـ د يار د کوڅې

هم راته وائي لېونے ـ هم مې په کاڼو ولي
څۀ بنګلې نخښې راکوي خلق ـ د يار د کوڅې

ښنګ به مې تاته وې رقيبه ـ چې ګل خاندي په بام
څۀ نه څۀ راز خو پېټوي خلق ـ د يار د کوڅې

تل د ګلونو د سپرلو په چپو مست وسيږي
څۀ بختور دي ـ لېوني خلق ـ د يار د کوڅې

څۀ ګلۀ برې وژنې خان ـ کۀ وينې د خيال زړۀ ورکوې
عابده تا هم مري خلق ـ د يار د کوڅې

۱ ـ مئی ـ ۱۹۹۳ ء خيال کور مردان



خوانی له مې راوړی د ژوند مزې په ویره ویره
یادونه دې راځي د نیمې شپې په ویره ویره

قاتل مې د ارمان ځومره ځوره ځوره کښېږي وژني
کوی د نه راتلو راته بانې په ویره ویره

ښکاریږی چې په زړه کښې دې څه غلا ده سروقده
نازړه نازړه قدم اخلې ـ راځې په ویره ویره

په سینه جوړې بوټې شولې ـ احساس ترسره وشو
نن مخ نه لوېږه چې لر کوې په ویره ویره

عابده بس دې پرېږده د ګل مخو ارمانونه
تر څو به ژوندون داسې تېروې په ویره ویره

۱۰ ـ مئ ـ ۱۹۹۳ء مازیګره بجې بازار کښې مردان



اشنا ستا په ارمان چې مې کلونو ته کتل
لا ژوند مې سوزېدهٔ ـ چې ما اوروونو ته کتل

ستا لوظ د راتلو او زما سترې انتظار
اشنا لکه لمحو له دي ـ کلونو ته کتل

ستا سترګې شرابي مې په نظر کېږي وې اشنا
په لاس کېږي د ساقي کهٔ مې جامونو ته کتل

دې ژوند لکه صحرا کېږي تېرول د مرګ په نوم
ګل رنګه محبت کېږي ستا لوظونو ته کتل

ناځاپه ستا نامه په کېږي چا واخسته چې "خې"
عابد خکه اوتر مخونو ته کتل

۱۱ ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء

د شېې بېره بجه ،خیل کور ، مردان

☆

نن ما ېسې بې وزه ماتوې نه شي ښکرې
دا څۀ چل دے ـ چې لاس کښې شړنګوې نه شي ښکرې

معلومه شوه چې زور د محبت دې پېغلې لار
په لاره کښې چې نخښې غورځوې نه شي ښکرې

فطرت کښې دې قسم د مجبورو شته دې لا نور
وعده کښې چې ګل مخې راکوې نه شي ښکرې

دا زور د محبت شو ـ که نفرت کښې شو بدل
اوس فال باندې پلو کښې ماتوې نه شي ښکرې

ښېرې دې هر قدم کښې ـ هره لار کښې زولنې
دې دور کښې عابده یادوې نه شي ښکرې

۱۲ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۲ بجې خیل کور مردان

☆

چا هم لاس رانۀ کړلو ـ دا څنګه محلت کښې وسم
داسې مې نۀ دې پکار خدايه ـ کۀ جنت کښې وسم

تا خو رشته راسره بړې کړه ـ لاړې هېر دې کړمه
زۀ دې لا اوس هم په الزام د محبت کښې وسم

هر ځل انکار ـ په کوڅه بند ـ بل خوا کاڼۀ مې هم مرګ
زۀ دې اشنا په ستمونو حقيقت کښې وسم

هر څوک مې پېژني ـ الزام کښې مې نوم نۀ هېروي
اے وخته څومره ستا د لاسه په شهرت کښې وسم

لاس به يو ښکلے راکوي ـ ماله به هيله غواړي
عمرونه وشو چې عابده دې حسرت کښې وسم
۱۴ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء
ماښام ٦ بجې خيل کور مردان

☆

چا هم راله رانکړو ـ ډې ښار کښې محبت
مونږ شوې چې ګورمه لار ـ لار کښې محبت

وعده ئې هم یارانو غنیمت شی د راتلو
لا زیات شی د ګل مخی انتظار کښې محبت

خواره ئې د خلې زهرو کښې ـ دی غومره په کثرت
وسیږی د ظالم په هر انکار کښې محبت

هر ځل مو دې ساتلې د زړه ښار کښې لکه "ګل"
همېر کړې مونږه نه دې په روزګار کښې محبت

ژوند غواړی په قیمت کښې هم عابده حرارت
خرڅیږی کۀ د ښکلو په بازار کښې محبت

۱۵ ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء

ماښام ۷:۳۰ بجې بازار کښې ـ مردان

☆

ډېرې مې په زړه باندې د جام خبرې ښې لګی
وی که هر موسم خو د ماښام خبرې ښې لګی

خاندی پسرلی ـ خوانی په خلهٔ کښې اور نیولې دے
وګړه نن رېباره ـ د ګلفام خبرې ښې لګی

پرېږده چې مې اخلی ستا نامې سره نامه خلق
ما باندې والله د دې الزام خبرې ښې لګی

وی کهٔ د دنیا د رنګینو د پلوشو خبر
موږ باندې خو بس ستا د پېغام خبرې ښې لګی

لا دې رل عابده یاران ستورو پورې وختل
تا باندې تراوسه لا د بام خبرې ښې لګی

۱۹ ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء

ډېمبوړېې لار ـ سحر ۸ بجې

☆

تا چې له سره اشنائي پرېښوده
لاړه عابده دې زندګي پرېښوده

بنکاري چې اخلې به خوږه کښې بدله
تا چې رقيبه دشمني پرېښوده

لاړه شوه بيله د بنائېست او مئين
خکه د ګل قيصه ازغي پرېښوده

جام د نظر ته ورتلل هيڅ نۀ دي ګران
لاړه کۀ بس راته ساقي پرېښوده

ياران خير کړه ـ چې خوشحاله شي تول
عابد ـ ربباره ـ شاعري پرېښوده

۲۰ ـ مئي ـ ۱۹۹۳ ء د شپې ۱ بجه حيل کور مردان

☆

تا رانه په هر قدم کښې اخلي د وختونو زور
خومره سهوا شوې د دې خلقو دې د زړونو زور

یو ته هم پوره وړکې نه شې ـ بهر مه وځه
مر به دې کړي کښه ـ په زړګیه ـ د مخونو زور

هر یو خپل ښائیست د بل ښائیست نه بالاتر ګڼي
ن دې عجیبه په مخ کښې کړې دے رنګونو زور

تول عمر به دغه ګرېوانونه سلامت نۀ وي
وابه شي یارانو خبر دے چرته د لاسونو زور

زلفې لېږې وارووه په شا ـ مخ دې پټ شوې دے
کم کړه هازیګر باندې شپا ـ د ماښامونو زور

ښکاري " غزل سترګې " دې عابده جوړ یاد شوې دے
خیال باندې چې ګوره نن دې کړې دے شعرونو زور

۲٤ـ مئی ـ ۱۹۹۳ء د شپې ۱۲ بجې خپل کور مردان



ګران دي راته څومره چې ناجانې د کلي ښکلي دي
هر څۀ چې دي ـ وي به خو ـ يارانو ـ " ښکلي " ښکلي دي

لوبې به ګلونو خو اکثر سپرلي کوي همېش
نوې نۀ ده خلق کۀ نن بيا رتلي ښکلي دي

هر مئين مسکے ـ لاس په سينه ـ اوتر روان
ښکاري چې نن ښار ته جوړې بيا راغلي ښکلي دي

عمر له بيا نۀ خي د جنت د تصور په لور
زړونه چې له چا نه هم يو خل وړلي ښکلي دي

خاندي لاس ئې ډک دي له ګلونو ـ بره نۀ ګوري
ښکاري چې عابد ته جوړې بيا کتلي ښکلي دي

۲۶ ـ مئی ـ ۱۹۹۳ ء د شپې دوه بجې خيال کور مردان

☆

وه دې کړې وعدې په هر قدم ـ خو په وعده نه شوې
ما که درله خان درکړو اشنا ـ خو ته داده نه شوې

څوک دې هم په څريکه باندې پوې نه شو ـ خاموش وسوې
زخم شوې تار تار شوې ـ خو زړکيه حادثه نه شوې

لاړې له خندا نه په اوکو د رقيب پرېوتې
مينه شوې ـ وفا شولې ـ منم ـ خو پېتنه نه شوې

ما چې څنګ غوښتلې تصور کښې له رقيبه پټ
شولې د "هغه" ولې اشنا ګوره ـ هغه نه شوې

ټيټ شو دې درشلو کښې بلها تندى د وخت په نوم
يو نه وې عابده چې نېغ لاړې په سجده نه شوې

۳۱ـ مئ ـ ۱۹۹۳ء د شپې ۱۲:۳۰ بجې خېل کور مردان



نۀ لاس درنه صبریږی ۔ نۀ زړګے مني توبه
جولۍ کېنږي ستا له "ژوندۀ" کوم سرے مني "توبه"

خان وژني ۔ خو په عشق کېنږي بدله نۀ پرېږدي ظالم
اشنا د ګل له مینې کوم ازغے مني توبه

نیغ ناست وی ۔ پاځي نه ۔ بې له یو ګوټه په قسم
والله واعظ له میو کۀ پوتے مني توبه

کړی ډېر ګلونه پاڼې ۔ چې ښائېست نۀ شی لیدې
اے وخته ۔ وایه څه کنه ۔ سپرلے مني توبه

څو خله مې عابده زړۀ ته ووې چې " بیا نا"
یقین وکړه له ښکلو نه کۀ "دے" مني توبه

۲۔جون۔۱۹۹۳ء دلوڼے اختر دریم ورځ ۔ د شپې ۱۲ بجې کورکېنې مردان

☆

بې له تا څۀ ده ـ خو اشنا ده مو په اور کښې خوانی
نۀ مو خوانی کښې شور پیدا ـ نۀ شوه په شور کښې خوانی

خان دسپرلی هسې د ګلو په جولی کښې غواړی
نۀ په بازار کښې قرار مومی ـ نۀ په کور کښې خوانی

ستا د "تنهائیست" تاودو نمرونو تربه "زنګ" وړی دے
نن راته څله یادوې ـ ګله پیغور کښې خوانی

ستا د نظر شراب ئې وڅښل چې نظر کښې ساقی
خدائیګو چې راغله د محفل هر یو کمزور کښې خوانی

عمر د بنګلو د کتو لار ـ چې وبېتۀ مې سپین شو
کرانه ده راکۀ شی عابده بیا په زور کښې خوانی

۴ ـ جون ـ ۱۹۹۳ء د شپې ۱۱ بجې خېل کور مردان



خوشبو ستا د بدن وه ـ کۀ سپرلو نه لار خطا شوه
چې واره مې د زړۀ د درزېدو نه لار خطا شوه

چېچې د هواګانو ـ ستا يادونه دې رانولې
اشنا خکه د مينې لبونو نه لار خطا شوه

بنکاريږى چې ورتلۀ دې د رقيب په طرف هم شته
وعده کښې چې په خلۀ دې د راتلو نه لار خطا شوه

ناڅاپه مې شوې اوښکې په راتلو کښې پښه نيولې
نامه چې پکښې ستا راغله ـ سلګو نه لار خطا شوه

عابده راسره وو ـ خو د يار مخکښې رانغلۀ
جرګې ورته وۀ نۀ شوې ـ اسوېلو نه لار خطا شوه

۲۰ـجون ـ۱۹۹۳ ء د شپې ۱ بجه خيل کور مردان

☆

ما یکېږي ستا ـ او تا زما لاره معلومه نه کړه
کنی دې ښار کښېږي څا ؟ د څا لاره معلومه نه کړه

خان مو ربجې لکه د ګل کړو ستا راتلو ته اشنا
ولې خوارۀ نه شو ـ مونږ ستا لاره معلومه نه کړه

مونږ چې برې خو د يو بل زړۀ ته د بيو په ځوکو
ښه شوه اشنا ـ چې څا خو دا لاره معلومه نه کړه

مونږ د ژوندون په هر ګټ پېر کښېږي تاته وترېدلو
نۀ شوې بې ښه ـ دا خو تا لاره معلومه نه کړه

هر ځائے په هره اوازه د محبت ورغے
ولې عابد ستا د وفا لاره معلومه نه کړه

۲۹ ـ جون ـ ۱۹۹۳ ء شپې ۱ بجه خیل کور مردان

☆

ګلونه پاڼې ـ لارې شارې ـ وطن ستړې
ستا د راتلو په انتظار شو چمن ستړې

نور درته څۀ د نیکړتیا احساس ګلابه درکړم
زړه مې پرېشانه ـ نظر تږے ـ بدن ستړې

ستا د راتلو راتلو نهیتو مې خواني وخوړله
جذبات اوده ـ حوصلې ماتې ـ تن من ستړې

دا چې ستم نۀ دے ـ نو څۀ دی ؟ څه ریښتیا ووایه
پرون دې زړۀ نه وۀ ګلابه ـ او نن ستړې

عابده کوم طرف ته لاړ شو د باور په نظر
بوکه د بنګلو له ستم شوه ـ لمن ستړې

۱ـجولائی ـ۱۹۹۳، د شپې ۱۱ بجې خیل کور مردان



نۀ مو غوښتې ـ خو نوې کال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه
د خپل قسمت رامعلوم فال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه

ستا د نظر د قیامت ویره او نازک طبیعته
عمر مو تیر شو ـ خو یو سوال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه

قهر مو ولید ـ خو خدا کښې مو در ونۀ کتل
جلال ته جوړه شوه ـ جمال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه

چې ستا په مخ د تورو زلفو وریخ نۀ شو لیدې
کرمې مو خوښه ـ پشکال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه

عابده یو دم مو ـ ماضي د انګار یاد شو د ګل
څکه چې باتې شو ـ دې حال ته مو خلۀ جوړه نۀ شوه

٦ـجولائی ـ١٩٩٣ء د شپې ٣ بجې خپل کور مردان



ښکلی ګله ډېر وو ـ خو یو تهٔ مې زړهٔ ته پرېوتې
تا چې څومره نهٔ کتل ـ نو بنهٔ مې زړهٔ ته پرېوتې

خبر دې څه بیا مهٔ کوره ـ خو دومره راته ووایه
دا ولې مې خوښ شوې ـ دا په څهٔ مې زړهٔ ته پرېوتې

ما وئیل چې څهٔ شوې ـ خو یو دم سینه کښې څریکه شوی
لارلې ګلابه ـ له لیمهٔ مې ـ زړهٔ ته پرېوتې

نوره دې قیصه راته اشنا د ښائیست مهٔ پوښته
بس خو دا په مراوې شان کاتهٔ مې زړهٔ ته پرېوتې

وی وئیل عابده راته نن په خپله خله اشنا
راشه هم په تلهٔ هم په راتلهٔ مې زړهٔ ته پرېوتې

۶ـجولائی ـ۱۹۹۳ء مردان

☆

اور د بنائیست مۀ وژنه ـ اے کرانه شپه یخژنه ده
مۀ خه بې خبره له خپل خانه ـ شپه یخژنه ده

داسې غلې غلې به تر منښخه تکلف شی جوړ
لاس راکړه ـ کرمی راکړه ـ جانانه شپه یخژنه ده

لرې لرې ناسته او سینه کښې زلزلې د زړۀ
راشه لږ ترخوا ـ مۀ خه له خوا نه ـ شپه یخژنه ده

راشه کۀ دې خوښه وی بیلتون به خان ته وسېزو
کرانه ده کۀ تېره شی ـ بې ستانه ـ شپه یخژنه ده

ما درته عابده وئیل لاړ شه ـ خو تا نۀ منل
اوس خنگه بغیر دې له اشنا نه شپه ـ یخژنه ده
۱۲ـجولائی ـ۱۹۹۳ء
د شپې ۳ بجې خیل کور مردان

زۀ څۀ يم

زۀ د سپرلي ته رانګ هاغه د هوا چپه يم
چې هنګامه او زوږ لري ولې خوشبو نۀ لري
زۀ د خزان د تللو هاغه اخرى سلګى يم
چې د ښائيست زيږے لرى - ولې څۀ رنګ نۀ لري
زۀ د يخني د موسم هاغه د نمر يخه ځيره
چې بڼۀ رڼا او نور لرى - ولې ګرمى نۀ لرى
زۀ د ګرمى د سرې غرمې د اوني هاغه سيوږے
چې نمايش د ځان لرى - ولې قرار نۀ لرى

بس کۀ زمانه محبت د زندګى غواړې نۀ
لاس را زما د وجود نيمې برخې - وګوره بيا
چې زۀ د کوم موسم سيالى بيا د خوانۍ نۀ کوم
چې زۀ بيا کوم يو نظر اړوم په لار کښې له چا
بس خو دا ليره نيمګړتيا ده - دا پوره کړه راشه

خير دے کۀ مانه حقيقت د زندګى غواړې بيا

۱۶۔جولائى۔۱۹۹۳ء

د غرمې ۲ بجې جبل کوز مردان

☆

اشنا به هر قدم چې دې خندل ـ درته مې خیال شو
سپرلی چې دې خزان باندې وېشل ـ درته مې خیال شو

ما وې چې څوک مې وژني ارمانونه ـ زړه مې پرېوت
لاسونه دې رقیب له ورکول ـ درته مې خیال شو

خوشبو هم له ګلابه ـ چرته ګرانه بیلېدې شي
تا ډېر کړه په غلا غلا راته کتل ـ درته مې خیال شو

ن بیا د چا د مینې د جنون د مرګ منظر وه
ګلونه چې دې لاس کښې رېژول ـ درته مې خیال شو

ې شمېره غزلګو درته حیران ولاړ وو
لیکا چې دې عابده وې غزل ـ درته مې خیال شو

۱۷ ـ جولای ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۱ بجه خیال کور مردان

☆

هر یو ماښام چې راځي ـ مخکښې ترې رڼا ورکه شي
ګونه دې یاره د دې دا رنګې سودا ورکه شي

ولې وفا نه مې د وخت په ائينه کښې ګورې
سیلۍ چې راشي همېشه نرۍ هوا ورکه شي

خدائېګو چې پرې به شي لمن د محبت د وجود
نامه که ستا ورکه شي ـ یاره یا زما ورکه شي

هسې چې خیال هم د ظالم د بې رخۍ شي ولاړ
ناڅاپه ودرېږي ـ له زړه نه مې ډرزا ورکه شي

قدر عابده تنهای کښې رامعلوم شو د ګل
نامه به څه شي د ژوندون ـ که ترېنه سا ورکه شي

۲۵ـجولائی ـ۱۹۹۳ء
سحر لس بجې بازار کښې مردان

☆

هر يو سحر دلته اشنا د يوې شپې قاتل دے
خومره ښکاره په سپينه ورځ کښې د پردې قاتل دے

اخلي د هر ماشوم ارمان نه مې طاقت د اظهار
ستا شان بې لوظه ـ ستا ښائيست هم د وعدې قاتل دے

هر يو بې مخې چې راوګورې ـ نو برې مې پردې لاس
زما په خپله هره لار کښې خيال تندې قاتل دے

چا ته هم نيغ مه ګوره داسې ـ له نظره دې خار
دلته احساس نشته د حسن ـ هر سړے قاتل دے

عابده بس په کړو کۀ خوښه دې وی ـ ذکر د ګل
نن چې " رديف" مې د غزل د "قافيې" قاتل دے

۲۶ ـ جولائی ـ ۱۹۹۳ء (صوتي قافيې)
د شپې ۱۱:۳۰ بجې خيال کور مردان



ستا زړۀ کېښې رانغلۀ اشنا ـ ستا له نظره تېر شو
په تا مئين ګوره په تا له خپله سره تېر شو

يو بل مو وۀ نۀ ليدل ـ يو مو خوشحاله نۀ کړل
بلها عمرونه مو کوڅه کېښې مروره ـ تېر شو

هيڅ يو خبره ائينې هم نوې وۀ نۀ کړله
هاغه څۀ وائي ـ چې ئې مخکېښې له منظره تېر شو

چا ئې نوم واخستۀ ـ او چا شيرينې يادۀ کړله
ډېر ليونې دلته فرهاد هسې ـ له غره تېر شو

داسې مقام ته ژوندانۀ عابده راوستمه
چرته سپرلي چې هم په پنجو بې خبره تېر شو

۳۱ـجولائي ـ ۱۹۹۳ء
سحر ۱۰ بجې خېل کور مردان

☆

کهٔ تلل وهٔ په لمبو هم اشنا ـ زړهٔ پله ورتلل
خو بیا هم لمبونی کوره ستا ـ زړهٔ پله ورتلل

لاسونه اچول دی سور انګار ته هم نظر
توبه د دې ګل مخو الله ـ زړهٔ پله ورتلل

هم خان لاهو کول دی سمندر کښې هم ارمان
اسان نهٔ دی ملګرو د چا ـ زړهٔ پله ورتلل

محفل کښې چې مئینو خومره یو بل ته کتل
ازغی وهٔ تېر یادونه ـ زما ـ زړهٔ پله ورتلل

د ګل هغه انکار او غصه ـ مخ ته لوېتیه
یادیږی مې عابده بیا بیا ـ زړهٔ پله ورتلل

۸ـ اګست ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۲ بجې خیل کور مردان

☆

چم کښې به لیدۀ وشی ۔ بازار کښې به لیدۀ وشی
چرته د ژوندون په یوه لار کښې به لیدۀ وشی

نۀ ګرځوۀ خان ته د چا فکر ۔ ستنېدې نۀ شو
یو ځل به یو ځائے شو ۔ انتظار کښې به لیدۀ وشی

داسې به تر عمره له یو بله مونږ جدا نۀ یو
کوره ته ۔ یو ځلې به دې ښار کښې به لیدۀ وشی

ګله خفه مۀ شې ۔ خه چې نۀ راځې ۔ خفه نۀ یم
رابه شې چمن ته خه ۔ بهار کښې به لیدۀ وشی

نۀ ورځو عابده ۔ مایوسی "روزانه" ښه نۀ ده
خدائے به ئې خطا کړی په یو وار کښې به لیدۀ وشی

۸۔اګست۔۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خپل کور مردان

☆

کله راته ګوری ـ کله نهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو
خکه مې اوتر اوتر لېمهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

څهٔ ویره خو ده ـ چې رقیب راغے ـ کهٔ ـ اقرار کوی
نن خدایه ـ زرور راته بې زړهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

بنکاری چې جور بیا خپل ازمېښتونه د ستم کوی
دهٔ خو چرې نهٔ کتل ـ چې څهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

ما چې به وئیل ورته ـ لږ وګوره ـ نو نې کتل
نن چې وایم مهٔ ګوره ـ نو بنهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

یا خو مې یقین په راتلو نهٔ کوی یا ناز کوی
نخښې مې په زمکه نن د پلهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

څې ترینه عابده نن پروني یو په بله تول
هم راته په تلهٔ ـ هم په راتلهٔ ګوری ـ چې څهٔ وشو

۱۴ ـ اګست ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۲ بجې خپل کور مردان

د زاهد چاچا د دې مصرې په تاثر کښې

"هم راته څهٔ والی هم څهٔ نهٔ والی ـ دا څهٔ چل دے"



د زړه په کلی کښې خوره ستا د راتلو ګرمی ده
کوره دې دشته کښې که زمې دے هر څو ګرمی ده

بیا د فراق نه مخکښې هغه تېر ساعت مې شو یاد
بیا مې د خیال په شاړه لار ستا د ښکالو ګرمی ده

لا د غصې سرخی ئې مخ کښې له فطرت پرته ده
ښکاری طبعیت کښې د ګلونکې له مودو ګرمی ده

خومره ئې دواړه د نظر په لار راڅخت کړو ، مینې
هر څو که بوئی دے د خولو ـ د ورځو شپو ګرمی ده

زړه مې هم وسو ـ بدن هم ـ د مخ کاسه هم توره
څومره عابده د هجران د اسوېلو ـ ګرمی ده

۱۵ـ اګست ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خېل کوز مردان

☆

ما په تا پېژنې ګله ـ تا په ما پېژنې خلق
هر نظر د منېانو اوس اشنا ـ پېژنې خلق

دا له يو بل لرې ناسته هم ښکاره پېژندګلو ده
هر سړے به دې پوهېږی ـ هره غلا پېژنې خلق

تا زما په نامه وژنې او ما ستا په نامه وژنې
څومره ما پېژنې خلق ـ څومره تا پېژنې خلق

ته چې پاڅېدې روان شوې ـ شوه ښکاره د رقيب طمع
اوس اشنا د بې قراره "زړه درزا" پېژنې خلق

ته کۀ هر څو ګرېوان پټ کړې ـ نوم د يار دې اسوېلے کړې
څۀ نه څۀ خو دې عابده ـ خامخا پېژنې خلق

۱۸ اګست ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خيال کور مردان

☆

منزل ترینه ورک شوي ـ ژړېدونکے قافلې دی
دې ښار کښې د دړدونو ـ وسېدونکے قافلې دی

ملګرو هېڅ بې هېڅه شوګېرې دی د یادونو
نۀ تلونکے قافلې دی ـ نۀ راتلونکے قافلې دی

لمن ورته خوره کړه په تاوده زمکه د دور
اشنا اوښکې لېمو نه بهېدونکے قافلې دی

چې تۀ ورله رانغلې ـ په شړنګار د زولنو هم
له خپلې زوره ـ ګوره پرېوتونکے قافلې دی

بې واره مې عابده زړۀ درزېږی ژبه ګونګه
ښکارېږی د یار در ته رسېدونکے قافلې دی

۱۳ ـ اګست ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خپل کور مردان

☆

بې مخې وڼه ساتلې په وعدو کښې زنځیرونه
هم لاس مې بندیوان شو او پښو کښې زنځیرونه

نه ژوند څۀ وده مومي ـ نه قلم څۀ لري زور
دا وخت اچولې دلته ارادو کښې زنځیرونه

بو سا هم په راحته چا وانخسته ـ خوانې کښې
پراته دي د نیضونو په مرو کښې زنځیرونه

ملګرو هر قدم کښې کربلا ده ـ تنده جرم
سماج اېښې د ژوند په ضابطو کښې زنځیرونه

په خپله به عابده زلفې وسپړي ملاله
که خوبنه دې وی یاد به کړو نغمو کښې زنځیرونه

۲۷ـ اګست ـ ۱۹۹۲ء
سحر ۹ بجې خیل کور مردان

☆

زما زړه کې په خندا شو ـ د نظر کلی ته راغے
پسرلے ستا د یادونو ـ د خیګر کلی ته راغے

ستا د زلفو بلا واخلم ـ ستا کتل له تازه څه وه
لکه شپه کیږي ناخبره سپین سحر کلی ته راغے

څه د مینې ابتدا وه ـ څه زما زړه نابلده
یو خبره هم وه شوه ـ که دلبر کلی ته راغے

اے د حسن په غرور کیږي ـ له خان ورکه ژوند دې ډېر شه
ته راوګوره ـ کهکشې ـ که اختر کلی ته راغے

ستا د مینې جنون څه دې ـ له عابده تپوس وکړه
لکه ستړے چې له ښاره ـ مسافر کلی ته راغے

۲۹ ـ اګست ـ ۱۹۹۳ء

سحر ۱۰ بجې ـ بازارکې مردان



څو مره تنها يمه ـ ته خيال خو وکړه
لېږ خو راوګوره ـ څۀ خيال خو وکړه

ژوند ناپاياوه سمندر دے اشنا
ما ډوبوی ـ لږ په دۀ ـ خيال خو وکړه

بيا به سيا ئې راروان په سلګو
څله ورځې ور له زړۀ ـ خيال خو وکړه

ما هم د خان سره په زړۀ کښې ځائے کړه
ته خو زما ئې لېمۀ ـ خيال خو وکړه

څوک پردے نۀ دے ستا عابد دے اشنا
ته سوچ خو وکړه لږ ـ بېنۀ خيال خو وکړه

۲ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء

ماښام ۷ بجې په لار لاره بازار کښې مردان

☆

ما زړه کېنې نيولی دی يو تا زړه کېنې نيولی دی
نور وايه دردونه د وخت چا ـ زړه کېنې نيولی دی

نه راځي اظهار ته مې اشنا ستا د تصوير په مخ
کوره کۀ رنګونه مې بلها ـ زړه کېنې نيولی دی

کوم دے ؟ د ديدن ياد ئې هم ګوره تر ما راتغے
ډېر کۀ مې فالونه د دنيا ـ زړه کېنې نيولی دی

چرته ګلاب مخے مسکے شوې دے ـ بېګا داسې
درد چې مې ځو ځړيکې ګوره بيا ـ زړه کېنې نيولی دی

چا نه تپوس څۀ کوه ـ عابده د اشنا د کور
څۀ پته چې څۀ خلقو په غلا ـ زړه کېنې نيولی دی
۵ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
ماسخوتن ۸ بجې په لاره لاره بازار کېنې مردان

☆

منم چې تله دې زده کړل ـ خو راتلل هم ضروري دی
د وخت په قدم ځۀ نه ځۀ ورتلل هم ضروري دی

حیران یم ـ لاس مې نۀ خي ـ د بنائیست د ژوند مری له
وربل کښې دې ګلونه کېښودل هم ضروري دی

خاطر ستا د حیا مې د رقیب چم نه راستون کړی
اشنا د پښتو لار ده ـ ودرېدل هم ضروري دی

تن خاورې د کوڅې مې دورې نۀ کړی په یوکو هم
خاپوڼه دې د پلونو ورانول هم ضروري دی

ورځ هم تېرله عابده ـ انتظار په مخه یوړه
زړۀ وائي ـ شپه په غم رڼول هم ضروري دی

۱۰ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
غرمه ۲ بجې خیل کور مردان

☆

اشنا خط کښي درلېږمه ـ ګلونه به تحفه کښي
قبول مې کړه اوچ شوی ـ ارمانونه به تحفه کښي

مودې وشوې چې لار د محبت شاره پرته ده
توکل وکړه ـ راوبخښه ـ لوظونه به تحفه کښي

ستا نوم دے ـ چې مې نوم سره یادیږی له هر لوری
وختونه دی راوړې "ډا" پېغورونه به تحفه کښي

ما زړه درکړو ـ چې سوال دې د نظر به ژبه وکړو
تا راکړل به بدل ګله دردونه به تحفه کښي

نه یو خل خو لاس وغواړه اشنا له عابدانو
همېش له درکوی به خپل سرونه به تحفه کښي

۱۱ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۱ بجې خېل کور مردان

☆

(یخوا به چې کولې مونږ "د چا د کوڅې خاورې")
ما پټې به راوړې موتی کښې ستا ـ د کوڅې خاورې

ما ستا سترګې به پټې کړې ـ تا زه به خان ته جخت کړم
ستا یاد دی چې نوستلې به هوا د کوڅې خاورې

دا څوک لېونی نخښې د کمان ګوری زړګی له
په لیو به سر نولی به خندا ـ د کوڅې خاورې

اشنا څه بختورې وې ـ هر چا به یادولې
څه ستا د کوڅې خاورې ـ څه زما د کوڅې خاورې

عابده که وختونو کړمه ورک هر څو له خانه
یادیږی به تر عمره راته "دا" د کوڅې خاورې
۱۲ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
سحر ۸ بجې خیل کور مردان

☆

" زړۀ سره به څۀ کوې - خپګر سره به څۀ کوې
خې دقاتلانو چم ته - سر - سره به څۀ کوې"

ما ویبل د زړۀ کلی کیږي - زړۀ له پکار دے ځائے
ووئیل هوښیار ښکلی - نظر سره به څۀ کوې

خبر دے کۀ مو شپه راشي - په لار د نظر زلفو کېږې
دوه چې بیلوی هغه سحر سره به څۀ کوې

خې - زما چې نۀ مني - ضدی زړګیه ووایه
لاره کې به څۀ کړې پورې ور - سره به څۀ کوې

یو اوښکه خو نۀ وی - وایسی کیږي د ګل - کلی نه
سوچ وکړه عابده - سمندر سره به څۀ کوې

۱۴-ستمبر-۱۹۹۳ء

سحر ۱۰ بجې خېل کور مردان

د غزل مطلع د زاهد چاچا

☆

چمن خولې خولې دے ـ رنګيني خوله خوله ده
اشنا د وخت په لاس کښې ـ زندګي خوله خوله ده

شرمیږي ستا له مخه ـ له حيا نه ښکته ګوري
په پاڼو د ګلونو الواني ـ خوله خوله ده

ښکاريږي چې ئې بيا جوړ اوربدلی د واعظ دی
پرته چې په تندی نن د ساقي ـ خوله خوله ده

شوې اوچې اوچې شونډې ترمکيا مې په خيالونو
پرته لکه شبنم په اندګي ـ خوله خوله ده

بيا هم د زړه په سيند کښې ـ د بې مخو ورډوبيږې
عابده کۀ دې ټوله شاعري خوله خوله ده

۱۶ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
مازيګره بجې بازارکښې مردان

ورمېږے ملاقات

هاغه د ګل د خوربدو په شان لمحه د ديدن
هاغه د زرۀ د درزبدو په شان چپې د هوا
هاغه د هرۀ تېزې سا په شان اوتر وختونه
هاغه د مست سپرلي د جشن په شان ستا نازونه

تاته يادېږي هاغه شرم او حيا د نظر
زما خو اوس هم کېفيت د ناقلاره زړګي
ستا هر نظر باندې شي داسې په درزا کېنې اوتر
لکه چې هر ملاقات وي زمونږ ورمېږے ملاقات

۱۷۔ستمبر۔۱۹۹۳ء
ماښام ٦ بجې بازارکېنې مردان

☆

زړهٔ مې قسم هلته د تلو اراده نهٔ کوي
چرته چې بې مخې د وعدو اراده نهٔ کوي

خې به لاره وخاندي ـ خو وګوري به بل طرف
مینه د لحظو کړې ـ د مودو اراده نهٔ کوي

خان رسول غواړي ـ لیدل غواړي ـ په لحظه منزل
څوک ولې د تللو په لمبو ـ اراده نهٔ کوي

خبر دے چې دې زړهٔ نهٔ دے ـ مخ مهٔ بنایه ـ خو مهٔ پرده شرط
دومره زر احساس مې د کمڅو ـ اراده نهٔ کوي

ناست دې عابدان دي ـ د مخ نمر ته د وېښتو په سر
چپ شه په دې وخت څوک د توبو ـ اراده نهٔ کوي

۱۸ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
سحر ۹ بجې خیال کور مردان

☆

هسې مو ټول عمر انتظار ته سترګې سپینې شوې
یوړۀ ګل رقیب ـ زمونږ بهار ته سترګې سپینې شوې

پرېوتۀ ـ فنا شو ـ کۀ ما ستورې ته هم وکتل
تور د محبت کښې مې خپل وار ته سترګې سپینې شوې

ما خو داسې نۀ غوښتل ـ چې خامخا اقرار وکړې
ګله په اتبار کښې مې ـ انکار ته سترګې سپینې شوې

دې دور بلها وختونه مونږ نه اشنا وتروړل
ستا چم کښې مو یو لمحه اختیار ته سترګې سپینې شوې

نۀ پخپله راغے ـ نۀ ئې خط عابده ولیکۀ
یار ته سترګې سپینې شوې ـ ربار ته سترګې سپینې شوې

۲۱ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء
ماښام ۶ بجې بازکښې مردان

☆

سحر چې ستړګې مړې هم ماښام خفه خفه دے
نور هیڅ خبر نشته ۔ خو ګلفام خفه خفه دے

خولې د پرېشانۍ دی لکه اوښکې د لېمۀ نه
په مخ دې د زلفانو هر یو لام خفه خفه دے

نغمه د ژوندګۍ لکه په دار چې وی ختلې
ګلرنګ خفه خفه دے ۔ ګل اندام خفه خفه دے

سپرلې په شتۀ ګلونو کېږي ۔ ازغو له غاړه ورکړه
حالات چې دی پرېشانه ۔ ټول نظام خفه خفه دے

ارمان مې راته ښکاری ۔ خودکشي کوی ملګرو
مړی خبې ده ۔ د ژوند ګام خفه خفه دے

وه خدائے خبر چې څۀ سرور ۔ د کوم ښکلې نظر کېږي
عابده زړۀ څۀ بل شانې ګمنام خفه خفه دے

۲۳۔ستمبر۔۱۹۹۳ء

غرمه ۱۲ بجې بازار کېږي مردان

☆

يه ګلي قهد شوي ارمانونه ازادي غواړي
زلفو له څنډ ورکړه ـ بهارونه ازادي غواړي

خدائے له باره بوټي دې کړه ـ يادونه لېوني د وخت
سنا له تصوره مې خوبونه ازادي غواړي

پرېږده چې ډيوه مې د ژوندون ګلونه ونيسي
ګوره له سحره ـ ماښامونه ازادي غواړي

خې چې ترې لاسونه د ستم مرونډ کې ونيسو
وشولې موډې چې ګرېوانونه ازادي غواړي

هر خل به مري وزله سماج لاسونه ايښي دي
ګله هم ملګرو چې وختونه ازادي غواړي

بيا جوړې عابد به کانو ولي د قد سپورے نن
بيا جوړ له پاګله ـ خپل شعرونه ازادي غواړي

۲۵ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء

سحر ۹ بجي خپل کور مردان



نن ډېره موده پس دې بيا په پلونو باندې لاړم
ياد راغے د ځوانۍ ـ چې په ګلونو باندې لاړم

ستا غم د جدائ ځو ناسې ونوستم چې ورک شوم
نن خپل کور ته ظالمه ـ تپوسونو باندې لاړم

د زړۀ ډاډ له ثانی ستا د مرو ستړګو پېدا نۀ شو
کۀ ناوې د خُمار له ـ په جامونو باندې لاړم

خاپونه کۀ مې وخت د قدم وران کړۀ ستا په چم کښې
په نخښتو د "لمنې په تارونو" باندې لاړم

قرار مې د نرې زړګی عابده پېدا نۀ کړو
په ډېرو کوڅو لاړم ـ بازارونو باندې لاړم

۲۷ـ ستمبر ـ ۱۹۹۳ء

غرمه ۳ بجې بازار کښې مردان



نامه که هرې سا کښې دې راخی هم جدائی ده
زمونږ څومره نږدې ده اشنائی - هم جدائی ده

عمرونه وشو - بیا هم د یو بل زړه کښې وسیږو
د ګل هسې بیل نه شو له ازغی - هم جدائی ده

وسیږو یو محلت کښې - ولې بیا هم سروقده
دیدن باندې راغلې قحط سالی - هم جدائی ده

هر درد کښې ستا نامه اخلی - درزیږی نه صبریږی
زمانه خو اشنا د خپل زړګی هم - جدائی ده

هر شعر کښې د فراق یوه قیصه کړی غږونې
عابده حقیقت کښې شاعری - هم جدائی ده

۲۹-ستمبر-۱۹۹۳ء
سحر ۱۰-بجې خپل کور مردان

☆

زړه که مې غوښتې ـ ولې نظر مې درکتې نه شو
کوره یو کوڅه کې چې ـ سحر مې درکتې نه شو

ستا چې د بنائېست هغه دروند والې مې نظر کښې وه
ډېر که مې کوشیش کړه ـ زړور مې درکتې نه شو

نه که د سپرلی هسې چپه شولې ـ راوالوتې
زه خزان زېلې وم ـ بهر مې درکتې نه شو

یاد د هاغه وخت راغے ـ چې دواړه ناشنا وه لا
ډېر که به یو خائے شو ـ خو اکثر مې درکتې نه شو

ستا د اقرار زور هم د عابد د زړه زور ختم کړو
شاته دریسې په هېڅ هنر مې درکتې نه شو

۴ـاکتوبرـ۱۹۹۳ء

سحر ۱۰ بجې خپل کور مردان

☆

اوس هاغه زور مې نظر ـ چرته لری
خواني تول عمر اثر ـ چرته لری

ډېر کۀ دوکه کړمه خان ـ وخم بهر
بې له تا خوند مازیګر چرته لری

ډېر شکلي راغلۀ د ژوندون په لیکه
هر څوک په شونډو کوثر چرته لری

ډېرې مې زړۀ کښېې دی ـ خو څۀ ووایم
تاته خیرې مې سر ـ چرته لری

خاندی عابده چې اکثر څې په لار
ولې پوئې نۀ شوم ـ چې در چرته لری

۱۲ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۰ بجې خیل کور مردان

☆

بیا مې زړۀ دروزېږی ـ ښکاری تۀ راځې
شپه نه سبا کېږی ـ ښکاری تۀ راځې

نن چې له مودو خفه خفه سپرلی
خاندی خوشحالېږی ـ ښکاری تۀ راځې

دوبې ډوبې اوښکې ـ چې مې سترګو کښې
خائے ګوری شرمېږی ـ ښکاری تۀ راځې

بیا د نړېدلی زړۀ په کور کښې مې
شمع چې بلېږی ـ ښکاری تۀ راځې

دا چې له غمونو ډک ـ پرېشان عابد
خان سره خندېږی ـ ښکاری ـ تۀ راځې

۱۵ـ اکتوبرـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱ بجه خیل کور مردان

☆

کل رانه مخ اړوی ـ ازغو راته شا کړې ده
لاره کښې د ژوند خپلو ـ پردو ـ راته شا کړې ده

دا دې د دې دور اصلیت ـ ملګرو ومنی
چا ته چې مې خان وې تل ـ هغو راته شا کړې ده

واچوه مستی مې د خوانی پکښې چې واخلی ژوند
اے ساقی ـ شرابو ـ پیمانو راته شا کړې ده

دا خو زۀ منم چې محبت نیغ کتل نۀ منی
زړمه به دې ـ چې شونډو سرو راته شا کړې ده

لاړله عابده چې دې خپله خوانی تته شوه
مۀ وایه دروغ ـ چې ائینو راته شا کړې ده
۱۶ـاکتوبرـ۱۹۹۳ء
سحر ۹ بجې خپل کور مردان

☆

عادت دے د بې مخو ـ چې ځی ـ شاته شاته ګوری
زړګیه خوشفهمی ده ستا ـ چې تاته ـ شاته ګوری

خوانی ـ کۀ بېغلتوب دے ـ یو چپه د زیړی نمر ده
نۀ تا ته شاته ګوری او نۀ ماته شاته ګوری

د اوښکو په باران کېبې لکه تندر مې په زړۀ شی
خندا کېبې ـ چې ظالم زما ژړا ته ـ شاته ګوری

"قرار" په مې زړۀ سترے ژوند ـ په کوم جواز ګواه کړی
سپرلی ستا د یادونو چرته "چاته" شاته ګوری

عابد دے چې بس ناست وی ـ تر سحره ستا په لار کېبې
دې شپو کېبې وایه څوک ګنی اشنا ته ـ شاته ګوری
۱۸ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۱ بجې حقیل کور مردان

☆

چرته به يو بنګلے شي دوکه ـ خط به راوليږي
ختمه د تريخ ژوند به شي قيصه ـ خط به راوليږي

دومره هم بې پته خو خبر نه دے ـ چې ما هېر به کړي
زړه کښې خائے به خائے مې طمع شته ـ خط به راوليږي

وائي هر يو څاڅکے مې د مخ د پرېشانۍ خولې
تېره به شي دا وړه لمحه ـ خط به راوليږي

دومره هم کلک نه دے ـ به زړګی ـ بې له ما ـ ومنه
خبر دے کۀ شوه تېره زمانه ـ خط به راوليږي

خمه جواب ليکمه له مخکښې ـ ماته پته ده
ته عابده ګوره تماشه ـ خط به راوليږي
۱۹ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۳ء
ماښام ۷ بجې حقيقل ګوړ مردان

☆

يو وره خيره وه ـ وړه شوه په خيرو كښې
وړې وئيل ـ "وړې خمه كوره شپه شوه په خيرو كښې"

وړې نيوۀ زړ لاس زما ـ مسكې شوه اوښكې ئې وچې كړې
"ته او زه" ئې ووې ـ نوره غله شوه په خيرو كښې

نۀ ئې شو نيوې په سر پروني بيا ـ راخكي شو تول
تله ـ چې په جواب مې شرمنده شوه ـ په خيرو كښې

ستورو سترګې پټې كړې ـ نمر مخ نه زلفې لرې كړې
څومره د سحر زر اوازه شوه ـ په خيرو كښې

پوئې شوم د ربار په خبر ـ ويښ شومه ـ بېدار شومه
ژبه چې ئې ستا په نوم اوده شوه ـ په خيرو كښې

پاڅېدم روان شومه ـ عابده ـ شومه غلې زر
ياده راته ستا د غم قيصه شوه ـ په خيرو كښې

۲۰ـ اكتوبر ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۹ بجه خيل كور مردان

☆

نه کۀ زما د لارې ـ ورتې زۀ ستا د لارې
مینه به خدائیګو نیمه خوا شي د وفا د لارې

منم چې زړونه د وخت لاسو کښې مجبور دي ولې
نه ما د لارې سترګې وخکلې ـ نه تا د لارې

د زړۀ دروزا مې وه بې کوره بیا سحره یورې
یار چې واپس شولو رقیب سره ـ بېګا د لارې

خدائیګو زړګیه چې به خیال کښې به ئې هم نه راځې
هسې ستا وهم دے ـ چې را به شي اشنا د لارې

څو مره مې خیال ساتی عابده ـ کۀ وی شپه کۀ سحر
ماله قسمت راوړی زړا ـ تل د خدا د لارې

۲۸ـ اکتوبرـ ۱۹۹۳ء
ماښام ۷ بجې بازار کښې مردان

☆

ستا د وربل د سېورې خيال دے ـ ستړکې نه غړوم
زوند مې اشنا کۀ په هر حال دے ـ ستړکې نه غړوم

لا به ئې زور د نظر زيات شي ـ کۀ ور وۀ مې کتل
راته معلوم د قسمت فال دے ـ ستړکې نه غړوم

يو خوا دې مخ سور له غصې ـ بل څاڅکې څاڅکې خولې
هار کې راغلې پشکال دے ـ ستړکې نه غړوم

يا به څې ـ بوئې به شي ـ دا زور د مينې ډېر ظالم دے
په موډو پس راغے ـ ملال دے ـ ستړکې نه غړوم

غله ورورکورم ـ چې لاس مې تر لمن هم نه څي
هر خوا عابده لوئې ډېوال دے ـ ستړکې نه غړوم

٦ـ نومبر ـ ١٩٩٣ء
غرمه ٣ بجې بازار کلې مردان

☆

لاړه ـ چې درد ئې پېژندهٔ ـ په خوږ ځيګر پوهېدهٔ
وه په تول ښار کښې يو سړے ـ چې په نظر پوهېدهٔ

هر خوا د خاورو چورلکونه ـ هر خوا وچې پاڼې
ښکارى موسم هم ستا د تللو په خبر ـ پوهېدهٔ

څوک چې راتلهٔ مخې له ـ سترګې ئې شوګير اخستې
ښکارى مئين دې وو ـ په شپه ـ نهٔ په سحر پوهېدهٔ

ځانه چې وهٔ مې کړو تپوس ـ وهٔ د روزګار په لټون
نهٔ څوک دننه په ژوند پوئې ـ نهٔ څوک بهر پوهېدهٔ

ستا کاڼى زړهٔ کښې ئې چينه د نظر جوړه نهٔ کړه
اشنا عابد کهٔ د دنيا په هر هنر پوهېدهٔ
۷ـنومبرـ۱۹۹۳ء
سحر ۸ بجې خيل کور مردان

☆

ستا په لوظونو کښې ازغې ـ ستا په وعدو کښې کاڼې
زما قسمت دے ـ چې راخیژي په تحفو کښې کاڼې

ښکارې تصویر مې د زیر مخ جوړ ورته ښکارې پکښې
دا چې بې واره اشنا ولې ـ په اوبو کښې کاڼې

راغر خو هر ذکر چې څې ـ د رقیب نوم ته رسي
کړی دی خان سره ظالم کوره جرګو ـ کښې کاڼې

سوال مې هم خدایه د تعلق د پرېکړو نه منی
بیا بیا رالیږی هم د مینې په خوږو کښې کاڼې

ما د هر لفظ شاته مطلب جدا جدا ایښې دے
غځه وشو ښکارې که "ردیف" په قافیو کښې (کاڼې)

دلته کښې هر سړے تش کرنګ هم د ژوند طمع کښې
څوک هم تپوس نه کړی چې ولې دی کاسو ـ کښې کاڼې

ښکارې ـ چې بیا دې جوړ نامه چا په غزل لوستې ده
ویشتې له قهره ئې عابده دی کوڅو کښې کاڼې

۸ـ نومبر ـ ۱۹۹۳ء
خیال کور مردان

☆

ما هم تصور کښې یوه شپه د خندا اېښې ده
پس په ژړاګانو مې پرده د خندا اېښې ده

هره شپه په ماته ائينه کښې خان ته وګورم
خان له مې پخپله بهانه ـ د خندا اېښې ده

کورو د قدم نخښې په شګو کښې د زړه درد له
څنګ مو له غمونو نه ګيله د خندا اېښې ده

مونږ هم د دې شپو چپو وهلی "سترې خلق" يو
مونږ هم په مړو زړونو کښې دوکه د خندا اېښې ده

وخندل غزل پورې ملګرو مې عابده نن
وې وئيل "دا تا څۀ قافيه ـ د خندا اېښې ده"

۱۶ ـ نومبر ـ ۱۹۹۳ء

خيال کور د غرمې ۳ بجې مردان

☆

نظر ئې پوهه بنائي د لالي کۀ عمر کم دے
لرې رنګينې ډېره ـ د سپرلي کۀ عمر کم دے

ناڅاپه يو ادا ئې بلها مړې راژوندې کړې
شراب کۀ د موسم دي ـ د ساقي کۀ عمر کم دے

اشنا تۀ څۀ خبر بې د "احساس" يوې لحظې نه
د د درد اوږده لمحه ده ـ د "زيرکۍ" کۀ عمر کم دے

مرګ ناځلې چې عمرې دے ـ هر ستړے مينه پرست دے
لاس ژوند ورکول غواړي ـ مني ـ کۀ عمر کم دے

د وخت د هر کتاب عايده توله خلاصه ده
د ځړيکې کۀ ژوند نشته دے ـ د سوي کۀ عمر کم دے

۲۴ـنومبرـ۱۹۹۳ء

غرمه ۱ بجه فيصل جرمات اسلام اباد

د ـــ خط

ګرانه ـــ ؟

ته څنګه یې ـــ ؟

د خپل حال په درته څه وایم خو ـ بس ـــ ؟

هر خوا سیلۍ ده وچې پاڼې چورلکونه وهي
نامه د ژوند د وچو شګو په تندې ورکه ده
د سپرلي مخ په لمن پټ دے د خزان د لاسه
هره کوڅه لوګې ده هر منظر ویرانه
هر اسویلي کښې د خندا د اشارو یادونه
په تورو شپو کښې د سبا د رڼاګانو خواهش

او نور ـــــــ ؟

یو داسې لاره چې هیڅ څوک پرې هم تیر نه کړي
یو داسې زخم چې وختونه پرې اثر نه کړي
یو داسې ساز چې د مطرب په انتظار ولاړ دے
یو داسې لاس چې پکښې هار د حسروتونو اوج شو
یو داسې طمع چې وخت چېو کښې ستړے
هر یو ارمان په دار خوړند ـ هر یو خواهش مې زړې
بس خو خبره لنډه دا چې مې د زړه دنیا کښې

څه بل څه هم شته ـ چې هیچا ته ئې څه پته نشته
ستا ـــ ؟

۳۰ ـ نومبر ـ ۱۹۹۳ء

مازیګره بجي خیل ګوړ مردان

☆

د ګل د چم نه مې پل ـ لرې دے ډېر لرې دے
لا خو د مينې منزل ـ لرې دے ډېر لرې دے

دا هم يو مرګ شو ګڼله ـ دوباره اتبار کېږي بيل شو
چا وې چې وخت د اجل ـ لرې دے ډېر لرې دے

رادې شي ودې وينې ـ زما غزل کښې پروت دے
يارانو وې تغزل ـ لرې دے ډېر لرې دے

چې قرار غواړې له ژوند ـ بيا به تپوس نه کوې
زړګيه خه مسلسل ـ لرې دے ډېر لرې دے

لا خو دې اوس شورو کړو ـ زما کتاب عابده
لا خو مې بنه شان غزل ـ لرې دے ډېر لرې دے
۳۰ـ نومبر ـ ۱۹۹۳ء مردان

سپوږی

بیا چرته یو شو د دوو تنو سپوږی
بیا د چا شونډو رخسارونه ښکل کړه
بیا د چا سترګو اجازت وغوښتو
بیا د چا مخ نه خولې وڅڅېدې

بیا د یادونو سپوږی وخاندل ستا
بیا ستا د زلفو خوشبوئی خوره شوه
بیا ستا د مینې چپه بیرته راغله
بیا ستا د نوم سازونه وغږېدل
بیا د دردونو نمر زما راوخت
بیا مې په سترګو شوه وریځ راخوره
بیا مې د تندې سیلی والوتله
بیا مې ازغو د تمنا وخاندل

بیا مې ماښام نن تر سحر وژړل
زما له کور ئې تر ستا در وژړل

۱ـ ډسمبر ـ ۱۹۹۲ ء

ماسخوتن ۹ بجې خیل کور مردان

ترجمه ارو ادب ته



هره لمحه د انتظار تصویر وۀ
تمامه شپه ـ ستا د رخسار تصویر وۀ

'' هغه تصویر مې چا الیم نه پټ کړو
کوم یو تصویر چې مې د کار تصویر وۀ''

هیچا ترې "کاڼی سترګې" ونۀ خکلې
خدایه دا څومره ګناهګار تصویر وۀ

بیا ئې هم وې ـ شومه دوکه په رقیب
ورته کۀ پروت زما په لار تصویر وۀ

خوب ئې له ما عابده وتښتوۀ
هغه تصویر څومره بېدار تصویر وۀ

۲ـدسمبرـ۱۹۹۲ء
د شپې ۱۲ بجې خېل‌کور مردان

☆

چې ستا له زلفو نه راتلله ـ په خندا هوا وه
پرون دې شاړه کېږي اختر وه ـ په ګډا هوا وه

د هجر شپه کېږي صرف خيال هم د رخسار شو جنت
ځه جادوګره او دلکشه د ښکلا هوا وه

"ستا د طلب د کوڅې هم ځه عجيبه موسم وه
هوا محل غونډې راتله ـ محل هوا هوا وه"

نخښې ئې ستا د پلونو ستا مئين نه پټې نه کړې
کنې د مينې په صحرا کېږي خو بلها ـ هوا وه

چا هم عابد نه تپوس وه نه کړو د مغ د خولو
په هاغه ورځ چې په تپول کلې ـ د پوه ما هوا وه
۳ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۰ بجې خيال کور مردان

☆

ستا د انتظار وریځې رانغلې
چرته د اتبار وریځې رانغلې

ستا د جدای پرونی شپه تویه
راغلې په تاتار وریځې - رانغلې

ماته د دې وخت د قانون پته ده
یو خل په هائې - زار - وریځې رانغلې

وسوزېدوه ستا د تصور په نمر
چرته په دې بنار وریځې رانغلې

مونږه که عابده وینې ورکړلې
دلته د بهار وریځې رانغلې

۷-دسمبر-۱۹۹۳ء
د شپې ۱۰ بجې خېل کور مردان

☆

دواره به يو بل ته شو نږدې څۀ پته نۀ لګی
کوره د حالاتو د دې شپې ـ څۀ پته نۀ لګی

خال دې باچا اوسه ـ د سپين مخ په جاګير ـ وخانده
دلته د ژوندون د يو لحظې څۀ پته نۀ لګی

ستړے شوم ـ ارمان مې د چا پته لکه لاس کښې ده
چرته هم د مينې د کوڅې ـ څۀ پته نۀ لګی

دلته هميشه د ژوندون تږو ـ مرګ کوټلې دے
دلته د ساقي او پيمانې څۀ پته نۀ لګی

مۀ راروۀ سترګې شرابي دې انګوری لبالا
کوره د عابد د زړۀ ـ توبې ـ څۀ پته نۀ لګی

۱۰ ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء

مازيګر د پښتو تحريک د اجلاس په دوران کښې



لاس راکړه ـ دا زمې يخ ـ زړېـ مازيګرے دے
تبريږی ډېر ضد مۀ کوه ـ وړے ـ مازيګرے دے

رانجۀ د چا په اوښکو کېږي ـ ملګری شو راتوې شو
وريځې د باران شولې ـ سکڼے مازيګرے دے

وراتۀ به شی ـ خواران د جنت ور کېږي ـ سپورے بۀ دے
بې وخته ولې زلفې دې تړې ـ مازيګرے دے

موسم د محبت اوس هاغه نۀ دے ـ چې دعا شی
قليږی راته ولې ښېرې کړې ـ مازيګرے دے

سرو سترګو کېږي دې اوښکې حالت ښائی د خوبونو
منمه چې عابده بۀ رڼے مازيګرے دے
۱۰ـ دسمبرـ۱۹۹۳ء(صوتی قافيې)
د شپې لس بجې خيال کور مردان

☆

ېې ستا له سترګو وایه ـ دی نور څۀ ـ د ژوند په لار کښې
دروغ دی ـ چې څوک وائی ''شته خوارۀ'' د ژوند په لار کښې

څۀ هسې هم اسان جدا کېدۀ نۀ وۀ هغۀ نه
څۀ تلو تلو کښې په شا ئې راکاتۀ د ژوند په لار کښې

دوه څاڅکی د شبنم لکه پراتۀ د ګل په پاڼه
ستا ''یاد'' دے او زما ناقلار ''زړۀ'' د ژوند په لار کښې

چا غوږ کښې د ګلونو وو وئیلې ''بهار راغے''
له ویرې نوستې نوستې وۀ پراتۀ د ژوند په لار کښې

یا هم عابد ونۀ وې ـ چرته بد ئې په دروغه
یارانو کۀ هر څومره په ویشتۀ د ژوند په لار کښې

۱۲ـ دسمبرـ ۱۹۹۳ء
سحر ۹ بجې خېل کور مردان



خدائے دې له نظره ـ خلق وساته
مهٔ وژنه دلبره ـ خلق وساته

عمر له کونګې وې د اظهار ژبه
خدائے له زوروره خلق وساته

مهٔ پرپرده تعلق څه خبر دے مهٔ راخه
بس له دې "خبره" خلق وساته

چرته به دې راشي پکار ـ ژوند دې دا
ګوره د زړهٔ سره ـ خلق وساته

څهٔ به کړې منت د ساقي وګوره
سوال له د هر دره ـ خلق وساته

هاته ئې عابده د زور پته ده
خدائے له پورې ورهٔ ـ خلق وساته

۱۲ـ ډسمبرـ ۱۹۹۳ء
مازیګرـ مردان

☆

دا چې مرور په "تريو تندى" خېره کړې ده
نن په ورمبی خل مې د زړګی خېره کړې ده

هسې ستوماني وريځې نۀ وياسې ګلو ته
غوږ کښېني چا موسم ته شرابی خېره کړې ده

ستا د کمان سپرږو د ارمان لارې نيولې دى
ما درته د زړۀ سره وختى خېره کړې ده

بيا په دروازه مې چا د نوم تخته لوستلې ده
بيا مې سپور شعور ته پسرلى خېره کړې ده

ستا دې خنداګانو ـ بنکته سترګو شکى کړې يم
بيا دې څۀ نه څۀ شرارتى ـ خېره کړې ده

يو خل هم عابده ـ مخامخ ګل ته ولاړ نۀ يم
مښنغ کښېني مې اکثر چرته پردى خېره کړې ده

۱۹ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خيل کور مردان



سوال کومه یاره له تقدیره ستا
چرته زړۀ مړیږی له تصویره ستا

شوې مې اوزوګانې د پښتو فرې
لاړه لوبیته شوه ـ هواکیره ـ ستا

تا خو زما ژوند له ما اخستې دے
ما دی څۀ اخستې له جاګیره ستا

بڼۀ شو د رقیب د "خلې" رټلې خط
ماله خوشبو راغله له تحریره "ستا"

یې په نوم عابد ـ په زړۀ توبه توبه
بڼکلی تپول خیر دی له تفسیره ـ ستا

۲۲ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء
ماښام ۷ بجې خیل کور مردان

سندره

چې ستا د ناز خندا ویا و سپړلۍ سپړلۍ فضا وي
هم دا به مې جنت وي اشنا ـ دا به مې دنیا وي

هوا چې اوچو پاڼو سره لوبې کړي چورلیږي
سپوږمۍ چې راته ګوري په وریځو کښې پټیږي
زۀ پټ شمه ګلونو کښې او ستا زړۀ وارخطا وي

چې دواړه ځان له یو بله په زوره کړو پرېشانه
زۀ تا ته په کاتۀ ـ یمه تۀ ماته ئې حېرانه
ګلونه د چمن راته پسخیږي په خندا وي

چې دواړه کړو یو بل ته د عمرونو کیلي تولي
امېل د محبت له نوې پاڼې کړو راټولي
چې ستا د زلفو شپه کښې رانه ورک د مخ سپا وي

کبهاړې د تورو زلفو چې اوګو باندې پرتې وي
ساګانې تېزې تېزې وي ـ زیړې مازیګرے وي
ورمېږ ورمېږ دیدن وي ـ نظرونه مه ناشنا وي

چې جونې لاس په لاس راشي ـ خفه عابد خير کړي
يو خل ئې د دیدن په "باران" مور "تږے نظر" کړي
"احساس" چې راژوندي شي په سينو ـ کښې چې لړزا وي

۲۴ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء
د شپې ۱۲ بجې خيال کور مردان

☆

نیغ نیغ چې راګورې ـ راځي نا ـ خلق به څۀ وائی
داسې محبت ـ داسې اشنا ـ خلق به څۀ وائی

دا خو منحصره ستا په زړۀ ده که راځې کۀ نه
سوال ګله "زما" دې د دنیا ـ خلق به څۀ وائی

وامې خله ژوند خبر دے ـ خو د زړۀ قراره لږ صبر
وار دې چرته نۀ شی وارخطا ـ خلق به څۀ وائی

مینه چې مو راوسته اشنا د رواج لارو له
نۀ پخپله ووایه ـ چې دا خلق به څۀ وائی

هر وخت نۀ ورک شوې ئې ؟ عابده چې ناوخته شی
ګله ګله وایه لږ ریښتیا ـ خلق به څۀ وائی

۲۷ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء
سحر ۱۱ بجې مردان

☆

ځوک چې وي مئين په چا ـ اشنا شاعري نۀ پرېږدي
ځکه خو مې زړۀ ګوره په تا ـ شاعري نۀ پرېږدي

سره سره اننګي هم شونډې بوسې ـ هم کاږۀ کاتۀ
ستا ناز او ادا خو هم ښها ـ شاعري نۀ پرېږدي

هر وخت ستا د غم خولې هم ستا د چونګ اوبۀ ښکاري
ما خو شاعري ته ګلې "ثا" شاعري نۀ پرېږدي

خو چې د ګل ژوند وي ـ د ګل نوم وي ـ د ګل سا وي ګل
چرې د سپرلي مسته هوا ـ شاعري نۀ پرېږدي

زۀ د سترے ژوند په ها غه لارو کښې ولاړ یمه
زۀ ئې کۀ پرېږدم عابده ما ـ شاعري نۀ پرېږدي

۲۹ـ دسمبر ـ ۱۹۹۳ء
سحر ۹ بجې خېل کور مردان

☆

کهٔ تا د زړګی سره د لوطونو ژبې بړې کړې
مونږ هم د محبت د فریادونو ژبې بړې کړې

چې وخت مې د الفت د جواب راغے له بې روخه
دې دور مې ملګرو د سوالونو ژبې بړې کړې

دا څه د بې موسمه ګل خوشبو راوړه له داره
دا څه ؟ د څه مئين د ارمانونو ژبې بړې کړې

یارانو مونږه هره فیصله کهٔ وخت له ورکړه
دې وخت ظالم پخپله د وختونو ژبې بړې کړې

د نمر د وینو زور ئې چې سحر ته وېلې نهٔ شو
عابده دلته ډېرو ماښامونو ژبې بړې کړې

۳۰-دسمبر-۱۹۹۳ء

ماښام ۷ بجې خیل کور مردان



حسن دے کۀ عشق دے ۔ تلوسې دی ۔ سر ته نۀ رسی
دا د ژوند غځ دا رنګه قیصې دی ۔ سر ته نۀ رسی

مونږه کۀ خان ونوست لکه دوړه د هوا سره
بیا هم د وختونو تقاضې دی ۔ سر ته نۀ رسی

ما دې خان لیمو کښې ۔ تا مې اوښکو کښې خان ولیدۀ
لنډې فاصلې راته وږدې دی ۔ سر ته نۀ رسی

سوال دې زما شونډو کښې ۔ ترڅمره چې په "س" ولاړ
"ستا" په درشل "ستا" د نوم "سجدې" دی "سر" ته نۀ رسی

کوم ښکلے عابده تا د غېږې کمے وکښی
یو دوه نۀ دی ۔ ستا خو شل ګیلې دی ۔ سر ته نۀ رسی

۳۱۔دسمبر۔۱۹۹۳ء

د شپې ۱۱ بجې خیال کور مردان



رانغاړي چې ویښتهٔ هم نظرونه لویږه کښې
کول غواړي جوړ بیا په چا ـ ظلمونه لویږه کښې

ربیږی لکه ستوری د ولاړو ویو تل کښې
یدل دی د خولو دې نن ـ نیتونه لویږه کښې

ي اوښکو پړسېدلی سترغلی ـ له خوبه مخکښې
چا څښلي په یو جام دی شرابونه لویږه کښې

سپوږمی مې د ماضی خکه د مخ اسمان کښې ځلانده
ن دبړ راته چا کړی دی ـ ستونه لویږه کښې

یانهٔ د لوندو سترګو چا څنډلی دی لمن کښې
عابده کهٔ چا نوستي دی ـ ګلونه لویږه کښې

۱ـجنوری ـ ۱۹۹۴ء
د شپې ۱۱ بجې خیل کور مردان

☆

همېږي مې نه ـ هاغه سترګې غلې په تمبو کښې
د زړه د لاسه ژوند مې دې تړلے په تمبو کښې

لیکلي دي چا دره د غم غزلې په یو پانه
که لاسو کښې ګلاب دي ـ چا نیولے په تمبو کښې

ربېږي دې په مخ کښې د غصې د خولو څاڅکي
مستي کښې که شراب دي چا نوستلے په تمبو کښې

ما سوال همېشه کړے د زړه کور نه بنهٔ په مینه
راکړے تا اکثر جواب رټلے ـ په تمبو کښې

"وخت" خدائے نه دے عابده چې تر عمره به یو حال وي
په خپله به لاس وغواړی څوک بنکلے په تمبو کښې

۲ـ جنوري ـ ۱۹۹۴ء

مردان

☆

د زړه بې نوستې نوستې ښار کښې ستا یادونه ساتم
لکه شلېدلې زوړ کتاب کښې وچ ګلونه ساتم

ستا له خاطره خان خوشحاله کړمه ـ وخاندمه
هر څو که سترګو کښې اوښه ـ زړه کښې زخمونه ساتم

در نۀ شم ستا له وجې ستا "نۀ راتلۀ" خان پسې کړم
په تا اتبار کوم خندا نه دې لوظونه ساتم

تا خو مې نوم اخیستو شوندو کښې حیانسې کړو ـ هېر کړو
زړه دې لا اوس هم په البم کښې تصویرونه ساتم

لکه دیوه چې په سلګو د ژوند لمحې زیاتوی
داسې عابده تور نصیب کښې سحرونه ساتم

۷ ـ جنوری ـ ۱۹۹۴ء د شپې لس بجې خېل کور ـ مردان

☆

چا رېږولي دي ګلاب - اوبو کښې
راځي چپې چپې شباب - اوبو کښې

پرېږدي کيښتي د "زير کاغذ" مې په سوال
ظالم راليږي هر جواب اوبو کښې

داسې مې حال شوې د زړګي وينه کښې
لکه څوک واچوي شراب اوبو کښې

دا ستا رخسار وه په نري ځادر کښې؟
کۀ نه ښکاره شولو مهتاب اوبو کښې

چا چې ليدلي ستا مسکا ده يو ځل
نېغ ترې پرېوتي دي کتاب اوبو کښې

وې ليدې يا عابده اوښکې د چا
ډوبيږي زړۀ خانه خراب اوبو کښې

١٠ـ جنوري ـ ١٩٩٤ء خيل کور مردان



اشنا کمیږی نا په ناتارونو فاصلې دی
هر څو که پاتې شوې د کامونو فاصلې دی

مونږ هم ګوره د وخت ستم په کوم انداز جدا کړو
کورونه مو نږدې دی ـ د چمونو فاصلې دی

ملګرو محبت که د مودو شی خو نازیږی
د ګل او د ازغی هم له عمرونو فاصلې دی

شی خدائے خبر که کمې ـ په دمونو هم زړګیه
وختونو پیدا کړې چې د زړونو فاصلې دی

ټول عمر مې عابده که سفر د مینې وکړو
بنکاریږی چې لا اوس هم په میلونو فاصلې دی

۱۱ ـ جنوری ـ ۱۹۹۴ء د شپې ۱۲ بجې خېل کور مردان

☆

ښکاريږي چې چا کړې په نظر کښې ريښتنې دي
هر زرۀ اوتر اوتر دے ـ په هر ورر کښې ريښتنې دي

ګلونه دې وربل کښې په مستۍ دي سپرلي مخې
که نه د مئينانو د غر سر کښې ريښتنې دي

تر عمره باتې شوې دي ـ د مينې له منزله
ملګرو چا چې کړې په سفر کښې ريښتنې دي

سينه مې سور شفق خکه ريښې کړوان کښې ښکارې
قاتل راسره کړې مازيګر کښې ريښتنې دي

چا زلفې راخورې کړې ؟ که عابد ګل نه منت کړې
مابنام شو خو لا هاغه شان ګودر کښې ريښتنې دي

۱۶ ـجنوري ـ۵ ۱۹۹ء مردان



زړه ته مې راکوز کړلې چې ښکلې وې
ما ګڼې بلها ځېږې لېدلې وې

دا څنګ خېلولي ده ـ؟ چې پردې کړه خو
دې نه خو چې تلې نه راغلې وې

پاتې ومه نه تلمه ـ بیا چرې هم
تا کڼه مې لمن لېږه راخلکې وې

لېږ به مې موسم د زړه ښه شوې وه
زلفې کڼه لوندې دې راخندلې وې

بیا هم ته عابده ورله لاړلې
شل خله یارانو کڼه شړلې وې

۱۷ـ جنوری ـ ۱۹۹٤ء
سحر ۱۰ بجې خیل کرر مردان

☆

منمه چې مې نشته دې ـ تارونه په گرېوان کښې
ساتمه گله یا ستا خطونه په گرېوان کښې

یو څو د گلو پاڼې ستا د لاس ـ څو تصویرونه
جاگیر دے د مئینو دا "رنگونه" په گرېوان کښې

ملگرو پرانستل غواړی تنی د رواجونو
ښکارېږی همېشه زاړهٔ وختونه په گرېوان کښې

بې ستا نه لکه اونه د خزان یم په صحرا کښې
الوزی مې سپېرهٔ سپېرهٔ پاڼونه په گرېوان کښې

عابده وایه نهٔ خلې ترینه بیا گورې زرگے خپل
ږدی خان له د کار څیز همېشه ـ جونه په گرېوان کښې

۲۱ـ جنوری ـ ۱۹۹۴ء

ماهنامه بازار کښې مردان

☆

تاته مخامخ کتل هم لویه حوصله غواړي
لاس د زندګی وینځل هم لویه حوصله غواړي

ټیک ده تا خو وکړله پښتو - زړګیه - مینه کښې
خان ګوري په زور وژل هم لویه حوصله غواړي

لاړ شی که ملګرو په لمنو داغ زغملې شی
دلته په یو لاره تلل هم لویه حوصله غواړي

چرته مې ونۀ کتیۀ لۀ خانه ستا د مینه شرط
حال د خپل زړګی وئیل هم لویه حوصله غواړي

دا د خلې وینا نۀ ده عایده - چې خوشبو به شې
ګل نه محبت غوښتل هم لویه حوصله غواړي

۲۲ جنوری ۱۹۹۴ء

هغه ته ووایه؟

داسي دي ياد ېکا د نيمي شپي خوشبو شوه راغله
لکه باران چي په اوچو شکو په موډو پس وشي
لکه سپرلی په نيم کيتو تمبو کښي راشي کيښي
لکه چي ګل له خپله زوره پاڼي پاڼي خور شي
لکه چي نمر د غرونو شاته په وريخ کښي پټ وي
د سحر زړې د قاصد په خله کښي ګونګ ولاړ وي
لکه د پېغلي د زړګي يو ارماني منيته
له هر زيارته راستنه شي په سلګو نيکړي

لکه چي تږې د موډو د چا لېمڼه کښي اوښکي
ووينې ووهي په اوچو شونډو ژبه
لويه سا راکاږي مسکره شي وايسي روان شي
داسي تصوير ستا د رخسار ئي ېکا خوب کښي وليد

څو صرف دا نه وه خواني د عابد خار تانه
بيلها خبري وي چي نه راځي اظهار ته زما
هاغه خبري چي بل چا ته ئي څڼه پته نشته
هاغه خبري چي ئي مينه محتاجي کوی تل
هاغه خبري د عابد زړه کښي هم راغلي راشه

هغه ته ووايه ربياره بي له تا ګرانه ده
د ژړا بنار کښي په بيوازي سر خندا ګرانه ده

۲۶ـجنوري ـ۱۹۹۴ء د شپی ۱۰ بجی خيل کور مردان



ډېر چې دي په شا راکتل ۔ تلي ۔ زړه ته مې ښکته کړې
خوږ مې په نظر چې لګېدې ۔ زړه ته مې ښکته کړې

تلل ئې ستا ليدې نۀ شو ۔ اشنا د زور خبره وه
اوښکې چې مې سترګو ته راتلې ۔ زړه ته مې ښکته کړې

ستا د هرې سا د خوشبوئ له نزاکته خار
ګل مې لکه لاس کښې خوږېدې ۔ زړه ته مې ښکته کړې

نوره تجربه مې ستا د ښار د محبت نۀ وه
خلقو کښې چې ما نه ورکېدې ۔ زړه ته مې ښکته کړې

درد مې کړې ۔ زوږګے مې کړې ۔ وږمه مې کړې ۔ سپرلے مې کړې
څۀ په طريقې ۔ په تجربې ۔ زړه ته مې ښکته کړې

خار شه درنه ګله د عابد د ژمیتوب سپرلي
"تولو کښې نۀ ښکلے ښکارېدې" زړه ته مې ښکته کړې

۱۹۔جنوری۔۱۹۹۴ء

سحر ۹ بجې مردان

مقطع کښې اخری مصرعه کښې نيمه د زاهد چاچا

☆

بې ستا نه مې نیګړې ژوند لیدلې دے یوازې
دا جام له زهرو ډک هم ما ګوټلې دے یوازې

دا شور د هواګانو دا جلوس د اوچو پاڼو
څوک تلې دے یوازې ـ څوک راغلې دے یوازې

سپوږمې هم د خپل ذات د محبت یو ائینه ده
خبر نهٔ یم ـ چې خال دې په مخ ولې دے یوازې

خولې دې تندی ګونجو کښې خاندی ساقي ربی
ښکاریږی چې دې یا څوک رابللې دے یوازې

عابد تاله درغلې دے د ژوند په هره لاره
تا پرېښې دے ـ چې چرته دې لیدلې دے یوازې
۹ـجنوری ـ۱۹۹۴ء
مردان



اشنا زړه کښې مې ځائې کړلې ـ خپل ځان مې درنه جوړ کړو
یو زړه وم په ټول ښار کښې ـ چې جانان مې درنه جوړ کړو

هر څوک چې درته ګورى ـ د خپل ځان تصور وينى
د ژوند د افسانې هغه عنوان مې درنه جوړ کړو

احساس د محبت د اشناى مې درله درکړو
د مينې د قانون پوره انسان مې درنه جوړ کړو

هر زړه دې د خوانى د عمر زخم له لاس غوارى
هر څو کۀ مې قاتل وې ـ خو درمان مې درنه جوړ کړو

سپرلى به دې پښخپله اوس د فن چمن ته ګورى
عابده د مردان د غزل ځان مې درنه جوړ کړو

۱۷ـفرورى ـ۱۹۹۴ء

دیپشمنی ٤ بجې کور مردان

☆

نازک دے چې خان یو خل کړی خفه ـ نۀ خوشالیږی
وزګیه خان به ستړې کړې ـ راځه ـ نۀ خوشالیږی

سجدې چې به درشلو څوک کوی نو چاته ګوری
اشنا ګنی تندی باندې کعبه ـ نۀ خوشالیږی

یو خل چې ئې سودا ستا د ویښتو یوځې شین سترګې
بیا ګرځی اسویلی کوی ـ بنده نۀ خوشالیږی

حالت د ناقلاره زړۀ مې مرګ دے بې له تانه
پریشان دے ـ په هیڅ شان یو طریقه نۀ خوشالیږی

تو ځو چې د نظر د ګناهونو ـ سپرلی نۀ وی
ساقی عابد د مئیو په کاسه ـ نۀ خوشالیږی

۱۸ ـ فروری ـ ۱۹۹٤ء

د پښمنی ۵ ـ بجې خیل کور مردان

☆

سا ـ نظر ـ مستي ـ ژوندون ـ زړګے هم مې خواني ده ستا
تا چې راته خیال ووې ـ بس دا مهرباني ده ستا

خدائے خبر کۀ صبر شي ـ زړګے مې ستا له مینې نه
هر یو د ژوند رګ کښې مې د وینې رواني ده "ستا"

ومې منل نن ـ چې بنائیست خدائے په خائے خوښ کړې دے
کوم ګل ته چې ګورم ـ په کښې ګله رنګیني ده ستا

خیلې دې دي بیا د چا جولۍ کې د نظر شراب
دا ګنې د مخ کاسه نن هسې الواني ده ستا

وې وئیل "عابده ـ کۀ غریب یې نو بیا مۀ راځه"
ما چې ورته "ووې د دیدن ډیره ګراني ده ستا"

۱۹ـفروری ـ۱۹۹۴ء
دیرخیمنی ۵ بجې خیال کور مردان

حمزه هم مړ شو؟

سحر ته ووایه چې نه راځي تیاره کښې ننه یو
وختونه ودروه نور بس دے ژوندون نه تېروه
ساګاني څه راوړه ترې نورې سترګې پټې نې دي

د چا د اوښکو د ماتم نمایش غله کوي
د سیا نمر ته قسم ورکړه چې را ونه خېژي

د چا د وینې زړه ګلونه غله نولي
هرې چپې ته د هوا ووایه څه راځه

اے د وختونو د ګردش قاصده بیا هم که غوګ
زمونږ د زړه د ژړاګانو څه لحاظ ونه کړي
ورته یو نوې قسم ورکړه د یو نوی بابا
ورته نامه د حمزه واخله د وختونو باچا

هسې نا دورې ئې د قبر په خازه جمع شي

وانه ئې پټ نه کړي د مرګ هسې د ژوند په بانه
هسې نه ور ئې هم د کوز قاصده پاتې نه شي

۱۹۔فرورۍ۔۱۹۹۴ء

ماښام ۶ بجې خيل کوز مردان

په ټي وی کښې د خیل روحانی رهنما او ستر شاعر حمزه شنواری د مرګ د خبر او د جنازې د
برق په لیلو فی البدیه تاثرات



پوهیږی په نظر مې خو شرمیږی ـ راته خاندی
همزولو سره لار کښې چې کږیږی ـ راته خاندی

زیاره لا تراوسه ئې نوم نه راځی ـ چې واخلم
بس ټولو کښې بې حده ښهٔ ښکاریږی ـ راته خاندی

رانغاړی چې وهیتهٔ نظر بدن په لوپټه کښې
کېدې شی د چا شک کښې خطا کیږی ـ راته خاندی

بې وجې مې ساقی لاس نه راکاړی چې ورکوړم
خان نهٔ وینی ـ چې جام راوړی تاویږی ـ راته خاندی

عابده خان به ستړے کړې زما تجربه دا ده
خپلیږی نا کهٔ ډېر هم نږدې کیږی ـ راته خاندی

٢١ ـ فروری ـ ١٩٩٤ء
د شپې ٣ بجې خپل کور مردان

☆

سپرلی پکښې وسپړی له وفا نه خالی نۀ دے
دا بام ـ لا د یو پېغلې له ادا نه خالی نۀ دے

وعدې به تېښتو سترګو د راتلو وکړی ـ مسکے شی
لالے مې لا تراوسه له دې غلا نه خالی نۀ دے

موسم د انګو دې مدام اوسه به غورځنګ کښې
لا زړۀ مې د جذبو ډک دے ـ جانانه ـ خالی نۀ دے

خوانې له دې خدائے عمر د زلفانو هومره وړکړه
زلمے يمه ـ فطرت مې د بنګلا نه خالی نۀ دے

ما وې چې ـ به راتلو به مې خوشال شی خو ګل ووې
تر اوسه لا عابده ـ مردان ـ ستا نه خالی نۀ دے؟

۲۳ـفروری ـ۱۹۹۴ء

د شپې ۱۱ بجې خېل کور مردان

☆

چې خوبونه رانه تختي ـ د یادونو څڅه ورانے دے
د هجران پکښې څڅه لاس دے ـ د وختونو څڅه ورانے دے

چې مې زبه شوله ګونګه ـ د اشنا مخکښې ملګرو
انتخاب کښې مې د مینې د لفظونو څڅه ورانے دے

لویته ئې کړه پخپله له رخساره هواګیره
چې ئې خیال شو ماته وې وېل "د یادونو څڅه ورانے دے"

اوس که شل خله لاس راکړی خو اوبه مې پرې زړه نه څښي
چې پوهېږم په دې لاس کښې د "لاسونو" څڅه ورانے دے

چې سحر کښې راته خاندی ـ د مابنام خبرې نه کړی
دا عابده محبت کښې د نیتونو څڅه ورانے دے
۲۶ـفروری ـ۱۹۹۴ء
مابنام ۷ بجې خیال کور مردان

☆

چې ته ترې لاړې تا د تماشو ورونه بند کړه
ما خپله ماغه کور ـ چم ته د تلو ورونه بند کړه

تا نه مئل خو بیا هم ستا له مخه څه رشته وه
ستا تلو سره یقین وکړه ـ سپرلو ورونه بند کړه

هوا چې لویېته به دې له سره ماله راوړه
ستا یاد دی چې تا زر به د کېرکو ورونه بند کړه

ترڅو به سماج ږدی زمونږ به مینه بندېږونه
کم عقل دی چې چا د خوشبویو ورونه بند کړه

زه څم چې پرې مئین یم ـ د مئین زړګی مالک یم
اشنا راته عابده کله هر څو ـ ورونه بند کړه
۱ـ مارچ ـ ۱۹۹۴ء
دیپشمنی ۴:۳۰ بجې خیل کور مردان

☆

خوبن چې څوک د زړه شي ـ سړے څۀ وکړي
نۀ خلق هم شتۀ شي ـ سړے څۀ وکړي

ګران وي مونږ ته هسې هم زړۀ زلفو کښې
څۀ توره تيارۀ شي ـ سړے څۀ وکړي

بې ستا نه باور ـ وکړه د زړۀ سره
ډېر کۀ ژوندون ښۀ شي ـ سړے څۀ وکړي

لار کۀ د جنت وي ـ خو کړه ئې کړي
بې ياره چې تلۀ شي ـ سړے څۀ وکړي

خود به عابد ګوري ستا پړونی ته
ګلې چې سارۀ ـ شي سړے څۀ وکړي

۶ـ مارچ ـ ۱۹۹۴ء

مردان

☆

تا د تعلق د پرهېزودو قسم خوړلې دے
ما ستا د زړګی د خپلېدو قسم خوړلې دے

څومره چې ډونګې شی ـ دومره ښې دی د نظر اوبه
زړه مې هم اشنا د ډوبېدو قسم خوړلې دے

چرته چې هم ما ورته وئېلې د راتلو دی لېږ
هلته نه اکثر هم ده د تلو قسم خوړلې دے

څه که باد وچ کړی وو ـ له ذاته خو ګلونه وو
ستا له مخه مونږ پرې د ازغو قسم خوړلې دے

ناوې د غزل به خپلوی به هر قیمت عابد
خلقو به هر کام که د ویشتو قسم خوړلې دے

۱۱ـ مارچ ـ ۱۹۹۹ء مردان

وینځه

صاحبه ـ ته ـ؟ او نیمه شپه زما د کور په ور کښې
صاحبه ـ هره بلا ستا دې شي زما خیګر کښې
صاحبه ـ خبر دې وي نظر دې داسې چپ ولې دے
صاحبه ـ ووایه څۀ زړۀ خو دې په ځائے غلې دے
صاحبه ـ شونډې دې بې واره دا ریږدي ولې؟
صاحبه ـ دا هر یو قدم دې خطا کیږي ولې
صاحبه ـ دا خو ستا په هر نظر د خوب خمار دے
صاحبه ـ بیا شاید اغیارو باندې بنۀ یلغار دے
صاحبه ـ خاندې مسلسل مې په خبرو پسې
صاحبه ـ څۀ کمان دې راغے دې اوترو پسې
صاحبه ـ خلې نه دې بهیږي لارې پاکې ئې کړه
صاحبه ـ ته خو په نشه کښې یې څه مخکښې ورځه
صاحبه ـ څۀ دې وویل ؟ تاته زۀ بې حده ګران یم
صاحبه ـ ستا کرم دے زۀ کښې له کومې خان یم

صاحبه ـ پرېږده زمونږ نور هم شته کارونه دلته
صاحبه ـ څه مونږ غریب خپله کړو سوالونه بل ته

۲۸ـ مارچ ـ ۱۹۹۴ء

د شپې ۱۰ بجې خیال کور مردان

د احمد فراز د یو نظم "کنیز" ترجمه۔



راځي مخې له ډېر ښکلي خو ستا کمې پکښې دے
زړګے مې ژاړي تا پسې بس دا کمې پکښې دے

کۀ وينه د زړګي مې څېل نيمګړي ژوند له ورکړه
پوره نۀ شو ملګرو څۀ ناشنا کمې پکښې دے

ساقي څکه څوک ناخلي اوس پيالې په ډاډه زړونو
څۀ ستا نظر ترې لاړۀ ـ څۀ زما کمې پکښې دے

رنګينې به شي نورې فضاګانې ـ سپرلي مخې
يو ستا د مړاو سترګو د ادا کمې پکښې دے

لمحه د تنهای مې د خوانی يو الميه ده
پوئې نۀ شومه عابده ـ چې د چا کمې پکښې دے

٧ـ اپريل ـ ١٩٩٤ء مردان

☆

تا چرته هم رانه کړۀ د خطونو جوابونه
پرېږدې کۀ راته نۀ ـ د جوابونو "جوابونه"

سپرلے خو رنګوی تل مازیګر د ښائیستونو
تۀ ولې پټوې تل د سوالونو ـ جوابونه

بلها زړونو کۀ ویښې د رواج لارو کښې توې کړې
پیدا نۀ شو ملګرو د وختونو ـ جوابونه

بې شمېره کتابونه کۀ مې ښه کړۀ په لمن کښې
رانغلۀ راله ستا د شنو خالونو جوابونه

هر څو کۀ محبت اوس د څو لفظو منتبار دے
عابده راکوی ګل په لاسونو جوابونه

۱۵ ـ اپریل ـ ۱۹۹٤ء مردان



چې ستا له زړۀ ستا له نظر ووتم
لکه جنت نه چې بهر ووتم

وریسې لا نۀ رم ـ دا بیل هنر دے
ورسره کور نه برابر ووتم

ستا د خپلوی د ریاضت بدله ده
له خپل وجوده هم اکثر ووتم

ستا د کلیز انتظار طمعې مې کړم
هم له روژې ـ هم له اختر ووتم

عابده زور د ''شیشه مخې'' څۀ دے
د ژوند د لارې سراسر ووتم

۲۱ـ اپریل ـ ۱۹۹٤ء مردان

☆

د زړه په تاو مې سوری ستا د خور وربل ولیکه
نکاری چې زه هم ستا مئین شوم ـ ما غزل ولیکه

ستا په تندی د خټوکی تصور داسې یوړم
د ژوند په سپین کردار مې تور ستا د کجل ولیکه

دومره بنائیست هم الله وبښی ؟ ماته پته نه وه
ستا د نظر د زور تعریف کښې مې یو غل ولیکه

نه خو بس راغلې او بیا لاړې په یوه لحظه کښې
ما د ټول عمر غم په خیال زړه مسلسل ولیکه

ن مې عابده د اظهار لفظ له ثانی پیدا کړو
ورته مې "چرته اشنا نه شې یار د بل" ولیکه

۲۳ـ اپریل ـ ۱۹۹٤ء مردان

☆

كه ستا دے كه زما دے خو بس خيال نوې پكار دے
ليمو كيښې نوې اوښكو له رومال نوې پكار دے

زاړه شو تفسيرونه د ښائيست ـ نازك بدنې
د مخ په سپين ورق باندې تور خال نوې پكار دے

تر اوسه چې پوره په يو جواب مې د ژوند نه شو
ساده زړګيه ـ پوښتې شه چې اوس سوال نوې پكار دے

معنٰى منم چې ښه ده ـ په رخسار د سپين پړونې
د مينې تود موسم له پشكال نوې ښكار دے

عابده تش لفظونه او خيال ښكلے كافي نه دے
غزل چې ګلورين شي ـ يو ملال نوې پكار دے
١ ـ مئى ـ ١٩٩٤ء
قمر مه ٢ بجې مردان

☆

تا اوده کاته ریزه ریزه شوم
اے خبر شولې ـ چې زه ـ ریزه ریزه شوم

زلمیتوب هم الوتلې خوشبوئی ده
هیڅ خبر نه شوم په څه ـ ریزه ریزه شوم

تا کړو مخ لاسو کښې پټ ـ وبیتنه غالو کښې
وعه وبښ ـ شوعه اوده ـ ریزه ریزه شوم

لار کښې چا وې د صحرا ـ لیونی ګرځی
نه چا وویشتمه ـ نه ریزه ریزه شوم

خومره خان چې مې ساته له محبته
دومره زه عابده ـ بنه ریزه ریزه شوم

۴ ـ مئی ـ ۱۹۹۴ء
سحر ۱۱ بجې مردان

دې ته ګيله او که تپوس ووايم.؟

اے خدايه دا هغه رحمت دے ستا په ما چې کيږي.؟
اے ربه دا هغه په يو نظر کاتۀ دي ـ ما ته ـ؟
اے ربه داسې مساوات وي داسې کيږي دلته.؟
اے ربه دا هغه د تور او سپين د منبخ فرق دے.؟
اے ربه دا د يو جونګړې او محل قيصه ده.؟
اے ربه دا د زر پرست او يو غريب مثال دے ـ؟
اے ربه تول خلق زما په شان تنها دي ـ؟
اے ربه هر سړے زما په شان دښمن دے د وخت.؟

اے ربه دا هغه مجبور او بې نوا انسان وي.؟
اے ربه مانه لګه نن چې سپورے تختي په لار.؟

اے ربه دا هغه له يو زړۀ نه تر بل زړۀ لار ده.؟
نن چې زۀ چا چا پېژندم هغو مې لاس پرېښې دے.

اے ربه دا هغه د ټول عمر په نوم وعدې وی۔؟
نن چې بنګړے ئې خان ماسره روغ جوړ ګڼی۔

اے ربه دا هغه يو والې او د مينې نوم دے ۔؟
نن چې زما او هغهٔ مينځ کښې يو ډېر ګړې هم شته۔

اے ربه دا اب حيات دی چې يو ګوټ کافی وی۔؟
نن چې ساقی د ژوند په نوم کاسو کښې زهر وېشی۔

زهٔ خو قسم دے په قانون د دې وخت پوهه نهٔ شوم
بس خو مجبور کړمه زړګی چې ستا نه سوال وکړمه
دې ته پوئې نهٔ يم ۔ چې ګيله او کهٔ تپوس ووايم

اے خدايه دا هغه رحمت دے ستا په ما چې کيږی۔؟

۹۔مئی۔۱۹۹۴ء
غرمه ۱۱ بجې خيل کور مردان

☆

ليدلي نه وۀ ما داسې سپېرۀ د سيا ستورے
پرون چې بې له تانه راخاتۀ د سيا ستورے

معلوم چې راته ستا د سپين تندی د خال تفسير وۀ
ما فال له شينوکې ـ خکه مېرۀ د سيا ستورے

ما وې چې په مطلب بې مې شی پوهه د راتللو
په خط کښې د وعدې چې مې ليکۀ د ''سيا ستورے''

مثال مې خکه ستا د حسن يو ورسره نۀ کړو
همېش له چې سحر کښې ورکېدۀ د سيا ستورے

دا ليره تنهائي وه ـ شوګيره وه د يادونو؟
د کلک خوبونو وخت کښې ما ليدۀ د سيا ستورے

عابده کۀ ما ووې ـ خو ګلرنګ ماته ونۀ وې
زۀ ستا د سيا ستورے ـ زما تۀ د سيا ستورے

۱۲ـ مئ ـ ۱۹۹٤ سحر ۹ بجې خېل کور مردان



سینه مو سپوا شوه ـ چې خفګان کیښې راکېښې پیدا شو
لا شو خلند ستوری ـ شبستان کیښې راکېښې پیدا شو

بې ګناه نامه د ګناه څۀ رنګه تخلیق شوه
لاس خکه پیدا شو ـ چې ګریوان کیښې راکېښې پیدا شو

هر شے د خیال خان د حېثیت برابر بنۀ وی
خوبش مې شو انسان خکه انسان کیښې راکېښې پیدا شو

تا زلفو له څنډ ورکړو ما زر لمن خوره کړه
دې ناز کېښ د مینې څۀ ګمان کیښې راکېښې پیدا شو

لا بنه شوه عابده محبت چې نامراد شو
اوس ایله شاعر شوم ـ غزلخوان کیښې راکېښې پیدا شو

۲۰ـ مئی ـ ۱۹۹۴ء
دلوړے اختربه شیه خیل کور مردان

☆

مونږ چرې هم ملګرو په ښکاره مينه ونۀ کړه
دا خکه چا په ښار کښې راسره مينه ونۀ کړه

اے ستا اوښکې شبنم چې ترمکيا کړې چا په شوندو
بيا جام سره ئې چرې دوباره مينه ونۀ کړه

هر ځل لکه د باد هسې اوکه په اوکه تېر شو
جانانه ما او تا چرته پوره مينه ونۀ کړه

تصوير دې د خوانۍ کۀ ما د زړۀ په وينو رنګ کړو
اے شوخه خو تا ماسره ذره مينه ونۀ کړه

د مينې هر منزل کښې غربت ستا د لارې غل شو
تا هم عابده چرته په واره مينه ونۀ کړه
۲۹-مئی-۱۹۹۴ء
مردان



اشنا کهٔ ورځ تېره شي هم کهٔ توره شپه تېره شي
خو بې له تا به مې څوانی خفه خفه شپه تېره شي

دې نه زړګیه نور سېوا اظهار تهٔ څهٔ ته وائې
غلې چې ژګوری ـ مسکی شي ـ په کوڅه شپه تېره شي

پرېږده چې درد مې د ژوندن د مرګ ډیوه شي اشنا
ستا مخ چې ووینمه ـ شپه به مې راځه ـ شپه تېره شي

ستا د زلفانو معمې او ستا ساده منېهان
لکه په سوال سوال زندګی چې په بنده شپه تېره شي

زندګی نوم عابده دے د "زاحتونو سپرلی"
وی دې حرم یا مېخانه ـ خو بس چې بنه شپه تېره شي

۱۰ ـجون ـ۱۹۹٤ء

د شپې ۱۱ بجې خیل کور مردان

د بنون د سیمې (بلقیاس) په اواز ریکارډ شو

☆

زرکیه ته پرې مرې ـ خو بې وعلې سړے بنۀ نۀ وی
دوکه ورکوی تل ـ د ښاریې سړے بنۀ نۀ وی

قاتل اکثر اشنا وی ـ مسیحا وی نالیدلې
دروغ وائی دا خلق ـ چې پردے سړے بنۀ نۀ وی

ریښتیا وئیلې نۀ شی ـ په هر حال کښې غلې ناست وی
اشنا ستا په محفل کښې بس په دې سړے بنۀ نۀ وی

کونه خو دې خدائے ورکه کړی د مینې زړۀ مې خو شو
دې کور ته چې نۀ کله هم راځې ـ سړے بنۀ نۀ وی

پل هم عابده پړدو په پردی پل باندې تر عمره
کیلې هم کوۀ خدائے نه چې "فلانکے" سړے بنۀ نۀ وی

۱۷ـجون ـ۱۹۹٤ء
(صوابی قافې) مردان

☆

خان ته که گورو ائینه کښېښي خان ته خان نۀ وايو
دومره گرانی شوه ـ چې له ویرې چاته "گران" نۀ وايو

اخلو د هر ښکلی نظر مونږ د زړگی په بیه
خان کۀ بائېلو ـ ولې بیا هم دې ته تاوان نۀ وايو

ته چې مسکی شې ـ زلفې غنډ وهې او غېږه خوره
وی دې خزان شال خله ـ مونږ ورته خزان نۀ وايو

وخته لا نور به څۀ خوارۀ ته راکوې د ژوندون
دا ستم لږ دے ؟ چې جانان ته هم جانان نۀ وايو

دا د نظر د غېږ جوتې ـ دا توره شپه عابده
وکړه چې څۀ کوې ـ مونږ چاته په ایمان نۀ وايو

۲۰ـجون ـ ۱۹۹۴ مردان

☆

په خان مئينوي خلق ـ د زړونو جادوګر دے
راکاږي راته کړښې په لاسونو ـ جادوګر دے

هر خل هره وعده کښې انتظار د مينې وېشي
هر ښکلے په دې ښار کښې د وختونو جادوګر دے

زما بې رنګه ژوند ته ئې يو رنګ هم پېرزو نۀ کړو
هر څو کۀ مې ګل مخے د رنګونو جادوګر دے

په شونډو کښې جواب راله پاتې د محبت کړي
په فال مې راختلې د سوالونو جادوګر دے

عابده په مردان کښې صرف ستا غزل ښۀ نۀ دے
زاهد هم خلق وائي "د لفظونو جادوګر دے"

۲۷ـ جون ـ ۱۹۹٤ء

مردان

مقطع کښې زاهد چاچا ته اشاره ده۔



راکوري ـ رابخښي ژوند د نظر یوه لحظه کښې
هر ښکلے بدلوي مې مقدر ـ یوه لحظه کښې

خیره د دوو لفظو وه ـ ما وې "ریښتیا به وایم"
محفل نه هیڅ بې هیڅ ئې کړم بهر یوه لحظه کښې

ساقي د واعظ مخکښې مې جوړ وار ته کتي نهٔ شو
ناڅاپه ئې کړو پوره راته ور ـ یوه لحظه کښې

ښي ستا له ګرمې غېږې او د زلفو له څادره
یقین وکړه کهٔ تېر شي دسمبر یوه لحظه کښې

مونږ ټول عمر زړهٔ خوړ لګه د پښتو د وربل کړو
منخته ئې رقیب شو بختور یوه لحظه کښې

دعوې دې د عمرونو د بنائیست د هنر څهٔ شوې
عابده وایه څنګه شوې اوتر ـ یوه لحظه کښې

۴ـ جولائی ـ ۱۹۹۴ء مردان



تر څو به کوږ یو بل ته کاته په دروازه کښې
نور نۀ کیږی له ما نه وړبله په دروازه کښې

په ځان مې تجربه چې ستا کوله نرګس طبعې
همېش له مې هم "خېل لاس ځکلوۀ په دروازه کښې"

ستا تندې د نظر مې ناسې اوچې کړلې شوندې
غوښتې هم نۀ شم چانه اوس وبۀ په درازاه کښې

عادت چې پښتنه مې د پردې ده په کاله کښې
له واریه خطا کیږی ـ ترې هر څۀ په دروازه کښې

دې دورې دورې لار کې درته چا وې کېښنه ګل ته
خاطر دې چې عابده اوس ځناۀ په دروازه کښې

۶ـجولائی ـ ۱۹۹۴ء
سحر ۹ بجې حقیل کوز مردان



د زونډ به هره لار کۀ لاړمه ـ خو سر نۀ شوله
د زړه سودا مې وه نیمګړې ـ برابر نۀ شوله

زړۀ حوصله که د یعقوب شوم ـ د یوسف په ارمان
ولې ستا اوښکه پُښتنه راته کړئ نۀ شوله

ما کۀ خان ډیر وساتۀ بچ ـ ستا له قاتل نظره
نخښه دې بیا هم خطا ماته د هنر نۀ شوله

دا مې د زړۀ د تمنا خدائے زده چې کوم طرف دے
لاسونه ئې راکړه خو له وړه رابهر نۀ شوله

اوس به مې ووژنی عابده دا قیصه د الفت
غلې چې زړۀ کښې مې ډېره شوله ـ په شر نۀ شوله

۸ـ جولائی ـ ۱۹۹٤ء
ماسخوتن ۱۰:۳۰ بجې په لاړه لاړه مردان

☆

هم ئې له چم هم له کاله وویستم
ستا محبت له ژوندانه وویستم

څوک چې ما زړه کښې ځایوه ملګرو
زه له نظره هم هغه وویستم

څرنګه دې ورک د زلفو لار کښې نه شم
ډېر دې بې وخته په تیاره وویستم

ګناه بېودل د مظلوم حق دے اشنا
دا له محفله دې په څه وویستم

څه خو به وو عابده خکه له چم
چا چې له زړه او چا نازړه وویستم

۱۱ ـجولائی ـ۱۹۹۴ء
سحر ۱۰ بجې بازار مردان



ښکلو ته چې ښکلې ښکارې ـ ښکلې وې
هاغه به زما د زړه ښاغلې وې

پېژنم بې واکه زړه بهر نه خم
بیا به چرته ښکلې پسې تللې وې

ته به مخه خې ـ زړه دریسې یمه
دا جوړې هم هاغه د زور کړلې وې

هسې د شفق به مخ وریخ نه ده
بیا به چا په سرو سترګو ژړلې وې

بوټې شه چې به مړ وی د ژوند لارو کښې
ستا پاګل عابد ـ چې کله غلې وې

۱۲ ـ جولائی ـ ۱۹۹٤ ء

سحر ۱۰ بجې رسالپور (صوتی قافیې)

☆

ستا نه ده خفه نه شي اشنا ـ خيره يله ده
زړه مې چې بې وار دې په لړزا ـ خيره يله ده

اوښکې چې لمبو کښې مې ډېره دی هم مسکے يمه
دا خيره يله ده او دا خيره يله ده

نه که ورته پاڅېدې ما هم رقيب له ورکړو لاس
ستا خيره يله ده ـ زما خيره يله ده

واغلې په زنګون چې دې سر کېښوده نو پوئې شومه
خان ته دې نيولې چې بيا ـ خيره يله ده

ستا د هر سبا نه مې د ژوند هر يو "سبا" شو خار
ستا په هر يو "نن" کښې د "سبا" خيره يله ده

ماته فروغ مه وايه چې "دا په منابه راغلمه"
دا چې مې عابده ساه په ساه ـ خيره يله ده

۱۳ ـ جولائی ـ ۱۹۹٤ ء ماہنامہ خيال کور مردان



ما چې صبروې نو وایه ـ تا چرته منلې ده
خپله کوې هر څل تا زما ـ چرته منلې ده

څومره شوې خوشاله چې د تلو مې درته ووې نن
داسې بله هم دې په خندا ـ چرته منلې ده

راځې کړه نېټه چې د وعدې راله په نیمه خله
بیا ئې جوړ منخته د "بابا" چرته منلې ده

نه ده چې زړګیه ـ دروغژن دې کړی په ځان بسې
تا هم یو خبره په رښتیا چرته منلې ده

ژوند د مرګ اواز شو په وربل کښې د یو مړاوی ګل
ووایه عابده چې تا ـ دا چرته منلې ده

۱۲ ـ جولائی ـ ۱۹۹۴ء
سحر ۱۰ بجې کچهری مردان

☆

مونږ یو بل ته نیولې نظرونو کښې جنت دے
ساقي خکه خو وایو ـ چې جامونو کښې جنت دے

ارمان ئې دوزخي د انتظار لارو کښې ورک دے
ملګرو چا چې غوښتے په سوالونو کښې جنت دے

ښکاریږي چې تښې به د ګرېوان شي رانه ورکې
لیدلې مې د پېغلو وربلونو کښې جنت دے

شبنم ستا د سرو شونډو خو بیا تول حلال شراب دی
د مینې عقیده ده چې "په زړونو کښې جنت دے"

نور څه دي د ماضي یو څو یادونه ـ څو دردونه
جوړ کړې مې عابده ترې خیالونو کښې جنت دے

۱۵ـجولائی ـ۱۹۹۴ء
سحر ۸ بجې حقیل کور مردان



زړه کښې بیا ستا د راتلو چې وسوسه سهوا ده
نور هیڅ خبره پکښې نشته ـ د غم شپه سهوا ده

را چې سندور دې په تندی د محبت ثبوت کړم
هسې هم څاڅی مې د وینې دا قطره سهوا ده

ته کهٔ پلو د لوپټې د حیا برخه کښې
ماته له هر څهٔ نه زما کړه شمله سهوا ده

لاس د رقیب خدائے زده چې نن مې تر ګریوان ورسی
مینې پوره کړم ـ اوس جنون نشته ـ جذبه سهوا ده

ملګری هسې د "عابد" نامه هر ځائے یادوی
زما ـ هغهٔ نه په غزل کښې تجربه ـ سهوا ده

۱۶ ـ جولائی ـ ۱۹۹۴ء
سحر ۸ بجې خیل کور مردان

☆

خبر دے کۀ له ژوندہ لاس په سر شومه
نۀ مې چې نصيب شوې ـ بختور شومه

تا ووئيل "مينه ـ ده وږمه د ګل"
بوئي نۀ شومه ـ ټول اوتر اوتر شومه

پاتې شو حيران د ائينې په مخ
زۀ ورته ناځاپه ـ په نظر شومه

نۀ کۀ بهانه د خپل منګی شولې
زۀ اوبۀ شومه ـ ګودر شومه

خکل ئې خوشالی نه کړۀ لاسونه خپل
وې ليدم ـ چې کوږ نه رابهر شومه

چرته چې عابده يو لوګے وی ژوند
زۀ د ملنګانو هاغه در شومه

۱۸ـ جولائی ـ ۱۹۹۴ ماهنامه بازار مردان

☆

راغله د سپرلي هوا ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل
خدائے دې رابخښي خطا ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

دا د بارانونو زور او داسې جانانه موسم
دا مستي او دا خندا ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

ورکه چې خوشبو هسې ـ شوه تېوله ز ندګی پکښې
دا د تورې شپه بلا ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

جخت مې کړه ـ راګېر مې کړه ـ نازکو سپینو لېچو کښې
بیا چرته وختونه دا ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

وېشي د سحر قاصد ـ هر خوا د رڼای خبر
زلفې کړه خورې په ما ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

وې ویشتم عابده نن ـ بیا ګل د خپل وربل په ګل
ما وې خه توبه الله ـ څۀ تۀ پاګل ـ څۀ زۀ پاګل

١٩ـجولائی ـ١٩٩٤ءمردان

☆

دا د زړه قیصه به وایو ـ د نظر قیصه به وایو
چې تر کومې به موږ شپه ده ـ د سحر قیصه به وایو

سرې زلفانې دې به خبر شه ـ د شنو سترګو نه دې ځار شم
شین اسمان به یادوو ـ د ماښګر قیصه به وایو

ته که رانغلې به لوظ ـ دغه ستا د ظرف خبره
موږ تل د انتظار د بورې ور قیصه به وایو

چې د بېغلو بهانه ده ـ دیدنونه پکښې وکړی
د منګی قیصه به وایو ـ د ګودر قیصه به وایو

حق ته حق به همېش وایو ـ که دوزخ وی هم عابده
چې د دار خبره راشي ـ د خیال سر قیصه به وایو
۲۵ـ جولائی ـ ۱۹۹٤ء
د شپې ۱۰ بجې خیال کور مردان

☆

نهٔ منی په یو طریقه زړهٔ ظالم
غواړی ستا نظر کې دوبهدهٔ ظالم

هاغه د یو شپې په عنوان جنګ زمونږ
ما چې ونیل "تهٔ" او تا وې "تهٔ" ظالم

بربېرده چې دې دوره د قدم شمه
نور به رقیب یاد مې ساتی څهٔ ظالم

ستا چې په وربل کښې ګلاب کېږدمه
خبر کهٔ له ګلچینه شمه "بنهٔ" ظالم

بیا مې جوړ عابده خیال کوی خان ته
بیا راته برند برند کوی کاڼهٔ ظالم

۳۱ـجولائی ـ۱۹۹۴ء
مردان

☆

وکړه چې دې زړه خنکه منی ـ خېره سپینه کړه
بنه نه وی یو چم کښې دشمنی ـ خېره سپینه کړه

کله چې ما خلقو ته کوز سترګې کړې ـ بیا را نه شې
ما سره له اوس نه د سپرلی ـ خېره سپینه کړه

واښې دروازه کښې ـ رانښکاره شې ـ وائې "لاړمه"
سا به مې تر کومې خې راخی ـ خېره سپینه کړه

دا اوس هاغه وخت نه دے ـ چې څوک د چا منت وکړی
جام دې راکوې ـ کۀ څو ـ ساقی خېره سپینه کړه

بیا بیا نۀ موقعې د خوانی شته نۀ د شپا امید
تن خو دې عابده د زړګی خېره سپینه کړه

۳ـاګست ۱۹۹٤ء
سحر ۷ بجې حقیل کور مردان

☆

نه زړه راکوي راله ـ نه زړه اخلي
ډاسې امتحان رانه په څۀ ـ؟ اخلي

یو پله غصه ـ بل پله ناز کېښي مرګ
ژوند رانه په تلۀ ـ هم په راتلۀ اخلي

دا هم زما مینې له زورنه ده
نوم چې د رقیب مې مخکښې نۀ اخلي

وا دې خلم بلا د دې قاتل انداز
سا مې له بدنه په کاتۀ اخلي

چا چا ته چې بد ښکاري عابده ته
تل ئې تۀ نومونه ډومره ښۀ اخلي

۵ ـ اګست ـ ۱۹۹۴ء
مردان



ستا هر نظر کښې د جنت مزې دی
تا وینم ـ وائیم "محبت مزې دی"

اوښکې ـ سلګې ـ ژړا ـ زیرګې ـ اهونه
ټولې اشنا ستا د الفت ـ مزې دی

نه چې ګل را نه کړې ـ مسکے شې ـ لاړ شې
دغه د درد د حقیقت مزې دی

غواړی ژوندون د یو نظر په بدل
ټولې ښکلو په قیمت ـ مزې دی

خکه زه پاتې یم عابده سپېره
اخستې خلقو په منت مزې دی

۹ اګست ۱۹۹۴ء
مردان

د ۱٤ اګست سندره

وختونو دې راوړي په هر خوا د سپرلي زېرے
دې دا د سپرلي زېرے
دې کړې په هر ګل باندې هوا د سپرلي زېرے
دې دا د سپرلي زېرے

همزولو لاس ورکړې دی یو بل له خوشالیږی
جاموکښې نه ځائیږی
هر کس مې د وطن په مینه مست نه پوهیږی
جامو کښې نه ځائیږی
تحفو کښې هرمئین اوړی اشنا د سپرلي زېرے
دې دا د سپرلي زېرے

اتن دے ګډېدلے دی د ذهنونو ازادي ده
د ختونو ازادي ده
بندیز نشته په چا د ځنه حلونو ازادي ده
د وختونو ازادي ده
نغمو کښې هر مئین اوړی اشنا د سپرلي زېرے
دې دا د سپرلي زېرے

کونترې سپینې الوزی د امن په فضا کښې
سندرې هره سا کښې
خندا وېشي نغمې وېشي ژوندون دې په ښکلا کښې
سندرې هره سا کښې
نغمې وېشي په شونډو د خندا د سپرلي زېرے
دې دا د سپرلي زېرے

۱٤ ـ اګست ـ ٤ ۱۹۹ء مردان

☆

ستا د یادونو خوشبویې کښې رانه خان ورک دے
لکه یو ستړے مسافر چې له کاروان ورک دے

زر شه د ژوند په توره شپه کښې د سبا خبر شه
ستا د وږدو زلفو سودا کښې مې ګرېوان ورک دے

زړۀ ستا نه پاتې لکه ورک په ښار کښې "ستړے سړے"
زړۀ ګرځم تاپسې او ګوره ـ ستا نه خان ورک دے

نۀ لاس خو را سره په ـ وګوره ـ بیا څه خفه شه
زړۀ مې ستا زړۀ سره دے ـ ما نه په ایمان ورک دے

څۀ به سپرلی ستا د نظر مې زړګے وریږي
اوس د خوانۍ د زور اشنا هغه دوران ورک دے

لاس دې عابده جوړې نۀ تلۀ ـ تر لمنې د یار
خکه دې له بې وسې نه چې "جانان ورک دے"

۱۶ ـ اګست ـ ۱۹۹٤ء مردان



ستا په مینه مست د ګل ورمه یمه
زۀ هم د جونګړو شهزاده یمه

نۀ چا ته په سر شوم ـ نۀ د پښتو لاندې
زۀ د ښار پېغلې لوېته یمه

نۀ شولې بدل د وخت چپو سره
ګوره زۀ تراوسه هم هغه یمه

چرته مې سحر د ارمان ونۀ لید
بس د امېدونو توره شپه یمه

زۀ عابده هاغه نیمه خوا سرے
تل لګه د ښکلو یو وعده یمه

۲۰ اګست ۱۹۹۴ء
مردان



ښاغلي چې د وینې هم ګلاب ګڼي
ښکله خو قاتل مې مرګ ثواب ګڼي

ماته له هر چا نه والله ګران دې دېر
هاغه چې ټول خلق ئې خراب ګڼي

بنه ده چې کم عقل یو مئین خو یو
تل د وخت هوښیار مینه عذاب ګڼي

دا خو ما د زړه د جاګیر "خان" کړلې
څوک دې نور چې تا د ښار "نواب" ګڼي

هونیر ته به عابده څه لار سمه کړي
خپله چې څوک ژوند د مرګ جواب ګڼي

۱۵ اګست ۱۹۹۴ء مردان



ګل راکړې خو خیره د وعدې نیمګړې پرېږدی
بس دا لکه چې شوې کار سرې - نیمګړې پرېږدی

لاس راکاږی په مخ لکه چې وائی "بیا به ګورو"
قاتل مې پښتون نهٔ دے - ارادې نیمګړې پرېږدی

زما د وخت همزولی بس په دې له ما نه بیل دی
په یو وړه خبره یارانې نیمګړې پرېږدی

اوس خدائے خبر کهٔ خپل زړهٔ مې هم ماسره همراز شی
ساګانې چې مې لفظ ستا د نامې نیمګړې پرېږدی

سپینکی داسې عابده - نیمه خوا لاره کښې پرېښوم
د ژمی زیړې نمر لکه غرمې نیمګړې پرېږدی

۲۷ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء (صوتی قافیې)
غرمه خیل کوز مردان

☆

''د تلو مې درته وې خو د راتلو مې درته نۀ وې''
اشنا په تيږو ستړګو د کتو مې درته نۀ وې

کړې اوښکې مې بخله ځان له پاکښې په لمنه
اشنا چې په نامه د وربهلو مې درته نۀ وې

ما وې شته راتلۀ هم پاتې کيږی نۀ راتلو کښې
ښيته کښې د سبا چې د وعدو مې درته نۀ وې

لا ولې مې په سوال شولې تر منښخه خورې زلفې
ما غوښتې سحرونه ور د شپو مې درته نۀ وې

وې نيولم ـ لاس نه ـ وې عايده ليونيه
پهر وډيرډه خه د کښنا ستو مې درته نۀ وې

۱۱ ـ ستمبر ۱۹۹٤ء
د شپې ۱۲ بجې خپل کور مردان

طرحه د زاهد چاچا

نخښې

لار شه او چې چا لوفر بانډه نېغ کړې وی
چا چې څټوکې په تندی ابېټې وی او خاندی ډېر
چا چې انګو له د شفق سرخی وروکړی وی
چا چې په سرو شونډو پسرلی مېلمانه کړی وی
چا چې دنګه غاړه کښې لونګ اوېزان کړی وی
چا چې په شنو سترګو کښې نیولی وی د ژوند شراب
چاچې دوه منګلې له بنګړو نه ډکې کړی وی
چا چې د دوه وروځو منځ کښې تور خال لګولې وی
چا چې لوېته کښې د کشمیر سینه نیولې وی
چا چې په وربل کښې د نرګس ګلونه ابېټې وی
چا چې په مسکا کښې سپین غاښونه څرګند کړی وی
چا چې په نکریزو سپین لاسونه ګلګون کړی وی
چا چې راړولی وی په یو اوګه مصری وېښته
چا چې سپین پانزېب په سپینو پونډو کښې شرنګ کړی وی
چا چې په بړونی کښې غوټې خوانی رانغښتې وی

چا چې په محفل کېښې د ښائېست تاج په سر کړی وی
چا چې د ګلاب ګل رېژولې وی په ګوتو کېښې
څوک چې غلی غلی د بېو لاندې څارل کوی
څوک چې هر قدم کېښې په شا ګوری هم په منډه وی

دغه بېو څو نخښې مې د ګل واخله رېباره خه
زر شه ورته وایه چې عابد دې ګېله مند دې ډېر
راشه راواپس شه په تلو تلو کېښې څۀ هېر شوی دی
یو وړوکې سوال دے چې بس دا پوره کول غواړی

جوړ مې کړه په شونډو د خپل شونډو چاپ
څۀ نه څۀ خو برېږده د وعدو نخښې

۱۸۔ستمبر۱۹۹۴ء
مردان

☆

نه چې مسکے نه شولې ۔ تا چې ستر ګې مرې ېتې کړې
خدائيګو زما لاسو کښې جام نه دې نشې ېتې کړې

اوس خو د خان پېژندګلو هم راته ګرانه شوله
ڼه چې له ښاره لاړې ۔ تا زړې رشتې ېتې کړې

دا خو زما پښتنه مينه ده ۔ چې هېر مې نۀ کړې
ګني نو تا چې څۀ هم مونتې ۔ ېتې کړې

ما وې ''په شپه کښې د سحر ننداري نۀ جوړيږي''
مخ ئې ښکاره کړو ۔ زلفې ئې زر په لوېتې ېتې کړې

ژوند مې عابده ناقرار دے د ماضي په تکل
هيڅ خبر نۀ شومه چې چا مې هغه شپې ېتې کړې
۲۱۔ستمبر۔۱۹۹۴ء
مردان

☆

ګرانه ده چي هېر مي شي اشنا ـ په پردی کلی کښي
ژوند تېروم خيال باندې يو ستا ـ په پردی کلی کښي

خدائے زده چي مي مراوې شي اشنا اوس د ژوندون ګلاب
نولی ستا خوشبو چي يوړې هوا ـ په پردی کلی کښي

نه چي خط راولېږې او وليکې چي "ننه يمه"
خدائيګو چي اختر شي راته "دا" په پردی کلی کښي

ستا د ياد خوشبو ده چي ورېږي مي په ژوند هميش
نور کني څۀ پاتي دي زما ـ په پردی کلی کښي

هسي مي ياران انا پرست له ښاره نه وځي
زادې شي چي وويني ښکلا په پردی کلی کښي

اوس دې څه عابده په زړګي پسي زړيږه تل
کړي محبت دې وايه چا ـ په پردی کلی کښي

۲۳ـ سپتمبر ـ ۱۹۹۴ء

مازيګر ۵ بجي بنو ته په لاره



د ښکلو محبت ـ خندا ـ وعدې امتحانونه
زړګيه په هر ګام به اوس زغمې ـ امتحانونه

يو خل به مې پخپله د تندی خال کړی د پېغلې
تقديره ته تر کومې به راوړې امتحانونه

سينه غواړی مضبوطه حوصله هم د زړه وينه
زغمې نه شی ملګرو هر سړے امتحانونه

اشنا د دې دنيا هم انتها ابتدا يو ده
چې خپې امتحانونه چې راځې امتحانونه

نظر کښې اشارې هم په خله قهر د ګل مخې
عابده وايه څنګه ـ نن منې ؟ امتحانونه

۵ـ ستمبر ـ ۱۹۹۴ء
(صوتی قافیې) بېجوړ

☆

وجود مې دړدوی ـ زړۀ راله خوری ـ رابورې خاندی
ستا غم دے توره شپه ده ـ تنهائی رابورې خاندی

ګناه زما چې مینه کښې هوښیارو پسې تلمه
ن پرېږده چې زړکیه ـ چې لېونی رابورې خاندی

یو هاغه خان ښودلې ـ چې نامه مې هم اوس ناوری
شعۀ دا بېروزګاری ـ چې زندګی رابورې خاندی

هر کرب سره نظر مې خکلوی ـ باد شوې خاورې
هر خل خپله لرزا مې د زړګی رابورې خاندی

څوک زۀ غوارم ـ چې نشته او څوک ما غواړی عابده
حیران یم په کوم رنګ کښې دا خدائي رابورې خاندی

۱۰ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۴ء
مردان

☆

ستا کۀ راتلو ته اشنا لار لویه ده
سینه زما د انتظار لویه ده

اوس به ایمان دي شي معلوم د وعدې
سا مې راخکلې د اتبار ـ لویه ده

چې ستا د یاد څادر به سر روان یم
خبر دے کۀ لاره د روزګار لویه ده

تا ته واعظه د جنت زېرے ګران
ما ته خیره د خیال یار لویه ده

زور ئې عابده د شرابو سترګو
هره نشه ئې له خمار لویه ده

۱۵ ـ اګست ـ ۱۹۹۴ء

سحر ۸ بجې بنول

☆

تا غوارمه ـ خو بنکارم چې قسمت سره مې جنګ دے
ګنې په اصليت کښې محبت سره مې جنګ دے

ريښتيا دا دی ـ چې يا خو ښه زړور يا ګناهګار يم
هيڅ وس مې نشته بيا هم د غربت سره مې جنګ دے

سرے له هر څۀ پاتې کړی ـ بوتې انتظار نۀ کړی
ملګرو بس په دې د وخت فطرت سره مې جنګ دے

يو تۀ مې چې خيال نۀ شولې ـ يو تۀ چې رانه لاړې
تر اوسه لا دې خيال تندی وچت سره مې جنګ دے

هر ښکلے چې په لاره ځی ـ بس دې ورته پسخيږی
عابده د زړګی دې يو عادت سره مې جنګ دے

۲۶ ـ اګست ـ ۱۹۹۴ء

مردان

☆

شور چې د بازیو دې راخی د شپې
خود به راویښېږی لیونی د شپې

خدائے دې خیر کړی بیا ئې نیت څۀ نور څۀ دے
لاس کښېږی شرنګوی راته بنګړی د شپې

مونږ ته به تشریح څۀ د سحر وکړی
څوک چې خپل تسکین هم لټوی د شپې

داسې ستوماني ئې سحر وویسته
تۀ به وائې دې جوړ څۀ کوی د شپې

مینې خود غرضه کړم ـ نو راغلمه
خپل کور ګڼی څوک حالی پرېږدی د شپې

مه څی د عابد خله پسې څښکی شراب
تل ئې دا ظالم پخپله څښی د شپې

۲۸ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹٤ لماښام به لاړه لاړه مردان



خفه خفه ـ پریشانه ـ سرګردانه زندګي ده
بې ستا نه بس په نوم باندې روانه زندګي ده

تبریزي لېونو باندې له هر چانه اسانه
هسمه خلق وائي په چې ګرانه زندګي ده

ګوم بنګلي ته چې ګورم ـ له خپل خانه هم خفه دے
بنکاریږي هېره شوې له خدا نه زندګي ده

له مخ ئې لوپټه لر کړه وې "هې وګوره څه دی"
بې واره مې په خله راغله "بې شانه زندګي ده"

پوازې نه عابده په زونډون باندې تنګ نه یې
په تا هم خفه څه ـ شې بنه ستومانه زندګي ده

۱ـنومبر۱۹۹۴ء
ماهنامه بازارګښې مردان

☆

عمر چې د ښکلی مې ډېرېږي ـ ښکلې کیږي
ګل دے د نکریزو ـ چې توریږي ـ ښکلې کیږي

رانغاړې کټه پړونی کښې مخ ډېر هم له حیا نه
سپوږمۍ د څوارلسمې چې غوندېږي ښکلې کیږي

لمن ډومره زر ځله اشنا ځنډ وهم له داغه
ستا مینه خو به ما باندې نازیږي ـ ښکلې کیږي

نه مخکښې کوم راغلې ـ چې لا اوس به لوظ تنګ شوې
به ما خو انتظار دې چې وردیږي ـ ښکلې کیږي

لا ښه ده چې غصه شې ـ مخ ښکاره کړې ـ سره لمبه شې
عابده غوټې غومره چې خوریږي ـ ښکلې کیږي

٤ ـ نومبر ـ ۱۹۹٤ء
سحر ۱۰ بجې خیل کور مردان



ستا په طمع د وعدو سحر ماښام شو
بس خو ژوند په امیدونو کښې تمام شو

نۀ مسکے شوې تا سر ښکته کړو نۀ لاړې
ورک زما اغاز د مینې هم انجام شو

اوس خو خدائے خبر کۀ نوستې خان راټول کړم
چې قاتل مې خپل تقدیر په هر یو ګام شو

معمه د زلمیتوب رانه حل نۀ شوه
کۀ هنر مې ښېڅونو ښار کښې عام شو

تا خو بس د زلفو سیوری راخوارۀ کړۀ
خبر نۀ شوې چې عابده پکښې ګمنام شو

۱۱۔نومبر۔۱۹۹۴ء

ماسخوتن ۹ بجې کور مردان

☆

ژوندون مې تول بې رنګه شو ـ سپړلی زما پکار دی
یو څو جامه د خدائے په نوم ـ ساقي زما پکار دی

دې سوال زما بس دا چې دا ژوندون رانه څوک پټ کړي
نه خپل زما پکار دی ـ نه پردی زما پکار دی

څواني دې "چنار څانګې" له سپېرۀ باده په خبر شه
ګل اوسه ـ کړه خوبونه د "ازغي" زما پکار دی

خندا ورکړه لوبتې له ـ وېښتۀ چوڼ کړه پرخې پرخې
سپور فکر له بادونه شیشي ـ زما پکار دی

عابده زړۀ مې ستړے دے ـ سحر مۀ غواړه چپ شه
د ژوند په شاره لار کښې "ماښامي" زما پکار دی

۱۶ نومبر ۱۹۹۴ء

ماسخوتن ۹ بجې کور مردان

☆

طوفان دي ياد وژني بل اورونه په ساره کيني
پوازې په څوک څۀ وکړي خوبونه په ساره کيني

کهکشي نامونکے چرته لار هېره کړي راشي
ساتم لرې د کور خکه ورونه په ساره کيني

الزام په ما د ژمي د پاکل دي په سر ستړکو
کلابه خو سپوا وی تل ډډونه په ساره کيني

والله چې دلکشي به د موسم ـ د مينې رنګ شي
ساقي کۀ لږ پېرزو دي کړې جامانه په ساره کيني

لونډې زلفې عابده دا ده راغله خوله مخې
توبه خدايه دا دومره بارانونه په ساره کيني

۲۴ـنومبرـ۱۹۹۴المردان

☆

اشنا زړونه مو ناشنا شو - زمانې شوې دروغژنې
مونږ په داسې رنګ جدا شو - چې رشتې شوې دروغژنې

نه دې زلفې په لاس راغلې - نه رخسار د ګلو لختې
سحرونه دروغژن شو - زما شپې شوې دروغژنې

دا ده ګرانه ډېره ګرانه - چې تا هر کرم د زړه سره
څو څو ځله مې دا رنګه ارادې شوې دروغژنې

نن ساقي واعظ له ورکړه - چې ریښتیا خبرې وکړی
د پوتې منبر له پاره ئې توبې شوې دروغژنې

زې رقیب سره چې تلې - قسم مه خوره په ناحقه
دا له قصده درنه هېرې - چې وعدې شوې دروغژنې

د ژوند دا خود فریبې هم د کتو څیز دے عابده
چې ځواني په زړېدو شوه - نو مزې شوې دروغژنې

۱- دسمبر ۱۹۹۴ء
سحر ۱۰ بجې کوز مردان

COMPLEX

ېګا دې بیا د ارمانونو خیال کښې داسې ورک شوم

ما وې چې شپه ده واﷲ زۀ ستا پلو اخلمه
تۀ له حیا نه خپله غمېږه کښې رانغاړې وجود
ما وې ستورې راته ګورې ـ خه چې پټه دې کړم
تۀ له خندا نه خوربدې د نوی ژوند په امید
ما وې چې ستا تخلیق زما د وجود نیمه برخه
تا مې لاس خکل کړه ـ تا وې اوس ووایه وشرمېدې
ما د ګلونو بارانونه وروول په مینه
تا مې د سر وېښتۀ په ګوتو سمول غلې وې
ما وې چې شپه د کائېنات خو بس هم دا ده ګلې
تا سترګې پټې کړې ـ تا وې "زۀ به دې نۀ پوهېږم"
ما دې خواره واره وېښته له سپین رخساره لرې کړه
تا د اوتو نظر غمېږه راتاو کړه مانه
نور پوهه نۀ شوم خو د درد احساس تر دې راوستم
لکه چې څوک د ګلورین خوبه راویښ شو یو دم

ېګا دې بیا د ارمانونو خیال کښې داسې ورک شوم

ما وي چي مخکښي لکه ته وي د سپوږمۍ ملکه
ته ئي راغوښتي يي په ځمکه بس زما له پاره
دا ګلاب شونډې - شرابي سترګي او سره سره وېښته
دا له مالوچو پوست بدن - هر څه زما جاګير دے

ما وي سازونه دي غوږيږي - د ژوندون لارو کښي
ستا د ډاجونو هنګامي - ستا د ډولۍ خلق دي
زه د سهرو ډک نازولي مخکښي روان

ماوي چي ما وژړل - تا سيني ته خخت کړمه زر
ما وي چي ټول عمر به دغه شاني ما غواړي ته
ما وي چي دا د محبت نظر به تل زما وي
بنه راته ده - چي ته د چا پردې نصيب يي
بيا هم د ګلو لختي بوئي نه شومه څه وکړمه

بېګا دي بيا د ارمانونو خيال کښي ډاسي ورک شوم

۳ـ دسمبر ـ ۱۹۹٤ء

مردان (د ساحر لدهيانوي ډکيبي کيبي نظم منت بار يم)

☆

لارله بې رنګه زندګی له کوره ووته
ته چې لاړې څومره رنګینی ـ له کوره ووته

خدائے خبر که اوس دې په یادونو ژوندے پاتې شم
هاغه جذبه چرته ؟ چې مستي له کوره ووته

ځی په هر قدم کښې په شا ګوری ـ هر نظر پله
مالګې په زخمونو دوروی ـ له کوره ووته

دې لکه زما هر یو ګلاب په وینو رنګ د خان
څکه خو ئې ګوره خوشبوئی له کوره ووته

بیا دې په اسمان د انګو وریخ د زلفو ده
بیا دې له غصې د مخ سرخی له کوره ووته

بیا عابده داسې چې ورک له خانه ناست یې نن
ښکاری چې دې بیا څوک د زړګی له کوره ووته

۱۲ ـ دسمبر ـ ۱۹۹۴ لس شپې ۲ بجې خیل کوز مردان



مئے کۀ ساقي راکړي ستا به څۀ کم شي
غم به لږ زما د ژوندانۀ کم شي

ستا لویبه زبله د انګور د چت
سپوري ته ئې بوج بلها د زړۀ کم شي

تۀ چې تار تار زلفې ګرځوې شپا
څنګه لیوني به د تیارۀ کم شي

غم د محبت هم بې انصافه دے
چا ته بنۀ سپوا شي ـ چا ته بنۀ کم شي

وې وئېل "عابده ما ته مۀ ګوره"
هسې نه زما د رخسار سرۀ کم شي

۲۹ـ دسمبرـ ۱۹۹۴ء
مردان

کال ۹۵ـ۱۹۹٤ء

بیا شپه د نوی کال ده
لکه د مخکښې په شان
دا خلي هم
د يو خادر نه بغير
د ژوند په شاره دښته
لکه له بناره لري
یو وړ ک او ستړے ماشوم
پټې ابله پټي لولپه
وېښته بېر په ژړا
ستا د خندا په ارمان
ستا د وجود د ګرمی ته
د لارې سر کښې ناست يم
د دسمبر ساړه کښېښې
د جنوری یخنی ته
په ډکو ډکو سترګو
له دردوه ستړي ستړي
په سا سا لاس وهمه
د دې وهمونو شور کښې
چې خبر دے رابشی خه
خوب؟
نهٔ رانغلی ګوره
کهٔ سبا نوی کال دے
کهٔ؟
بیا شپه د نوی کال شوه

۳۱ـ دسمبرـ ۱۹۹٤ ماسخوتن ۹ بجی مردان



پاپه د ګلاب شومه ستا زلفو کښې
تول شباب شباب شومه ستا زلفو کښې

تا په لپو لپو په سر ونوستم
ځاځکې د شراب شومه ـ ستا زلفو کښې

ځوارم هر سحر اوس د ماښام مزې
ځۀ خانه خراب شومه ـ ستا زلفو کښې

تکې مې شو ستورې د تقدير اونکې
بس د غم کتاب شومه ـ ستا زلفو کښې

چا هم عابدانو کښې شمېر نۀ کړمه
لاړمه حساب شومه ـ ستا زلفو کښې

۳۱ـ دسمبرـ۱۹۹۴ء
د شپې ۱۱ بجې کور مردان

تاودۀ بادونه

(عابدیات دریمه برخه)

انسی مهریه ابوارډ

پاک میډیا ابوارډ

د ۱۹۹۵ء نه‌تر ۱۹۹۷ء پورې کلام

تاوده بادونه

زه ذاتي طور د نوي نسل د غزلګو شاعرانو نه ډېر زيات متاثره يم ـ خصوصاً د مردان خاورې چې کوم نوي غزلګو پيدا کړي دي ـ د هغوی سره ماته ډېره وړده معلوميږي ـ او په دغه غزلګو شاعرانو کښې زما ورورکے ورارۀ امتياز احمد عابد هم شامل دے ـ

عبدالروف زاهد (ايډوکيټ)

١٩٩٢ ء مردان



امتياز عابد ډېر په نره او اخلاص د شعر کار ته کار وښلي دے ـ او هم دغه وجه ده چې هغۀ د خپلې ځوانۍ ټول رنګونه ډېر په ښۀ ډول د خپل غزل په امیل کښې پېئلي دي ـ

د امتياز عابد په خپل شعر باندې کلک يقين او باور دے ـ د هغۀ قلم او د هغۀ د شعر وئيلو هنر هروخت د هغۀ د زړۀ آواز ته لاس په نامه ولاړ وي ـ

انلوش شمس القمر

مردان ـ ۲۰ ـ دسمبر ـ ۱۹۹۸ ء



Imtiaz Ahmad Abid a high ststus in the array of the budding pashto poets and prove a ray of inspiration for them to produce quality poetry like him.

Shair Alam Shinwari

"The Ststsman"

monday 22/ 2004

☆

زۀ مناظلي امتياز عابد د هغۀ په همزولو شاعرانو کښې د تولو نه زيات د غزل په مزاج پوهه شاعر ګڼم ـ او د دې وجه شايد دا وی چې هغۀ ته د غزل ټول رموز په وراثت کښې منتقل شوې دی ـ په هغۀ کښې د شعر ليکلو دومره توان دے ـ چې ډير شاعران د هغې تصور هم نۀ شی کولې ـ

فيض الوهاب فيض

مردان ـ ۲۵ ـ مئی ـ ۱۹۹۸ء

☆

امتياز عابد غزل له پيدا شو ـ يا غزل ده له پيدا شو ـ ښۀ غزل ليکل د هر شاعر د وس کار نۀ دے ـ دا مې معيار او مقدار په ښتونولي نۀ منګاروی ـ

فرمان علی ترکوال (صوابی)

"ورمې" کښې مضمون نه اقتباس

☆

امتياز احمد عابد شاعر دے ـ ښۀ تخليق کوی ـ او ډير ښۀ تخليق به ولې نۀ کوی ـ چې په سر ئې د پښتو (جګر مراد آبادی) عبدالرؤف زاهد سيورے دے ـ عابد ټوټې ټوټې او ګران رديفونه دومره اسانتيا سره په غزل کښې ځايوی چې انسان ورته حيرانيږی ـ کاکاجی عبدالرؤف زاهد ئې د جګر مراد آبادی خطاب اخستے دے ـ او عابد د "غزل تاجدار" سره سره لرې نۀ ده چې په خيال کول کښې دويم خطاب "د پښتو غالب" هم واخلی ـ

اختر علی اختر

۲۴ ـ جون ـ ۱۹۹۳ء



د خندا عمر دې ډېر شه ـ د وعدو عمر دې ډېر شه
چې په مراؤ سترګو ګورې ـ په دلو عمر دې ډېر شه

بلها ورک له خانه ويښ شي ـ بلها سترو له خوب ورشي
د ورتلو عمر دې ډېر شه ـ د راتلو عمر دې ډېر شه

ژوند زما بندیوان ښۀ دے ـ محبت کښې په دار ښۀ يم
د بنګړو بلا دے واخلم ـ د کمڅو عمر دې ډېر شه

چې مې نوم له قصده ناخلې ـ ګرته ياد شم زر مې هېر کړې
دا خفګان دې ماله ښۀ دے ـ د پېښتو عمر دې ډېر شه

چې دې ګل رقيب له ورکړو ـ له خندا نه خور شوې ماته
دغه ستا عادت دے ورک شه ـ د غمزو عمر دې ډېر شه

د غزل ناوې دې تل وي ـ د پښتو سبج له سنګار کړه
تل ژوندي اوسې عابده ـ په صدو ـ عمر دې ډېر شه

۲ ـ جنوري ـ ۱۹۹۵ء مردان



زما د ژوند د ښکلاګانو هنر تاسره دے
زړګے مې تاسره دے ـ یاره نظر تاسره دے

هره شپه ستا د لوېښتې خوشبو ـ راوړی بادونه
زما د هر خوب راختونکې سحر ـ تاسره دے

لا دې غصه د ښائېست رنګ لکه ګلاب ګلاب کړی
د زړۀ د سېل خو بس هم دا مازیګر تاسره دے

زړۀ کۀ هر څو قیمتي شے دے ـ خو د ورکړې شے دے
زر کۀ زما دی ولې نوم د زرګر ـ تاسره دے

عمر د ښکلو د خوانۍ وایه ـ چې خوری پرې قسم
عابده څنګ ووایم ـ ښۀ مقدر تاسره دے

۹ـجنوری ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

په هر قدم د ګلو بوټي په ـ هر يو ګام سپرلی دی
ساقي په لپو لپو راکړه ـ پرېپرده جام ـ سپرلی دی

په داسې وخت څوک هم ايمان په توبو نه ګټي۔ څه
وريځې ګورې دی ـ څواني ده هم ماښام ـ سپرلی دی

تا څه کمښې ـ له زلفو جوړې کړې ـ د تلو په نيت شوې
د خدائے خاطر وکړه ـ پرزنے را ګلفام ـ سپرلی دی

څواني څو ستا ـ رنګ او مستي ـ د ژوند په شارو تولی
د ګل په سور مخ ـ هېڅ يې هېڅه ـ ټول بدنام سپرلی دی

دا څو يې نه ـ چې بنه خبره ئې هم ـ بده اخلې
عابد ته تل ـ مرور مه شې ـ ستا پېغام ـ سپرلی دی

۱۱ـجنوری۔۱۹۹۵ء مردان

☆

د عمر عمر بتې ئې ښکاره ئې راته ووې
هغه چې زما مرګ وه ـ هم هغه ئې راته ووې

وې دا مو اخرى ليدل ـ بيا خدائے خبر کۀ راشم
ظالم چې کله تلو ـ په هغه شپه ئې راته ووې

د شونډو نه مې پانه د ګل ـ شونډو پاندې واخله
د ټولو خلقو مخکښې ئې ـ ښکاره ئې راته ووې

تراوسه چې له چا نه مې تپوس ـ د مينې وکړو
يوه ئې رانه پټه کړه ـ يوه ئې راته ووې

عابده خوش نصيبه يمه بيا هم ـ لاس ئې راکړو
هر نيت کۀ وه د يار ـ په مخه ښه ئې راته ووې

۱۲ـجنورى ـ۱۹۹۵ء مردان



د زړه نه پرېوتل دی ـ له نظره پرېوتل دی
د ښکلو محبت څهٔ دے ـ ؟ له غره ـ پرېوتل دی

باور ستا په خبرو ـ ستا په خوبنه ـ ستا په مینه
زړګیه ـ خو اوبو ته له کمره ـ پرېوتل دی

چې کوم ستوري ما فال کړو ـ نو فنا شو له اسمانه
خپل حق غوښتل هم دلته کېښې ـ له سره پرېوتل دی

خوشبو په دار د چا د ارماني بدن خوره ده
چې څوک هم سا راکاږی ـ د زړه سره ـ پرېوتل دی

کوڅه د قیامت قد پل صراط دے ـ کینه مهٔ خه
عابده زما ومنه خبره ـ پرېوتل دی

۲۱ ـ جنوري ـ ۱۹۹۵ء مردان



زهر په پټو سترګو څښو ـ د څښتلو قدر کوو
مونږه که وژنې ـ خو بیا هم د ښکلو قدر کوو

مونږه د مینې انقلاب ـ په وینو نه راولو
لکه خوشبو خان خوروو ـ د ګلو قدر کوو

څنګه رقیب ته تندې ګونجې کړو ـ تا څنګ خفه کړو
اوس خو راخپل دې ـ او مونږ تل د خپلو قدر کوو

خپله که تنګ یو ـ د ژوندون له نومه لرې تختو
ولې اشنا په ژوند د مړو د څلو ـ قدر کوو

دار ته که وخېژو عابده ـ که مقتل کښې مړه شو
ریښتیا به وایو ـ د ریښتیا وئیلو قدر کوو

۲۳ـجنوري ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

وعده پوره کړه ـ د عمرونو دا قیصه خوره کړه
لیره د شپې په دې تیارهٔ ـ دا لوبته خوره کړه

د ګوډی تال شه ـ د سپوږمی شهزاده وخاندوه
د ستړے ستړے ژوند قیصه ـ دمه دمه خوره کړه

یاران د اوښکو مې د زړهٔ هر یو ارمان اوبهٔ کړو
بس دې ضد پرېږده ـ دا وریخ راله ـ راځه خوره کړه

ګل دې وربل کښې مراوې مهٔ شه ـ له ګلاب نازکې
د محبت د انقلاب خوشبو خوره کړه

زما غزل کښې نظریې دې ناقدان ـ نهٔ ګوری
د وخت قاصده په هر لوری دا تپه خوره کړه

لیږې په میو شونډې تر کړه ـ راته زر ووایه
راشه عابده په وجود مې دا نشه خوره کړه

۲۵ـجنوری ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

چا پکښې ژوند بائېللې چا ـ پکښې جانان بائېللې
ملګرو ما د عشق په لوبه کښې خپل ځان ـ بائېللې

مینه د نه پوره کېدو نوم دے ـ ساده زړګیه
بلها د عمر استازانو برې ګرېوان ـ بائېللې

داسې د ژوند کچکول نه ـ ستا تصویر مې ورک شو اشنا
لکه درخو د سماج لاس کښې ادم خان ـ بائېللې

نور حقیقت د ژوندانه ـ سړوا له دې نه ـ څۀ دے
هر چا په ګرانه دے ګټلې ـ او اسان بائېللې

برېږده چې ځان ئې د نظر په اباسین لاهو کړم
عابده ما زړۀ په یو بنګلی په ایمان ـ بائېللې

۲۹ـجنوری ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

چې مینه خپلوې نو ـ ژړېدۀ خو به کوې
زړګیه داسې کار کېږي څۀ نه څۀ خو به کوې

زۀ شاړه شاړه دشته ـ ته ډولی شوې د پېریانو
دې در ته کله کله ـ اوس راتلۀ خو به کوې

هر څو که مخامخ راته ـ غېږ نۀ کوی یې مینه
همزولو ته قیصې په تنارۀ ـ خو به کوې

د تلو مې درته ووې ـ خکه غلې شوې یې لوظه
کۀ نۀ دې کول هم ـ اوس ودرېدۀ خو به کوې

چې زړۀ باندې ستومانه وې ـ پخپله دې مئین کړو
عابده اوس په شپو کېږي ـ ویښېدۀ خو به کوې

۳ـفروری ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

سپېره زرګے مې خکه ـ بختور خوبونه وينى
هوښيار چې لېونے شى ـ نو اکثر خوبونه وينى

ښکاريږى زما مرګ ئې هم ـ ليکلې دے ستا در کښې
چې سترګې مې پټيږى ـ د سفر خوبونه وينى

جنون چې دا د مينې د غوښتو نۀ دے ـ نو څۀ دے
مئين چې دې شپه روڼه کړى ـ سحر خوبونه وينى

نغمې به مونږه تل د سپين سحر وايو ملګرو
دا خلق دې د سور سور ماښګر خوبونه وينى

نشه کښې کۀ ئې ستا نوم په خلۀ راغے ـ خفه مۀ شې
سپرلى کښې عابدان تل د کوثر ـ خوبونه وينى

٦ـ فرورى ـ ١٩٩٥ء مردان

☆

زما زړه هم لېونے دے۔ وائی" دا ستا لويته ده۔ دا وريخ چې راخوره ده"
سپين سحر هم سروقدي۔ دا ته ستا د زلفو شپه ده ۔ دا وريخ چې راخوره ده

هله زر کړه تېرى کښ دى۔ ساقي ځند پرېږده۔ وار پرېږده ۔نن به لپو لپو ورکړه
باد چليږى۔ موسم يخ دے۔ د سپرلي خوشبو خوره ده۔ دا وريخ چې راخوره ده

نه چې لاړې راته لار کښې ۔ زه دې پرېښودم يوازې ۔ بيا خبر نه شوې له ما نه
خلقو وې چې زه نشه ووم۔ ما به وې چې "دا" هغه ده ۔ "دا وريخ چې راخوره ده"

ستا دلوظ موسم راغے۔ اشنا لاس ځه غواړه کېږه۔ بيا به دا وختونه نه وى
دا وريخ چې راخوره ده۔ دا وريخ چې راخوره ده۔ دا وريخ چې راخوره ده

کوم کوم خلق راته هېر شو۔ کوم کوم خلق راته ياد دى۔ دا زړونون هم فريبي دے
هر ګمان مې اوس يقين شو چې خوانې نه ده دوکه ده ۔ دا وريخ چې راخوره ده

شابه زر لاس کښې ګل واخله ۔ دا شليدلي ګريوان سم کړه خه چې خو هله ګودر ته
نن به راشي جوړ عابده ۔ له شپا مې اندازه ده۔ دا وريخ چې راخوره ده
۹۔فروری۔۱۹۹۵ء مردان



زړۀ به رانه پاتې شی ـ لمحۀ به رانه پاتې شی
ستا چم ته کۀ درشم ـ څۀ نه څۀ به رانه پاتې شی

زۀ د ستورو فال ـ ستا د دیدن له پاره نۀ نیسم
شپو ته کۀ ایسار شوم ـ ستا لیدۀ به رانه پاتې شی

واخله هس ـ لا یو تار مې اشنا د ګرېوان پاتې دے
دا هم راله پرې کړه ـ ګنې تلۀ به رانه پاتې شی

ګور دې سائبان شه د زلفانو ـ خو مخ ونمایه
سپوږی ته کۀ ناست یمه ـ غاړمۀ به رانه پاتې شی

نیت کۀ مې عابده د زړګی قبلې ته ـ وتړو
زېرے د ژوندون د نمر خاتۀ به رانه ـ پاتې شی

۱۳ـ فروری ـ ۱۹۹۵ء مردان



زۀ ستا نه لرې لاړم ـ تۀ له مانه لرې لاړې
دا ولې خوشالي زمونږ له خوانه ـ لرې لاړې

زړګيه د اشنا د ياد له شوره ـ پناه نۀ شوې
هر څو کۀ به ډرزا شوې ـ سرګردانه لرې لاړې

تۀ څۀ راته مسکې شوې ـ ايله تلو کښې چنار قده
والله چې نن څو وايم ـ تر اسمانه لرې لاړې

پروني دې لوفر ـ لکه وريځه ـ ډريسې وۀ
بېګا د چا به غم کښې وې روانه ـ لرې لاړې

عابده چې محفل کښې دا د ګل غم نه وۀ څۀ وو ـ
چې پاڅېدې ـ روان شولې ـ پرېشانه ـ لرې لاړې

۱۵ـفروری ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا نه چې هېر يمه ـ په دې کېږي د وختونو لاس دے
مانه چې نه هېرېږې ـ دې کېږي د گلونو لاس دے

واعظ ته هله توبه ياده شوه ـ چې وې څښل شراب
دلته د هر ثواب په شا ـ د گناهونو لاس دے

دا چې د ياد دوزخ کېږي سوزى دې مئين ـ بې گناه
دې کېږي دې هم د يو نظر ـ د جنتونو لاس دے

ته هم خاموشه زه هم غلې ـ او حېرانه هينه
دا د بيلتون گناه ده ياره ـ د عمرونو لاس دے

خله ريښتيا ريښتيا په خله مې ـ راولې عابده
تول چې خبر دى په تا ـ دا ستا د شعرونو لاس دے

۲۱ـفروری ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

اشنا چې تلې راتللې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ
مونږ لارې کړې بدلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

ستا نوم به راته یاد وی ـ ستا چم به مې هېر نهٔ شی
روزګار کهٔ یم وړلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

یو وخت کېږي لاړو راغلو ـ یو بل پسې تر کوره
یو خکه تېروتلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

دا چا کړې سجدې دی ـ دا چا اوښکې توبې دی
دا چا شراب نوستلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

بې ستا نه زندګی مې ـ شوه داسې لکه ګله
ږی دوره الوتلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

پښېله کهٔ عابده ـ ګمنام شو محبت کېږي
خورې مو کړې غزلې ـ په قبله ـ په نمر خاتهٔ

۲۱ـ فروری ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

نه چې مئين ستا د کوڅې - داسې دے
زړۀ لېونے کړی - مينه شي - داسې دے

خلق چې مر هم کړی څوک - ياد ئې ساتي
حرام کۀ دې خو - يو يوتې - داسې دے

غواړی سنګار له د شبنم ائينه
په ګل مئين پرېرکے - داسې دے

ناست په ممبر حورې - کوثر - يادوی
واعظ له ډېرې زمانې - داسې دے

شپې ته چې شپه ووائې - مات کړی جبر
دلته ملګرو کوم سړے - داسې دے

وينه د زړۀ - غواړی پښتو - رقيبه
اوس محبت وايه کوې ؟ "داسې" دے

کله ترې خان خاروی - کله - خفه
عابد خو ښکلو سره دې داسې - دے

۲۳-فروری-۱۹۹۵ء مردان

☆

مینې منت چې غوښتۀ ـ خپل دغه فطرت مې نۀ کۀ
ستا په تلو خکه ګناهګار ګله ـ قسمت مې نۀ کۀ

په درد مې بوڼې کړو ـ په درزا د زړۀ مې بوڼې کړو ـ اشنا
دا جدا راز دے ـ چې قائل د محبت مې نۀ کۀ

د ژوند صحرا کښې لکه شګه کۀ مې ونوستۀ ـ خان
ولې ادا ستا د تنکي حسن ـ قیمت مې نۀ کۀ

وګورم ستا په هینه ـ هر ښکلي ته ـ زر روان شم
ورک بس له خانه دا ورپوکے شان عادت مې نۀ کۀ

سر مې حمزه هسې عابده ـ ورنه ټیټ نۀ کړولو
زړۀ کۀ مې پروت وۀ د یار پښتو ـ کښې راوچت مې نۀ کۀ

۲۷ ـ فروری ـ ۱۹۹۵ء مردان

مقطع کښې لوئې شاعر حمزه شنواری صاحب ته اشاره ده



ستا اوازه د تلو ـ راتلو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ
د اختر میاشت د راختو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ

ډېر رحمتونه هم ـ اکثر بنده زحمت وګڼي
تیارۀ د زلفو خورېدو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ

یا ډکربوان ساتل وۀ ـ یا په سر شمله نېغول
قیصه د عشق او د پښتو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ

خولې مې اوچې نۀ شوې ـ سا مې بیا په ځاې نۀ شوله
خبره ستا د پاڅېدو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ

ما ئې له سترګو ـ کټورې د زانو ـ خپله جوړ کړه
مینه عابده په غوښتو شۀ وه ـ چې زړۀ مې خور شۀ

۱ ـ مارچ۱۹۹۵ء مردان

☆

هر څهٔ پرېښودې شم ـ مېخانه پرېښودې نهٔ شمه
زهٔ د ژوندانهٔ دا بهانه ـ پرېښودې نهٔ شمه

هر څهٔ چې يم ـ يم ولې مالک د خپل زړګی خو يم
ستا غونډې رقيب له ـ يارانه پرېښودې نهٔ شمه

خار دې له مړو سترګو ـ د وړدو زلفو مهرمې شم
دا د سپرلي غېږ ـ دا پېمانه ـ پرېښودې نهٔ شمه

دېخوا کړی ـ هس لېږې کړی ـ چې وينه درته واچوم
ګلو به خان ستاسو شکرانه ـ پرېښودې نهٔ شمه

نهٔ دې ګوری ـ ضد دې کوی ـ زهٔ هم پښتو پېژنم
يو کس له عابده ـ زمانه پرېښودې نهٔ شمه

۸ـ مارچ ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

زړګے مې ستا له محبته بهر نۀ شي وتې
اشنا سړے ـ له خپل قسمته ـ بهر نۀ شي وتې

شکر وباسه ـ د مصرى زلفو قېدى ئې نۀ شوې
کنې نو زړۀ ـ څوک له قيامته بهر نۀ شي وتې

دومره باور په پښتون يار مې شته ـ رقيبه چپ شه
هر څۀ چې وکړى ـ خو له پته بهر ـ نۀ شي وتې

ستا د مئين ازادى هم ـ لکه بندى ګناهګار
يو ځل چې ستا غېږ ته شي ننګته ـ بهر نۀ شي وتې

ډېرې هوا د سپرلي يوړلو ـ د ماضي غېږې له
عابده څوک هم له خپل چته ـ بهر نۀ شي وتې

۲۹ـ مارچـ۱۹۹۵ء مردان

☆

زلفې چې تا خورې ورې پرېشانه ـ لرې یوړې
مونږه جولۍ د خپل حسرت ستومانه ـ لرې یوړې

ستا د بدن خوشبو تراوسه مې له غېږې ـ خېژي
کنې نو وخت خو رانه ډېر جانانه لرې یوړې

مونږ مئين شوي ارمانونه ـ په دار وخېژول
پېغلو مستي چې د کودر له خوانه ـ لرې یوړې

اوس خو یاري هم د خطونو په اسرو ـ پاتې ده
د ملاقات ورځې یادونو ـ ګرانه ـ لرې یوړې

د عابد مینې یاره څه کړې ـ درته څه ووایم
لکه د ستوري ئې تر بل جهانه ـ لرې یوړې

۵ـاپریل ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

خکه ئې بنکارې له سرخې نه ډک شباب پاتو کښې
رنگ چې زما د وینو خور دے د گلاب پاتو کښې

دا ئې چې زړه محبت نه غوارې ـ نو څه غوارې نور
چې هر یو خط مې خان له پړدې یار د کتاب پاتو کښې

ماته به یاد ئې تر هغې ـ څو چې مې زړه وی ژوندې
خبر دے که ستا هېر شوم اشنا د خیل حساب پاتو کښې

داسې مې زړه د سحر غم ریزه ریزه کړو ماښام
لکه چې وډورېږې ـ پاتې نه شی تاب ـ پاتو کښې

نه دې شراب وڅښل ـ نه لاړې د ساقی له دره
گوره عابده اوس واعظ هسې ثواب پاتو کښې

۵ـ اپریل ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

نهٔ زما يې پل نهٔ شوې ـ كهٔ ما لاره غلطه كړه
بيل شو ـ راته ښكاري مونږه دا ـ لاره غلطه كړه

تهٔ ؟ او بيا په داسې تېز باران كښې ؟ بې وعدې راتلهٔ
څنګه دې زمونږ چم ته اشنا ـ لاره غلطه كړه

سترګې ډېښتو مې پرې وچې شوې ـ ژوندې شومه
تا كهٔ مې د مرګ په نيت هم ـ بيا لاره غلطه كړه

اوس مې ايله ځنه هم د خاطر دے ـ په رقيب ګذار
ګوره په ليدو ئې زما ـ ستا "لاره" غلطه كړه

څومره چې يقين مې د خپل زړهٔ په محبت لرهٔ
دومره مې عابده په رښتيا لاره غلطه كړه

۲۱ ـ اپريل ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

چا روزګار کښې ـ چا په يار ـ بائيللې دے
هر سړى ـ د زړهٔ قرار ـ بائيللې دے

ژوند په حقيقت کښې ـ دى کتل د مرګ
بنۀ دى چا چې دا وقار ـ بائيللې دے

دا نه چې بې بتې ووم ـ بې چاله ووم
ستا له پاره ما "بازار" بائيللې دے

وخته ستا نه طمع ـ د سپرلى او ګل
ما خو په تا ـ دا اتبار ـ بائيللې دے

ستا هسې عابده ـ واعظ هم ګورې
زړۀ تول په ګړنګار ـ شنبار ـ بائيللې دے

۲۵ـ اپريل ـ ۱۹۹۵ء مردان



ستا د کلی لارې کۀ زما د کلی لارې دی
بیلې بیلې تلې مو اشنا ـ د کلی لارې دی

خه چې دې د زړۀ په لنبو لارو اشنا بوخمه
ورک به شې ـ ورډې ورډې ناشنا ـ د کلی لارې دی

شل خله به نوم دې د خپل کور په تسبه ولیکم
کله خو سوچ وکړه ګورې ـ دا د کلی ـ لارې دی

نۀ د مازیګر د سپل ګرمی ـ نۀ د ماښام مزې
شارې یې له تا راته والله د کلی لارې دی

تلې چې په ساده ساده بنائیست پسې ـ هوښیار وې ډیر
خنک درنه عابده اوس خطا ـ د کلی لارې دی

۲۸ـاپریلـ۱۹۹۵ء مردان

☆

په تور وربل کښې ـ د سرو ګله غنچه ـ چا يوړله
چې د بېدار زړونو ـ له غېږو ئې ـ قرزا ـ يوړله

داسې په شړنګ د زولنو زما ـ حېرانه شوله
په خانې ولاړه ـ لوېټه ترېنه هوا ـ يوړله

واعظ د څکې برخه هم ـ په ساقي قرض کښې
پوتې نيمګړې شوې کاسه ـ په منابه ئې بيا يوړله

سا د ژوندون تازه کول هم شوه ـ ګناه د چمن
هر سړی تلو کښې ـ د ګل پانه ترې ـ په غلا يوړله

چا ؟ د عابد د کور په لار ـ ښکلو ته بد وکتل
دا چا ـ نېټه د خان د مرګ په منېټيا ـ يوړله

۲ـمئ ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

حیران یم ـ چې راوړې ئې نن څنګ ګلونه سپین دی
سره زما د وینو ـ د قاتل لاسونه ـ سپین دی

باور کول زړګیه ـ به دې دور هم ـ ګناه ده
د چا چې زړونه تور دی ـ د هغوی مخونه سپین دی

مونږ ژوند وېشو به بنګلو ـ هغوی ژوند اخلی له بنګلو
لې "زړه" نه وایه مونږه ـ کۀ اشنا ـ وختونه ـ سپین دی

دا ستا د سپین بړونی ـ تماشې دی سروقدې؟
کۀ واورې وربدلې دی ـ د غرو سرونه ـ سپین دی

یاران مو هیڅ بې هېڅه ـ د نظر به ګناه وژنی
عابده زمونږ بنګلو ته والله چې زړونه ـ سپین دی

۱۰ ـ مئی ـ ۱۹۹۵ء مردان

په مربع صنعت کښې دوه قطعې

ژوند

ژوند ارمان ـ ژوند ښکلا ـ ژوند خواني ـ ژوند رڼا
ژوند ښکلا ـ ژوند سپرلے ـ ژوند خزان ـ ژوند هوا
ژوند خواني ـ ژوند خزان ـ ژوند يو خوب ـ ژوند خلا
ژوند رڼا ـ ژوند هوا ـ ژوند خلا ـ ژوند وفا

دا سپرلے ـ دا ساقي ـ دا مستي ـ دا خواني
دا ساقي ـ دا خمار ـ دا فضا ـ شبنمي
دا مستي ـ دا فضا ـ ستا خندا ـ زندگي
دا خواني ـ شبنمي ـ زندگي ـ رنګيني

۱۲ ـ مئي ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا نه د نظر د اورېدو ـ څهٔ هنر نهٔ راځي
نور مې د زړګي ـ د صبرېدو څهٔ هنر نهٔ راځي

تا پله اشنا ـ چې کتو څهٔ هنر نهٔ راځي
تږے يم ـ ولاړ يم ـ خو د څښتو څهٔ هنر نهٔ راځي

نهٔ مې هېروه خبرلې ـ خو زهٔ لې هېروې نهٔ شم
سينه کښې ګلابه ـ د پښتو څهٔ هنر نهٔ راځي

ماله بې غوښتو به راکوی جنت ـ چې خدائے مې دے
ستا هسې واعظه ـ د سجدو څهٔ هنر نهٔ راځي

ټيک ده ـ ستا بنائېست به د وربل وی ـ خو خفه نهٔ شې
ګلې ـ د ګلونو شوکېدو څهٔ هنر نهٔ راځي

نن خو پرې عابده ـ وروره د خوانی ـ باران
نور به زندګی د تېروتو څهٔ هنر نهٔ راځي

۱۸ ـ مئی ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

لویه د ژوند لاره ده ـ یوازې یم
ګرانه بې له یاره ده ـ یوازې یم

ته چې راشې ـ خوموره سحر راشي زر
شپه ښکه ایساره ده ـ یوازې یم

تلمه چې ګلونو له ـ یاران وو دېر
نن چې لار تر داره ده ـ یوازې یم

خدائے دې ستا د ژوند سپرلی ـ خفه نه کړی
راشه ورکه لاره ده ـ یوازې یم

مړ به یم عابده ـ خو راځی چې ګل
طمع تر بهاره ده ـ یوازې یم

۱۸ـ مئی ـ ۱۹۹۵ء مردان



بې واره د زړهٔ هاغه ـ لړزېدهٔ به مې هېر نهٔ شي
ټول عمر کښې ـ ستا یو خلې کاتهٔ ـ به مې هېر نهٔ شي

لحظه کښې چې به مړ شومه ـ لحظه کښې به ژوندې شوم
ستا تلهٔ به مې هېر نهٔ شي ـ ستا راتلهٔ به مې هېر نهٔ شي

همېش به لکه مالګې مې لوړېږی ـ به زخمونو
رقیب سره ستا ـ ما ته خندېدهٔ ـ به مې هېر نهٔ شي

هر څو ئې کهٔ زهٔ مړ کړمه ـ څو ستا به "نوم" ئې مړ کړم
سل بلو دا یو د قاتل ښهٔ به مې ـ هېر نهٔ شي

باران وهٔ ـ یخه شپه وه ـ څو څادر د خولو ډک وه
عابده د تېر کال هغه سارهٔ به مې هېر نهٔ شي

۲۳ـمئی‌ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا وعدې به مې پاګل کړي ۔ ستا لوظونه مې تېرباسي
څۀ کمزورۍ مې قسمت دے ۔ څۀ وختونه مې تېرباسي

ستا په زلفو چې هتين شوم ۔ ستا رخسار چې مې ارمان شو
سحرونه مې تېرباسي ۔ ماښامونه مې تېرباسي

زۀ ساده باده پښتون یم ۔ زۀ شابل پېدل سړے یم
ستا خوبونه مې تېرباسي ۔ ستا رنګونه مې تېرباسي

ستا خندا د سپرلي زړے ۔ ستا کاته د ګلو خوب شو
کال مې لاسو کښې ریجې شو ۔ بهارونه مې تېرباسي

ستا د مخ ستورے مې چرته ۔ د لاس کرښو کښې ځائې نۀ شو
خپل فالونو بې اسرې کړم ۔ اسمانونه مې تېرباسي

نۀ په خوئی د اشنا پوئې شوم ۔ نۀ استاذ د زندګۍ شوم
تل عابده په لمبو کښې ۔ خپل دردونه مې تېرباسي

۲۷۔مئی۔۱۹۹۵ء مردان

☆

چې واره راورېږي په زړګی - څو ورځې وشوې
ښخیږي په سینه کښې مې ازغی - څو ورځې وشوې

چې وجې مې ارمان د ژوندون نۀ دے - په تویونو
ډیوې مې په مزار څوک بلوی - څو ورځې وشوې

ستا لوظ ماتول به تاته هېڅ نۀ ښکاری - ګله
څو دلته خفه شوی دی سپرلی - څو ورځې وشوې

تا څۀ رشته د مینې اشنا پرې کړه - رانه لاړې
ساقي هم رانه جام اوس پټوی - څو ورځې وشوې

تپوس ترې کول غواړی - چې په څۀ بلا اخته دے
عابد چرته په شپه کښې - څی راځی - څو ورځې وشوې

۲۸-فروری-۱۹۹۵ء مردان

☆

خوږ مې د زړګي کلی کېږي ـ شور د نظرونو دے
خدايه د دې ښکلو څومره زور ـ د نظرونو دے

هره څرېکه غلې ده ـ که ژوند شو د لمبو په سر
ستا د رخسار تاو دے ـ ستا ټکور د نظرونو دے

پورې دې د يار په لمن داغ ـ زما د نوم نه شي
خبر دے که په ما ئې پورې تور ـ د نظرونو دے

هله بيا د ژوند له دوزخ تلې دے ـ جنت پله
يو ځل چې بل شوې په چا ـ اور د نظرونو دے

خدائے شته چې پخپله هم عابده ـ لا بې کوره يم
هاغه زما کور دے ـ چې بس کور د نظرونو دے

۳۱ـ مئی ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

تا ته کوری بنه شو ـ کنی دا زړه رانه تلے وه
تۀ چې رانه تلې وې اشنا ـ زړه رانه تلے وه

شل خله سېرلی کۀ د مسکا دې رابخښلی وو
ستا د رقیب تلو سره بېګا ـ زړه رانه تلے وه

سترګې شرابې دې بې نشو هۀ شه ـ ژوندی وسې
بنه شوه چې راودې کتل ـ بیا زړه رانه تلے وه

خوانه دې خندا ـ په خوانو شوندو ـ خوانی وُربې
نشته ګناه ـ شوم کۀ وارخطا ـ زړه رانه تلے وه

بیا به وریسې عابده ګرځې ـ زلفې هۀ غواړه
یاد دې شی ـ یو خل چې به غلا غلا زړه رانه تلے وه

۱ـجون ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

نۀ لارې رانه ـ تا کۀ د وعدو لارې جدا کړې
زۀ مړ درېسې ـ ما هم له ژوندو ـ لارې جدا کړې

احساس د زندګۍ چې ـ چا له ما ورکړو ـ ملګرو
د ژوند په لاره نن رانه ـ هغو لارې جدا کړې

نۀ ما داسې غوښتل ګله ـ نۀ تا غوښتل چې بېل شو
ښکارېږي چې ترمنځه مو پښتو ـ لارې جدا کړې

ما خومره لارې تاته درکړې کړې ـ د رسمونو
تا بيا هم ګله ما له د راتلو لارې ـ جدا کړې

منزل چې زمونږ يو دے ـ نو اخر به شو ترغاړه
کم عقلو رقيبانو ـ د اوبو لارې جدا کړې

عابده چرته ورک به شي ـ دا ښنۀ خائې به دې ورک شي
هر ښکلې پسې تا ـ د خپلو تلو لارې ـ جدا کړې

۴ـجون ـ۱۹۹۵ء مردان

سوال

وریځو راشي ـ د باران شیبې راووزوی
ګلونو ـ وخندې خانونه ـ شبنم ووروی
د سپرلي مستو هواګانو ـ درته سوال کومه
د مستو میو خوشبوئي په لپو لپو ـ راوړی
نشه نشه کړی دا فضا ـ بادونه وخنګوی
جوته جوته کړی د وخت ستړی ارمانونه ـ راشي
پېغلو خواږه کړی وربلونه ـ چي تیارې خورې شي
د سحر سترګي ته خورې کړی لوېتي ـ چي پټ وی

په عمر پس ئې وعده وکړه ـ چي درخمه خوب کښي
ګوری ـ تصویر د تصور چي مي بې رنګه نه شي

هسې نه ـ زه ورته بې لوظه شمه ـ ویش پاتي شم
ما لېږ وډه کړی ـ زما مینه پاندې ـ رحم وکړی

نور د ژوندون زهر یوازې نه څښیم ـ مر بنه یمه

۶ـجون ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

زړه ـ د منېتوب وختونه نه ګوري
مينه ـ تور او سپين مخونه نه ګوري

ګوري ـ خو چې زه ورته وروګورم
کېږدي زر په مخ لاسونه ـ نه ګوري

وخت دې لا دتلو نه وه ـ خو څه وکړم
مرګ د چا ـ اشنا عمرونه ـ نه ګوري

چم که د يار غواړې ـ ورسره په خپ
ورستو څوک زړګيه ـ پلونه نه ګوري

مه وايه عابده ـ شپې ته شپه ـ خبر دے
خان له څوک په زور جنګونه ـ نه ګوري

۷ـجون ـ۱۹۹۵ء مردان



د خندا موسم به راشي ـ د لوظونو وخت به راشي
اے د زړۀ سره زمونږ ـ د ارمانونو وخت به راشي

سبا مئين به ستا د سوال ـ په تالاش تول عمر ورک نۀ وي
د سپرلو ورځې به راشي ـ د ګلونو وخت به راشي

دا چې کوم لاس کښې نن کاڼی دی ـ سبا به پکښې ګل وي
تماشه کوه ـ د دې ماتو سرونو ـ وخت به راشي

هره څړيکه به نغمه شي ـ هر يو درد به د ګل پاڼه
زمونږ وينې به په ښائې شي ـ د رنګونو وخت به راشي

تۀ ئې ليکه بې لالچه ـ بې معنې بنۀ دی عابده
خامخا يو ځل د داسې ـ رنګ شعرونو وخت به راشي

۱۸ـجون ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

خفه خفه دی ـ د محلت خلق خوشاله نه دی
زما او ستا په محبت ـ خلق خوشاله نه دی

ما کۀ ورویخښل خوارۀ د خپل خیګر ـ ملګرو
ولې بیا هم دا د الفت خلق ـ خوشاله نه دی

خاندی کۀ هر سړے جنت ته ـ نو مجبور دے له مرګ
کنی د ژوند په دې قیمت ـ خلق خوشاله نه دی

جام چې د میو ورکوې ـ نو ورته ګوره ـ خاندۀ
زما ساقی ستا په تش ست ـ خلق خوشاله نه دی

غوارې هر ځاې کښې چې اصول ـ کوې ریښتیا خبرې
عابده ـ ستا په دې عادت خلق خوشاله نه دی

۲۰ـجون۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا د انتظار په شپه کښې ستورو لاس راکړے دے
ستا په ځائې تل ماله اشنا - نورو لاس راکړے دے

اوس خو مې د ژوند په سحر هم - د شپې کمان کیږی
سپینو چې برې ایښې یمه - تورو لاس راکړے دے

ځکه خو مې لاس د وخت د نبض - په درد پوهه دے
تل د ژوند په لار کښې چې - کمزورو لاس راکړے دے

خدائے زده - چې دا څوکې ستا د زلفو - مې په کومه وری
څۀ توره تیاره ده - څۀ شمکورو لاس راکړے دے

مومنه عابده - چې ولی یمه - یا پیر یمه
ځکه خو دې دور کښې بې کورو - لاس راکړے دے

۲۲-جون-۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا د انتظار ۔ انتظار ستړے کړم
ګل ته د بهار ۔ انتظار ستړے کړم

مینه رانه پاتې "خالی جیب" کړله
خدائیګو ۔ د روزګار انتظار ستړے کړم

ته زما د زړه وینو ۔ دمه کړلې
زه ستا د اقرار ۔ انتظار ستړے کړم

خلق ۔ ساقی څیلو پاندې ستړے شو
زه خو د خپل وار انتظار ۔ ستړے کړم

خدائے خو دې عابده تا به نېکه کړې
تل دې به بېکار انتظار ستړے کړم

۲۶۔جون۔۱۹۹۵ء مردان



اشنا د محبت په اندازه سړے پوهېږی
دا ښار دے ـ دلته هر ساده ساده سړے ـ پوهېږی

روان شومه ـ چې وې وئېل رقیب ته ـ "بهر وخه"
ملګرو ـ د نظر په اشاره سړے ـ پوهېږی

زړګیه چا نه لرې شو ـ او چا ته ورنژدې شو
اوس نه د چا په بده ـ نه په ښه ـ سړے پوهېږی

خوانی ئې راله تېره د سبا په انتظار ـ کړه
حرام شه کهٔ د ښکلو په وعده سړے ـ پوهېږی

عابده څوک به څهٔ پکښې پیدا کړی ـ د ژوند پاڼه
نهٔ دلته کښې په ورخ او نهٔ په شپه سړے پوهېږی

۲ـ جولائی ـ ۱۹۹۵ء مردان



ستړکې اوچتې کړه ـ مسکے شه ـ پرېشانی ښه نۀ ده
منم چې نشته پسرلی ـ زندګانی ـ ښه نۀ ده

ساه مې د ژوند ازغی ازغی ـ فکرونه سپور د مینې
چې بې له تا ده ـ کۀ فضا ده بارانی ـ ښه نۀ ده

لار د ځوانی ده ـ خدائے خبر چې څۀ پېښېږی ـ اشنا
ګوره ـ زمانه دې دا دومره خان خانی ښه نۀ ده

ګورې خورې زلفې ـ او بربندې ورزې ـ تورې ستړکې
الله دې خبر کړی ـ توره شپه ده طوفانی ـ ښه نۀ ده

زړۀ ـ چې هر ښکلی له تحفه کېښې ورکوې په نظر
دومره دې هم عابده ـ دا مهربانی ښه نۀ ده

۱۹ـجولائی ـ۱۹۹۵ء مردان



لاړه په هوا ـ نظر کښې خائې نۀ شو
خیال دې وه هما نظر کښې ـ خائې نۀ شو

ما په خپل نظر کښې ـ تۀ باچا کړلې
ستا کۀ مې پېدا ـ نظر کښې خائې نۀ شو

ستا نه پس ـ بلها ښکلې مې ولیدل
څوک مې بې له تا ـ نظر کښې خائې نۀ شو

دا د رقیب لمس دے ـ داسې نه وې ـ تۀ
زړۀ چې زما ـ ستا نظر کښې ـ خائې نۀ شو

ستا د مینې غم چې مې په زړۀ کښې دے
بل غم مې اشنا ـ نظر کښې خائې نۀ شو

تا چې ورله څېړه کښې خائې ـ ورنکړو
لاړ ـ عابد د چا نظر کښې ـ خائې نۀ شو

۲۴ـجولائی ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا خندا پکښې ډېره ده ـ ستا خوبونه پکښې ښکاري
ستا د چم خلقو ته ګورم ـ ستا رنګونه پکښې ښکاري

ماته ګوري په مستۍ دے ـ هر نظر ئې په هوا دے
لاس رقیب ابېټي په جېب دی ـ ستا خطونه پکښې ښکاري

زما زړه غځه دے ـ بې ستا نه ـ زما ژوند خه دے ـ یوازې
تش دردونه پکښې اوسي ـ تش غمونه پکښې ښکاري

ما وئیل "حورې بو خوب دے" ـ واعظ وخندل وې "چپ شه"
نزاکت به ئې څه وائې ـ سم رګونه پکښې ښکاري

ستا د یاد په هوا پائېم ـ د روزګار غمونه خورمه
کۀ مې ژوند ازغی دے ـ خو ګلونه پکښې ښکاري

څکه ګورمه عابده ـ سترے لار ته ـ چې به راشي
مینه ناسي انتظار دے ـ امیدونه پکښې ښکاري

۱ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

بنه ده ـ چې له خوبه دې تراخهٔ نهٔ خي
دے سره له مخه به دې سرهٔ ـ نهٔ خي

چرته چې مې زړهٔ خي ـ هلته زهٔ نهٔ خم
چرته زهٔ خمه ـ هلته زړهٔ نهٔ خي

ساه دې راله ډوبه تور وربل کړله
بله مې ډيوه کړه ـ خو تيارهٔ نهٔ خي

دار ته هم تيار يم ـ خو چې ست وکړې
چرته بې بللو پېښتانهٔ ـ نهٔ خي

نور مې هر انداز عابده ـ نوې شو
بس خو عادتونه مې زارهٔ نهٔ خي

۸۔اګست۔۱۹۹۵ء مردان



څو وعدې راسره وکړه ـ څو ګلونه راله راکړه
اشنا هېر چې رانه نۀ شې ـ قسمونه راله راکړه

مونږه تږي يو د مينې ـ مونږ د سترګو اوړی نۀ يو
جام د ميو ساقي توئې کړه ـ نظرونه راله راکړه

څبر دې مۀ راځه ـ څو مۀ وايه ـ چې هر څۀ شو دريابې
په اتبار کښې مې لږ برېږده ـ اميدونه راله راکړه

څادر مۀ څنډ وهه ګوره ـ په موډو پس ايله راغلې
هر کلي ته څو ايسار شه ـ لږ لاسونه راله راکړه

نن هغه زما نقاد دے ـ نن هغه غزل نګار دے
چې برون ئې وې ـ "عابده ـ څو شعرونه راله راکړه"

۱۵ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

زړه مې خکه ستا د لوېتې سپوري ته زور کوي
هر سړے په نمر کېښې د غرمې ـ سپوري ته زور کوي

دوارو کېښې احساس د ګناهونو په تویونو وي
څوک د مېخانې ـ څوک د کعبې ـ سپوري ته زور کوي

تا چې غواړي ـ ستا د کوڅې خلقو باندې وژنې ـ خان
هم په ډیوه مري ـ هم د ډیوې سپوري ته ـ زور کوي

دا هم بې وسې وې ـ چې د شوق په پرې کېږدې لاس
کوري صراحي ته ـ د توبې سپوري ته زور کوي

پوئې شه چې ساقي اوس څوک ـ ډوکه نه خوري جنت پسې
نن چې دې عابد هم د کاسې سپوري ته زور کوي

۱۷ ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

تاسره پالل مې د وعدو ـ تندې کېنې نشته دے
کرېنې مې اشنا ـ د خوشالو تندې کېنې نشته دے

ناست يمه ـ چې رابه شې ـ ګنې نه راته پته ده
نمر لېدۀ ـ سحر لېدۀ ـ د شپو تندې کېنې نشته دے

عمر وشو ګرځو ـ در په در لکه پردو هسې
لاره مو يو ځائې چرته د تلو ـ تندې کېنې نشته دے

ما د وخت بادونو ـ د عمل په تله وتلې
څۀ کۀ يو محراب مې د سجدو ـ تندې کېنې نشته دے

څکه خو عابد دې کړنګوې تشې کاسې د ژوند
شړنګ ئې چې شها ستا د بنګړو ـ تندې کېنې نشته دے

۱۹ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

فاصلې

لکه چې زړه په درزېدو شي ـ او بې کوره شي ساه
داسې دې خیال اوتر اوتر ـ لکه وریخه تېر شو

لکه چې ګل د سحر باد ته ـ ورتوغاره وخې
داسې د زلفو هر وېښته دې ګلې ـ زېګ زېګ کړمه

لکه مئین په مړدو پس ـ د یار کوڅې له راشي
پورې ور ووینې ـ وایس شي ـ په بائېللو سترګو

لکه خوشبو د چا د ښکلې شان بدن ـ خوره شي
زړونه له شوقه په درزا شي "څۀ" وئېل وغواړی

لکه چې کاڼی غوک ـ د لویو اوبو منهنخ ته ولی
یو څو وړې وړې څپې تړې ـ دائېرې واچوی

لکه یو ورک شانې اواز ـ د لویو غرونو منهنخ کښې
چې راوایس شي ـ خوشفهمي شي ـ سړے وشرمیږی

لکه چې شونډې د چا وچوی ـ او خاندلې نۀ شي
داسې دې راغلمه تر کوره ـ خو لیدل ونه شو

لکه چې پېغله "څۀ کول" د چا په خوب ـ وویني
بیو دم راویخه شي ـ مسکی شي ـ د بالخت په سینه

داسې مې تۀ لکه د روح د زندګی ـ بانه یې
داسې مې تۀ لکه په تن کښې ـ وینه ګرځي

داسې مې تۀ لکه د ژوند ـ د ارمانونو ساه یې
داسې مې تۀ لکه د سوال ـ هر وخت په خله کې وسې

نو بس راځه ـ چې سپیناوې د خفګانونو وکړو
چې مو ترمنځه بیا دا دومره فاصلې ـ د څۀ دی

۲۵ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

لوبه د سر ده ـ چې قسمت راسره څۀ چل کوی
کورو اشنا چې محبت ـ راسره څۀ چل کوی

هر کوڅه کښې ګله ـ هر چم کښې په کاڼو لګم
ستا د نامې په شهرت راسره ـ څۀ چل کوی

وګوری مست مې کړی ـ مخ وارړوی ـ ریزه ریزه شم
یه عادت څۀ ـ په شرارت راسره څۀ ـ چل کوی

یه یو خندا ئې تر اسمانه د الفت ـ وچت کړم
پوهیږم نن چنار قامت راسره څۀ ـ "چل کوی"

څۀ خو بختیې راته ـ یا مرګ دے ـ یا خواږۀ د ژوندون
د تیزې سا نور دا ساعت ـ راسره څۀ چل کوی

شمیر په رندانو کښې نۀ شم ـ او پاګل نۀ شمه
نور په عابده خپل عادت راسره څۀ چل کوی

۲۹ـ اګست ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

دا خو د چا مخ ـ او د چا زړۀ ته سړے ګوری
اشنا په پردی چم کښې ګنی څۀ ته ـ سړے ګوری

مقصد چې د منزل د رسېدو شی په تويونو
زرګيه نۀ ګرمی ته ـ نۀ سارۀ ته سړے ګوری

نصيب به ئې سحر سنا د روخسار نۀ شی ـ می رنګه
د شپې نه چې منکر شی ـ او تيارۀ ته سړے ګوری

لاس داسې د رشتې په مرى نۀ ږدی خلق ـ ګوره
تعلق کښې د مودو خو څۀ نه څۀ ته ـ سړے ګوری

باور وکړه چې پاتې نيمه لاره کښې د ژوند شی
عابده چې خپل کار کښې د بل خلۀ ته سړے ـ ګوری

۱ـ ستمبر ۱۹۹۵ء مردان



په تا خان وژني ـ خو بوازې زندګي نۀ منی
اشنا عابد ستا لېونے دے ـ لېوني ـ نۀ منی

د زړۀ په وینو رنګوی ـ ستا د خوانی ګلونه
منین د مینې انتظار کښې د سپرلی نۀ منی

شریک زما د محبت به هم پېدا نۀ شی څوک
صنم چې ستا بې کچه حسن به ثانی نۀ منی

څنګه مې زړۀ د یار کوڅه پرېږدی او ستاسو واوری
واړه یو کار کښې هم ملګرو ـ د سری نۀ منی

څکه خو پاتې نیمه لار کښې شوې ـ چې سر ته کوزې
مینه توکل غواړی عابده ـ هوښیاری نۀ منی

۶ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



چې ستا د محبت له امتحانه سرې وځي
والله چې د ژوند لارې ته ـ په کرانه سرې وځي

ستا شونډو ته چې ګوري ـ او ستا سترګو کښې خان وينې
له خانه سرې وځي ـ له ايمانه سرې وځي

ساقي چې ستا په نوم باندې نيت ونکړي ـ د ځينو
تر عمره تږې تږې له جهانه ـ سرې وځي

جولۍ ګرځوي ـ غواړي بيا په شپو کښې ـ سحرونه
يو خل چې ستا د زلفو له طوفانه سرې ـ وځي

عابده خدائې به خدائې وي ـ که تر زمکې پورې راشي
سرې به وي سرې ـ که له اسمانه سرې ـ وځي

۷ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

په تلو کښې راته ياد شوې ـ په راتلو کښې راته ياد شوې
اشنا چې د ژړګی په دړزېدو کښې راته ـ ياد شوې

ځمين چې دې په مخ شومه ـ په زلفو کښې دې وړک شوم
سحر کښې راته کښې راته ياد شولې ـ په شپو کښې راته ياد شوې

ګريوان ته مې چې وکتل ـ رقيب ته مې چې خيال شو
سلګو کښې راته ياد شوې ـ اسوېلو کښې راته ياد شوې

دا ماته ګران بې خکه ـ ګنې ستا کمال خو نه دے
د بنکلو د نظر په معجزو کښې ـ راته ياد شوې

د عسر ئې احسان راباندې پاتې کړو ـ چې راغے
مسکے شو ـ وې "عابده ـ په بنهرو کښې راته ياد شوې"

۱۰ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



زړه لوئې شی ـ چې یاره چرته وګورې
ماته چې به لاړه چرته ـ وګورې

ستا به لمن داغ شی ـ رقیبانو کښې
هسې نه ـ بې واره چرته وګورې

پاتې زړه شوم ـ تا ته خو اسانه ده
بل به تر بهاره ـ چرته وګورې

ژوند چې رانه واخلې ـ راله زړه راکړې
داسې به نګاره چرته وګورې ـ؟

نور دې د عابد د زړه زور ـ نشته دے
جنګ له به خوګ یاره ـ چرته وګورې

۱۳ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



نۀ چې غیر نۀ کوې اشنا ـ تا چې سلام پرېښے دے
زړۀ مې بې کوره دے ـ ساګانو مې ارام پرېښے دے

خدائے دې رنګ ورک کړی د هوا ـ چې چېرې ستا پرونے
ښکاری خدائی هم د دې دور خپل مقام پرېښے دے

دا هم احساس د ناکامی راکوی ـ ستا د مینې
هر یو رقیب چې راته پل ـ په هر یو ګام پرېښے دے

ستا په زلفانو چې مئین شوم ـ ستا د مخ لیونے
ګردش نه وتې یم ـ ما هر سحر ماښام پرېښے دے

عابد خو ستا مئین دے ـ بس ستا په نامه ئې ایمان
نوره ئې هره عقیده ـ کفر ـ اسلام ـ پرېښے دے

۱۴ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء ـ مردان

☆

بیا دې نن نظر ښکاری پردې پردې
ژوند مې سراسر ښکاری پردې پردې

نه چې پکښې نه ئې ـ ستا خوشبو نه وی
ماته هر ډګر ښکاری ـ پردې پردې

شک مې شه چې ته ـ ؟ او بیا زما سره؟
نن مې مقدر ښکاری پردې پردې

ستا له وره ـ څوک چې نامراده ـ شي
بیا ورته هر ور ـ ښکاری پردې پردې

ته عابد ته هر وختې ښکاریږې ـ خپل
تا ته که اکثر ښکاری ـ پردې پردې

۱۵ ـ ستمبر ۱۹۹۵ء مردان

☆

اشنا چې رانه لاړې ـ نو پرېشانه خو به یمه
زړګے چې رانه ورک شو ـ سرګردانه خو به یمه

ستا سپورۍ ته چې ناست وومه ـ په تا مئنېدمه
په ژوند باندې د زړه سره ـ ستومانه خو به یمه

هر څو که ورستو وګورم ـ خو څه ته به ورګورم
ستا لار د شګو لار ده ـ بې نښانه خو به یمه

اتبار چې مې د تلونکو په وعدو کړه ـ زړګیه
نیمګړے خو به یمه ـ بې عنوانه خو به یمه

ستا لېو کېږې عابده ـ چې ارمان مې وه ـ د مېو
نن ناست له ډېرې تندې نه ـ بې خانه خو به یمه

۲۴ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

کله مو عشق کړې ـ کله کار کړې

هاغه خلق خدائیګو خوشقسمته ـ وو
چا خو چې خپل عشق ته هم روزګار ووې
یا چې عاشقي ئې وه ـ روزګار سره
مونږه خو تر ژونده مصروف پاتې ـ شو
کله مو عشق کړې ـ کله کار ـ کړې
کار راله په عشق کښې شو ـ ازغے ازغے
عشق راله د کار ـ دروازې بندې کړې

بس خو چې اخر ترینه ډیر تنګ شو مونږ
دواړه مو والله نیمګړې پریښودل

۲۶ـ ستمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

د فیض احمد فیض د نظم ترجمه

☆

تا چې زما ـ او ما ستا ـ سپوږى ته دمه کړې ده
دا مو د روغې دنيا ـ سپوږى ته دمه کړې ده

رانجهٔ خوارهٔ ـ خوشبو خوره ـ هم ستومانى د هوا
ښکارى دې لاره کښې ـ چا سپوږى ته ـ دمه کړې ده

زهٔ د ژوندون د سترو لارو هغه ورک ـ مسافر
په هر قدم چې مې ستا ـ سپوږى ته دمه کړې ده

زهٔ همېشه د نمر په مخ ـ لکه وريخ خور شهٔ وې
کله هم ياره چې تا ـ سپوږى ته ـ دمه کړې ده

ژوند مې عابده ـ چې ارمان د لوېتې پاتې دے
څنګه به وايم ـ؟ چې ما سپوږى ته دمه ـ کړې ده

۲۶ـ ستمبر ۱۹۹۵ء مردان

☆

زما له نومه چي شرمېږي ـ ماته نۀ شي کتي
دا هم په ما باندې نازېږي ـ ماته نۀ شي کتي

دا خو بنکاره ـ زما د مینې د جواب ـ نخښه ده
زمکې ته ګوري ـ هم مسېږي ـ ماته نۀ شي کتي

زۀ ورته ډېر کۀ په بدل بدل نظر ـ ګورمه
کچه الفت ورته یادېږي ـ ماته نۀ شي کتي

ما خو ترې بس دومره تپوس وکړو ـ چي "مینه څۀ وي"
خاندي ـ منګې نه راتاوېږي ـ ماته نۀ شي کتي

دا د واعظ د صبر حد دے ـ؟ کۀ توبه وباسي
لاسونه جام ته ئې رېږي ـ ماته نۀ شي کتي

نسر چي یار ووینې زما خوا کښې ـ عابده ـ مانام
ډوب شي ـ له قهره لمبه کېږي ـ ماته نۀ شي کتي

۳ـاکتوبر ـ۱۹۹۵ء مردان

☆

تا چې اشنا د خپل نظر بلها قیمت ایښې دے
ما د خپل لکه د زر ـ بلها قیمت ایښې دے

اوس به دې خود خاورې د پل ـ خلق به سر اجوی
گران پوښه ـ تا چې د خپل در بلها قیمت ایښې دے

ته کۀ دې خپله لوبیته د حیا برخه کښې
ما هم دخپل سورې څادر ـ بلها قیمت ایښې دے

پښتو او پت ـ شمله ـ وقار ـ ننګ او ناموس مې نیسی
ستا نه قربان ـ خو ما د سر ـ بلها قیمت ایښې دے

هره وعده کښې ئې وعدې ـ له عابد واخستۀ ژوند
ښکلی به څائې د خپل هنر ـ بلها قیمت ایښې دے

۴ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

ښېښن دې په بنګړو ـ او په اوربل خو به یادېږم
د وینو قرباني کښې ـ په مقتل خو به یادېږم

ضدي وو ـ مئے پرست وو ـ په بې مخو باندې مړ وو
زړګیه ـ د یارانو په محفل ـ خو به یادېږم

سپرلے چې راشي ـ یا د ژمي شپه ـ یا اخترونه
په کال کښې خامخا درته ـ یو ځل خو به یادېږم

ستا نوم به ئې پوښتنه ـ کله ستا کور ـ کله معافیانې
ستا سر باندې رقیب ته به څهٔ چل خو به ـ یادېږم

عابده دا منم چې مې خپل نهٔ شو ـ "غزل مخې"
خوشحاله یمه خیر دے ـ په "غزل" خو به یادېږم

۶ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ ـ مردان

☆

عمرونه تیر شو ۔ ستا وعدې به لا تر سره نهٔ شي
اشنا د مینې اندیښنې ۔ به لا ترسره نهٔ شي

بې خوبه ستورې ۔ تول خبر دی ۔ چې په خوب کښې راغلې
ښکاری دا ویښې فاصلې به لا ۔ ترسره نهٔ شي

بې صبره سترګې ۔ بیا هم ستا په مخ پلو ۔ نهٔ زغمي
تیره خوانې شوه ۔ خو مزې به لا ترسره نهٔ شي

هره رښا کښې لا ۔ د وینو د داغونو ۔ سره دې
چا وی ملګرو ۔ چې تیاری به لا ترسره نهٔ شي

شوې د پېنځیښتو ۔ خو لا خوی د ماشومانو کوې
عابده داسې ۔ دا جذبې به لا ترسره نهٔ شي

۱۰۔ اکتوبر۔۱۹۹۵۔ مردان

پېنځویښتو
دا لفظ په څلورو مسلابو کښې دے خو د شعر د وزن له پاره په دریو کښې لیکلې شوې دے

☆

د سترګو د جامونو د مستۍ ـ جواب دې نشته
سرې پکښې دمه شي ـ د جولۍ جواب دې نشته

سپرلے څۀ دے ـ شراب څۀ دي ـ خوشبو او غوټۍ څۀ وي
قربان دې له نشه نشه ځوانۍ ـ جواب دې نشته

ما لاس چې درته ونيوۀ ـ تا لاس رقيب له ورکړو
کم عقل دے چې وائي "د سيالۍ ـ جواب دې نشته"

دوه ورځې د ګناه مې ليدې نۀ شي ـ حساب غواړې
والله د حوصلې ـ او د خدائي جواب دې ـ نشته

ژوند ګېر پکښې زما ـ لکه رګونه ځانګې ځانګې
د لويو لويو زلفو د کمځۍ ـ جواب دې نشته

دا خوئي چې د خانۍ د ښکلۍ نۀ دے ـ نو د چا دے؟
عابده وې ئې "بس د غريبۍ جواب دې نشته"

۱۱ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

ځنګ به ورته بنکلے ـ خلق نۀ وائی
''وا'' ریښتیا به ولې خلق ـ نۀ وائی

ستا د زلفو شپه ـ او ستا مئین ـ الله
بس هر څۀ لیدلې ـ خلق نۀ وائی

خیال د تعلق ساتی ـ راځی ـ تاله
دې ته ''نابللې خلق'' نۀ وائی

زړۀ د رقیب لوټې شی ـ به دې هم اشنا
حال دومره هم غلې ـ خلق نۀ وائی

تا خو به عابده ګورې ـ مړ کړی ځوک
هر ځائې کښې غزلې خلق ـ نۀ وائی

۱۳ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

ستا لیونے دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې ۔ نۀ کوی
دے ۔ دے په "دے" دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

نۀ پرې هر څل نوې ستم کړه ۔ خو زما زړۀ ۔ اشنا
په تا ژوندے دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

ساقي واعظ دومره ساده نۀ دے ۔ په هر څۀ رسی
وخت د کاسې دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

لاس چې دې ماله راکړو ۔ پوئې شوې ؟ رقیب چپ ولې شو
اوس بې اسرې دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

ستا خال ته ګوری ۔ ستا وربل کښې شرارت چې وینی
تور مارانې دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

سترګې ئې سرې ۔ وېښتۀ بیر ۔ ګرېوان ریښې ۔ خو ګله
عابد زلمے دے ۔ خکه ستا نه څۀ ګیلې نۀ کوی

(صوتي قافي)۲۰ اکتوبر ۱۹۹۵ء مردان

☆

هر لېونے "دلته" دا ټول خلق ـ په "ما" پېژني
خکه خو تا هم اشنا ـ ټول خلق په ما پېژني

نۀ د بنګلا ـ نۀ د خوشبو ـ نۀ د رنګونو موسم
زۀ له ګل يمه ـ تا ـ ټول خلق په ما پېژني

ستا پابندو د محبت ـ ګله تر ډاره يوړم
هيڅه به اوس خامخا ټول خلق ـ په ما پېژني

زۀ لکه ستا ـ د بل په نوم باندې شهرت نۀ لرم
زما به ګلې کښې ما ـ ټول خلق په ما ـ پېژني

ما د ژوندون هره ژړا ـ داسې په زړۀ کښې خائې کړه
تل به عابده خندا ـ ټول خلق په ما پېژني

۲۲ـاکتوبر۱۹۹۵ء مردان

☆

ساقي چې پکښې نشته ـ مېخانه شاړه پرته ده
ملګرو ښکاري تول زمانه ـ شاړه پرته ده

ستا "ياد" دے ـ چې زما د زړۀ په کور کښې پرې اختر دے
ناشنا کنې د ژوند هره کوڅه ـ شاړه پرته ده

تا مخ چې را نه واړوۀ ـ تا سترګې چې ناشنا کړې
زما د هر غزل هره مصرعه شاړه ـ پرته ده

مستي چې پکښې ستا د ليونو خالونو ـ نشته
والله چې د خوانۍ هره قيصه ـ شاړه پرته ده

اشنا چې ورته نۀ اوس ـ الوتلې نظر نۀ کړې
عابد ته دې د ستورو ډکه شپه ـ شاړه پرته ده

۲۳ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



ښکلا مې د غزل ـ د زړه باچا ـ د سر ګلاب یې
جانانه زما ژوند یې ـ ته زما د سر ګلاب یې

زړه ستا له وجې ګوره ـ د هر چا دسترګو خار یم
ته ما باندې ژوندے یې ـ د هر چا د سر ګلاب یې

تندے چې درته ګونجې زما نه شو ـ لاس مې درکړو
رقیبه دا به دې چې ـ د اشنا د سر ګلاب یې

زرګیه ـ د ژوندون سفر به تل کوې یوازې
دروغ به وی ـ چې وائی څوک "زما د سر ګلاب یې"

عابد ته ځکه ګران یې ـ غزل مخیه پښتونه
حیا درکې خلیږی ـ د حمزه د سر ګلاب یې
۲۸ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

مقطع کښې لوئې شاعر حمزه شنواری صاحب ته اشاره ده



اشنا ګوره به وعده کښې ـ لږ ایسار شه ـ لږ ایسار شه
مۀ خه مۀ خه په دې شپه کښې ـ لږ ایسار شه ـ لږ ایسار شه

ستا خندا کښې خوشبوی دی ـ ستا کتل خوانی د ګلو
زۀ سوالی د ژوند کوڅه کښې ـ لږ ایسار شه ـ لږ ایسار شه

"لاخو هوش زما په ځائې دے ـ د زړۀ حال څنګه ښکاره کړم
حقیقت وی په نشه کښې ـ لږ ایسار شه ـ لږ ایسار شه"

ژوند مې تېر شو سرګردانه ـ دې ارمان له ګوره ورک کړم
چا وۀ نۀ وې دروازه کښې ـ لږ ایسار شه ـ لږ ایسار شه

چې بيا نه راځي ـ څه خبر دے ـ خو اوس مې وايه چې "لاړم"
زړه مې برېږده په سينه کېښې کښېږ ـ لېږ ايسار شه ـ لېږ ايسار شه

بيا ورېځې راخورې شوې ـ بيا څوک زاورې ـ زړه چاودلې
وخته مې څه دې کوځه کښې ـ لېږ ايسار شه ـ لېږ ايسار شه

ما وې ښکارې په اوښو کښې ـ سپوږمۍ ربې ـ هوا خاندې
تا وئيل "په لوېته کښې ـ لېږ ايسار شه" ـ لېږ ايسار شه

سپين وېښتو ته عابد ګورې ـ ستا ارمان ورته خليږي
خان ته وائي ائينه کښې ـ لېږ ايسار شه ـ لېږ ايسار شه

۳۱ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

د کعبې ورونه پورې ـ بت خانې بندې پرتې دي
نن اشنا په ما چې ستا د کور تمبې ـ بندې پرتې دي

دا د دور کامیابی ده ـ که زوال دے ـ خبر نه یم
خلق وینې څښتی په لپو ـ میخانې بندې پرتې دي

ستا له مراو سترګو خار شم ـ لېر راوګوره ـ ژوند راکړه
ولې وژنې مې ـ بې ځایه پیمانې ـ بندې پرتې دي

ستا د زلفو غوزونې ـ چې د ژوند په سحر نشته
زما شپې د نصیبونو ـ هم په دې بندې پرتې دي

ستا انګور انګور خوانی ته ـ ستا غزل غزل انداز ته
د عابد له شرارت ډکښې توبې ـ بندې پرتې دي

۳۱ـاکتوبر ـ۱۹۹۵ء مردان



هره شپه ـ سحر ـ ستا انتظار کوی
اوس مې هم نظر ـ ستا انتظار کوی

خور لکه د ګل شو ـ پاڼې پاڼې شو
بیا مې هم ځیګر ـ ستا انتظار کوی

ستا د لوبتې هسې ـ ځپې وهی
زړه مې چې اکثر ـ ستا انتظار کوی

ته همیشه خیال فکر ـ قایم لره
تل به مقدر ـ ستا ـ انتظار کوی

ته عابده دوب ـ خپلو خولو کښې یې
پیغلې به کودر ـ ستا انتظار کوی

۶ـ نومبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



وخت وشو ـ د بنګلو لار کښې ـ ناست یمه
یو کس ته ـ د شلو لار کښې ـ ناست یمه

زړه له ـ د ژوندون نه ـ مزې اخلمه
ستا د تلو ـ راتللو ـ لار کښې ناست یمه

یا خو به ګل راکړې ـ یا جولۍ کانې
بس ـ خو د ښاغلو لار کښې ناست یمه

ستا د شونډو رنګ ته پکښې ـ ګورمه
غنم شوم ـ د ګلو لار کښې ـ ناست یمه

مینه چې یالم عابده ـ زړه لرم
تل به د قاتلو ـ لار کښې ناست یمه

۱۰ـ نومبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



په تا باندې خان وژني ـ زندګي ته چرته ګوري
مئين د خپلو زړونو خوشالي ته ـ چرته ګوري

ريزه ريزه خوشاله دے ـ چې ستا بنو ته ياد دے
زړګے مې په ساحل ډوبې کيشتي ته چرته ـ ګوري

نظر چې زما ـ خوږ کړې له خندا نه ـ نو راياد شو
باډونه د سپرلي ـ بندې غوټي ته ـ چرته ګوري

تيارې د خوشبو غواړي ـ خوږې په سحرونو
خوبونه د خوانۍ مې ـ ستا کمخې ته چرته ګوري

د سر په بدل زړهٔ اخلي ـ بيا هم ورته ګران وائي
عابد د خپلې وينې ـ ارزانۍ ته ـ چرته ګوري

۲۰ـنومبرـ۱۹۹۵ء مردان



ستا د نظر جنګ ـ ګوره بې زړه کړمه
رنګ دې ـ په کوم رنګ ـ ګوره بې زړه کړمه

څه کۀ زولنو د وخت ـ زړوړو کړمه
ستا د بنګړو شړنګ ـ ګوره بې زړه کړمه

بیا ساقي ـ راباد شوې د توبې نه ـ بس
زۀ خو دې تش کړنګ ګوره ـ بې زړه کړمه

عشق نۀ دے ـ والله ـ دا معجزه ـ د ژوند
نن ئې په غورځنګ ـ ګوره بې زړه کړمه

مړ شو په ربا بسې عابده ـ نن
دې سوی پتنګ ـ ګوره بې زړه کړمه

۲۱ـ نومبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



تا چې په غصه غصه ـ خوارۀ خوارۀ کتلی دی
مرګ راته په توره شپه ـ خوارۀ خوارۀ کتلی دی

ګل د سپرلي غېږه کښې ـ له نازه پروت اوده اوده
تا چې په مزه مزه ـ خوارۀ خوارۀ کتلی دی

خود به مې تېرېږي د ژوندون قيصه ـ ترخه ترخه
يار چې تل رقيب سره ـ خوارۀ خوارۀ کتلی دی

بيا به مې د غم له درده ډکه شپه ـ بې خوبه وي
تلو تلو کښې ئې بيا توبه ـ خوارۀ خوارۀ کتلی دی

ستائي چې غزل کښې بيا عابد ـ نن د خوانی مزې
ګل ورته جوړ بيا هغه خوارۀ ـ کتلی دی

۲۲ـ نومبر ـ ۱۹۹۵ء مردان



سحر مې قتلوی ـ هم مې مابنام ـ په کابو ولی
دا خلق ستا هئین ـ په تا بدنام ـ په کابو ولی

خوانی به مې ستا رنګ د انګور ـ څۀ ګلورین کړی
ملګری خود پرست مې په هر ګام ـ په کابو ولی

سپرلے به دیدن دې ـ چرته ګل راوړی د مینې
تر څو به مې وختونه ـ د الزام په کابو ـ ولی

هیڅ غم مې د زخمونو به زره نشته ـ کۀ مې وژنی
خفګان مې دا دې ـ نن چې مې ګلفام ـ په کابو ولی

عابده خبر نۀ یم ـ چې دا څنګ حق پسندی ده
کافر اشنا مې ګوره د اسلام په کابو ولی

۲۸ـنومبرـ۱۹۹۵ء مردان

☆

په ښکلو باندې مړ دے ـ محبت پسې ځان وژني
زړګے مې ستا د سترګو په يو ست پسې ـ ځان وژني

ګل غواړي ستا وربل غواړي ـ څۀ چل غواړي د مينې
خيالونه چې زلمي شي ـ شرارت پسې ځان وژني

موسم چې د دردونو دې اشنا ـ لېونے روند کړي
ستا کور پسې ځان وژني ـ ستا محلت پسې ځان وژني

مونږ لار د محبت ګله د زړۀ په نظر ـ سر کړه
اوس ګرځي رقيبان دې خپل قسمت پسې ځان وژني

نه خور شولې ـ ګلاب شولې ـ زۀ څاڅکي د شبنم شوم
فطرت مې په کوم رنګ کښې ـ په الفت پسې ځان وژني

نۀ عشق منې ـ نۀ زور منې ـ نۀ ناز د ښکلو ښکلو
عابد د ښائيستونو فضيلت پسې ـ ځان وژني

۱۲ـ ډسمبر ـ ۱۹۹۵ء مردان

☆

نیمګړې ـ سرګردانه ـ څۀ خوانی ـ څۀ زندګی ده
بې ستا نه چې تیریږی زندګی ـ څۀ زندګی ده ـ؟

اشنا خو ستا د ژوند په ائینه ـ یو پوټې ګرد شو
زما ـ لکه د اوتی اسویلی څۀ زندګی ـ ده

خواهش له همیشه په مړی لاس ږدی ـ مرګ ته خاندی
هر سوال کښې مجبوری ده ـ غریبی څۀ زندګی ده

نۀ ګل بې ـ د سپرلی ښکلا په تا ـ مزې په تا دی
تر عمره وی بې رنګه ـ د ازغی څۀ زندګی ده

تراوسه د خپل مرګ په فلسفه په هم ـ پوهه نۀ شو
عایده حقیقت کښې د سړی څۀ زندګی ده

۱۹ـ دسمبرـ۱۹۹۵ء مردان

☆

وډې کتل بيا په خندا ـ پوئې شومه
زړه غوارې اشنا ـ په خندا پوئې شومه

نولی چې ګلونه ـ نولې زړه راله
نن دې په ادا ـ په خندا ـ پوئې شومه

نه زما د زړه په ژړا پوئې نه شوې
زه ګله ستا ـ په خندا پوئې شومه

ما وې چې راخوړ شولې ـ نو خې به اوس
زه دې له پخوا په خندا ـ پوئې شومه

ما ژړوی ـ ښکه راته خاندې دېر
ستا دا په ژړا ـ په خندا ـ پوئې شومه

غوارې جوړ عابده ـ بيا ساقي نه جام
بس دا ـ په خندا په خندا ـ پوئې شومه

۲۱ـ ډسمبرـ ۱۹۹۵ء مردان



ستا د اقرار ۔ ستا د انکار دے ۔ انتظار انتظار
زما د ژوند په هره لار دے ۔ انتظار انتظار

بنه راته پته ده ۔ چې گل مې نصیب کېږي نشته
بیا مې هم زړه کېږي د بهار دے انتظار انتظار

ورک مې د هرې شپې سحر ۔ ړوند مې نظر د ارمان
محبت څۀ دے ۔؟ خو بس یار ۔ دے انتظار انتظار

ستا د خندا په خوږو بانې مې دړدونه ۔ د ژوند
گله چې کلک مې د اتبار دے ۔ انتظار انتظار

چرته به ناست وی ۔ لیونے دے ۔ عابد روغ خو نۀ دے
د ده خو بس دغه یو کار دے ۔ انتظار انتظار

۱۔جنوری۔۱۹۹۶ء بھلوال سرگودھا

نوې کال

هغه زاړه زاړه يادونه ـ تلوسې د مينې
هغه بې خوبه توري شپې ـ د سپين سحر په ارمان
په هر قدم ستا د راتلو ـ له خوشالو ټوپونه
هغه ډوکې د نظرونو ـ د زړګي درزېدنه
هغه نيمګړې ارمانونه ـ رقيبي وختونه
هغه قاتله هوا ـ هغه قتل شوې رڼا
هغه بې رنګه بهارونه ـ نيمه خوا تمنا
هر يو تصوير کېږي ستا خواږه ـ او ستا رنګونه خواږه
د هر يو ښکلي په خندا کېږي ستا د شونډو مستي

بس خو تېر شوې کال هم ګله ـ له قيامته ډک وه
د نوي کال زهر هم ښکاري ـ چې خواږه نه لري

۲ـجنوري۱۹۹۶ء بهلوال سرګودها

☆

نۀ نۀ بېږ ـ خوب نۀ راځی ـ هم شپه له درده ډکه ده
مړ به شمه ـ ګرانه ده ـ سینه له درده ـ ډکه ده

زړۀ مې بېکښې بائېله ـ هم نظر ـ هم د خوانۍ مزې
بیا مې هم د ژوند ـ لمحه لمحه ـ له درده ډکه ده

خدائے دې ستا د زلفو د سپرلو هوا ـ تازه لرې
خبر دے کۀ زما د زړه قیصه ـ له درده ډکه ده

دلته په هر ګام به تل ـ د خان سره به جنګ وسې
دلته کۀ کاسه ده ـ کۀ سجده ـ له درده ډکه ده

روغ نۀ دے ـ پاګل دے عابد ـ نن به هر یو بل ته وې
څۀ به کړې ـ د دۀ قیصه ـ راځه ـ له درده ډکه ده

۲۹ـ جنوری ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

تاته به ستا مخکښې ـ هم ستا خبرې ښکلې وکړی
په تا مړۀ شوی دی اشنا ـ خبرې ښکلې وکړی

زۀ محبت خالص د دوو زړونو ـ یو ساه ته ـ وایم
خدائے زده رقیب تا ته ـ زما ـ خبرې ښکلې وکړی

چرته چې شپې ته شپه وئیل ـ هم زندګی بائېلل وی
هلته څوک وایه ـ د ریا خبرې ـ ښکلې وکړی

شرنګ د ګجرو چې هم ـ منګل ستړے کوی د پېغلې
بیا به د زړونو د دروا ـ خبرې ښکلې وکړی

رسی عابده چې تر یاره ـ نو دروغ ورسی
چا ته به څوک دلته ـ ریښتیا خبرې ښکلې وکړی

۱ـ فروری ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

ستا له وعدې ـ له هر سبا مې په ګیله ـ وژړل
ما دریسې ـ والله چې ډېر عمر ـ راخه ـ وژړل

اوس مې په سترګو کېښې ـ اوښه قلرې هم ـ سوی له نشته
هسې مې ـ بوئې شومه ـ صحرا کېښې په ډوکه وژړل

یقین چې نه وه ـ مینه نه وه ـ هېڅ هم وې نه موندل
بلها تندو ـ سحر ماښام ـ که په سجده ـ وژړل

فضا صفا نه شوه ـ احساس مې سکون ـ ونه موندو
کنې نو ما ـ لکه باران دې په نامه ـ وژړل

د شپې په لوظ ـ سحر راغے ـ په خندا ووې ـ ګل
ایله په دې عابده ـ تا ـ تمامه شپه وژړل

۷ـفروری ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

د خلقو په نظر کېږي ـ ګناهګار دی زمونږ زړونه
دا څکه ـ چې د مينې طلبګار دی ـ زمونږ زړونه

خانونه مو د ژوند له خوږو باتې کړه ـ لوټ لوټ شو
بيا هم ولې د ښکلو پرستار دی زمونږ ـ زړونه

خواني که برې ستا رنګ د ګلاب اخلي ـ تازه کېږي
شل څله د زړه سره درنه خار دی ـ زمونږ زړونه

واعظه لکه ستا ـ که په څله شل څله توبه کړو
صبرېږو نه له ميو ـ چې مېخوار دی زمونږ زړونه

ګردش کېږي ستا د زلفو او مخ ورک يو ـ خير نه يو
په لار دی زمونږ زړونه ـ که بې لار دی زمونږ زړونه

پوئې نه شومه عابده ـ چې دا ښکلي په دې څه کړي
هر سوال کېږي د نظر وائي "پکار دی زمونږ ـ زړونه"

۲۰ـفروري ـ ۱۹۹۶ء مردان



لېږه راته لار د نظر سمه کړه
ورکه قافله د سحر ـ سمه کړه

تږی یو ساقي ـ په حساب نهٔ کېږی
نن ډکه کاسه د کوثر ـ سمه کړه

مينه ـ تتوله نهٔ زده کېږی ـ یو شپه کښې
بس دې لوپټه دې په سر ـ سمه کړه

ورکې د منزل نخښې ـ رهبرو کړې
لاره ـ گمراهانو اکثر سمه کړه

بې له تا ـ قيصه له عايد ورانه وه
ستا د الفتونو هنر ـ سمه کړه

۲۵ـفروری ـ۱۹۹۶ء مردان

څاڅکے

د سپرلي ډکه خوشبوئي وه څان کښې نه ځائېده
له نشو ډکه پېمانه ـ وه ناخېږه له وخت
د زړهٔ درزا وه ـ د جذباتو ډانېره ئي نهٔ وه
د درد ټکور وهٔ خوارهٔ زهر وو ـ د ژوند د دعلاج
هر يو نظر ئي الوتلي ـ له خيگره ـ وتهٔ
هره خندا ئي لېونې ـ هره ادا مالګينه
د هر اندام د نزاکت جوګه ئي ـ حوره نهٔ وې
هر يو پلو د لوېټي ئي ـ له وريځې لوفر
د هوا اس بانډې سوره وه ـ ناخېږه له خان
له هر بندېز نه په امان ـ له هر رواجه لرې
ګلو ـ په شونډو ئي والله ـ د خندا چل زده کوهٔ
د زمې شپې ئي ـ د وربل تيارو ته ورې ناستې
د شفق رنګ ئي ـ انګو ته پسخېدهٔ ـ پرېوتهٔ
ګېچه بدن ئي د هوا چپه هم ـ نهٔ شوه زغمې
د ګجرو شرنګ ئي چې بنده ـ راويخوهٔ له مرګې
شور د پانړېو ئي ـ خوبونه تختول د خوانې
د چا په غېږ کښې چې ـ مستې د بې نيازې پرتې وې
خو......
عابده خکه مې لاس ورنکړو ـ خاموش پاتې شوم
تاله غوټې که ډېره بنکلې شي ـ خو هېڅ هم نهٔ وي
کم عمره مينه ـ د ژوندون استاذي نهٔ پېژنې
اکثر پردے کانړ ـ د خپل مئين ګذار وکښې
وره که هر څومره هوښياره شي ـ خو بيا وره وي

د اوبو څاڅکر هم ـ په څان د خولو څاڅکر ګڼې

۲۹ـ فروري ـ ۱۹۹۶ء مردان



ستا تصویر ته گوري ۔ په غزل زړونه خوشاله کړي
گله مشهان دې په چل ول ۔ زړونه خوشاله کړي

مونږه خو دخان خوشالولو چل هم ۔ زده نۀ کړو
خدائے خیر چې څنګ خلق ۔ د بل زړونه خوشاله کړي

څومره چې واړه ئې ستا د چم ۔ په کانو ډېر ولي
دومره مشهان دې یو په شل ۔ زړونه خوشاله کړي

هله دې مذهب ریښتیا ګڼه ۔ چې پکښې خان وینې
ډېر ګڼي د شګو په محل ۔ زړونه خوشاله کړي

اوس خو د یو ګل ارمان ۔ عابده هم له ژونده لاړ
څنګه څوک ازغو کښې په بدل ۔ زړونه خوشاله کړي

۱۷۔مارچ۔۱۹۹۶ء مردان

☆

د ګل خندا ـ د خوشبوئو د خوربدلو ـ نوم نۀ دے
سپرلی ـ ګلابه صرف ستا د موسمدلو ـ نوم نۀ دے

خدائے دې مينه کړی تا په ما ـ چې د زړۀ درد ووينې
مينه ـ يوازې د نظر ـ د خوښيدلو نوم ـ نۀ دے

بلها غمونه ـ ناکردې ـ خوارۀ ـ تراخۀ به وينې
ژوندکی هسې د وختونو تيريدلو ـ نوم نۀ دے

نۀ ورکوې شې ـ بل له لاس ـ خو زۀ احساس لرمه
پښتو ـ ايمان دے ـ د موسم د بدليدلو نوم ـ نۀ دے

د نظر ستر به عابده ـ ماتوې به ايمان
ميخواری صرف د توبو د ماتيدلو ـ نوم نۀ دے

۲۵ـ مارچ ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

نۀ ئې وعده شوه ـ نۀ هغه ـ ښکاره شو
ژوند ـ سراسر راته دهوکه ښکاره شو

ورئې کړو ګل زما د لاس ـ رقیب له
خان راته ډیر ـ ساده ساده ـ ښکاره شو

دا په وه ستا د تندي غوټه ـ اشنا
ګونجې زما ـ کۀ په شمله ـ ښکاره شو

یوه ګیله ـ هم ورته غر شو ـ په خان
زړګیه ـ څه بس دے راځه ـ ښکاره شو

ښکارې ـ عابد ژوند په ریښتیا ـ بانہللو
نن څۀ بې حده شان ـ خفه ښکاره شو

۱۲ـ مارچ ـ۱۹۹۶ـ مردان

☆

هر سړے د ژوند په په مزلونو کښې ـ ورک شوې دے
بس خو یو عابد دے ـ ستا فکرونو کښې ورک شوې دے

نن چې د کاسې د ماتېدو په کړنګ ـ ویښ نه شومه
پوئې شومه ـ چې زړه مې وربلونو کښې ورک شوې دے

کوټې د مابنام ستورو ته نیسي ـ نامه ستا اخلي
داسې دے مئین ګوره سوچونو کښې ـ ورک شوې دے

ښکارې چې هر در ورته ـ اوس ستا د دیدنونو ـ ور
عشق مې په شنه کور کښې ـ په وروِنو کښې ورک شوې دے

ما وې ”د توبې سره واعظه ـ میخانې ته څې“
وې وئیل ”ایمان رانه ـ جامونو کښې ورک شوې دے“

داسې دے عابد د خال تفسیر پسې ـ لیواله دے
بس لکه تور تکے ـ کتابونو کښې ـ ورک شوې دے
٦ـ اپریل ـ ١٩٩٦ ـ مردان

☆

د بنګلو د وعدو ـ او محبت ـ په طمع مړه شو
په شنه خدائے کښې ملګرو ـ د رحمت په طمع مړه شو

یو ته نه ئې زړګیه ـ چې دې مرګ هم په لالچ دے
بلها خلق دهوکه شو ـ د جنت په طمع ـ مړه شو

چا لیې لیې وڅښلې ـ اوبه د زندګی شوې
څوک زهرو له ساقی هم د یو ست ـ په طمع مړه شو

کړو مینې بې اتباره ـ جواب شو له هر لورې
زیار ته لار کښې ناست یو ـ ستا د خط په طمع مړه شو

هر خوا ته مو لاس ونیوه ـ حرم ـ که میخانه وه
بدل نشو عابده ـ د قسمت په طمع ـ مړه شو

٦ـ ابریل ـ ١٩٩٦ ـ مردان

☆

بې له تا اشنا ـ خوبونه چرته دي
سترګو کښې زما خوبونه ـ چرته دي

ورېښې ارمان چې پکښې مخ ـ د ګل
يه خدايه ! چې دا ـ خوبونه چرته دي

هر څۀ ستا د مينې غم ته ـ پاتې شو
اوس ـ مستې ـ خندا ـ خوبونه ـ چرته دي

درد د زلمېتوب ـ او شوګيرې د ژوند
برخه ده زما ـ خوبونه چرته دي

وې وئيل پخپله "ئن عابد ـ زما"
راولې الله ـ خوبونه چرته دي

۸ـ ابريل ـ ۱۹۹۶ـ مردان

☆

ستا وعدو ـ او ستا لوظونو ـ در په در کړو
دې د ژوند امتحانونو ـ در په در کړو

چا ته مونږه ـ څوک زمونږه ـ نصيب نۀ شو
د وختونو کړولېچونو ـ در په در کړو

لکه ستا د زلفو ـ چرته هم سم نۀ شو
مونږه خپل باغي فکرونو ـ در په در کړو

حقيقت کښې ـ هيڅ خفګان ـ ترمنځه نۀ وه
بس د يو بل ګمانونو ـ در په در کړو

هر منزل که مو زړګيه ـ ګام کښې سر کړو
خو د مينې منزلونو ـ در په در کړو

لاس به چاته ـ د ګناه نيسو ـ عابده
يقينونو ـ اتبارونو ـ در په در کړو

۱۱ اپریل ۱۹۹٦ء مردان

☆

د زړه نه لرې مه ځه ـ له نظره لرې مه ځه
یوازې به ژوند ګران شي ـ د زړه سره ـ لرې مه ځه

اشنا د عمر تنده د دیدن ده ـ لېږ ایسار شه
ضد مه کړه په وړه وړه خبره ـ لرې مه ځه

شي ساه به د ګلونو د ارمان مې ـ لنډه لنډه
په یاد د پسرلي مسته غاوره ـ لرې مه ځه

کېدېشي نازک طبع زړه ته ـ بیا دې ځه رایاد شي
سوچ وکړه ـ لا ولاړ یم ـ مروره ـ لرې مه ځه

ګل نشته ـ خان له زړه مه چه وه ـ کېنه ـ په قلار شي
عابده خوشې لار ده ـ زوروره ـ لرې مه ځه

۲۱ـ اپریل ـ ۱۹۹۶ء مردان



ستا په وجود کۀ له حيا - د لوېتې سېورے دے
زما په سر هم - له پښتو ډکې شملې - سېورے دے

خومره دې کلک باور - د مينې په ارمان - لرمه
نمر دے - غرمه ده - خو په ما ستا د وعدې سېورے دے

ورۀ مې تورېونه کړۀ - چې راغلې - دا دې ورېدلې
مې شوم - چې بوټې شومه - دا خوا کښې د تسبې سېورے دے

چرته چې وينې د جنت لار - کېږه وری ئې - ساقي
شۀ وې په چا چې هم - يو خل د مېکدې - سېورے دے

دومره ده - سر چې مې عابده - د نمر تاو نۀ وهي
د چا د زلفو د ارمان بس يو بوټې - سېورے دے

۲۲ـاپريل ـ۱۹۹۶ء مردان



ډېر دی ـ منم ـ ښکلی ـ تاته نه رسی
څوک هم د دې کلي ـ تاته نه رسی

نه چې لاړې ـ ډېر خلق په دغه لار
ماله دی راغلی ـ تاته نه رسی

زړه لری ـ خو درد د احساس نه لری
ځکه خو ښاغلی ـ تاته نه رسی

چا وې ـ چې شراب هېروی غم ـ د ژوند
ما دی ساقی څښلی ـ تاته نه رسی

هر سړے تکمیل د خپل مطلب ـ کوی
راشی ـ خو رازغلی ـ تاته نه رسی

اوښکه شوې ـ عابده ـ خو سلګی نه شوې
ډېر دی غم ځپلی ـ تاته نه رسی

۲۹ـ اپریل ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

نه راته شاړې ښکاری ـ نه د وسېدو ـ جونګړې
ستا د دے مړاو سترګو غلچکو ـ جونګړې

خدائے دې د مېنې د محل باچا ـ پرېشانه نه کړې
خېر دے راځاځې کۀ د عشق په لېونو ـ جونګړې

اوس خو مې ساه هم د خوانی ـ په ژوندِ اتبار نه کوی
چې مې تاله شوې د الفت د ارادو ـ جونګړې

خدائے دې د کاڼو باران وکړی ـ د شیشو په ښار کښې
چې پکښې ځائے نه شوې زمونږ ـ د بې وسو جونګړې

یو چې غریب شې بنده ـ بل ئې څۀ روزګار هم نه وی
عابده چرته کښې پرېږدې څوک ـ د هغو ـ جونګړې

٦ ـ مئی ـ ١٩٩٦ ـ مردان



په خلې مې دې باور دے ـ په وعده مې يقين نشته
پرده به شي د زړونو ـ؟ په دے شبه مې ـ يقين نشته

تا ووې په خندا کښې ''سپا تاسره'' او ـ لاړې
اشنا د ژوند د طمعې ـ په ډيوه مې يقين نشته

خندا دې بلها تېرې ـ د نظر سره اشنا کړل
ساقي خو ستا د ميو په کاسه مې ـ يقين نشته

عمل په مې ـ دعوه ده ـ چې د ستورې نه هم پاک وې
ملګرو ـ خو بس هسې په سجده مې يقين نشته

په سر راله سپورے کړې ـ د عقل په صحرا کښې
عابده د ارمان په لوېته مې ـ يقين نشته

۷ـمئ ـ۱۹۹۶ء مردان

ـــ ته

راځه چې بيا ـ له هاغه ځايه ژوندکي شوروع کړو
چرته چې هر څۀ په سمې سمې وو
چرته چې دواړو يو بل نۀ پېژندل

چرته احساس د درد او وخت چې نۀ وۀ
چرته چې زړۀ داسې بې کوره درزېدۀ نۀ کول
چرته نظر چې ليونتيا د ديدن نۀ پېژندله
چرته خوبونو ـ شوګيرې چې لا ليدلې نۀ وې
چرته چې شړنګ د بنګړي ـ صرف د بنګړي اواز وۀ
چرته چې نوم هم د ارمان ـ په خيال کښې نوشو راتلې

زمانه ورکې ـ اے زما ديې وسې محبوبې
د وخت يادونو کړې له مانه چې پردې ـ محبوبې

ته د رواج د پابندو زولنو قهمه کړلې

ما د انا چاړه پخپله په مرۍ راخکله

تا د اظهار شونډې که پرانستې ـ تا هيڅ ونه وې

زه مجبور شوې ـ د پردي غيرت پيتنو وخوړم

بس که دې خونه وی ـ راځه چې دواړه عهد وکړو

د زړه د کور دروازې بندې کړو ـ ګونګې ګونګې شو

ته به له سره بيا ـ زما د ارمانو نو ګل شې

زه به خوشبو شم ـ په ماګرانې دارمان "شينوګۍ"

راځه چې بيا له هاغه ځايه ژوندکې شروع کړو

چرته چې هر ځه په سمې سمې وو

چرته چې دواړو يو بل نه پېژندل

۸ ـ مئی ـ ۱۹۹۶ء مردان



ستا نه کۀ هېر شومه ـ خو مانه ـ هېرېدې چرته شي
کرانه تۀ دومره په اسانه ـ هېرېدې چرته شي

چا چې د ژوند خواږۀ بانبللی په تا ـ مرۀ دی په تا
د هغه خلقو نه جانانه ـ هېرېدې چرته شي

خوب د خوانې مې ـ اوس هم ستا د خوانې خوب ووینی
مانه ـ زما د زړګی خانه ـ هېرېدې چرته شي

اوس هم وريخ راته ستا زلفې يادوی ـ چې راشي
لا مې د اوښکو له بارانه ـ هېرېدې چرته شي

ګل خو مې يې کنه ـ خوشبو کۀ دې زما ـ نۀ شوله
لا مې د تن د مستې سا نه ـ هېرېدې چرته شي

اوس دې هم کله کله وښائی ـ رقیب ته په لار
عابده تۀ هم د اشنا نه ـ هېرېدې چرته شي

۱۲ـمئی ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

چا ورته زړه لوګے کړو ۔ چا ورته خوانی لوګے کړه
ماته ګل ډېر ګران وۀ ۔ ما خکه زندګی لوګے کړه

رنګ د محفل چې برې بنۀ کيږی ۔ ژوندون وده مومی
واخله د زړۀ وينه زما ۔ ورته ساقی لوګے کړه

ما ورته وې چې وخت خراب دے ۔ بهر مۀ راوخه
هله اشنا شايه اوس خان ته سپېلنی ۔ لوګے کړه

اوسس به تود باد دې هم په سر ۔ د زمانې نۀ لګی
ما خپل نظر ورته لوګے ۔ خپله مستی لوګے کړه

تورې وربخې راخورې ۔ سا د ربا ډوبيږی
دا چا ۔ د زلفو پرېشانی په ماښامی لوګے کړه

يار به دروغه هم عابده ۔ راته يار ونۀ وې
ډېره کۀ ما ورته دنيا د خپل زړګی ۔ لوګے کړه

۱۷۔مئی۔۱۹۹۶ء لیڈی ریڈنگ اسپتال پېښور

☆

لاړله مستي رانه ـ د زړۀ له زوره پرېوتم
تا پله اشنا چې د کاڼۀ ـ له زوره پرېوتم

نن چې د نظر په ست دې ـ ترېو راته تندے نۀ شو
نۀ له زوره پرېوتې ـ کۀ زۀ له زوره پرېوتم

مينه د مستي د وينې داره ده ـ د زړۀ په مخ
بوټې نۀ شومه خدائيګو چې په څۀ ـ له زوره پرېوتم

څکه څوک کاسو کښېږي ـ دلکشي ساقي اوس نۀ موسي
نۀ له زوره پرېوتې هم زۀ له زوره ـ پرېوتم

څومره چې په زوره مې خان ـ ډېر زورزور کړې وۀ
لاړمه عابده ـ دومره ښۀ له زوره ـ پرېوتم

۲۲ـ مئی ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

وايو په نظر کښې ـ خو په خله خبرې نۀ کيږي
نوې نوې مينه ده ـ د زړۀ خبرې ـ نۀ کيږي

خال دې راته ووئيل حالونه ـ د زړګی د غلا
يوئې شومه زۀ ـ وګوره په څۀ خبرې نۀ کيږي

دا د زړۀ قيصه سپينول غواړی اوس ـ د زړۀ سره
بس دې نورې ما نه په لېمۀ خبرې ـ نۀ کيږي

خدائے دې ستومانی د سپين بدن ـ دمه دمه کړه زر
ستړے شوم ولاړ په ديوالۀ ـ خبرې نۀ کيږي

ورک شو لېونے شو ـ خو ګل دومره هم ونۀ وئيل
څۀ شو عابد ـ؟ ولې د هغۀ خبرې ـ نۀ کيږي

۲۳۔مئی۔۱۹۹۶ء مردان

☆

گورمه ـ خو تا راته ونه کتل
نن دې په خندا ـ راته ونه کتل

لاړې په رضا ـ خو جور ستومانه وې
تلو کښې دې په شا ـ راته ونه کتل

تېنګه مې پښتو نه شوه ـ سلګۍ شولې
تا چې په غلا غلا راته ـ ونه کتل

تا چې راته وکتل ـ خوشاله شوم
خبر دے که دنیا راته ـ ونه کتل

زړه به د رقیب ـ فکر اخستې وې
ستا چم کښې نن چا ـ راته ونه کتل

مر به له ژوندونه ـ بې اسرې شمه
ښکلو کۀ الله ـ راته ونه کتل

سترګې به عابده ـ زما تېښتې شي
بره کۀ اشنا ـ راته ونه کتل

۲۹ـمئی ـ۱۹۹۶ء مردان

نړېدلے دېوال

کله کله مې زړۀ داسې فکر ـ يوسي
چې د عمر رياضت پورې حېران شم
خان مې ورک کړو ـ خو يو ښکلے مې خپل نۀ شو
خدائېګو خکه ـ محبت پورې حېران شم

ما ټول عمر خان د بل په مست کړو
خو مست نۀ شو څوک زما د زړۀ په ـ مينه
ما د بل په درد تل خپلې اوښکې توئې کړې
خو توې نۀ شوه زما درد کښې د چا وينه

چرته ښکلے چې مسکے شو ـ ما وې "ست کړې"
زۀ د ژوند په رنګينو داسې ـ مئين شوم
ما د خپل ارمان په کټ هم خندا ـ وکړه
زۀ د مينې په نغمو ـ داسې مئين شوم

خو خبر نهٔ وم ـ چې دا هر څهٔ دروغ وی
څوک زر کاله کېږي څان نهٔ وژنی ـ بل چا له
څه نګهت هسې عابده له دې بناره
کهٔ خلاصې غوارې د خپل لوټ شوی حاله

۳۰ـمئیـ۱۹۹۶ء مردان

قطعه

هره لمحه راله وختونه خلهٔ کېږي اور اچوی
په زړهٔ مې غر غر ستا یادونه پړدی او څی په مخه
زهٔ کهٔ څوارهٔ د خپل څیګر هم ورکوم ـ عابده
ښکلی په سترګو مې لاسوه پړدی او څی په مخه

☆

ودې شي په ما ـ ستا د قد سېورے مې خوښ شۀ وې دے
ستا په تندی خال ـ د اسمان ستورے مې خوښ شۀ وې دے

څۀ په تحمتونه د وختونو مې شی ـ تور په مخ
داغ چې په لمنه ستا رابورے مې ـ خوښ شۀ وې دے

هر چا تماشه وکړه ـ چا تۀ او چا کړۀ خوښ شراب
کله خو ستا ناز والله ـ زړۀ پورے مې خوښ شۀ وې دے

چرته چې الزام د محبت وی خپل وقار ـ کښېل
هغه په کتاب کښې بس یو تورے مې خوښ شۀ وې دے

خاندی دې عابده زوروزور ـ ولې زۀ څۀ وکړم
دا مې کمزوری ده ـ چې کمزورے مې خوښ شۀ وې دے

۲ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

ما په زړۀ کښي ابتي ـ تا ـ کتاب کښي ګلاب ابتي دے
هر سړی يو ياد د چا ـ کتاب کښي ګلاب ابتي دے

بنائي اندازه د خزان دا ـ چي سپرلي ورک نۀ دی
خکه د زړۀ سره ما ـ کتاب کښي ګلاب ابتي دے

ما دي د وربل په نوم ـ غزل کښي ـ ګل ليکلي دے
کله چي هم تا زما ـ کتاب کښي ـ ګلاب ابتي دے

دغه د چمن د ژوند وبشلو شوه بدله ـ د وخت
چا تري رېژولي ـ چا کتاب کښي ګلاب ابتي دے

تا چي وئيل زړۀ مي د ګل مخو نه ـ مور شۀ وي دے
خندګه دي عابده بيا ـ کتاب کښي ګلاب ابتي دے

۵ـجون ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

نظر نظر کښې يوبل ته - خاندلي دي - دوه زړونو
شراب ئې په کاسو کښې ګډولي دي - دوه زړونو

وريځو د اسمان غاړې نيولې دي - باران ته
ښکارېږي په يو بل پسې زړلي دي - دوه زړونو

ګلونه د مستۍ خپې خورېږي - په خندا دي
جوړ هينه کښې يو بل ته ځه ونېلي دي - دوه زړونو

اوبه اوبه ساګانو خان نيولې دے - هوا ته
ځانونه غېږ په غېږه کښې سپارلي دي - دوه زړونو

څوک چرته دا ونېلې شي - عابده د چا مخکښې
خوبونه - يو ځادر کښې چې ليدلي دي - دوه زړونو

۷-جون-۱۹۹۶ء مردان

☆

ته به کښې ښکارې - ستا رنګونه به کښې لوبې کوی
ګلو ته ګورم - بهارونه به کښې لوبې کوی

زړه کښې مې څۀ پاتې دی نور - بس يوه نخښه ده اوس
يو څو زاړۀ يادونه به کښې - لوبې کوی

ژوند ئې د مرګ سره په ګوم هنر - ملګرے کړو نن
ګوره وربل ته ئې - ګلونه به کښې لوبې کوی

ستا کۀ ښائېست لکه خوشبو هسې - په ګلی خور دے
زما زړۀ ګل دے - نکهتونه به کښې لوبې کوی

څنګه عابده به بل لوری مې پښې واخلی - قدم
د ګل د زلفو زنځيرونه به کښې - لوبې کوی

۱۱-جون-۱۹۹۶ء مردان



خوندونه له خوانی نه ـ اخستې نۀ شی باران کښې
جامې چې د سرې پوره لوندې نۀ شی باران کښې

خولو ته مې د مخ کوری ـ په ډکو ډکو سترګو
پروني له هېته ـ ټينګوې نۀ شی باران کښې

خوانی به ئې خوانی نۀ وی ـ ساقی ـ چې تاله درشی
ناڅاپه ئې د زړۀ ماتې توبې نۀ شی ـ باران کښې

تيارې د تورو زلفو سرکېدونکې نۀ دی ـ هسې
ډېوې درنه د زړونو ـ چرته مړې نۀ شی باران کښې

سنا لوظ د وريځو ـ عابد تول اوبۀ اوبۀ کړو
زړونه د کمرې اوس پندوې نۀ شی ـ باران کښې

۱۴ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

ظالم منی ـ چې زما خوښ دے ـ خو وعده نه کوی
تعلق ساتی ـ خو ولې مينه راسره ـ نه کوی

زما ساقی هم خان ـ د خپلې دنيا ـ خدائے گڼی اوس
هغوی ته نه گوری ـ چې څوک ورته سجده نه کوی

ستا حادثو د محبت ـ داسې له هر څۀ بيل کړم
اوس زړگے بل څۀ ارمان ته ـ تلوسه نه کوی

څې ـ چې زما نۀ منې ـ بيه ده ـ خو بيا "دا" مۀ وايه
يوازې تلۀ د ژوند په لارو کښې مزه ـ نۀ کوی

هر څۀ ته غاړه ږدی ـ منم چې پښتون خويه دے ـ يار
بس خو د زړۀ يوه خبره باندې ـ بيه نۀ کوی

بيه د رقيب ـ عابده هم اغاز د بلو ـ کيه
څوک بې غرضه ـ بې بلنې ـ چرته شپه نه کوی
١٦ـجون ـ١٩٩٦ء مردان

ټپې

تاله د زړه خوشالولو چل ـ درځي او که نا
اے زما ښکلې ـ ماته ووایه په مینه مینه
تا له الفت کیږي د پښتو ـ پالل درځي او که نا
اے زما ښکلې ـ ماته ووایه په مینه مینه

ته درزېدنه د زړګي ـ پېژنې ـ که نه پېژنې
د محبت اسویلي پېژنې ـ که نه پېژنې

لیږ شان ټپوس دې ـ د دې ښکلو ښکلو سترګو وکړه
چې یو نظر د محبت به راته ـ وکړې که نا
د تورو زلفو پریشانو نه دې لوګے لوګے شم
لکه نګهت مې په سینه به ـ راخورې شې که نا

زړه درزېدلے د ځواني ـ په سرو لمبو کېږي ولاړ
ووایه لاس په محبت کیږي ـ راکوې که نا

زه ورېے تېرے يم د مينې ـ ستړے ستړے ـ ولاړ
خوارۀ د ژوند ـ په دې محلت کښې راکوې شې کۀ نا

تۀ به هم خدائېګو چې رنګونه ـ د ژوندون وويني
په دې جهان کښې نظارې به د جنت ـ وويني
تاو د سينې به دې ـ والله لکه اوبۀ اوبۀ شی
ژوند به دې بنۀ شی ـ کۀ يوخلې محبت وويني

خنکه ـ زما منې ـ راځه چې دواړه غاړه وځو
تۀ به زما د زړۀ دروا شې ـ زۀ به ستا د زړۀ کور

خو ـ چې د زړونو بدلولو چل ـ درځی او کۀ نا
اے زما ښکلې ـ ماته ووايه په مينه مينه
تاله الفت کښې د پښتو ـ پالل درځی او کۀ نا
اے زما ښکلې ـ ماته ووايه ـ په مينه مينه

۲۰ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

تا وې راته ووايه ما ووې ـ اوس ئې نۀ منې
خدائے خبر چې تۀ ـ په سوال جواب کېنې اخر څۀ منې

يو زۀ يم ـ چې ستا د خلې نه وتې هر څۀ ـ ومنم
يو تۀ ئې ـ چې چرته هم ـ زما خبره نۀ منې

مرګ نه ويرېدل هم ـ ويرېدل له محبته دی
ژوند چې تېروې ـ هم به خوارۀ هم به تراخۀ منې

تۀ چې اراده د يو څۀ وکړې ـ او پېښ بل څۀ شی
خدائے خو به زړکيه ـ هم به داسې وخت کېنې وۀ منې

خان دې کړو پخپله ورته بنکته ـ چې منين شولې
اوس خو به عابده ـ په هر کار کېنې د هغۀ منې

۲۴ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

ستړے یم ـ د ژوند په لارو ـ تلهٔ له مانه ـ نهٔ کیږی
نور دې انتظار کښې سوزېدهٔ ـ له مانه نهٔ کیږی

پاتې کهٔ اظهار د محبت ـ د خو لفظونو دے
څهٔ له تانه نهٔ کیږی ـ او څهٔ له مانه نهٔ کیږی

ما وې چې رامخ شې نن ـ هر څهٔ به درته وایمه
څهٔ وکړمه ـ اوس چې درکانهٔ له مانه ـ نهٔ کیږی

شل ځله دې مړ شم ـ خو چې ستا په نامه مړ شمه
دار ته په خپل سر باندې خاتهٔ ـ له مانه نهٔ کیږی

زلفې دې وردې له مخه لرې کړه ـ سحر کړه لږ
کلي انتظار د نمر خاتهٔ ـ له مانه نهٔ کیږی

ردې دې کړه اول د خپل زړګی نه ـ د عابد تپوس
ورستو وایه دا چې "تلهٔ راتلهٔ له مانه نهٔ کیږی"

۲۴ـجون۱۹۹۶ء مردان

☆

درد مې د زړګي ـ د کمهلو نه دے
ستا نه مې نظر د صبرېدو ـ نه دے

پېژني مونږ دواړه په يو بل ـ خلق
اوس مو تعلق د پټېدو ـ نه دے

ماته ستا د مينې ـ د عمرونو غم
ګرانه ده اشنا ـ د هېروېدو نه دے

ودې وې په تلو کښې راته بيا ـ سبا
ښکارې چې دې زړه بيا د راتلو ـ نه دے

ستا د نظر زور ډېر ډېر ـ کړلو
ماوې کۀ مې زړه ـ د ماتېدو نه دے

جوړه مې قاتل سره ـ يارې شوله
ښکارې ـ لا مې ژوند د ختمېدو نه دے

هر څو کۀ عابده ـ زۀ ئې زور کړمه
بيا مې هم غزل ـ د زېږدو نه دے

۲۶ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان



تېر به شي ـ خو هېر به نۀ شي ـ ګرانه ده
څوک د ګل په څېر به نۀ شي ـ ګرانه ده

ستورى د اسمان دى ـ ستمونه ستا
چپ شه ـ ګورې شمېر به نۀ شي ـ ګرانه ده

ژوند مې بې له تا ـ لکه د زهرو ګوټ
ګله ـ خدائېګو تېر به نۀ شي ـ ګرانه ده

مانه ـ او بيا ستا د مينې غېږ ـ اشنا
چرې هم چاپېر به نۀ شي ـ ګرانه ده

ستا عابد ـ ستا زلفو کښې ـ ستا لېچو کښې
ګېر به شي ـ راګېر به نۀ شي ـ ګرانه ده

۲۸ـجون ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

ما چې ډرته وې ـ هغه تا ـ چرته وې
اوس مې په کتب زاره ـ بېګا چرته ـ وې

ستړګې دې له خوبه سرې ـ وېښته ببر
څنګه راغلې ـ وایه اشنا ـ چرته وې

راوړلې ـ خوانی مې ستا د مینې نه
ژوند کښې حادثې مې پخوا ـ چرته وې

پوئې شومه ـ چې زړه دې دروغژن کړمه
تا د رقیب مخکښې ریښتیا ـ چرته وې

جام دے ـ هم ساقي دے ـ هم سپرلے او ګل
راشه نن ـ عابده والله ـ چرته وې

۱ ـ جولائی ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

هره غوټۍ د چمن ـ زور د خزان ـ څۀ پېژني
زما د زړۀ ګلبدن ـ زور د خزان څۀ پېژني

ستا د خندا سپرلي دې تل ـ خدائے به دې ګلې لري
مړۀ به شي ـ نوې منين زور د خزان ـ څۀ پېژني

ما ئې د هر قهرژن خط جواب ـ داسې وکړو
لا ستا نازک شان بدن ـ زور د خزان څۀ پېژني

داسې يوازې شوم ـ چې خان هم په نظر نۀ راځي
تلې ياران له وطن ـ زور د خزان څۀ پېژني

هر يو ملګرے خکه شور ـ د سپرلي جشن کښي
لائې عابده ـ ليک ـ فن ـ زور د خزان څۀ پېژني

٦ـجولائی ـ١٩٩٦ء مردان



یو ښکلې چې په ښار کېنې ـ محبت راسره وکړه
خوانۍ لکه په خوب کېنې شرارت ـ راسره وکړه

پرېشانه به اوس ګرځمه ـ ملګرو انتظار کېنې
اقرار لکه د ګل هسې ـ نکهت راسره ـ وکړه

هر چاته ئې به ګوته کړم ـ هر څوک رانه پردې شو
ستا مینه کېنې څهٔ ښکلې چل ـ شهرت راسره وکړه

هر څاڅکے د خولې به مې ګواه ـ ستا د نامې شي
اے ښکلیه که تا یو بوټې پت ـ راسره وکړه

بیا هم هر یو جواب ئې ما د زړهٔ په وینو ـ وکړه
عابده کهٔ ستم ئې په هر خط ـ راسره وکړه

۸ـجولائی ـ۱۹۹۶ء مردان



تا په خندا کښې ووې ـ ما د زړه درزا کښې ووې
"جدا چې نه شو" مونږه دوارو دا دعا کښې ووې

ستا وينه زه ـ ستا ارمان زه ـ ته زما خوب او ارام
دوو تنو غاړو ورکړه ـ دوو تنو يو ساه کښې ووې

شو هر نظر ـ د هر سړي د محفل ـ تندر په ما
خدائے زده چې تا ـ څه داسې تلو تلو کښې ـ په "تا" کښې ووې

بوئي د جنت خو لړی ـ څه که ئې نامه حرامه
واعظ د ښيتلو د گناه ـ په ابتدا کښې ووې

نوم زما څه وه ـ ستا په خله ـ شوه د قيامت اوازه
نور وريسې که تا ـ هر څو هر څه غلا غلا کښې ووې

هره چپه له ډېره شرمه ئې ـ عابده لونده
ښکاري موسم ته چا قيصه دې ـ په هوا کښې ووې

۱۳ـ جولائی ۱۹۹۶ء مردان



چا چې زړۀ اشنا ـ ستا د وعدو په تار تړلے دے
زاړی ـ خان له ژوند ئې په لمبو ـ په تار تړلے دے

پوهه یم چې نۀ راځې ـ خو وایمه چې رابه شې
غم مې د زړګی ـ د خوشالو په تار ـ تړلے دے

ستا د لوبیتې د تصور په سپوری ـ ناست یمه
خاندمه ـ احساس مې د سپرلو په تار تړلے دے

اوس به څوک د ګلو په لټون کښې ـ خطا کیږی نا
ما ورته زړۀ سر کښې په ازغو ـ په تار تړلے دے

نۀ مومی بیا خان په کیږو لارو کښې ـ پریشانه وی
یو خل چې تا ځ څوک هم د کمڅو ـ په تار تړلے دے

اوس چرته عابده ـ د انکار په طرف تلے شې یار
تا چې محبت کښې د پښتو ـ په تار تړلے دے

۱۶ ـ جولائی ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

ستا اوادې د نۀ راتلو ـ کۀ بدلېدونکې نۀ دی
اوښکې جرګې ـ ګله زما هم ـ ودرېدونکې نۀ دی

ګوره ـ تصوير ته مې نن څنګه ـ حيا واخستلې
چا وې ـ رندې سترګې اشنا د څۀ ليدونکې ـ نۀ دی

اوس به هوا تل ـ امتحان د خان ـ پخپله اخلي
ډيوې د زړونو بلې شۀ وې ـ مرې کېدونکې ـ نۀ دی

تل لګه ستا د خال ـ په هسکه غرې ژوند تېروم
چاته هم سترګې پټېنې مې ـ تېتېدونکې نۀ دی

تا ورته وکتل ـ نو زوړ ئې شو سهوا د نظر
ګنې اشنا رقيبان ماته ـ څۀ وينونکې نۀ دی

ټيک ده چې هر څۀ به مې هېر شي ـ د روزګار له غمه
"زلې ستا مراوې سترګې هېرېدونکې ـ نۀ دی"

چرته چې زر زې ـ هلته خود د زربرستو راج زې
کښه عايده ـ دغه لارې سرکېدونکې ـ نۀ دی
۲۳ـ جولائی ـ ۱۹۹۶ء مردان

طرحه ـ زاهد چاچا (مرحوم)



"ته ورځې کۀ شپه وائې ـ نو شپه به ورته وايو
چې ته په څۀ رضا يې ـ هم هغه به ورته ـ وايو"

ژوند چرته چې تېرېږي ـ له غمونو بې نيازه
حرم به ورته وايو ـ ميخانه به ورته وايو

بيا هيڅ يار ته ونۀ وايو ـ زړګيه ـ هسې وايو
چې دا به ورته وايو ـ او هغه به ورته وايو

سره زما د مينې ـ چې رقيب پسې خفه وي
هوښيار به ورته وايو ـ کۀ ساده به ورته وايو

عابده نوره زړۀ له ـ بس دوکه ورکوې نۀ شو
هر څۀ به يوه ساه کښې ښکاره به ورته ـ وايو

۲۴ـجولائی ـ۱۹۹۶ء مردان

☆

ستا سترګو کښې څۀ چل دے ـ ستا خندا کښې نن څۀ چل دے
اشنا خکه زما د زړۀ لړزا کښې ـ نن څۀ چل دے

ستا مینه یادوی راته ـ راځی لمن مې چېړی
جوړ ستا له کلی راغله ـ دې هوا کښې نن څۀ چل دے

ډېر لرې ـ چرته لرې چا ـ خندا ورکړو لوېتې له
وریځې په مستی دی ـ هم فضا کښې نن څۀ چل دے

خندا چې مې بې واره ـ اسوېلے شو په مری کښې
ستا مینه کښې څۀ غلا ده ـ ستا ادا کښې نن څۀ چل دے

نۀ خلق دې خطا کړه ـ او نۀ خان په سمه لاره
خطا خو داسې نۀ وی ـ دې خطا کښې نن څۀ چل دے

روان ـ په لنو کانی وهی ـ خان سره څۀ وائی
ملګرو د عابد په دې سودا کښې ـ نن څۀ چل دے
۱۰ اګست ۱۹۹۶ء مردان



تاته چرته رسی ـ تصویرونه ستا
راوره ـ زړه مي غواړی دیدنونه ـ ستا

دومره زر وعدې په اوبو ـ مه وینځه
ماسره پرانه دی لا ـ خطونه ستا

دا که جنت نه وی ـ کم به هم نه وی
زه ستړے ـ چاپېر رانه لاسونه ـ ستا

ګل شومه ـ نکهت مي د ژوند ـ برخه شوه
ګورمه زرګی ـ له بهارونه ـ ستا

نه که څه غېږ نه کړې ـ خو زه چې څم
اورم ـ هر قدم کښې ـ اوازونه ستا

چرته مي همریری ـ به دردونو کښې
هاغه توري شپې ـ انتظارونه ـ ستا

ورک به شي عابد ـ خپلو سوالونو کښې
یاره ـ که راغلهٔ جوابونه ـ ستا

۲ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

نن چې دې وربل ۔ راباندې خور نۀ شو
دړد مې د خوانی ۔ تکور تکور نۀ شو

تۀ چې رانه لاړې ۔ هله بوئې شومه
باتې مې نظر کښې هغه زور ۔ نۀ شو

ستا د مینې غم ۔ د سپرلي غرېکه شوه
خور مې شو وجود کښې ۔ ولې شور نۀ شو

ستا یاد ۔ چې مې ګله وۀ د زړۀ په سر
بل غم د دنیا ۔ راباندې سور نۀ شو

تا کۀ ورته ډېر بدل بدل کړو ۔ خان
بیا عابد هغه دے ۔ څۀ نور نۀ شو

٦ ـ اګست ـ ١٩٩٦ء مردان

☆

هېري تري وعدې شوې - ډا به څۀ کيږي
ښېښې شوکېږي شوې - ډا به څۀ کيږي

زي وښل - ماشوم هسې - راغاره شو
تولي ډيوې مړې شوې - ډا به څۀ کيږي

نن خو راته نېغ په نېغه - ووايه
لارې چې کيږې شوې - ډا به څۀ کيږي

ينه مې جوړ اوس هم - لا پخه نۀ ده
ډېرې چې کيلي شوې - ډا به څۀ کيږي

سترګې مې ستا مخ پسې - زندې شولې
نشته سحر - شپې شوې - ډا به څۀ کيږي

څوک هم ډرته نۀ ګوري په شا - چې خې
ياتې بې اسرې شوې - ډا به څۀ کيږي

کرخه اوس عايده - وايه وايه ډا
څۀ زرې ترې شوې - ډا به څۀ کيږي

۸ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

کله په کوڅه ۔ کله بازار کښې ۔ سرے تېروخي
دور کۀ د شک دے ۔ خو اتبار کښې سرے تېروخي

دواړه راته وائي ۔ چې يار وائي ۔ "بس دے باتې ده"
دلته په رقيب او په ربار کښې ۔ سرے تېروخي

لرې کړه تسبې واعظه ۔ ژوند بې حساب وګڼه
واوره ګورې تل د دې ۔ په شمار کښې سرے تېروخي

دواړه شو ۔ بې صبره ۔ ښکه باتې بې ديدنه شو
تل د تلو راتلو ۔ په انتظار کښې سرے ۔ تېروخي

داسې د وخت ياد عابده ۔ هر څۀ له رنګ وارووۀ
خدائيګو چې خپل کور ته هم ۔ په لار کښې سرے تېروخي

۱۳ ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

د نظر خپل يو ـ د وربل د کور پردې خلق يُو
لا خو ژوندي يو ـ د اجل د کور پردې خلق يُو

مخکښې هر څه به راته خپل ښکارېده ـ اوس خو اشنا
لکه چې خپل کور کښې ـ د بل د کور ـ پردې خلق يُو

ستا د مسکا ـ ستا د ادا ـ ستا د خوئې بوئې نه خبر
چا وې اشنا ـ چې د "غزل" د کور پردې خلق يُو

مونږه به وينو ـ د ډېرو مرګ ته ـ ژوندون بخښلې
څوک دی ؟ چې وائي "د مقتل د کور پردې خلق يُو"

داسې را ورک شو ـ چې تپوس مو هم څوک نۀ شي کوې
مونږه عابده ـ په کوم چل ـ د کور پردې خلق يُو

۱۵ ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان



خې خفه په لاره ـ چاته نۀ ګوري
نور ډې عابد ياره ـ چاته نۀ ګوري

ستا منين ته ـ هر څۀ هر څۀ ـ تا کښې دی
بې ستا له رخساره ـ چاته نۀ ګوري

زوند مې د نګهت هسې ـ پرېشانه دے
زړۀ مې ناقلاره ـ چاته نۀ ګوري

هر څۀ ډې خطا کړۀ ـ رانه يو نظر
څوک ډاسې بې واره ـ چاته نۀ ګوري

ګوري درته ښکه عابد ـ بنګلے بې
څوک د خدائے له پاره ـ چاته نۀ ګوري

۲۲ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان



د ګل پالنه تل په وینه کوی
څوک چې اشنا ـ چا سره مینه کوی

خوښ د حمزه ـ شدل شدل یې مخې
ترخه خبره هم مهینه ـ کوی

څومره قیصه چې ده نازکه د زړه
دومره ئې دا ظالم ـ سنګینه کوی

رنګ د ګلاب مې ـ زخم څنګه پرېږدی
هره ادا پېغله ـ مالګینه کوی

هر سړی رنګ د پردی ذات اخستے
خیر څوک عابده ـ سپینه کوی

۲۳ ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان

دویم شعر کښې لوئے شاعر حمزه شنواری صاحب ته اشاره ده

☆

خاندې ـ روان دے ـ ولې دې طرف ته نۀ راګورې
ظالم الفت کښې د وعدې ـ طرف ته نۀ راګورې

لاس د رقيب په اوګه واچوې ـ مسکے شې راته
کښې ـ بوازې چرته دې طرف ته ـ نۀ راګورې

غوارې په هر يو ويش نظر کښې ـ هر سحر پلوشې
اشنا د عمر شوګيرې طرف ته ـ نۀ راګورې

هاغه انداز ئې ـ لا تراوسه له فطرته ـ نۀ ځي
د ديدن وخت کښې ـ يو بوتې ـ طرف ته نۀ راګورې

خان ورته خپله ـ چې عابده ـ ملامته ښکارې
زما د زړۀ د ائينې ـ طرف ته نۀ راګورې

۲۴ـ اګست ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

د سر قاتل سره یاری ګوره تر نه کوو
مونږ چې د خپلو روایاتو ـ یادګیرنه کوو

نه که وعده کوې ـ خوارۀ راته د ژوند رابخښې
مونږ انتظار به دې اشنا ـ تر خنکدنه کوو

نور به د دې نه وضاحت سپوا د ورکړې ـ څۀ وی
د زړۀ به وینو ـ چې د ګل خوانو پالنه ـ کوو

څوک چې د شپو د مرګ دعوې ـ په سحرونو کوی
ملګرو ټیک د داسې خلقو به ـ غندنه کوو

هر یو سپا ـ ستا د سپا مو امتحان شو د ژوند
تر څو اتبار دې به راتلو په دروغژنه ـ کوو

څومره په بنه بانه ـ روان شی د سحر په لوظ
مونږه یاری همېشه بس تر ماسخوتنه ـ کوو

دې نه عابده صفا ښکاری ـ چې یار خوئی لری ـ سور
نن چې قیصه د زړۀ ـ په هر لوری تاوجنه ـ کوو

۲٤ـاګست ـ۱۹۹٦ء مردان

☆

تاته کتل ـ چرته زما وس کېښي دی
نمر ته ختل ـ چرته زما وس کېښي دی

هر څۀ به مې هېر شي ـ خو دا گرانه ده
ستا هېرول ـ چرته زما وس کېښي دی

یو به نۀ رتللو ـ د اشنا سره
زړۀ بدلول ـ چرته زما وس کېښي دی

بنکلو ته ـ واعظه ـ له کتلو نه
زړۀ صبرول ـ چرته زما وس کېښي دی

دې دور کېښې ؟ بیا عابده بې له گل؟
ژوند تېرول ـ چرته زما وس کېښي دی

۲۵ـ اگست ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

د چا خطونه راسره ـ د چا وعدو ته ګورم
اوس خو په ژوند کښې بس هم دغه څو اسرو ته ګورم

نه ئې قرار چرته نصيب شو ـ نه د بنګلو مينه
د شبنم تږو ـ لمونو پرېرکو ته ګورم

نه رانه لاړې ـ زه تراوسه لا ولاړ هغه شان
خپل تله مې هېر دې ـ چې ګلابه ستا راتلو ته ګورم

ستا د پل خاورې مې ـ په موتي کښې نيولي ـ روان
له ځانه ورک ـ په مينه مست ـ شارو کوڅو ته ګورم

زړه کښې ارمان مې ـ ستا د خلې د "لږ ايسار شه" پروت دے
په هر قدم کښې ـ شاته شاته ـ تلوسو ته ګورم

اوس خو مې خپل څادر هم ګوره ـ له اوګو پرېوځي
له هر څه پاتې شوم ـ چې مينه کښې پښتو ته ګورم

ژوند راته اوس هم لا فهمې د عمر ښکارې ـ ګلې
کله دې ګورمه کمڅو ـ کله ينګرو ته ـ ګورم

خان راته ډېر ساده ساده ـ له زمانو ښکاره شي
اوس چې عابده ـ د ورو دې تجربو ته ګورم

۲ـ ستمبرـ ۱۹۹۶ء مردان

ترقي پسند بغاوت

اے بنګلو ما د خان په شان د وخت په قدم بوځې
لیږ ما د هواګانو په اوګو باندې روان کړې
دا زړه زما هم کله کله داسې وشي
لیږ ما هم د دې خلقو په دې زړونو کښې جانان کړې

.....

اے بنګلو ما د خان په شان نازک عادت کړې
لیږ ما هم د سپرلي په څېر کښوئ چې ګل شم
دا خیال مې کله کله بغاوت وکړي له خانه
لیږ ما هم د ښائست په ډېر کښوئ چې ګل شم

.....

اے بنګلو ما د خان غوندې اوتر اوتر عادت کړې
لیږ ما هم د وریځو په شان پرېږدئ چې لوفر شم
دا سترګې کله کله مې منکرې شي له ژونده
لیږ ما هم دروغژن کړئ په ریښتیا چې بختور شم

اے بنګلو ما د خان په شان بې غمه کړئ له غمه
لیږ ما هم په قاتلو کښې شامل کړئ د دې کلي
دا ژوند مې کله کله اذیت راته ښکاره شي
د خان په شان مې بنګلو کښې شامل کړئ د دې کلي

۲۔ستمبر۔۱۹۹۶ء مردان

☆

هر سوال کيږي د زړه سره ستا ليدۀ ـ غواړو له خدايه
نور څۀ دي زمونږ زړۀ کيږي ـ نور به څۀ غواړو له خدايه

ژوندون چې پرې سپرلو سره ـ سيالي وکړي له تازه
د مينې د رنګونو وربشۀ ـ غواړو له خدايه

خواږۀ ده ـ غيږه ـ ليچې ـ زلفې ـ پو دوه کيږي حېران يو
څۀ وغواړو له خدايه ـ او څۀ نۀ غواړو له خدايه

د مينې يو نظر کيږي ـ چې به تېر داستانونه
ساقي ـ هغه ستا جام باندې ـ ويشتۀ غواړو له خدايه

تل هاغه خلق ولي مو ـ د پدو به نامه کيږي
عايده هميشه چې د چا ـ بنۀ غواړو له خدايه

۳ـ ستمبرـ۱۹۹۶ء مردان

☆

بړون چې لاړې رانه ـ تا به لار کښې لاس رانۀ کړو
يوازې پاتې شوم ـ بيا چا به لار کښې لاس رانۀ کړو

رقيب به دې هم ګلاب خان له ـ په پټکي کښې ورکړو
ليږ لږې تېر شو چې اشنا ـ به لار کښې لاس رانۀ کړو

تا چې مې لاس د مينې پرېښو ـ د عمرونو ياره
چا هم په ژوند کښې راله بيا به لار کښې ـ لاس رانۀ کړو

دلته شلېدلې ګرېوان ـ څوک د مينې نخښه ګڼي
ماله خو يو کس هم بېګا ـ به لار کښې لاس رانۀ کړو

ګورو عابده ما او تا ـ د هر ملګرى ايمان
ځکه خو چا هم په خندا ـ به لار کښې لاس رانۀ کړو

٤ ـ ستمبر ـ ١٩٩٦ء مردان

☆

چرته چې ستا د قدم نښتخې ښکاربدې ورتلمه
ځاته زما ـ د قدم نښتخې ښکاربدې ورتلمه

ژوند خو مې تول د دے اتبار ـ په لویه لویه بائېلو
اشنا ـ اشنا د قدم نښتخې ـ ښکاربدې ورتلمه

ښه راته پته وه ـ چې ستا تر کوره نۀ دررسې
ځۀ هم چې بیا د قدم نښتخې ښکاربدې ـ ورتلمه

زړۀ چې مې ستا د خندا ګل ـ د مینې ساه ګڼله
بس کۀ بلا د قدم نښتخې ښکاربدې ورتلمه

په تندي خال ـ په زنه تِل ـ عابده زلفې د ګل
ځاته هم "دا" د قدم نښتخې ښکاربدې ورتلمه

۱۵ـ ستمبر ـ ۱۹۹۶ء

☆

ښۀ نوې نۀ ده ـ کۀ ظالم د انصاف کار کړے دے
وخت همېشه ـ د توقع نه خلاف ـ کار کړے دے

خکه رانجو ئې ـ د نظر زبه روانه کړله
تل به اصولو کښې ـ شدید اختلاف کار کړے دے

خدائے دے قبولې کړه ښېرې ـ چې قدر ډېر شي د ژوند
د مېنې جرم کښې اکثر اعتراف ـ کار کړے دے

نۀ ئې خوارۀ د وخت لېدلې ـ نۀ د زړونو مستي
چا چې د ژوند په نقطع ـ ډېر په اصراف کار کړے دے

وۀ کۀ ستا کور ـ او کۀ کعبه ـ خو وو مقصد حل کوؤل
عابد به ډيره موده پس د طواف ـ کار کړے دے

۱۶ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۶ ـ مردان

☆

ارمان وو ـ تلوسه ـ یو حسرت وُه ـ پوره نشو
ستا ژوند لکه زما ـ د مرګ قیمت وُه ـ پوره نشو

اتبار د دې نه پس به مې ـ څهٔ راشي په وختونو
اقرار دے د ټول عمر عبادت وُه ـ پوره نشو

ستا کور او ستا کوڅه اوس هم ـ ستا نوم یاندې یادیږي
هر څو کهٔ دې دیدن ـ د یو ساعت وُه ـ پوره نشو

مستي دې د حمزه د مست غزل ـ مستې مصرعې وې
ستا خوب د سپین سحر یو علامت وُه ـ پوره نشو

دعوې به د وختونو خود عابده ـ خطا کیږي
ژوند خپله د خیال خان چې بغاوت وُه ـ پوره نشو

۲۱ـ ستمبرـ ۱۹۹۶ءـ مردان

☆

مېنې سرګردانه کړمه ـ پوئې شومه "پوئې نشومه"
ته په مخه تلې ـ زۀ دریسې شومه ـ پوئې نشومه

نوره به د دې نه خوشحالې ـ ستا د راتلو څۀ وه
خاوره دے د پل شوم ــ یو پوکې شومه ـ پوئې نشومه

ستا مېنې پښتو مې هم اشنا ـ جورې زنده کړله
نن د رقیب مخکښې ورنژدې شومه ـ پوئې نشومه

ته لکه نوې مئے پرست هسې ـ بې دمه شوې
زۀ لکه کاسه د مئیو توې شومه ـ پوئې نشومه

خان ججې راته هم عابده خان ـ په عشق کښې ښکارې نا
داسې راته ښکارې لیونے شومه ـ پوئې نشومه

(صوتي قافیې)۲٤ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۶ ـ مردان

☆

مینه شراب دی ـ نظر جام دے ـ او خوانی مېله ده
ستا تصور دے ـ زما زړه د لیوني ـ مېله ده

زما د کټ په خاۍ ـ اول به رقیب زېړے کوي
زما جانان ته ـ زما مرګ هم ـ د سپرلی مېله ده

ستا د محل سپورے ـ هم ستا په شان ـ اتبار نۀ لري
ما ته اشنا ـ زما دا خپله غریبي ـ مېله ده

چاڼې چې یو ځل هم خوند واخستۀ ـ بیا وژني پرې خان
ستا د جولي خوارۀ هم سمه ـ جنتي مېله ده

ښه ده ـ چې وڅېړېدې زلفې ئې عابده په مخ
ګل خورېدۀ هم ـ یو طرف ته د "ازغي" ـ مېله ده

۲۶ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۶ ء ـ مردان



دا چي په هر ګام په ژړا ـ سر شومه
رنګ په محبت کښي سراسر شومه

دغه وه د حسن ـ او د عشق ـ فرق
ته په نبيرو ـ زه په دعا ـ سر شومه

ستا د مېني کور ـ په مخه رانغي
څه په ډېرو لارو کښ ـ راسر شومه

ستا په قدم تللي ـ جنت ته ـ خوب شو تول
دا واعظه څه په خطا ـ سر شومه

تا ورکړو رقيب له ـ چي ګذار په مخ
خکه خان پسي په خندا ـ سر شومه

تېر وختونه څه وو ـ خو چي ته راغلي
ډېر تاوان مي کړي وو ـ را سر شومه

هر وخت چي مي زلفي وی ـ خوري په زړه
دا عايده څه په بلا ـ سر شومه

۳۰ـ ستمبرـ ۱۹۹۶ـ مردان



تندے دي خکلوی ۔ کله لاسونه خکلوی
ښین په ښوله لار دي تصویرونه ۔ خکلوی

ما وژني په وجود پسي مي اور نیسي ۔ ظالم
نامه چي د رقیب اخلي ۔ ګلونه خکلوی

چي تلي په خپل فکر دي ۔ په لارو د اتبار
اشنا هغوی همیش به ۔ منزلونه خکلوی

ستا ښهر دی ۔ بیا هم ګورے اشنا ۔ ستا لیوني
لا اوس هم ستا د لاس هغه خطونه ۔ خکلوی

اشنا داسي رانغلۀ دي شو ۔ دیدن پسي هر څوک
په پټو سترګو ګرځي ۔ دیوالونه ۔ خکلوی

اشنا دلته څو ګل ورکوژل هم ۔ شي تماشه
څوک څنګ به داسي حال کښي رخسارونه ۔ خکلوی

احساس زما د مینې ورته ۔ اوس وشو ۔ له زړۀ
په پاښو مي عابده ۔ چي شعرونه ۔ خکلوی
۱۔ اکتوبر ۔ ۱۹۹۶ ۔ مردان

☆

مسکے شه ۔ راله ورکې نن ګلې کړه ۔ چې خوب راشي
دا ستړګې خو ساقي راباندې سرې کړه ۔ چې خوب راشي

یو ګوټ چې ترې کوې نه شم ۔ اے خدایه ۔ بې له یاره
دا جام مې د خوانۍ به مخ راتوې کړه ۔ چې خوب راشي

دا زړه مې ستا دمينې حادثو ۔ لکه ماشوم کړو
جولۍ کښې مې لېږ خان ته رانژدې کړه ۔ چې خوب راشي

باران دے ۔ توره شپه ده ۔ ستا یادونه دی او زه یم
لږ راشه دا جذبې راله سرې کړه ۔ چې خوب راشي

دا مستې شوګیرې به مې والله چې ۔ لېونے کړي
عابده بس دے نن خو ډیوې مړې کړه ۔ چې خوب راشي

۲۔اکتوبر۔۱۹۹۶ء مردان

☆

له ما نه نۀ دی خبر ـ ستا په لارو نۀ دی تلے
دا خلق ګله د دنیا ـ په لارو نۀ دی تلے

خبر دے کۀ ستا په قدم تیټ نۀ شو ـ پریشانه مۀ شې
نورې مئین دی لا زما ـ په لارو نۀ دی تلے

زما د زړۀ نه به سهوا لوټ ښار ـ چرته وی
چرته چې څوک هم په خطا ـ په لارو نۀ دی تلے

نۀ کور ته لاړلې زړګیه ـ نۀ تر یاره لاړې
ستا هسې څوک هم وارخطا ـ په لارو نۀ دی تلے

د مینې جرم ورته ښکاری ـ خکه جرم د مرګ
عابده ښکلی د وفا په لارو ـ نۀ دی تلے

۱۰ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

د ژوندون پته چې راکړي ـ جوارګر چرته څوک نشته
چې خواني او زړه بدل کړو ـ سوداګر چرته څوک نشته

هر ساه مې یخ نیولې ـ هر نظر مې تلوسه ده
خدایه بیا راغلې د ژمې ماړیګر ـ چرته څوک نشته

چې رنګونو له ژوند ورکړي ـ چې لفظونه په ګډا کړي
اوس زړګیه بنار کېنې هغه ـ جادوګر چرته څوک نشته

ما د سوال شونډې چې بندې کړې ـ امیر د حسن ووې
لېږ زکواة د محبت دے ـ یو سوالګر چرته څوک نشته

چې ستا درد د زړه محسوس کړي ـ چې احساس د مینې واخلي
څه عابده داسې رنګ به یو ډګر چرته څوک ـ نشته

۱۶۔اکتوبر۔۱۹۹۶ء مردان

☆

ښکلې مې نه راځې تر وره ـ خفګانونه کوي
ساه مې له ژوند شوه مروره ـ خفګانونه کوي

ما هم خپل زړه لکه په ناز ستا د خوانۍ ـ ساتلې
بس په وره وره خبره ـ خفګانونه کوي

دا خو به دې ـ چې دا فطرت دے ستا ـ نونه دې پرېږدم
ګنې څوک داسې زوروره ـ؟ خفګانونه کوي

په داسې خلقو به څوک څهٔ باور ـ د مينې وکړي
څوک چې زړګيه وخت له سره ـ خفګانونه کوي

دائې هم ناز دے ـ هسې خان خپل درنوي عابده
خواله راځې په ويره ويره ـ خفګانونه کوي

۲۶ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۶ء مردان



د مینې د مابنام او د سحر جنګ خو به کیږي
اشنا دواړه زلمي یو ـ د نظر جنګ خو به کیږي

ارمان د چا د سر کتاب ـ بائبل د زندګۍ دی
رقیبه د یار چم کښې سر په سر ـ جنګ خو به کیږي

زړګیه چې خواږه غوارې دردونو کښې ـ هم بائې
مړ کیږې به د ژوند په هر ډګر جنګ خو به کیږي

ما خپله درته ګلاب ووې اشنا ـ له ډېرې مینې
د وخت راسره اوس یو ناخبر جنګ خو به ـ کیږي

قانون ته چې د مینې دې مذهب ووې ـ عابده
د جرم مرتکب شوې در په در جنګ خو به کیږي

۳۰ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۶ء مردان



ایښي مې خطونه ستا ـ كتاب كښي دي
دې ته "مينه" وائي دا ـ كتاب كښي دي

مينه د بې مخو د زړه وينه ده
لوستي دا خبرې ما ـ كتاب كښي دي

څه وائي ؟ واعظه ؟ مينه به نه ده ؟
خدائے مه كړه چې دا ـ زما كتاب كښي دي

هاغه كړنه به ده ـ چې ستا عكس لري
كړني خو د ژوند بلها ـ كتاب كښي دي

پټ وي به خندا كښي ـ د عمرونو غم
دلته كښي "دا" لوستي چا ـ كتاب كښي دي

برند كتل ـ سپول حسن ـ حيا ـ ايمان
څومره څه ـ د يو حمزه ـ كتاب كښي دي

بيا دې جوړ عابده ـ څوك بائبلي دي
ایښي دې ګلونه بيا ـ كتاب كښي دي

۴۔نومبر۱۹۹۶ء مردان

☆

شپې له رانه خې او راخې ورځې له
ګرانه به شي ـ داسې رنګ شپې ـ ورځې له

"ورځ د یو دیدن هغه هم لنډه شان
ورځې به شمېرلې شوې ـ دې ورځې له"

څنګه دې له بنګلو ـ بدل وګېم
چرته ایسار نه شوې ـ بوې ورځې له

هر سړے اخستې بدې ورځې دے
نشته څوک زړګیه ـ ستا ښې ورځې له

دومره شوکیرو عابده ـ واخستم
اوس بلې ساتمه ـ ډیوې ـ ورځې له

۶ـ نومبر ـ ۱۹۹۶ء مردان

☆

سپرلے دې بې له تا وی ۔؟ دا ارمان خو داسې نه وۀ
ژوند څنګه چې تیریږی نن ۔ گمان خو داسې نه وۀ

ستا لارې رانه ورکې ۔ د تقدیر لارې مې بندې
دا څۀ وشو ۔ دا زمکه ۔ دا اسمان خو داسې نه وۀ

رشتې به د خطونو هم ۔ ماتیږی مو تر منځه
دا لمس دے د رقیب ۔ کنی جانان خو داسې نه وۀ

وعدې د تول ژوندون وې ۔ ارادې د کلکې مینې
نن دواړه چې بیل کړخو ۔ دا پیمان خو داسې نه وۀ

خوانی ده ۔ یخه شپه ده ۔ هم یاران دے او هم نه یې
خدائے مخکښې په ما گله ۔ مهربان خو داسې نه وۀ

نن څنګه چې یوازې یې ۔ ورک ورک یې د ژوند لار کښې
عابده ستا د ژوند هغه عنوان خو داسې نه وۀ

۱۰۔نومبر۱۹۹۶ء مردان



ته مې غوښتې ـ د محبت سر له مې تور غوښتې وه
د خواني درد له مې ستا لاس ټکور ټکور غوښتې وه

ما د خپل زړه د خوانی مرګ ارمان په کټ هم ګلې
ستا سپینو لیچو کیښې د مستو بنګړو شور غوښتې وه

دلته څوک ناوری ـ د لوټ شوی زړه ـ اوترې چغې
څکه مې ستا په خله ـ د خپل ښټکی پیغور غوښتې وه

زه هغه تږے ـ چې ستا لاسو کیښې ـ د زهر جام هم
رقیب توې کړې وه ـ ستا یاد شی ـ؟ او ما نور غوښتې وه

نن ئې هم هغه رشته ماته کړه ـ عایده لاړو
کومې چې وخت غوښتې وه ـ زوند غوښتې وه ـ زور غوښتې وه

۲۳ـنومبرـ۱۹۹۶ء مردان



په هر انداز کښې چې ستا رنګ مې ګله رنګ ښکارېږه
تاته زما دا لېونتوب ـ وایه چې څنګ ـ ښکارېږه

داسې هر څوک د زړۀ له دردہ په خان نۀ پوهېدل
شور د اجل هم ورته شړنګ او کله کړنګ ـ ښکارېږه

د زړۀ نه ډېر وروکے وختۀ ـ له تيته ماشوم
هغه سړے چې په همزولو کښې به ـ دنګ ښکارېږه

زما د ژوند د هنګامو وختونو ـ چرته لاړې
د یار په مخکښې چې تن خان راته ملنګ ـ ښکارېږه

لېږ خو مې پوني کړه ـ نور مې څۀ د غریبی جرم وۀ
زړۀ خو مې لوني وو کنه ـ کور کۀ مې څه تنګ ښکارېږه

اوس خو عابده ـ زۀ له زړۀ ـ او زړۀ له ما سترے دے
هغه بیل نور وۀ ـ چې ژوند مې په غورځنګ ښکارېږه

۲۶ـنومبر ـ۱۹۹۶ء مردان



د ګل په پانړو لکه نوستې چې نکهت ـ خوارۀ وو
ستا په خندا کېږي ـ ټول زما د محبت خوارۀ وو

تا چې ليکلي وو ـ چې "تۀ دا ښکلې څۀ پېژنې"
رقيبه دغه خو هم ټول د دغې خط ـ خوارۀ وو

څکه خو پوئې نه شو واعظ ـ د خپل ايمان په تاوان
څۀ دې د جام خوارۀ ساقي ـ څۀ دې د ست خوارۀ وو

ستا د جولۍ زندګي څۀ وه ـ د وختونو شور کېږي
لکه ګټلي چا دوزخ کېږي ـ د جنت خوارۀ وو

چرته په بل لوری عابد دې ـ بيا ورتلي شو اشنا
يو ځل ليدلي چې ئې ـ ستا د عنايت خوارۀ وو

۲۹ـنومبرـ۱۹۹۶ء مردان

کمزوری

د پشکال نه مخیکې
ستا د سترګو نه وریدونکے باران
د یو طوفان اندازه ده
چې د همیشه په شان
دا خل به هم ما
د ځان سره یوسي
ځکه چې
اے به ما له ژوندهٔ ګرانه
ماته د دې هر څهٔ اعتراف دے
چې
ستا اوښکې
زما کمزوري ده

نومبر ۱۹۹۶ء مردان
(اردو ادب نه ترجمه)



ډېرې ډېرې يمه په ژوند ستوماڼه تېرې يمه
نن خو په لېو لېو را ـ بې شانه تېرې يمه

زۀ د الفت کلی د زړو په بدل نۀ کوم
بس خو د مينې د نظر ـ جانانه ـ تېرې يمه

اوښکې مې سترګو کښې د خان ګواهی هم نۀ لری
باران شه ـ وورېږه ـ شين اسمانه تېرې يمه

زلفې دې سپورې ـ فکر سپور زما ـ وختونه سپور دی
څۀ شوې وريځې ـ د خوانی ارمانه ـ تېرې يمه

دا سوړ سحر ـ يېکه مابنام ـ په خان مئين ملګری
خدائېګو عابده چې له شتۀ ـ بارانه تېرې يمه

۲ـ دسمبر ۱۹۹۶ء مردان

☆

تېرې شوې موډې ـ څوک به دې لار ګلونه نۀ راوړی
نۀ چې لاړې ـ نۀ راغې بهار ـ ګلونه نۀ راوړی

هسې خپلې وینې تویول دی ـ امېدونه دی
اوس د بنګلو مینه ـ انتظار ـ ګلونه نۀ راوړی

څۀ رنګه خوبونه د مستی به اوس ـ ژلمی وینی
نۀ پړدی به وربل پېغلې قطار ګلونه نۀ راوړی

زۀ چې ورته څومره به ژړا ژړا د زړۀ ـ وایم
دومره راته خاندی ـ خو یو وار ګلونه نۀ راوړی

ټولې یارانې تر ژوندانۀ دی ـ خوشالېږه مه
تا له څوک عابده ـ به مزار ګلونه نۀ راوړی

☆

پاتې چې اظهار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي
مينه چې اقرار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي

هر چاته کولې شي ـ سړے بلها ګیلې
يو چې کول یار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي

بنه وی ـ مخامخ چې هر څۀ ووائې ـ زړۀ صبر شي
يار ـ خو چې ربار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي

هر څۀ ته ـ ملګرو محبت منم ـ خوانې بخښي
بس چې انتظار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي

دا چې وی یو کلے ـ نو عابده ـ وی هر څۀ اسان
يار چې لار بل ښار ته شي ـ خبره ډېره ګرانه شي

۲۷ـ دسمبر ـ ۱۹۹۶ء مردان



راځه راځه ـ زما نه صبر تر سبرلې نه کېږي
بیاځې خوب په خنګانه ـ ما نه بېځې نه کېږي

نظر بکار دے ـ شرنګ بنکار دے ـ هم خواني بکار دے
په کوټ شرابو ساقي جانه ـ هیڅ مستي نه کېږي

ور د جومات واعظه مات بنه دے ـ چې هر څوک راځي
ته خپله وائې "په چا دلته پابندي نه کېږي"

دواړه روان یو په یو لاره ـ خو یو نه شو اشنا
نه دلداري نه کړې او مانه دلبري نه کېږي

زینې د زړه غواړي عابده ـ هم انداز د اظهار
په تش لفظونو ـ بنو خیالونو ـ شاعري نه کېږي

۱ـ جنوري ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

څڅ لویه لاره ـ څڅ یوازې یم او څڅ تیاره ده
بې له تا څڅ ده زندګي ـ لکه په زړه تیاره ده

هسې باني د نه لیدو مه کړه ـ چې نه راګورې
ښکاره ولاړ یمه ـ نه شپه ده ـ ګوره نه تیاره ده

په هر قدم د زړه او ځان د ورکېدو خطره ده
زلفې دې تورې ـ وریخ توره ده ـ تیاره تیاره ده

چا چې د وینو په زور بلې کړې ډیوې ـ د مقتل
نن هم د هاغه ''زړا ورکو'' په کاله ـ تیاره ده

سترګې دې تورې ـخال دې تور ـ رانجه تور ـ یانې تور
هم په راتله درله تیاره ده ـ هم په تله ـ تیاره ده

ځان به عابده پکښې سپین نه کړې ثابت ـ اشنا ته
محبت ټول له هر طرفه په کاڼه ـ تیاره ده

۲ـجنورۍـ۱۹۹۷ء مردان

☆

چې زړه ته پرېوځي ـ داسې ست د نظر نه کوي څوک
اوس په دې بنار کښې محبت د نظر ـ نه کوي څوک

خپل خان ته ګوري خو د بل وجود احساس نه لري
چې زړونه يو شي ـ داسې بت د نظر ـ نه کوي څوک

نه څه خبر چې څنګ مې وځي ـ له خېګره ـ زړه ته
دومره لوفر لوفر عادت د نظر ـ نه کوي څوک

څه نه څه ګوره ارمانونه د زړه هم وي ـ اشنا
مينه کښې هر څه په قيمت د نظر ـ نه کوي څوک

هر سړے غواړي ـ بې لالچه زندګي ـ عابده
دلته يقين اوس په جنت د نظر نه کوي ـ څوک

۲۶ـجنوري ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

تا کۀ څۀ نۀ وې ستا لېمو راته حالونه ووې
خپل کۀ خاموشه شو ـ پردو راته حالونه ووې

موسم د مينې وربدونکے دے ـ ورېخ توره ده
په ډکو سترګو کښې رانجو راته ـ حالونه ووې

نۀ راځي څوک مې هم د وران زړۀ ـ نرېدلی کور ته
مرې په سلګو سلګو ډيوو ـ راته حالونه ووې

ستورې راکوزې ـ ښخوروونه راکوې ـ د سبا
د سحرونو په سر ـ شپو راته ـ حالونه ـ ووې

تلې وې بيا جوړې رقيب له مې د کور په لاره
الوتې رنګ ـ زړۀ درزېدلو ـ راته حالونه ووې

څوک محبت کښې د عمرونو سودا وړې تلے
عابده چپ شه ـ مړو ډيوو راته ـ حالونه ووې

۴ـفروری۱۹۹۷ء مردان

☆

دواړه به کوز ستړګی شو - رشتیا چرته دروغ نه شی
ما سره دا غم دے - ستا وعدې چرته دروغ نه شی

ارمان د محبت به مې د ګل هسې دوه ورځې شی
پاتې رانه نه شي - تلوسې چرته دروغ نه شی

اوس خو خامخا به راکوي د ژوند به لار کښې لاس
جوړ به کوږ او کلي - رابسې چرته دروغ نه شی

خال دې ستا په زنه - تل زما د سترګو تور وسی
تابسې شوګیرې تورې شپې - چرته دروغ نه شی

خان ورته عابده دروغژن کړه - چې یقین وکړی
هاغه د ریښتیا مینې قیصې - چرته دروغ نه شی

۱۰-فروری-۱۹۹۷ء مردان



نۀ به راځي دغې سودا رانه ـ خوبونه يوړل
د سپړلي طمعې بې وفا ـ رانه خوبونه يوړل

سترګې مې ګوره چې د مرګ په وخت هم پټې نۀ شوې
خدائے خبر چا لوټ کړمه ـ چا رانه خوبونه يوړل

بنکارى چې ستا د زلفو شپه مې په نصيب کښې نشته
سترګې مې سپينې شوې ـ سبا رانه خوبونه يوړل

اوس خو به خوب کښې دې ليدۀ هم راته ګران شو ګله
د ناقلاره زړۀ دړزا رانه ـ خوبونه يوړل

خان نه عابده ماشوم ځۀ جوړوه ستا ګناه ده
زۀ هم تا مئين کړم ـ تا رانه ـ خوبونه يوړل

۱۵ـفرورى ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

اقرار ساتی تر عمره ـ نۀ انکار ساتی تر عمره
ظالم هسې په ما خپل انتظار ـ ساتی تر عمره

ستا ګل چې د خندا ـ پکښې زما د زړګی ساه شی
الله دې داسې هر وختې ـ بهار ساتی تر عمره

د ژوند لوبه شکونو باندې ـ نۀ کوی بیا چرې
ملګرو خوک په خپل ځان چې اتبار ساتی ـ تر عمره

اشنا به دې ئې مۀ شه ـ کۀ ستا مخکښې کونګ ولاړ وی
ستا هر څۀ نه مئین ځان ـ خبردار ساتی تر عمره

چې ستورو ته وئه کوری ـ ستا سترګې یادې نۀ کړی
عابد به دې نور وایه څۀ روزګار ـ ساتی تر عمره

۲۰ـفروری ـ۱۹۹۷ء مردان

SEE+ ME

ماته راوګوره قاتله ما لېږ ویېژنه

زۀ ستا په سپین تندی د غوڅو غوڅو شونډو چاپ یم
زۀ ستا په غاړه د الفت د ابتدا امېل یم
زۀ ستا په پښو کښې د پانزېبو د شپار انتظار
زۀ ستا مینې د یادګار د مات بنګړی اواز یم

ماته راوګوره قاتله ما لېږ ویېژنه

زۀ ستا د زړۀ د درزېدو د ارمانونو ساه یم
زۀ ستا د خور وربل په سپینه ورخ ښکاره ثبوت یم
زۀ ستا په غاړه د وجود د ګناهونو تاوان
زۀ ستا په سر د محبت د رواجونو څادر

ماته راوګوره قاتله ما لېږ ویېژنه
زۀ ستا د غلا برېښد نظر زه ستا شلېدلي قمیص
زۀ ستا د مینې د خوبونو بې نقابه تصویر
زۀ ستا د تېزې تېزې ساه د شرارت ګواه یم

زه ستا د پښتو حرکتونو يو پرانستي کتاب

ماته راوګوره قاتله ما لېږ وپېژنه

بغېر له مانه به ژوندون وايه ته څنګ تېروې
بغېر له مانه به ستا ذات ارتقا څنګه وکړې
بغېر له مانه به ته خان بې ګناه څنګ ښکاره کړې
بغېر له مانه به ته تار د ګرېوان څنګ وتړې

ماته راوګوره قاتله ما لېږ وپېژنه

زما د مينې نه بغېر به ستا خوانې څنګه وی
زه ستا د وران لوفر پرونې پرده دار منين يم
زما احساس نه به تر کومې ته لمن خلاصوې
زه ستا د مستې لوېتې د تماشو پرده يم
زما د خلې به هر يو صرف کېښې ستا د ژوند رګونه
ګرانه ده ګرانه ده تر څو به تېښتې سترګې ګرځې

ماته راوګوره قاتله ما لېږ وپېژنه

۲۳-فروری-۱۹۹۷ء مردان



کتل چې په خندا خندا کېږي ـ تا له ډېرې مينې
زړه خکه غلې پاتې شوم اشنا ـ له ډېرې مينې

خيره که تر شونډو وه راغلې ـ د زړه سره
نه تا وکړله کوره ـ او نه ما له ډېرې مينې

بيا تنده د عمرونو د صحرا د سينې ـ خوب شو
ارمان ستا د لمن شو په هوا ـ له ډېرې مينې

بيا خاورې ستا د پل مې په تندی خان له سندور کړې
بيا خدائے مې درته ووې نن الله له ډېرې مينې

عابده د شپا له کوره راغله په توبونو
نه غوږ کېږده ـ غځ وائی نن فضا ـ له ډېرې مينې

۲۴ـ فروری ـ ۱۹۹۷ء مردان

داسي داسي

ښه چې موسم نه نن غلاګانی د رنګونو وکړو
راځه وريځو نه چې زياتې لوفرۍ وکړو نن
راځه چې ومېږو ګلونه ښۀ ورانی وکړو نن
راځه چې والوزو مزې وکړو د باد په اوږو
راځه چې مونږه هم د څانګو هسې غېږې ورکړو
راځه چې نن د جمع شوی غبار زور وګورو
ښه چې خوارۀ شو په يو بل لکه د لونګ پړونی
راځه چې وځنډو خوانی د لوپټو هسې نن
راځه چې لاس د نمر په سترګه باندې کېږدو اشنا
راځه خوشبو چې د ساګانو نن تاله واله کړو
راځه چې يخو يخو شونډو له ګرمي پېدا کړو
راځه چې نن د ښۀ ونېلو جر اتونه وکړو
راځه چې ولوټو نن دا د کائناتو مزې
راځه چې څاڅکی د باران په يو بل وورو‌ۀ
راځه چې منډې لاس په لاس د زړۀ په لار ووهو
راځه چې پاتې فاصلې د سينو منځنۍ کښېنې نۀ شي
راځه چې بيا له خانه جوړ کړو ماشومان په زوره
راځه چې بيا په ناپوهې کښې پټې لوبې وکړو
راځه چې بيا خلق راويلو بنادی جوړې کړو
راځه چې بيا بې رنګه شپو له جوازونه ورکړو
راځه چې نن خو به دې زړونو ارمان پاتې نۀ کړو

چې بيا ونۀ وايو چې داسي داسې ونۀ شو نن
د خوانۍ ورځې دې سپرلی دے هم وريځ ده ګله
راځه چې نن د داسي داسې دا لفظونه ورک کړو

۲۴-فروری-۱۹۹۷ء مردان

☆

ستا نه چې جدا نۀ شمه یاره ۔ دعا غوارمه
خمه خان سره به لاړه دعا ۔ غوارمه

بیا راته ونۀ وائی نن خدایه "چې سبا به شی"
بیا د زړۀ له دردهٔ ۔ ناقراره دعا غوارمه

نۀ راته تول عمر له اشنا خبرې ښېرې کوه
زۀ به همېشه هم ستا له پاره ۔ دعا غوارمه

ژوند ستا د یادونو په لمبو تکوروم اشنا
کانې ورووم په زړۀ ۔ سنګساره دعا غوارمه

کله کله وایمه عابده چې پرې مړ بنۀ یم
کله کله زۀ ځومره بېزاره دعا غوارمه

۲۵۔فروری۔۱۹۹۷ء مردان

☆

ماته چې ګورې نو اوتر دې نظر دے که نه دے
يه تا مې وايه محبت زوروور دے ـ که نه دے

ته لېږې زلفې دې وچتې کړه نو وبه وايم
چې مې په ژوند د بهارونو سحر ـ دے که نه دے

دواړه تاوان کښې شو اشنا د خان خانۍ لوبه کښې
هر څو که زده مو د عمرونو هنر دے که نه دے

ته له اوګو نه ئې لاس لرې کړه ـ نو وګوره بيا
لکه زما چې رقيب هم ـ در په در دے که نه دے

شو هر نظر ئې ستا په غاړه د امېل تصور
اوس دې عابد وايه اشنا بختور دے ـ که نه دے

۲۷ـ فروری ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

داسې راته ګوري ـ چې اوتر ئې کړم
وژنې مې ـ له ژوندة لاس په سر ئې کړم

ښکل ئې کړمه ـ خان ته ئې راجخت کړمه
ټول ئې مينه مينه کړم ـ اختر ئې کړم

شونډو کښې ئې رنګ د وينو ـ کم دے لږ
راکړه دا تصوير ـ چې برابر ئې کړم

بيا نن له محفله ـ د رقيب په لمس
هيڅ بې هېڅه ګوره ـ رابهر ئې کړم

ژوند عابدة څخه دے له شها جدا
بس خو ډر په ډر ـ خاورې په سر ئې کړم

۲ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان

بختور تاوان

ما محبت وکړو ما مینه وکړه زړه مې ورکړو
چاته مې ست وکړو چا ومنلو وائې خستم
ما بغاوت وکړو ما ژوند له قهره وویستلو
چا له مې لاس ورکړو چا خله راکړه سینه ئې راکړه
ما شرارت وکړو ما نوې لوفرې وکړه نن
چا له مې زړه ورکړو چا زړه راکړو خوانۍ ئې راکړه
ما د وجود د حصارونو تنې وسپړدلې
چاته نزدې شومه چا غېږه راونیولم
ما د موسم سره سیالي وکړه ورانې مې وکړو
د چا په سرونو لاذنې وځنګېدم

ما په ورمېې خل نن په خپله خوښه کار وکړلو
په چا تاوان شومه څوک ما باندې تاوان شو د ژوند
۲ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

راغلے ۔ وائی ځنګه یې ۔ یار ۔ بڼه یې ته
څنګ ورته زه ووایم ۔ چې نه یې۔ ته

اے د سپوږمۍ ګله ۔ خفه کیږه مه
بل نشته ۔ د زړه قرار مې ته یې ۔ ته

زه په نمر کښې تول ۔ د واورو کور یمه
څاڅکے یې ۔ په کاڼی کښې اوبه یې ته

چرته مې له زړه نه ورکیدې شي ۔ اوس
ساه یې ته ۔ زما دواړه لېمه یې ۔ ته

ستا زما رشته ده ۔ د خوشبو او ګل
چا وې چې جدا زما له زړه یې ۔ ته

ژوند خو زما ۔ ستا په خندېدو کښې دے
ښکاری راته مرګ ۔ چې ګله نه یې ته

مه خه نور عابده ۔ د چا خلې پسې
هیڅ نه دی هغوی ۔ چې وائی "ښه یې ته"

۷۔ مارچ۔۱۹۹۷ء مردان

☆

په هر يو زړه کښې تلوسه ـ هر څېره کښې غم دے
اشنا وېشلې زمانې کوڅه کوڅه کښې ـ غم دے

څۀ رنګه وخاندي ساقي تندې وهلې زړونه
مېو کښې غم ـ کاسه کښې غم ـ په مېخانه کښې غم دے

بنکارې په شونډو مې خندا ستا د خندا له پاره
کنې زما خو د ژوندون لمحه ـ کښې غم دے

زړۀ به مې څۀ د محبت خواږۀ له ژونده واخلي
پرې ايښې تا راته اشنا هره وعده ـ کښې غم دے

يو پکښې نوم دے د اشنا عابده بل ئې ستم
خومره شوخي ده پکښې ـ خومره دې قيصه کښې غم دے

۱۳ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

ستا د نظر ویره مې په زړه کښې ده
یار ـ ګنی خبره مې ـ په زړه کښې ده

زه هم د الفت د ښار نواب یمه
مینه زوروره ـ مې په زړه کښې ده

رانغله په شونډو مې کیله ګل ته
بس د وخت له سره ـ مې په زړه کښې ده

یو ښکلے پرې نه راځی زړور زړور
غټه لوړه زوره مې ـ په زړه کښې ده

مړم که زه عابده په پښتو مړمه
چا وې چې دلبره مې په زړه کښې ده

۱۸ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان



خم روان يم خو وختونو ته لېږ ګورم
خپلو وركو قدمونو ته ـ لېږ ګورم

زړه مې لاسو كښې نيولې دے ولاړ يم
د دې ننګلو ايمانونو ته لېږ ـ ګورم

معجزه د مرګ په خله كښې ژوند ته ښايم
تور وربل كښې سرو ګلونو ته لېږ ګورم

ستا څهره چې مې د زړه د درد دوا شي
"اٰئينې د الفتونو" ته لېږ ګورم

ما خوانې چې پرې عابده تولو بائېله
د ساقي خالي جامونو ته لېږ ګورم

۱۹ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

هر خنګه چې ده خو زندګي بې له تا ګرانه ده
مې به شم له تندې نه ـ ساقي بې له تا ګرانه ده

تا ته بې له مانه تېرول د وخت کۀ هېڅ نۀ دي
مانه خو د زړۀ سره بېخي بې له تا ـ ګرانه ده

وژني مې بې خایه د خواني ارمان د زړۀ قاتل
ساه زما ختل چې به مرګی ـ بې له تا ګرانه ده

خدائے خبر چې چا ورته زما د ونوم فال اېښې دے
"واني" او پروني غورځوي "بې له تا ګرانه ده"

تېک ده مجبوري سرے زغمے شي خو تر څۀ حده
ګرانه تېرول ګوري خواني بې له تا ګرانه ده

څۀ وشو بنکاره کۀ څوک په خلۀ باندې څۀ نۀ کوي
هر سړے عابده دا مني ـ بې له تا ګرانه ده

۲۰۔مارچ۔۱۹۹۷ء مردان

ستا خطونه

ستا له نکهت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول
د محبت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول
بس د الفت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول

کوم چې ټول عمر ما د وخت له سترګو پټ وساتل
کوم چې ټول عمر ما د زړه پورې راجخت ونیول
کوم چې ما دین ګڼلې کوم چې ما ایمان ګڼلې
ستا له نکهت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول

چې هر یو لفظ ئې ماته یاد وړه د اوبو په شانې
چې ماته یاد وو د رېبار د خلې حرفونو په شان
چې ماته ګران وو د خپل ژوند د الفتونو په شان
ستا له نکهت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول

کوم چې د خلقو له نظره به تا پټ پټ لیکل
چې کال و سر زما په نوم دې برابر به لیکل
کله د ورځې کله کله به د شپې دې لیکل
ستا له نکهت نه ډک خطونه به مې ښنګ سوزول

ستا ټول خطونه اباسین کښې مې لاهو کړه راغلم
اور مې قسم دے په روانو اوبو ولګوه

۲۲ـ مارچ ـ ۱۹۹۷ء مردان

(ترجمه)

☆

چې زړه له ژوند ورکړی خواني له ښکلاګانې ورکړی
خدائے خو دې هر ښکلي داسې اداګانې - ورکړی

په هر نظر کښې معجزې ښکلي د خدائے کرخوی
له چا نه واخلي زندګی - چا له ساګانې ورکړی

هر وختې ذکر د واعظ به خلد د مستو حورو
خدائېګو چې صبر صبر زړه له هواګانې ورکړی

ستا د رخسار تصور شی مې د هجران زندګی
لکه سپوږمی بې خوبه شپو رڼاګانې - ورکړی

ماته عابده د دعا په بدل هم ښېرې کړی
ځاغه - چې خلقو له ښېرو کښې دعاګانې ورکړی

۲۹- مارچ-۱۹۹۷ء مردان

☆

د لوظونو اشنا نشته ـ د وعدو ملګرے نشته
د ژوندون په شاړه لاره د خوږو ملګرے ـ نشته

هر نظر سراب دے هره طمع اوبو وړې
چې اواز راکړی لاس راکړی ـ د اسرو ملګرے نشته

زما هر امید لمبه دے ـ زما هره ساه قیامت دے
چې هر ګل دے د دوو ورځو ـ د مودو ملګرے نشته

خدایه خنګه زندګی شوه ـ او دا خنګه د تلو لارې
چې په تلو ملګرے نشته ـ په راتلو ملګرے نشته

خاورې ـ ژوند به زما بڼه شي ـ خاورې رنګ به مې خواني شي
یم یوازې چې عابده له مودو ـ ملګرے نشته

۷ـ اپریل ـ ۱۹۹۷ء مردان



تا ته زما او ما ته ستا لارې ـ چا بندې نۀ کړې
ګله د مينې او وفا لارې چا بندې نۀ کړې

چې وۀ نصيب د ديدنونو کۀ رقيب شو کۀ وخت
په هر قدم راغلو ترخوا ـ لارې چا بندې نۀ کړې

نۀ تۀ چا ونيوې نۀ زۀ چا کرم ايسار چې مۀ خه
چې وۀ قسمت ـ نو شو جدا ـ لارې چا بندې نۀ کړې

هسې تيارو کښې ئې خانونه له يوبله ورک کړل
کنې نو چرته د رڼا ـ لارې چا بندې نۀ کړې

ډېر ئې کۀ وس وکړو چې نوم د مېخانې دې ناخلم
عابده دغې کښې زما ـ لارې چا بندې نۀ کړې

۹ـ اپريل ـ ۱۹۹۷ء مردان

REBELLION

اوس کهٔ سپرلیه په هر ګام ګلونه وغوړوي
کهٔ خوشبوی د ګل له غېږې په جولو کښې راوړي
اوس کهٔ وریځو د رنګونو باران وورووي
په هره ساه کهٔ د الفت سازونه وغږوه وي
اوس کهٔ صحرا د خپلې غېږې نه شبنم هم راوړي
اوس کهٔ وختونه په هر لوری راته وګډیږي
اوس هواګانې کهٔ مستي د ارمانونو راوړي
اوس کهٔ قاتل راته پخپله د ژوند زېرے راکړي
اوس کهٔ یاران راته جولی د یارانو غوړوي
اوس فرښتې کهٔ رنګیني د جنتونو راوړي
اوس کهٔ څوک وګوري او وخاندي لاسونه راکړي

زما د عمر د زړهٔ تنده به سېرابه نهٔ کړي
زما ناکامه ارمانونه به بیرې ناز ونهٔ کړي
خکه چې تهٔ رانه بېرته شوې زهٔ دې پرېښودمه

ما فیصله له محبت ـ د بغاوت کړې ده

۱۲ ـ اپریل ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

ګل ته چې ګورمه ـ ازغی راله لمنه نیسي
ستا د کوڅې پردې پردې راله ـ لمنه نیسي

واعظه ستا هسې عادت چې د سوالونو نه ووم
دا دې پخپله نن ـ ساقي راله لمنه نیسي

خال په وربل کښې پیتهدل د زړه د غلا نخښه ده
څه چل خو دے چې نن خواني راله لمنه ـ نیسي

ستا د لمنې طلب داسې د خوشبو مسکن کړم
چې هر یو بنګلے به لار څي ـ راله لمنه نیسي

سترګې ئې برندې کړې عابده ولې شوندې مسکی
مرګ مې راکاږي ـ زندګي راله لمنه نیسي

۱۶ ـ اپریل ـ ۱۹۹۷ء مردان

قسم

ستا دې قسم وي د تېر شوي محبت په نامه
ستا دې قسم وي د تېر شوي تورو شپو په شوګیر
ستا دې قسم وي په سپوږمۍ چې ده راز داره زمونږ
ستا دې قسم وي په دې نمر چې دے زمونږه ګواه
ستا دې قسم وي د خپل مات بنګړي په نوستې توتو
ستا دې قسم وي ستا د خوږ ورېل په يويو وېښته
ستا دې قسم وي د خپل زړه د درزېدو په نامه

سات دې قسم وي چې قسم زما په مينه وخوره
چې ماله زهر راکوې که نه د شوندو شراب

۱۷ اپریل ۱۹۹۷ء مردان

☆

پانزیب دې پاګلان دي که بنګړی دي لېونی دي
پښتو لاسو ته مې ګوري - لېونی دي لېونی دي

خوبونه رااله وزني د خوانۍ د پېغلو ورځو
یادونه دې همه ازغي ازغي دي - لېونی دي

ما کانړو باندې ولې - ما له ګلی نه وباسي
یارانو که مې خیل دي که پردي دي لېونی دي

هر ګل د باد په غېږه کښې ځان وزني له مستی نه
یادونه را الوتي د سپرلي دي - لېونی دي

تر عمره سر وهلې ګرځېدهٔ کوی عابده
منلې چا چې څهٔ هم د زړګي دي - لېونی دي

۱۸ ـ اپریل ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

یوړله خواني رانه یو ښکلي د نظر په لار
جوړ شو د یو بل سره مو کلي د نظر په لار

نه که یو لحظه مې هم د زړه په لار ښکاره نه شوې
ستا پلونه مې بیا هم دي څارلي د نظر په لار

ګرځي چېچې پرېشانه ستا د زلفو د سودا په نوم
داسې لېونې مې دي لېدلي د نظر په لار

چاته به اوس وایو خوشقسمته د الفت د غم
څوک دې رابللي - څوک شړلي د نظر په لار

څه به مې بانه ورته عابده ولاړ پاتې شي
ګوري راته ګوره غلي غلي - د نظر په لار

۲۱- اپریل- ۱۹۹۷ء مردان

☆

چې ته ئې مانه کړې کړې جدا ـ زه ئې له تانه بیل کړم
اوس خو پکار دی چې د ژوند طرز جانانه ـ بیل کړم

لا داسې کار لکه چې ووینې تیاره کېنې څوک خان
ستا تصور چې د ووبل ـ له شبستانه ـ بیل کړم

ستا تصور د زړه نه وباسم ؟ تا پرېږدم اشنا؟
څنګه کېدې شي چې به ځان له خپله ځانه بیل کړم

اوس به تیاره کېنې ځان له ځانه پټومه ناست یم
ستا د نظر پلوشو داسې له رڼا نه بیل کړم

نوره مې نه لګی عابده زندګی به غوښتو
پرېږده چې مړ شمه ـ یو نوم خو له جهانه بیل کړم

۲۵ـ اپریل ـ ۱۹۹۷ء مردان

لوفر خیالونه

لکه سیلۍ د اوچو پاڼو هسې ونوستمه
څۀ دې جولۍ کښې څۀ وربل کښې څۀ په زمکه خور شوم
لکه ډولۍ شوم د پیریانو لاړم والوتمه
د اوچو د صحرا د سرابونو خوب شوم
لکه وریخه در په در د باد چپو یوړلم
په پټو سترګو څاڅکے څاڅکے شوم د وخت په سینه
لکه د ګل د زړۀ په وینو له خپل زوره خور شوم
له خپله لاسه خوشبویو په ټول وطن رسوا کړم

زۀ لکه څاڅکے اوچه پاڼه هم دانه وانه ګل
خو بیا تا د خپل احساس په زور محسوس نۀ کړمه

۲۶۔اپریل۔۱۹۹۷ء مردان

☆

نه راته ګوري ـ او نه لاس څوک راکوي زړګيه
پواخې پاتې شو ـ رسوا شو ـ لېونی زړګيه

داسې تعلق نه خو والله چې ناشنائي به بنه وي
نه دې څۀ اوري ـ نه څيره دې مني ـ زړګيه

تول درته ګوري او مخه څي ـ نه وزنې پرې خان
هوښيار ګل مخې ـ او ستا داسې ساده ګي زړګيه

بنکته کاته ـ نري مسکا ـ ګوتې په سر کښې وهل
وزنې دې ـ غواړي دې ـ نن تول دې خپلوي زړګيه

نه چا وچت کړې نه راغوند ـ او نه ئې درکړه منګل
زما توتې نرې پنګړې زړګيه

ما هر بنکلي ته عايده کۀ "وا" ووې خو لاړ
نه زما ژوند بې ـ زما سا بې د زړګي ـ زړګيه

۲۷ـ اپريل ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

راکړه ـ راوګوره لږ یاره ـ ژوندکی ژوندکی
تېروم زهٔ خو ستا له یاره ـ ژوندکی ژوندکی

نور درته څهٔ ووایم ـ څهٔ دے حقیقت د احساس
تېرېږی بس په لاره لاره ـ ژوندکی ژوندکی

واعظ وې مرګ د جنت غواړی کهٔ شراب د ژوندون
"مېخوارو چغې کړې بې واره ـ ژوندکی ژوندکی"

نهٔ چرته کړنګ شته د کاسې نهٔ د پانړېو شمار
ده ورکه ـ تېزے ـ ناقلاره ـ ژوندکی ژوندکی

څوک به اوس څهٔ قربانی ورکړی د یو مرګ په بدل
شوه چې عابده بې اتباره ـ ژوندکی ژوندکی

۳ـمئی ـ۱۹۹۷ء مردان

(طرحه بشیر زاں)

☆

نه راته ښکلي په شا ګوري ـ نه وختونه په شا
لکه د ګرد مې وړې د خان سره بادونه ـ په شا

دې ته به وایو د یار څڼه رنګه بېرزو ـ زړګیه
جولۍ ئې ډکه له ازغو ده ـ او ګلونه په شا

ښه ده چې پاتې شو هر څه مو ـ د یقین په کور کښې
تر څو کول به مو یو بل ته اوازونه په شا

نه د خندا سبورے دې راکړو ـ نه د زلفو ماښام
څنګ به دې ورمه په دې نمر کښې الزامونه په شا

خدائے دې خاطر د ښکلي سپک نه کړي ـ عابده ګران دی
زغمل د ژوند به هره لار درانه غمونه په شا

۵ـمئ ـ۱۹۹۷ء مردان



زما چې څوک وژني ـ زانه ستا د کور پوښتنه کوي
ستا چې څوک غواړي ـ تل زما د کور پوښتنه کوي

مینه ـ ښکلا ـ وفا ـ خندا ـ سپرلي ـ بې درده ژوندون؟
څوک دي زړګیه ؟ دا د چا د کور پوښتنه کوي

څڅه دي جولۍ کښېږي زما ـ بس د امیدونو ایرې
او وخت مې تل لکه هوا ـ د کور پوښتنه کوي

زما ارمان د دار په سر د چا د نوم نه وینې
خلق لا اوس هم د ښکلا د کور پوښتنه کوي

هر چا د خپل کور دروازې کړې د خطرونو جوګه
عابد تراوسه د اشنا د کور پوښتنه کوي

۶ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

چې هر يو ګل زما په وينه دې ورېل ګېنې رنګ دے
څکه خور شوې مې په دار هم په مقتل ګېنې رنګ دے

خدائے دې ساقي تا د شرابو هسې خوان لرى تل
هم ستا له مخه مې راخور د ژوند محفل ګېنې رنګ دے

چې ستا منګل نښته ستا لاس نښته ستا سترګې نښته
نۀ په نکريزو ګېنې څۀ رنګ نۀ په ګجل ګېنې رنګ دے

ستا بانۀ څۀ وۀ - خو زما د غوږ ارمان - بانه وۀ
اوس خو نۀ طمع - نۀ اميد - نۀ څۀ کوګل ګېنې رنګ دے

څۀ چې مې ووې هم هغه زما فن وګرځېدۀ
عابده داسې تغزل مې په غزل ګېنې رنګ دے

۸-مئی-۱۹۹۷ء مردان

تهٔ

تهٔ زما د زړهٔ ډوزا
تهٔ مې د ژوندون ښکلا
تهٔ مې وينه تهٔ مې سا
ستا هره ژړا زما
شه هره خندا مې ستا
تهٔ اوسه خندا خندا
تهٔ مې د ارمان سبا
تهٔ مې د نظر خلا
تهٔ مې د ښکلا رڼا
تهٔ مې دا او تهٔ مې دا
تهٔ مې د هر سوچ بقا
تهٔ مې د خوانۍ جزا
تهٔ مې اوس او تهٔ مې بيا
تهٔ زما يې هم زما
مهٔ شه تهٔ پردے د چا
يې دروغ خو شه ريښتيا
راشه راشه نن اشنا
زهٔ مجنون او تهٔ ليلا
زهٔ يم ستا د سر ګڼا
تهٔ مې شه سزا سزا
وکړه نن وفا وفا
ولې کړې اشنا جفا
مهٔ څه نور خطا خطا

نۀ راځي تېر وخت په شا
پرېږده ناز او دا ادا
زلفې کړه خورې شها
مسته کړه هوا هوا
روغ نۀ دے واعظ مُلا
کړی فضول فضول وينا
څۀ دروغ او څۀ رېښتيا
مۀ خه مۀ خه نور له ما
راشه کړه مې يخه خوا
نۀ شي نور تنها تنها
څۀ دے ژوند خو لنډه دا
دا بلا او دا بلا
ومنه زما رضا
واخله ـ راکړه ـ زړۀ او سا
نۀ بې ناخيره لا
چې زۀ څۀ يم او زۀ د چا

زۀ ستا د خالق د لاس
ستا په تندی کرښه يم
ستا د لاس ارمان يمه
تا باندې تاوان يمه

۱۰ ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان



اے هواګانو شر او شور وکړی یوازې یمه
لږ یو نظر زما په کور وکړی یوازې یمه

دګل یادونو هله راشی چې مې زړه ودان شی
مرم ـ خو لږ لاس راسره نور وکړئ یوازې یمه

نه مې څوک اخلی نه څوک شته چې زړه خوانی بدل کړو
خالق د ژوند ته مې پېغور ـ وکړئ یوازې یمه

هر سړی اېښې دے جولی کښې خان خانی محبت
ملګرو خېر دے ماله پور وکړئ یوازې یمه

ورشی ـ خو اے زما د ژوند د ارمانونو ملګرو
په عابد زړے نن سرتور ـ وکړئ یوازې یمه

۱۰ ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

شوق خو د منزل واله نن کم کړه لېږ
ما په دغه نیغه لاره ـ سم کړه لېږ

سم چې برې د ګل وجود ته ورسم
خدایه خطا داسې مې قدم کړه لېږ

مړ به شم او ستا دیدن به پاتې شي
ورک د زړه له کوره مې دا غم کړه ـ لېږ

جوړه چې رشته مو د دردونو شي
یاره بیا سېوا دې دا ستم کړه لېږ

غواړي چې عابده صرف زړه او ځان
سر د دغه مړ ارمان ـ قلم کړه لېږ

۱۱ ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

مستزاد غزل

ستا د پټې مینې راز یم ——— خو ښکاره یم
د درد غرېکه یمه ساز یم ——— آواره یم

ما په غور باندې واوره ——— په ما ګرانه
زه هم ستا د زړه اواز یم ——— تا سره یم

ستا د لاس ارمان مې ژوند دے ——— نۀ مې سا یې
نور له هر څۀ بې نیاز یم ——— ښۀ پوره یم

زه د عشق او حسن مېنځ کښې ——— د زړه سره
یوه نالار یم امتیاز یم ——— ننداره یم

د "غزل تاجدار" مې بولي ——— ټول همزولي
غزلخوانو کښې ممتاز یم ——— که ذره یم

خه عابده اوس به نۀ مرې ——— ژوندے وسه
ستا د هر څۀ زه جواز یم ——— درسره یم

۱۵ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

ستا د مينې د نظر په خوږو پائېمه ۔ ژوندے يم
لا خو خان ته لېونے وائېمه ۔ ژوندے يم

کله کله د ګل ذات ۔ له ستا دمينې نامه وزګړم
کله کله ورته خپله سودا وائېمه ۔ ژوندے يم

نۀ څۀ بوئي شته د رنګونو ۔ نۀ څۀ شور د موسمونو
تا په خپله او خان ستا په نامه ۔ ستائېمه ژوندے يم

اے د تېرو مستو ورځو د ارمان ملګرو ۔ راشئ
زۀ هم ستا سو غونډې وخت ته بنګلا بنائېمه ۔ ژوندے يم

مانه ورک ۔ زما نه لرې ۔ زما ژوند او زما سا ده
وريسې کۀ مرم عابده ۔ خو تل وائېمه ۔ ژوندے يم

۱۵۔مئی۔۱۹۹۷ء مردان

☆

نۀ رقیب شته ۔ نۀ خیر ستا ۔ چرته زمونږ په کوڅه
مخکښې خو نۀ وه دا وبا ۔ چرته زمونږ په کوڅه

داسې ترعسره په تر مشهنخه ۔ پښتو تېنګه نۀ شی
خدائے به دې راولی اشنا ۔ چرته زمونږ په کوڅه

درد دے ۔ سلګی دی ۔ حسرتونه دی ارمان او ژړا
راځی د ژوند مسته هوا چرته ۔ زمونږ په کوڅه

څه خبر دے مۀ ګوره په شا راته ۔ چې تۀ خفه یې
یو ځله شه تېر هاغه شان بیا ۔ چرته زمونږ په کوڅه

دې ته عابده ګوم یو رنګ د وخت د زور وو ایم
کال مکښې هم نۀ راځی خندا ۔ چرته زمونږ په کوڅه

۱۶۔مئی۔۱۹۹۷ء مردان

☆

نه په لوظونو دې خفه ـ نه په وعدو خفه يم
اشنا خو لاړې بې پښتو شوې ـ په پښتو خفه يم

را دې شي څه ـ چې مې په مرګ راتله ارمان دے د ګل
نور زندګی باندې والله ـ اے ورځو شپو ـ خفه يم

ما خو بس دا د ژوند د رنګ سرمايه ـ واخستله
چا له چې ورمې کړه خندا ـ نن له هغو خفه يم

دار مې هم خوښ ـ زولنې هم ښې دی ـ خو ستا له غېږې
نه د ښکرو نه دې خفه ـ نه له کمڅو ـ خفه يم

مونږ دواړه يو شان يو ـ واعظه ـ اوس لاسونه مروړو
نه په توبو باندې مجبور ـ زه په سجدو ـ خفه يم

نور درته څه عابده ووايم ـ د زړه حالونه
بس له دې ګلې نه خفه ـ له دې ګوڅو خفه يم

۲۴ـ مئی ـ ۱۹۹۷ء مردان



د ژوند په شپو ـ کښې سحرونه بنائی
ورو لستونړو کښې ـ لاسونه بنائی

باران ـ سپرلے ـ غرمه ـ تاوده بادونه
بعضې وختونه ـ تېر یادونه بنائی

باد ئې کړه مسته لوېټه ـ په رخسار
نن ائینو ته خپل نازونه ـ بنائی

منډې وهی ـ پرېرکی رانیسی
خاندی ـ غوټو ته بهارونه بنائی

زۀ د هجران قیصه کومه ـ او ـ یار
ماته البم کښې تصویرونه ـ بنائی

مالکین مخونه ـ مالکی سترګی ـ ازغی
چاته په غنګ غوک پرهرونه ـ بنائی

دوران عابده داسې حد ته راغر
اوس وارۀ ـ لویو ته چلونه بنائی

۲۷ـمئی ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

نه دې زړګے شو مهربان نه دې نظر مهربان
څنګه به وايم چې بيا دې هر سحر ـ مهربان

نه خه ـ د ژوند له هرې لارې ټولوه ـ ګلونه
خدائے دې ازغی ساتی زما په هر پرهر مهربان

څه شو ؟ چې وې ئې " عبادت په زړه کښې لار جوړوی"
په ما خو نه شو يو بوتې هم ـ ستمګر مهربان

هره غوټه تاوژنه هر ماښام دې ماله راشی
ګله په تا شه د خوانی هر مازيګر ـ مهربان

ګرانه ده ـ پاتې که عابده شې له ښکلې ګناه
دا ستوماني د هوا ـ دا سپرلے اوتر ـ مهربان

۲۷۔مئی۔۱۹۹۷ء مردان



هیڅ خبر نۀ شوم چې نۀ وې ـ کۀ سپرلی راله غېږ راکړه
له مستی خنې پاګل شوم ـ لېونی راله غېږ راکړه

بس خو دومره راته یاد دی ـ بس خو دومره هوش مې شته دے
پرېوتمه زۀ له غمه ـ خو ساقی راله غېږ راکړه

اوس به ستا د کوڅې خاورې ـ خود د مینې په سر نولم
هر وروکے راته خاندی ـ هر پردی راله غېږ راکړه

سر مې ږدی په اوګه ـ زاری ـ لاس په مخ راله راکاږی
خدایه دا فال خو بنۀ نۀ دے ـ هر سړی راله غېږ راکړه

دې ته کومه د دې دور د الفت نامه به ـ وایم
نن د ګل چم کښې عابده ـ هر ازغی راله غېږ راکړه

۳۰-مئی-۱۹۹۷ء مردان



مینه ـ خلوص ـ وفا ـ الفت ـ ستا د خندا نامه ده
څومره په چل چل محبت ـ ستا د خندا نامه ده

څه خبر دے ـ هر څۀ چې دی ـ وی به ـ خو چې نۀ رضا یې
ماته ژوندون په هر قیمت ـ ستا د خندا نامه ده

ځکه مې زړۀ له غمه خور ـ په وخت اتبار نۀ راځی
اشنا د ګل هر یو فطرت ـ ستا د خندا نامه ده

دا توري شپې د انتظار ـ دا بې سحره ارمان
د دې امید ټول حقیقت ـ ستا د خندا نامه ده

یې هر ساعت بدل بدل ـ په عابد ګران ښکلیه
د موسمونو طبیعت ـ ستا د خندا نامه ده

۱ـجون ـ ۱۹۹۷ء مردان



تاسره زما ـ ما سره ستا ـ د لاسو نخښې دی
دی د ګل پاڼې ـ ولې "دا" د لاسو نخښې دی

ګانې مې جوړې کښې ـ ګل مې اېښې د بټکې په ول
څۀ د چا د لاسو ـ څۀ د چا د لاسو نخښې دی

اوس چې مې رقیب چرته هم ووینې ـ سر ښکته کړی
تا ورته ښائیلې جوړ ـ زما د لاسو ـ نخښې دی

چرته چې په څۀ دې هم نوم ووینم ـ نو خکل ئې کړم
خومره په ما ګرانې دې اشنا ـ د لاسو نخښې دی

ستا د مات بنګړی د کړنګ خېره ـ پکښې پېله ده
هسې خو عابد سره پلها ـ د لاسو نخښې دی

۳ـجون ـ ۱۹۹۷ء مردان

STRANG

داسې نرۍ نازک اواز لکه یو سر په تار کېښې
د محبت سندرې وائی د خپل ذات حصار کېښې

په هر نظر کېښې پلوشې د سپین سحر ګرځوی
شونډې ئې وچې دی خو زړهٔ کېښې سمندر ګرځوی

هره مسکا ئې د سپرلو د ګلو مست خوبونه
شته ئې د سپین مخ په پوستکی کېښې بلها رنګونه

خدائے خبر څوک ده ـ چې په لاره باندې څې راګوری
زړهٔ مې بې واره په سینه کېښې لړزوی راګوری

د هر قدم ناز ئې د زمکې په سینه بوسه ده
عابده مهٔ ورګوره بیا بنګاری خفه خفه ده

۴ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

په ما ګرانه له هر ځانه ۔ چرته لاړې چرته لاړې
دریسي زه سرګردونه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

ستا د پل خاورې مې لاس کښې ۔ ستا تصویر او خط مې جیب کښې
در به در شومه جانانه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

بې د مینې له نظره ۔ د ژوندون په شاړه لاره
خوانی ګرانه ده بې شانه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

ستا خبرې مې دولت دے ۔ ستا یادونه مې جاګیر دے
اے زما د زړګی خانه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

ساه مې خېژي ۔ توبه راغله ۔ بناپېری د اجل تېرے
هله شایه ساقي جانه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

نن دې تولې پښلې ناستې ۔ د کتب سر ته ژاړی ۔ وائی
په عابده له دنیا نه ۔ چرته لاړې چرته لاړې

۷۔جون۔۱۹۹۷ء مردان

☆

ستا دلاسو نخښې دی ـ یوه یوه خوریږی خی
وخت لګه ازغے مې په سینه کښې راخخیږی ـ خی

خاورې به خواږۀ د ژوندون پاتې شې د زړۀ ښار کښې
ښکلی وار په وار او یو په یو چې روانیږی ـ خی

څوک هم داسې نشته چې لاس راکړی ـ حوصله راکړی
هر سړے د لرے نه سلام کوی ـ تیریږی ـ خی

اوس به څه کۀ خبر وی ـ ګل وریل کښې مراوې کیږی نا
وینې خزانونو زمونږ وڅښلې ـ مړیږی ـ خی

څۀ وائی ـ چې نۀ راخی ـ ربیاره ـ د عابد په مرګ؟
ښه ده کنه ـ بیا چې ورستو ویر کوی ژړیږی خی

۸ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان

(قلندریه غزل)

☆

تیرے تیرے تلې مونږ د وار عزت ساتلې دے
تل چې مو ساقی ستا د دیار عزت ـ ساتلې دے

سترګې د وختونو ـ همېشه به راته تیتې وی
مونږ د زړۀ په وینو د بهار عزت ـ ساتلې دے

تا چې څۀ وئیلې ـ څۀ قیمت د نظر ابتې دے
ما درکړې ـ ما دې د بازار عزت ـ ساتلې دے

نور د دې د پاڅه به اشنا د مئین مرګ څۀ وی
نۀ دې د اقرار ـ نۀ د انکار عزت ساتلې دے

مونیره تل عابده خپله خان ته خط لیکلې دے
مونیره تل د مینې د ربار عزت ـ ساتلې دے

۹ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

خبر دې کۀ ما په کابو ولی تا ته ګوتې نیسی
دنیا کیږي هر سړے اشنا ۔ دنیا ته ګوتې نیسی

نۀ تا خندال په راته ۔ نۀ په ما خپل زړه درکوۀ
اوس ګناهګار نۀ دی کۀ خلق راته ۔ ګوتې نیسی

نۀ ورځی لاس له چې یو تار ستا د ستم د ګریوان
خود لیونی به د سپرلی هوا ته ګوتې نیسی

چې ستا د زلفو پریشانی ئې شی سودا د زړګی
بیا به مابنام کیږي هم بنده ۔ سبا ته ګوتې نیسی

خدائے خبر څۀ وو ۔ ستا په خط کیږي چې رقیب ولوستو
ګرځی عابد پسې اوس شاته ګوتې نیسی

۲۱۔جون۔۱۹۹۷ء مردان



نۀ مانه لرې ـ زۀ له تانه جدا نۀ شو ليدې
يو بل کۀ ډېر وغواړو ـ يو بل اشنا نۀ شو ليدې

لاس به دې نۀ ورکوۀ ـ خبر دے کۀ کتل دې ورته
هر څۀ ليدې شو د رقيب ـ ولې دا نۀ شو ليدې

دا انتظار ـ دا توره شپه ـ دا تېز باران او سيلۍ
نوره يوازې د اجل دا کډا ـ نۀ شو ليدې

دې نه سبوا به نورې څۀ وی ؟ مجبورۍ د زړونو
لرې تېرېږو ـ راتلې نۀ شو تر خوا ـ نۀ شو ليدې

څوک کۀ باور کوی نو هم ـ او کۀ څوک نۀ کوی هم
خو مونږ عابده په کل سپوږے د چا ـ نۀ شو ليدې

۲۲ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان

بې پروا

اے مستو جونو راشئ ما په خپل وربل ونولې
زۀ له ډېر غمه اوښه شوې د مستۍ شراب يم
اے د جهان تندې وهلو زړونو ما وګوتې
زۀ د دوران په لاس کښې ډکه له خوانی صهبا يم
اے د الفت نهرو خلقو مانه لاس وغوارئ
زۀ د سپرلو د اميدونو ډک مضبوط انسان يم
اے ورکو ورکو منهانو مانه واخلئ درک
زۀ د ژوندون د تولو لارو لېونے لاروے
اے لوفوخويه ګرځېدونکو د باران وريځو
زمانه واخلئ د ارمان د شاړو زمکو درک
اے هواګانو لېږ په خيال زما په کلي راځئ
تول ارمانونه مې پراته دی - لکه وچې پاڼې
اے د سپوږمۍ هسکولو ستورو - ګواهان مې وسئ
چې ما په سوال کښې د ارمان څۀ کمي پرېښې نۀ دے

کۀ خبر يمه چې خدائے ډېر بې پروا پاچا دے

۲۳۔جون۔۱۹۹۷ء مردان

☆

نه دې خندا رانه هېرېږي ـ نه غصه هېرېږي
د عمر تنګ راتګ نه پس چرته ـ کوڅه هېرېږي

زړه به ټول عمر په خپل لوظ انتظار دې کوم
خبر دے کۀ ستا نه په قدم وعده ـ هېرېږي

دا تش راتلۀ نۀ دی چې برې دې بنودل ـ نور څۀ هم دی
کورم چې څۀ رنګه به ستا نه مې نامه ـ هېرېږي

دا خیال دې زړۀ نه خلق وباسی ـ چې نۀ ما هېر کړې
چانه حرم هېرېږي ـ چانه بت خانه هېرېږي

خوږې کېږي هېره شی ترخه ـ منم هسخولو زما
خو به ترخه کېږي له سرې ـ چرته خوږه هېرېږي

هاغه د بنګلو هوښیارې ـ هاغه زما ساده‌ګۍ
عابده چرته مې د ژوند تېره قیصه ـ هېرېږي
۲۴ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان

☆

چې نۀ دې خيال رانه بيلېږى نۀ يادونه د ژوند
خود به تېرېږى په ما تل امتحانونه د ژوند

داې څوک نۀ پرېږدې اشنا خلق تعلق د عمر
څۀ نه څۀ ګوره سرے ياد ساتى ـ وختونه د ژوند

هر چا د سوال جولى نيولې ـ ناست په کټ د ارمان
خدايه راووروې لېږ شان بارانونه ـ د ژوند

څله مې ګورې سور تندى ته ـ حېرانېږې ولې ؟
د شوندو نخښې نۀ دى دا ـ دى ګذارونه د ژوند

څوک چې ګلونه تل د زړۀ د وينو جشن ګڼى
هغوى بيا نۀ څارى ملګرو بهارونه د ژوند

رنګ او خوارۀ به د غزل مې څۀ عابده کم شى
ښکلى چې وېشى هره لاره کښې رنګونه ـ د ژوند

۲۷ـجون ـ۱۹۹۷ء مردان



زۀ نۀ شومه ستا ـ او نۀ زما د لاسو کرښو کښې
خدائے خبر دا څۀ وشو اشنا ـ د لاسو کرښو کښې

ـمخکښې ـ چې رقیب نۀ وو ـ زۀ ستا د تندی کرښې ووم
اوس چې رقیب شته ـ زۀ نۀ یم ستا د لاسو کرښو کښې

یو زۀ دې یواځې کړمه ـ یو زما خپل نۀ شولې
ئې کۀ د زړۀ سره د دنیا ـ د لاسو کرښو کښې

اوس خلق یو بل د وخت د ستړکو په هنر ـ تلی
اوس نۀ ګوری یو بل څوک ـ په چا ـ د لاسو کرښو کښې

خدائے خبر چې څۀ ګوری عابده ـ خو غیر نۀ کوی
کوتې ګرځوی مې په خندا د لاسو کرښو کښې

۲۸ـجون۱۹۹۷ء مردان

☆

نۀ خزان غوارې نۀ بهار ـ په خلقو څۀ شوي دي
خدائے خیر ګله د دے ښار په خلقو ـ څۀ شوي دي

ستا لیلۀ غوارې ـ په تا مړۀ دي ـ ستا خوبونه وینې
نور درته څۀ ووایم یار ـ په خلقو څۀ شوي دي

چاته چې ګورمه ـ خاموش لکه د نمر لمبه دے
ټول دي له یو بله وېزار ـ په خلقو څۀ شوي دي

مانه تا غوارې ـ ولې ما ـ له تانه نۀ غوارې څوک
حېران یم دا د دے بازار په خلقو څۀ شوي دي

یو بل په ګل هم د رقیب په لاس عابده ـ ولې
چې دا د مینې د روزګار په خلقو څۀ شوي دي

۲۹ـجون ۱۹۹۷ ء مردان۔

☆

په چا مې باتې يو زره نۀ شو اعتبار عابده
څکه مې پرېښودۀ د مينې کاروبار عابده

ماته قاتل دے ماته ستا د ياد لمبې بلوي
دا د رنګونو کلے ـ دا د ښکلو ښار عابده

دے ته په څۀ وائی سپے د يار نفرت کۀ مينه
نۀ په اقرار اوسي قايم نۀ په انکار ـ عابده

اوښکې چې نۀ پېشم ښيو کښېږي ـ ستوري نۀ شمارمه
څنګه کړوم به د عمرونو انتظار عابده

کرخه اوس غواړه دعاګانې دې د زړۀ اؤ د سر
چا درته وې خوښوه ښکلې لار په لار عابده

۳۰ جون ۱۹۹۷ء مردان

☆

بواخې نه کیلي ـ نه ستم ـ ډېر څۀ د زړۀ سره
زغمی په یو محلت کېږي عالم ـ ډېر څۀ د زړۀ سره

لاس مۀ نیسمه چاته ـ اؤ سوال څکه چاته نه کړم
راکړی دی ستا مینې اؤ غم ـ ډېر څۀ د زړۀ سره

نۀ یو نظر د مینې کۀ راوېخښې ـ مسکے شې
زۀ تل به دې خاطر ته پرېږدم ـ ډېر څۀ د زړۀ سره

زینت دے د وربل ـ هم د ملهو د زړۀ راز دے
لری خان کېږي یو ګل د شړشم ـ ډېر څۀ د زړۀ سره

عابده داسې هم په کېږي خان ـ نه خاوری کوی څوک
پېټېږی محبت کېږي منم ـ ډېر څۀ د زړۀ ـ سره

۱۸ جولائی ۱۹۹۷ء مردان۔

☆

زړۀ مې د څو ورځو نه خفه دے ډېر
نۀ راځي ـ ظالم لرے ډېره دے ـ ډېر

خوښ مې بس په "دې" دے چې پښتو لري
غل که مې د زړۀ دے ـ خو ډاډه دے ډېر

راشي راته وائي زړه دې څنګه دے؟
دا ښکلے توبه ـ څومره ساده دے ډېر

تا سره چې غم څومره د تللو دے
ماته د راتلو دې يو په دوه دے ډېر

کوري ـ خو عابده ورپارېږي څۀ
خدائے خير به څۀ کېچه کېچه دے ډېر

۱۹ جولائی ۱۹۹۷ء مردان۔



چا چې محفل کښې کوته ستا نظر ته ونیوله
بس خو ډیوه ئې د زړه سره نمر ته ونیوله

نن ئې په خپله راته ووې - "وایه ښځه غواړې ته"
نور بې مې ښځه وې - ائینه مې ورته ونیوله

سودا د زلفو دے کړم داسې د رخسار لیونے
د سوال جولۍ مې د ماښام - سحر ته ونیوله

د ژوند غمونو کښې ریشتیا چې سړے خبر ته کینی
واعظ چې لپه د منت - کوثر ته ونیوله

عابده داسې ئې راوکتل په نه زړه - راته
لکه ساقي تشه کاسه - نهر ته ونیوله

۲ اګست ۱۹۹۷ء مردان



پښتو مې د شملې پت له ځادره معلومېږی
جوبن مې د ځوانۍ له مست نظره معلومېږی

دا څه وشو ـ تیاره د ماښامې ده ـ ډیوې مړې دی
څوک نه راځی محفل ته ـ د زړه سره معلومېږی

راغلې به وې خبر دے کۀ دې زړه نه وۀ د مینې
الفت د کړو لارو ـ وخت له سره معلومېږی

نامه مې د پښتو د محبت په تندی کښېښوه
جاګیر به اوس د مینې له دوتره معلومېږی

سپرلی باندې به نه ځوری اوس دوکه د انقلاب څوک
د زړه د وینو زور مې له سور نمره معلومېږی

عابده لکه ستا هسې ننګاره وائی "زړه واخله"
جینی ده ـ خو په مینه کښې ښه نره معلومېږی

۸ـاګست ـ ۱۹۹۷ء مردان

یو شعر

مردان به دې عابده په غزل باندې تل ناز کړی
خېبر کۀ د حمزه او له ناظره معلومېږی

☆

لاسونه درته وخت نیسي ـ سپرلی ستا منتبار دی
مېخوار که ډېر بنه شي خو ساقي ـ ستا منتبار دی

تراوسه ئې په زړه ستا د نظر د مینې داغ دے
لمنې چې محفل کښېږي څوک څنډي ـ ستا منتبار دی

پوهیږي چې څوک غم د چا د مینې نزرانه وي
که وینې هم په لپو لپو څښي ـ ستا منتبار دی

ستا لاس ته ګوري ـ ستا نه زده کوي چل د ظلمونو
اشنا ډېرو کارونو کښې ـ ازغي ستا منتبار دی

هر څو که مخامخ په خله اظهار نه کوي چپ دی
عابده خو که خپل دی که پردی ـ ستا منتبار دی

۱۷ـ اګست ـ ۱۹۹۷ء مردان



ستا د يادونو په خوږو ـ د درد تراخه تېروم
څومره په ګرانه ورځې شپې د ژوندانه ـ تېروم

ستا د انکار زهر ګوټم زړه له دوکې ورکوم
کله په خندا تېروم وخت کله په ځنځه تېروم

تاته به ياد او کنه تا خو ماته نه هېرېږې
هر څو په خان کنه د روزګار د غم درانه ـ تېروم

ماله خو ستا د نظر مينه راکوی ـ د زړه ژوند
چې بې له تا وی په جنت کښې هم ژوند ـ نه تېروم

خبر دے سپرلے به شی سحر به شی پېدا به شی څوک
اوس خو ژوند ټول عابده بس په ارمانه تېروم

۲۰ـ اګست ـ ۱۹۹۷ء مردان



څومره باور د خپلې مينې په اسرو کړمه
اتبار چې ګله ستا په ټولو بهانو ـ کړمه

ستا په چېو چېو يادونو باندې زړه تېرباسم
ګل ته قيصې د بهارونو د ورمو کړمه

خاورې به تېرې شي لمحې د ژوندانه په خندا
چې ابتدا د هر يو کال په تلوسو کړمه

تندے مې سپين د ارمانونو په خولو وينځلې
غم چې په زړه د تورو شپو د پرېشانو کړمه

لاس مې په خلۀ عابده ږدی راسره کلے پرېږدی
چاته چې ذکر د موسم د بدلېدو کړمه

۲٤ـ اګست ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

اشنا زمونږه بیلېدهٔ ـ خیره نوې نهٔ ده
په محبت کښې ژړېدهٔ خیره ـ نوې نهٔ ده

زړهٔ ـ چې غوښتل دې سحر مخې په رڼا بسې تلې
اوس تورو شپو کښې ویښېدهٔ ـ خیره نوې نهٔ ده

خکه مې اوښکې په بهیر له موږو وچې نهٔ شوې
ستا د رقیب سره راتلهٔ ـ خیره نوې نهٔ ده

تاته چې ګوری ستا له مراو سترګو غوارې قرار
د زړهٔ بې واره درزېدهٔ ـ خیره نوې نهٔ ده

تلې چې عابده خوښوله دې د تلونکو ادا
اوس انتظار کښې سوزېدهٔ ـ خیره نوې نهٔ ده

۲۷ـ اګست ـ ۱۹۹۷ء مردان



شپه د جدائی ده سحر کیږی نه
ستا یاد مې له زړهٔ نه بهر کیږی نه

څومره چې درخمه لرې کیږې نه
دا لا څنګه لار ده چې سر کیږی نه

داسې مې زړهٔ ستا له زلفو تلې نهٔ شی
بس لکه وریخ کښې چې نمر کیږی ـ نه

ستا د لمن تارنې چې په لاس کښې کښې وی
ګله ملنګان در په در کیږی نه

ماته خو عابده د قسمت په لار
پورے دې هر ور چرته لر کیږی نه

۲ـ ستمبر ۱۹۹۷ء مردان



چې هر طرف ته نخښې ستا د قدم مخې ته وې
څکه مې تږوله شپه ـ په تا مې قسم ـ مخې ته وې

دومره داده پياله په لاس ـ د ميخانې په وره کښې
لکه واعظه چې ولاړ د حرم مخې ته وې

تلے ـ چې رقيب سره روان شوې ـ زړه دې شاته کړمه
بيا خو مې تږوله شپه د زړه سره سم مخې ته وې

نور که هر څو د وخت چپو راله زړه موړ کړو له ژوند
بيا هم چې ټول عمر مې ستا د زړه غم مخې ته وې

وېرې کيلې که مې عابده وې په زړه کښې ګل ته
خو تقاضې مې د خيال فن د قلم مخې ته وې

۳ـ ستمبر ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

غېږ نۀ کوو په خله خو اشنا وخت تېروي نۀ شو
مونږ دواړه له يو بله جدا وخت تېروي نۀ شو

اشنا زړونه په تار مو د پښتو تړلي بنۀ دي
پندونږ دے په هر ګام هره سا وخت تېروي نۀ شو

سنا لاس د رقيب لاس کښې او خندا ماته په خلۀ کښې
هر وخت کۀ تېروي شو خو دا وخت تېروي نۀ شو

جام توئې بنۀ دے ور مات د ميخانې شل خله بنۀ دے
ساقي نور د سجدو په رضا وخت تېروي نۀ شو

دستور په بدلوو عابده هر څۀ کۀ پېښيږي
تيارو کښې نور په نوم د رڼا وخت تېروي نۀ شو

۶۔ستمبر۔۱۹۹۷ء مردان

☆

څوک له ازغو څوک له ګلونو ـ نه خفه روان دے
چاته چې ګورم ـ له وختونو نه خفه روان دے

نوره به څۀ وی ستا نه خار ستا نه ګیله د مئین
ستا له وعدو ستا د لوظونو نه خفه روان دے

زړۀ مې خبر نۀ یم اشنا د زندګۍ په لارو
خوشاله نۀ شو ـ له عمرونو نه خفه ـ روان دے

ستا د وربل سپورے چې وینی لېونے د مینې
چا وې چې څی له زنځیرونو نه ـ خفه روان دے

هر څۀ لری خو چې زما او ستا نغمې نۀ لری
ځکه مې زړۀ له بهارونو نه خفه روان دے

تا چې په خال د تندی ګوته کېښوه وُدې خندل
ځکه عابد له ماښامونو نه خفه روان دے

۸ـ اګست ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

خندا کیږي شور ادا کیږي مینه د خوانی کرخوي
ښکلی رنګونه هر نظر کیږي ـ د خدایی کرخوي

ستا د الفت ستورے چې پرېوته د چا په تندی
زاری ـ بیا شپو کیږي ماښامونو ته جولی کرخوي

داسې نیازبین دے ـ چې په خیال تصویر هم لوبي کوي
خدائے خیر خنکه به زما د زړه ډالی ـ کرخوي

ستا د خپرې تصور داسې مې د زړه په اسمان
لکه موشوم نظر چې خان سره سپوږمی کرخوي

څوک په څه د چا د مینې ـ تاج محل اباد کړی
په سر الزام چې د دوران د غریبی کرخوي

ستا دنګي غاړې عابد داسې کړو یاچا د مینو
کرځي بازار کیږي اوس په لاس کیږي صراحی کرخوي

۱۷ ـ ستمبر ـ ۱۹۹۷ء مردان

کچه خوب

زهٔ څهٔ خبر ووم چې سپېرې ورځې به داسې هم وی
زما خو خیال هم دا نهٔ وو چې به هېر شم له تا
ما خو دا سوچ هم چرته نهٔ وو کړې کرانه به ما
چې تهٔ به هېرې کړې وعدې ستانه به هېر شي الفت
زما خو فکر هډو دې پله راغلې نهٔ وهٔ
چې تهٔ به خپې زهٔ به ولاړ یم او راګورې به نا
ما خو به عمر کښې هم دا تصور نهٔ وهٔ کړې
چې تهٔ به واخلې رقیبان او زما لاس به پرېږدې

نن دې به خال وربل نکریزو او بانړېو بوئې شوم
چې دا هم لکه د وخت هسې اتبار نهٔ لرې

بنده به نیمه لار کښې پاتې کړې تاله واله شي

۱۹۔ستمبر۔۱۹۹۷ء مردان

☆

د کور خلق خبر شو هم بهر خلق خبر شو
اشنا زمونږ د مينې په نظر خلق خبر شو

ستا داغ د محبت کۀ مې هر څو وينځۀ په اوښکو
يج نۀ شو له هيچا نه در په در خلق خبر شو

ته اوس هم لا زما د زړۀ له درده خبر نۀ شوې
اشنا گنې ستا چم کښې ور په ور خلق خبر شو

يارانو دلته څومره د رنگونو امتياز دے
د شپې د غم خبر باندې سحر خلق خبر شو

يو رنگ وۀ د حمزه د زړگی سا وه د ناظر
عابده خو چې لارولو خيبر ـ خلق خبر شو

۲۰ـ ستمبر ۱۹۹۷ء مردان

مقطع کښې حمزه شنواری ، ناظر شنواری او خيبر افريدی صاحبانو ته اشاره ده۔

☆

چې نۀ برې وخاندې ـ د زړۀ هاغه دزا چرته ده
اوس محبت کېږي د نظر نظر سودا ـ چرته ده

اوس خو په خپل زړۀ چې لاس ږدمه ـ نو هم سا بندوم
اوس خواني چرته ده ـ اوس هاغه لېونديا چرته ده

هر څۀ چې وۀ ـ خو چې نۀ وې ـ نو سپرلی هم ايسار وو
بې له تا ګله د موسم هغه بنګلا ـ چرته ده

ورک به چې دواره شو اشنا ـ به يوه لاره د زړۀ
اوس هغه شتۀ سوچ کېږي ـ بې سوچه شان خطا چرته ده

زړۀ راله تول د محبت د شپو شوګير وخوړو
عابده ستړے شوم ـ پرېوځمه ـ رنا چرته ده

۲۱ـ ستمبر ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

دا تاته چې اشنا څومره اسان دی هېرول
بس ماته د لوظونو دومره ګران دی هېرول

هر څۀ به دې جائیز وی زۀ منمه خو واعظه
د ښکلو هېرول ما ته ایمان دی هېرول

یو شور دې چې راځی مې له ښکره ستړے ستړے
د یار هېرول څۀ دی ؟ خو خپل ځان دی هېرول

ستا چم نه ستنېدل او ستا له مینې نه انکار
دا زمکه دی هېرول دا اسمان دی هېرول

هر څو ئې کۀ عابده زۀ هېر کړې یم خو بیا هم
ګران کار ماته له هر څۀ نه یاران دی هېرول

۲۱۔ستمبر۔۱۹۹۷ء مردان



خاندې اغستې دے سودا ۔ په تماشه ولاړ دے
چاته چې ګورمه نو ستا په تماشه ۔ ولاړ دے

بيا هم نامه په اسوېلو کښې راته ستا يادوي
هر څو قاتل کۀ مې زما ۔ په تماشه ولاړ دے

ګورې دې مخ ته او سوالونه دې د زلفو کوي
غوارې تيارې ۔ څو د رڼا په تماشه ولاړ دے

نۀ لېږ مسکے شه چې ژوندون د بهارونو بڼۀ شي
هر يو ګلاب درته اشنا ۔ په تماشه ولاړ دے

نۀ څۀ خبرې کړې نۀ څې مې د کسرې له وره
ياد دې څۀ داسې راته بيا په تماشه ولاړ دے

څۀ څو ئې ووې هم زما په سر څو وې نۀ کتل
رقيب ته څکه په خندا ۔ په تماشه ۔ ولاړ دے

لاسو کښې جام په خلۀ توبه په سر سرټور او حيران
دا عابد څۀ کړې ۔ دا د چا ۔ په تماشه ولاړ دے
۳۔اکتوبر۔۱۹۹۷ء مردان



لېونی چورلی له مستی - بربرکی ګډېږی
تاته چې ګوری په زګونو کېنې خوانی - ګډېږی

دومره نیازبینې ستومانی چې خدائی هم پسخوی
چې یو ول د کمڅی سپړی - نو سپرلی ګډېږی

خدائے دې خېر وکړی بیا نن ګل دی د راتلو وئیلې
موسم خوشاله هوا ده شرارتی - ګډېږی

نۀ ستا دمینې حق ادا شو نۀ د وینې قرض
پس د ازغو په سر مو هسې - زندګی ګډېږی

نور به د دې نه لېونتوب سېوا د مینې څۀ وی
ستا د عابد خو تاته تپوله شاعری ګډېږی

۷۔اکتوبر۔۱۹۹۷ء مردان

☆

دے ناقلار مې نظر نوستې مې زړۀ هاغسې دے
نۀ مې خېال نۀ شوې دا تندے مې سپېرۀ هاغسې دے

څۀ به اتیار مې د ژوندون د رنائی پېدا شی
زما قسمت ته چې لا مخ د تیارۀ هاغسې دے

نۀ کوری دېخوا ـ کۀ هر څو مې خې راځی په خوا کېنې
دا یو عادت زما سره د هغۀ هاغسې دے

چرته به راشې ـ د ژوند لارې دومره ورکې نۀ دی
لا ستا د ضد نه مې امید څۀ نه څۀ هاغسې دے

زمکه هغه ـ اسمان هغه ـ نۀ زۀ بدل او نۀ ګل
بس خو عابده لا مو کلے د زړۀ ـ هاغسې دے

۱۹ـاکتوبرـ۱۹۹۷ء مردان

☆

ستا قسمونو او وعدو څۀ نه خير نۀ کړمه
د ژوند دې لنډو ورځو شپو ـ څۀ نه خير نۀ کړمه

څۀ وه خواني ـ خو ستا د مستۍ خندا شور وۀ اشنا
هم ئې په تلو هم په راتلو ـ څۀ نه خير نۀ کړمه

اوس په لمنه باندې داغ هم خکلوی د منيو
هيڅ د واعظ د خلې توبو ـ څۀ نه خير نۀ کړمه

مرګ مې شو ستا د لوېتې سپورے په سر د ارمان
تنها سفر په سرو غارمو ـ څۀ نه خير نۀ کړمه

اوس دې لاسونه په سر پړده غواړه د زړۀ خبرونه
عابده نور ئې اشارو څۀ نه ـ خير نۀ کړمه

۲۲ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

اشنا ستا په وعده مې اتبار څۀ رنګه پېدا شي
په کاڼی کلاڼی زړۀ کېنې په لار ـ څۀ رنګه پېدا شي

چې کوم يو راته ګوری لکه ستا رانه زړۀ غواړی
چې بنکلو کېښ دا يو رنګ هوښيار څۀ رنګه پېدا شي

د نوستې نوستې ژوند قيصه کول د زړګی نول دے
ريښې ريښې لمن کېښې په تار ـ څۀ رنګه پېدا شي

زړګيه هسې خان ئې د راتګ په طمع وژنې
ازغی ازغی ماحول کېښې بهار څۀ رنګه ـ پېدا شي

چې چرته کېښې د خپل زړۀ يارانه هم په غرض وی
عابده داسې ښار کېښې په يار ـ څۀ رنګه پېدا شي

۲۷ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۷ء مردان



ستا نه بيلېدو باندې پوئي نۀ شومه
هيڅ په پوهېدو باندې پوئي نۀ شومه

واشي ـ خو راتلو سره په تلو كېږي مې
ستا په تلو راتلو باندې پوئي نۀ شومه

وخوره خوانی راله د وخت طمعې
هيڅ د ژوند خوږو باندې پوئي نۀ شومه

غوارې له هر ښكلي نه د زړۀ كلي
زړۀ ستا سادګو باندې پوئي نۀ شومه

وۀ مې كوښل تل ستا د انكار زهر
نور په مړو ژوندو باندې پوئي نۀ شومه

لازمه عايده تل ورو پسې
څكه ورځو شپو باندې پوئي نۀ شومه

٤ـنومبرـ١٩٩٧ء مردان

☆

ستا نه ورک چا وي چې بهار ته اوازونه کوي
کرخې قاتل پسې اوس دار ته اوازونه کوي

ستا د کوڅې نه ستا مئين چې ځي اشنا بې له تا
کورې په شا شا خپل اتبار ته اوازونه کوي

شو ئې د خال ليدل هم جرم که بدل د عمر
لېونی بيا هم ځي ربار ته اوازونه کوي

ځي مې پخپله اوس د کور په لار چې پوئې شو په خان
ما وې چې څنګ ژوندی مزار ته اوازونه کوي

خان ئې که خاورې کړو په عشق کښې که بانېله نظر
عابد لا بيا هم ګوره يار ته اوازونه کوي

۵ـنومبرـ۱۹۹۷ء مردان

☆

ظالم ګوره راليږی اوس ازغی ـ راته په خط کښې
راځی نه ـ کۀ هر څو "راتلۀ" ليکی راته ـ په خط کښې

زۀ وليږم ګلاب ورته جواب کښې ـ چې رضا شی
ګل وليکی "پالو په دشمنی" راته په خط کښې

نۀ ئې ګله خکلوې شمه ـ نۀ ئې ښکته غوړزوې شم
پرېوتې ده څۀ ګرانه رقيبی ـ راته په خط کښې

د دې نه خوشالی په نوره څۀ وی ـ د ګال سر کښې
راوليږی نښته چې ـ د سپرلی ـ راته په خط کښې

عابده ميخانې ته هم ورځم څکه نشه کښې
ليکلې دی څۀ داسې نن ـ ساقی راته په خط کښې

۱۰ ـ نومبر ـ ۱۹۹۷ء مردان

☆

مهٔ هېروه کوره وعده مړ به شم
پرېده خفګان بس دے راځه ـ مړ به شم

ژوند مې لکه خوب د هواګانو دے
خندا نهٔ کړې شپې لوېږه ـ مړ به شم

نهٔ به حسن مړ او زهٔ پښتو ورېږ
داسې کهٔ شوه پاتې قيصه مړ به شم

لاس چې ورکوې مې رقيبانو له
اوس مې يقين پوخ شولو ـ خه مړ به شم

نور عابده مينه کښې به څهٔ وکړم
نهٔ چې راته وائې خه بنه ـ مړ به شم

۱۲ـ نومبرـ ۱۹۹۷ء مردان



هره شپه له غمه ډکه ـ هر سحر له غمه ډک دے
نه چې لاړې د زړه سره ـ هر يو در له غمه ډک دے

نه څۀ رنګ شته په سپرلی کښې ـ نه څۀ ژوند د زړۀ درزا کښې
هر يو فکر سا راخکلې ـ هر خيګر له غمه ډک دے

د دې دور احسان دا دے ـ د وختونو مينه دا ده
چې مې زړۀ له غمه ډک دے ـ هم نظر له غمه ډک دے

هره اوښکه اميدونه ـ هر سا ارمان د ګلو
چې تمرېزی بې نکلريزو هر اختر ـ له غمه ډک دے

ستا خواږه د خندا نشته ـ هره طمع د پيتو خاورې
کۀ حرم ـ کۀ ميخانه ده ـ خو سفر له غمه ډک دے

عمر وشو چې عابده ـ خط ئې هم نه راځی ـ ورک شو
خاورې زړۀ به قرار واخلی ـ هر ډګر له غمه ډک دے

۲۳ـنومبرـ۱۹۹۷ء مردان



بس خو به ژوند کیږي چې مې ستا مینه کمې پاتې شو
خندا کۀ راغله - خو یو درد یکښې پاتې شو

داسې د مینې تصور دې له هر څۀ نه - بیل کړم
رانه ګل پاتې شو اشنا - رانه سپرلے پاتې شو

وه لکه ګل مو ابتدا - د زړۀ د کلی - اشنا
ولې انجام ئې لکه لاس کیښې مات ازغے - پاتې شو

مونږ دوارو وکړه جوارې - خان مو په یو بل بائیلو
ستا نه غرور پاتې اشنا - ما نه پېڅکے پاتې شو

ستا د یادونو د ارمان د قافلې نه - ګوره
عابد په نیمه لار کیښې ځنګه لېونے - پاتې شو

۲۴۔نومبر۔۱۹۹۷ء مردان

☆

تا پله کائنه مې نصيب چرته دے
ياره ـ دومره بنه مې نصيب ـ چرته دے

سپوږے به به ما ـ ستا د ګاڼو وشي
هغه وخت ليدلۀ مې ـ نصيب چرته دے

تيغ چې ستا تر وره يرې ـ در ورسم
داسې ورکېدۀ مې نصيب ـ چرته دے

ورک کړمه ـ د ژوند د ګردوشونو زور
ستا د تلۀ راتلۀ مې ـ نصيب چرته دے

لا نۀ رم عابده د واعظ په لار
دومره هم سپېرۀ مې نصيب ـ چرته دے

۳۰ـ دسمبر ـ ۱۹۹۷ء مردان



ستا یاد او زما زړه - دواړه رنګین پرېرکی دی
کېږي چې ګل په ګل - څهٔ نازنین پرېرکی دی

وایه د لاس په لمس هم زندګی ئې مړاوې کېږي
ستا شونډې - انګې هم څهٔ نیازبین - پرېرکی دی

حېران یم چې هوښیار به جواب څهٔ رنګه راليږي
جوړ کړې مې په خط دوه لونګین - پرېرکی دی

وئیلې شي چې رنګ د ګلو - وېشي په يو بل کښې
هر څومره کهٔ نازک دی - ګلورین پرېرکی دی

عایده خکه زړهٔ - له هر متین وړی په رپ کښې
والله چې سنابېری د چین ماچین - پرېرکی دی

۳۱-دسمبر-۱۹۹۷ء مردان

پاغندي

(عابديات ځلورمه برخه)

پاک میډیا ایوارډ ۲۰۰۴ء

انسې مهریه غزل ایوارډ

د ۱۹۹۸ء نه تر ۲۰۰۰ء پورې کلام

صرف د "جلي"ن له پاره

غزاله لطیف غزل: زما د ټولو کشره خور چې زه ورته "جلي" وایم

پاڅنډي

د امتياز عابد د شعروی محاسنو متعلق زما له پاره ليکل کۀ ګران نۀ دی نو اسان هم نۀ دی۔ خکه چې زۀ به انصاف ونۀ کړې شم۔

بحر حال دو مره خو به يقين سره ونيلې شم ۔ چې د هغۀ شاعری God gifted ده ۔ او کله نا کله خو دا سې شعرونه تخليق کړی ۔ چې زما او ر سره هم حسد پيدا شی ۔نو او س کۀ د هغۀ د ممعصرو د هغۀ سره حسد ، نالګی يا تراخۀ پيدا کيږی ۔نو هغې کښې به مونه هم شامله وی ۔خکه زۀ ټيک وايم کنه ؟

عبدالروف زاهد(مرحوم)

۲۰۔مئی۔۲۰۰۹ء مردان

☆

د شعر و ادب په حواله چې کله د عبدالحميد عدم د شعرونو مجموعه لاس ته راغله نو ضرور به مې لوستله ۔ دهٔ شعرونه چې لولې نو دهٔ به وائي چې سم لکه دباران بوري راوريږی ۔زۀ چې اوس ستا شعرونه وايم ۔ نو بس خۀ دغه شان کيفيت محسوسوم ۔ چې دا نور شاعران لکه زما شعرونه ليکی او وائی ۔ خو په تا شعرونه راوريږی ۔

په عابد باندې شعرونه ۔راوريږی راوريږی

لکه څنګه چې د اباسين پرسفری د غزلو مقطعې فکر انګيزې وی ۔ د غسې ستا مطلعې زړۀ بوږې او خيالولې وی ۔

وخت وشو سپرلے ۔ دلته کښې نه راځي
اوس هغه سړے ۔ دلته کښې نه راځي

اوس د هغه شعر که امتیاز عابد په هر خنګه او هر کیفیت او هر خنګه جلوه کښې وښلې دے ۔ خو ما ته ئې زما د حروې مور خبره او د حبرې مېره ځو مره ځو مره یاد ونه راولړزول۔

باور وکړه زما مېترګې ئې هم له اوښکو ډکې کړې ـاو ـــ ډېره مننه کرم چې ځو مره په ساده او مېنځلې پیرایه کښې دې نه یوازې د خپل زړه دواردات بلکې زما او د بل د جذباتو هم ترجمانی کړې ده ـ یا ښلې که ستا د شاعرۍ مجموعه ده ـ نو د ښهٔ زیات شمېر ښایسته ښایسته شعرونو والی هم ده ـ

م ر شفق

ډرې میاشتنی "ژوږمې" کښې

د یو خط نه اقتباس

☆

امتیاز عابد د مردان د ژلمیو شاعرانو "سالار" دے ـ د هغهٔ د فن رفتار د هغهٔ د عمر نه زیات تېز دے ـ

پروفېسر ډاکټر محمد زبیر حسرت

٦ـ دسمبر ـ ١٩٩٣ء

☆

د کرډې پښتون خوا د ځلی کړل په شاعرانو کښې ښاغلے امتیاز عابد د خپلې ځجاب شرې او ناچاپه شاعرۍ په رڼا کښې د مقدار په بنیاد د بابائے غزل امیر حمزه خان شنواری یاد راژوندے کړې دے ـاو بیا په پښتو شاعرۍ کښې د نوو نوو ترکیبونو او ردیفونو په بر

مخصوص بحر کښې د غزل ليکلو او د خانګړی انداز او خپل رنګ په خاطې مانلو کښې ښاغلې عابد د مقدار سره سره په معيار هم پوره په پوره دے۔

سيد مامون الرشيد رشيد

۱۰۔ اپريل۔۲۰۰۲ء

☆

امتياز عابد د ښۀ غزل ښۀ شاعر دے۔ خکه خو ورته ملګری "د غزل تاجدار" وائی۔ او حقيقت هم دا مې دے۔ خکه چې د هغۀ غزل نه ښۀ ښۀ استادان کوته په خلۀ دی۔

قلندر صيب وائی چې هغه پر برقيلونکے ستورے دے ، خو زۀ وايم چې هغه پر برقيلونکے ستورے نه ، بلکې د ادب په اسمان "ځليدونکے نمر" دے۔

علی ګوهر مشتاق

۱۹۹۹ء مردان

☆

د امتياز عابد د تولو نه لويه خوبی دا ده۔ چې هغۀ ته په شعر موزون کولو کښې انتهائی ګرفت او قدرت حاصل دے۔هغه پر پيدائشی فطری او عطائی شاعر دے۔ او په خپل کول کښې ممتاز او څرګند مقام لری۔

عبدالروف عارف

۱۹۹۸ء "پښتو" نه اقتباس

☆

ښاغلے زبير حسرت ورته د ژلمو شاعرانو "سالار" وائی۔ د "غزل تاجدار" خو ورته ملګرو ډير پخوا پخوا وئيلی وو۔ بز ما خو ورسره کله کله حسد پيدا شی۔چې د خپل کول "تاجدار"هم دے او "سالار"هم شو۔ د عابد کتاب که زۀ له هرې ډوې ګورم نو ډير څرګند او

مزې ترې اخلم ـ هر شعر بانديې حاشيې راخکل ، يمه هير ىمه ليکل ، ز ما ويربخواني علاقت دے ـ د عابد کتابونو کښې به داسې يانه نه وي چې ما ورته يمه او ويريمه نه وي ليکلے ـ ـ ـ ځان له ئې يو منفرد مقام او اسلوب تاکلے دے ـ چې د همزولو شاعرانو په هجوم کښې ئې شاعري يو منفرد او ځانګړے فني پخوالي لري ـ د هغه د غزل هر يو شعر کښې د ژوند د يو نه يو منظر احساس او کيفيت لفظي تصوير موجود وي ـ خو هله چې ملګري ئې د ژوندي شاعري په نظر ولولي ـ

حامداد امير

ورځپاڼه ''خلانګ'' کوټه

يو مضمون نه اقتباس

۲۵ـ اپريل ـ ۵ ۲۰۰ ء

☆

د امتياز عابد ترون د هاغه ځوانې سره دے ـ چې د پښتو په ادبي دنياکښې د غزل په حواله يو منفرد مقام لري ـ يقيناً چې عابد د غزل په مزاج پوهه او د جديد فکر څښتن دے ـ

عارف تبسم

۱۶ ـ فروري ـ ۱۹۹۳ ء لورالائي ،بلوچستان

☆

امتياز احمد عابد که هر څو په وجود شل کلنې ښکاري ، خو غزل ئې داسې ښکاري لکه چې دا ډير هير لوئے شاعر غزل وي ـ

د عابد غزل د غزل په معيار پوره دے ـ او د خوند خبره يکښې دا ده ـ چې هر نوي غزل له نوې قافيې او نوې رديف کوري ـ چې د غزل ښکلا کښې نوره هم مزه پيدا کړي ـ د عابد غزل يو څوا که پُر اثره او خوږ ښکاري نو بل طرف ته اولس ته د ژوند خبرې هم کړي ـ د اولس غم ورسره هم شته او وخت په وخت ئې خپل احساس له د غزل ځير کښې ځائے

ورکړې دے۔

دا هسې خبره نه چې د شاعر به غزل کښې يو شعر نيم ښکلے وی ـاو هغې ته الهامی شعروائی ۔د ده د غزل هر شعر معنی خېز او اثرناک وی۔ولې چې جذبات يکښې وی ـاو انسانی نفسيات هم دا سې وی چې نوې ځېز خوښوی۔

عابد مينه کوی ۔ مينه ليکی او مينه غواړی ۔ د رغلی ، بغض،حسد، کينه او کرکه يکښې نشته ۔هر چاسره مينه کوی او د هر مظلوم چغه ۔ کريکه او زړا د ده د شعر د لفظونو توری دی۔

نورالاسلام مينگر

ورځپانه "وحدت" پېښور

۱۰۔ستمبر۔۱۹۹۶ء

مضمون نه اقتباس

☆

امتياز عابد غزل ليکی ،او ښه غزل ليکی ۔ د مينې او د فطرت ښتې او نازکې خبرې دومره په ښکلاکی کښې ښه په ښکاره وکری چې سړے هرې يوې مصرعې ته او به اوريدلو او لوستو مجبور کری۔انداز ئې خوږ او بې تکلفه دے ۔او هر غزل ئې د ترنم په نوی بحر او ځانگړی اسلوب کښې د تغزل په ښکلا رنگ دے۔

محمد الياس بادل

۱۷۔مئی۔۲۰۰۸ء مردان

☆

ستا یو قسم هم زما نه ـ ستا یو وعده زماني
په ما تیریږي د ژوندون لحظه ـ زماني

زه برخه نه یم ـ چې فنا به شم ـ د نمر په څیره
لاس دې ازاد ـ چې څه کوې شي ـ نو کوه زماني

احسان په ما د دروغژن د یاراني ـ مه کوه
ما دې خواږه تراخه لیدلي دي ـ څه څه ـ زما ـ ني ـ

زه ستا تصویر یمه ـ هم ستا قیصي لیکمه ناست یم
اوس مې تندے خکلوه ـ لاس مې خکلوه ـ زماني

زغې مې خیال کړه ـ په دار وختم ـ مقتل ته لازم
اوس مې د ګل مثین مني ـ وایه کڅه نه ـ زماني

اوس پس له دې به لا څه پاتې شي ـ اتبار مې په چا
څه دي عابده ـ چې ونه کړه راسره ـ زماني

۲ـجنوري ۱۹۹۸ء مردان

لـردیف "زماني" کښې دوقفې لګولو غرض دا ده چې هم مطلب "زمانه یې" هم دے۔

☆

نۀ به وينو يو بل بيا به لاړه ؟ ډاسې مۀ وايه
نا نا ـ دا دې نه منمه ياره ـ ډاسې مۀ وايه

دا د خاورو دوړو ښار او بيا پکښې د ګل اميد
چپ شه ـ زما طمعې ـ شه ايساره ـ ډاسې مۀ وايه

ژوند ورته د سوال کاسه اچوه ـ خو غواړه مه
څې چې د بې مخو له بازاره ـ ډاسې مۀ وايه

وې ئې به تا ګران يم ـ زۀ منمه ـ خو خاموش اوسه
بيا د رقيب مخکښې خدائے له پاره ـ ډاسې مۀ وايه

څۀ وائې ته ؟ يار څۀ وې ؟ چې هر څۀ به ښکاره کړمه
دا څۀ وائې ـ غلې شه ربياره ـ ډاسې مۀ وايه

خان به پرې لوټ لوټ کړمه ـ کۀ دا خل ئې راوکتل
کړې به دې عابده ـ څوک سنګساره ډاسې مۀ وايه

۸ـجنوری ـ۱۹۹۸ء مردان

☆

خواني هله خواني شي ـ چې ارمان پکښې پېدا شي
داستان پکښې پېدا شي ـ چې جانان پکښې پېدا شي

دا څۀ بې رنګه ژوند دے او دا څۀ خړ موسمونه
ساقي لږ مهربان شه ـ چې څۀ شان پکښې پېدا شي

نه نه ـ زما د سترګو انتظار ـ اخري وخته
يار هله خو شي ګران ـ چې رقيبان پکښې پېدا شي

ربباره شم د خلې نه دې قربان ـ چې "يار خفه دے"
الفت هله کامل شي ـ چې خفګان پکښې پېدا شي

يادېږي تغزل به د مردان ـ خود به ايران کښې
عابد غوندې اشنا چې سخندان پکښې پېدا شي

۱۵ـ جنوري ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

اوس حادثې د نظرونو ډېرې کمې کېږي
خکه قیصې ـ د نظرونو ډېرې کمې کېږي

څهٔ ډرته ووایم چې ښکله د زړهٔ ښار کښې وسو
بس تماشې د نظرونو ـ ډېرې کمې کېږي

زور دې خدائے کم نهٔ کړي شها ستا د تال تال پېغلتوب
خبر کهٔ سجدې د نظرونو ډېرې کمې کېږي

کړي مې تصویر سره خبرې اوس سحر او ماښام
څهٔ کهٔ قیصې د نظرونو ډېرې کمې کېږي

ښنګ به عابده د یو بل د زړهٔ درزا ته ګورو
اوس چې ګیلې د نظرونو ډېرې کمې کېږي

۳۱ـ جنوري ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

ژوند د امېدونو په سېوا شي که راوګوري
ورکه د عمرونو په سودا شي که راوګوري

ستا له مخه خاندي د سپرلو د ارمانونو ژوند
عمر د ګلونو په بلها شي که راوګوري

وائي چې "د ژوند ښکلا د مينې په خلا کښې ده"
يار دغه خبره په رښتيا شي که راوګوري

پوهه يم ـ چې ټول عمر څوک نه پالي د زړه کلي
غم به لېږ د زړه نه مې په شا شي که راوګوري

ته څه نه خبر يې د عابد د غزل ښکليه
دا توري تياري به سپين سبا شي که راوګوري

۴ـ فروري ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

خفه خفه ـ زهیر زهیر شی ـ سرګردانه راځی
څوک چې راځي نو ستا له چمه پرېشانه راځی

کړی صفتونه د رقیب راته په هر یو تپوس
ماله راځي ـ څو لکه تندر له اسمانه راځی

اوس د خپل لاس د تلی کرښې مې هم خپلې نه دی
هر یو ارمان چې ستا له دره مې پښېمانه راځی

وګټې ژوند به دوو توبو بانديې د جام په بدل
واعظ اکثر له مېخانې نه بې ایمانه راځی

هیڅ حقیقت راته ښکاره نه شو عابده د وخت
تل د ژوند ګرانې مرحلې څۀ په اسانه راځی

۱۳ـ فروری ـ ۱۹۹۸ء مردان



د زړه او نظر مسته حادثه چرته پکار ده
ژوندون له یوه نوې بهانه چرته پکار ده

اوس څۀ شولې چې وې دې "زما سر درنه قربان دے"
اوس څۀ شولې چې وایم "لوبته چرته پکار ده"

خوانی له خاموشی ډېره ښه نۀ وی د وختونو
زړکیه د بې لوظه یارانه چرته پکار ده

دا تنده د عمرونو ساقی هسې نۀ ماتیږی
د مستو مستو سترګو مېخانه چرته پکار ده

خندا چې دې د ګلو عمر ډېر کړو سروقده
عابد له دې هم رنګه قیصه چرته پکار ده

۱۷۔فروری۔۱۹۹۸ء مردان



تا راته خندل او تلې
ما دې لاس نيول او تلې

ما وې - چې مرګ څنګه وی
تا په شا کتل او تلې

توره سر زوری څۀ وی
هيڅ دې نۀ منل او تلې

ښکاری چې ستومانه وې
سترګو دې ژړل او تلې

بس عايده هيڅ کېږي
هر څۀ دې بائيلل او تلې

۱۸ـ فروری ـ ۱۹۹۸ء مردان

ERA

اوس نهٔ څوک ښکلے مې خوښیږی نهٔ ساقی پسې مرم
نهٔ ځم جومات ته نهٔ څهٔ نورې ګمراهی کومه
اوس راته ژوند یوه نقطع ښکاری د شکو په مخ
اوس د چا پېغلې په خندا باندې زړهٔ نهٔ نولمه
مینه کول به دې صدی کښې راته جرم ښکاری
زړهٔ ورکول به دې دوران کښې - ځان له کار کتل دی
دا داسې دور چې هر څوک پکښې په ځان مئین دے
یوې خندا له هم بلها عمرونه غواړی
چا پسې تلل د جنت خوب دے څهٔ معنیٰ نهٔ لری
اوس د رشتو د تقدس څهٔ فرق باتې نهٔ دے
اوس د وربل سپوږے جوهر د محبت نهٔ لری
اوس د چا غېږ څوک ارام د زړګی نهٔ لټوی
اوس د قدم ښکالو هم ښکاری راته شور د هوا
اوس د زړګی په درزېدو کښې کریکې ښکاری
په هر نظر کښې دزلمو مې د روزګار فکرونه

هر یو خاڅر اوس له نیستی په اوګه بنکاری زورند
هر یوسړے په داسې منبه دے چې نه دے خبر
لکه چې مرګ وینی په شا مخې ته لار د ژوندون
اوس هواګانې خپله غیږه کښې خوشبو نه راوړی
بس الوڅکی ده په هر ذهن په هر فکر خوره
اوس څوک چمن ته د ګلونو نظارو له نه ځی
اوس هر یو لاس پورته پخپله خپل ګریوان له ورځی
دنګ دیوالونه اوس اواز د چا ترلې نه شی
بند رواجونه د چا چغې کښلولې نه شی

دا دور تول اوس د خانی او غریبی دور دے
دا دور تول اوس د بې فکره خان خانی دور دے

۲۰-فروری-۱۹۹۸ء مردان

☆

تېر کړۀ شو عمرونه خو لا ياد مې يې
بيل شو منم زرونه ـ خو لا ياد مې يې

زۀ خپلې پښتو ـ ته غرور يورلې
قات شو ديدنونه خو لا ياد مې يې

چا وې چې الفت د ګل په عمر وي
مړاوې شو ګلونه خو لا ياد مې يې

ته مې هېروه خېر دے ـ هم دغه شان
مۀ ليکه خطونه ـ خو لا ياد مې يې

مړ چې يم عابده په زړه هېنه
نوې شو وختونه خو لا ياد مې يې

۲۴ـ فرورى ـ ۱۹۹۸ء مردان

(د سجاد طرزو په اواز)

☆

په هرقدم مو يېلوی ـ په مونږه لوبې کوی
اشنا وختونه رقيبې ـ په مونږه لوبې کوی

زمونږ تصوير کښې هم رنګونه د ژوند نهٔ خليږی
زمونږه خپله بې وسی ـ په مونږه لوبې کوی

زهٔ غم د ګل کوم او ګل له خپله غمه حور دے
څهٔ رنګه ګوره زندګی ـ په مونږه لوبې کوی

کله مو خان بسې او کله مو له تندې وژنی
يارانو خدائيګو چې ساقی ـ په مونږه لوبې کوی

زهٔ ئې ديوال خکلوم خم ـ او يار راځی ما ولی
عابده څنګه دا خدائی ـ په مونږه لوبې کوی

۷ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

زهر په ليو ليو ښکيل ـ دومره اسانه نهٔ ده
ستا نه جدا ژوند تيروول ـ دومره اسانه نهٔ ده

څنگه کېدې شي چې رقيب دې شي همسره زما
په محبت کښې خان بايلل ـ دومره اسانه نهٔ ده

تا ته به ښکاري اسان گله پرېښودل مې د لاس
ما ته خو مينه پرېښودل ـ دومره اسانه نهٔ ده

خدائے دې سپرلے ستا د مسکا په شونډو خوان لري تل
کنې خواني راسرکول ـ دومره اسانه نهٔ ده

هر څهٔ اسان دي خو عابده ـ بس د گل په ورانډې
سر د خېرې راښيول ـ دومره اسانه نهٔ ده

۱۴ـ مارچ ۱۹۹۸ء مردان



ته زما مینه د نظر زه ستا رانجه د نظر
یو کله هر څو جدا جدا کړو تله راتله د نظر

زه یم هر وخت درکومه خپل خواږه د نظر
ته بې چې هر وخت راله تراخه د نظر

څوک چې د پل خاورې په سر نولی ـ څوک سر په خاورو
چاله دې څه د نظر ورکړل چا له څه د نظر

اوس خو ګل هم راله رالیږی د رقیب په لاسو
دومره مو کلی تاوده پاتې شو ساړه د نظر

ته مې نصیب څه شوې اشنا شومه نواب د مینې
اوس په هر بنکلی باندې وېشمه خواږه د نظر

هیڅ ئې عابده وضاحت د زندګی را نه کړو
دا خندېدله مې د نظر دا زړېده د نظر

۱۴ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان



مۀ کړه انتظار زړګیه نۀ راځی
څوک هم به دې لار زړګیه نۀ راځی

ژوند کۀ ورله ورکړې کۀ د خان وینې
دلته کیښې بهار زړګیه نۀ راځی

نۀ جوړیږی هیڅ له ژړا غلے شه
ومنه ـ چې یار زړګیه نۀ راځی

شګې له غلبېله چاڼول دی بس
نور به چا اتبار زړګیه نۀ راځی

خان هسې سبزې عابد کم عقل دے
بنګلی شو هوښیار زړګیه نۀ راځی

۱۵ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

زړۀ خفه نظر خفه خدا خفه
نۀ له ما خفه ۔ او زۀ له تا خفه

دغه مې له ژوند اخستې فصل دے
نۀ رانه جدا ۔ او وخت جدا خفه

هر وخت ئې خوبونه د راتلو وينم
نۀ راځي جوړ خدايه شو ريښتيا خفه

بنه ده چې مو هيڅ نشته رشته نو بيا
ولې شوې له ما نه وارخطا خفه

خدائے دې د ګل سر ته کړي عابده خبر
نن خو مې دا زړۀ دے غځۀ ناشنا خفه

۱۶۔ مارچ ۱۹۹۸ء مردان

☆

ستا د رخسار په طمع تل په نمر ته ناست اوسمه
نه که راځې او که نا زه په در ته ناست اوسمه

ښه تري خبر يمه چې هيڅ جواز د ژوند نه لرې
بيا هم د زړه منمه ـ ستا نظر ته ناست اوسمه

اوس خو د خال په ځاې ګل ستورے په تندي جوړوې
اوس خو به نور هم د مرګ کټ کيښې ـ سر ته ناست اوسمه

دغه زما او د هغه د تعلق قيصه ده
هغه مې زړه کښيني ـ زه ئې بورې ور ته ناست اوسمه

نه هاغه ونه پاتې ـ نه د لختي غاړه ـ نه يار
چرته په خم عابده اوس په چر ته ناست اوسمه

۱۷ـ مارچ ۱۹۹۸ء مردان

☆

په ښکلو مرو او خدائے نه سوال د زندګۍ هم کوو
مونږه په غوموه حادثو کښې خوشالي هم کوو

داسې به څنګه زړه له صبر ورکوو جانانه
چې حال به نۀ وايو او کلکې به ياري هم کوو

ژوند چې مو خوښ دے محبت چې مو ايمان دے ساقي
مرو کۀ له تندې خو صفت د صراحي هم کوو

څکه خو ګرځو لاس په سر د ژوند په مينه سر شار
درک مو نۀ لګي د غۀ هم او سيالي هم کوو

مونږ انتقام غوموه په ښکلي چل له خانه اخلو
تاته ناري وهو ـ زور خان له په مري هم کوو

داسې به شل نۀ شي عابده يارانه د ګلفام
چې کړو سجدې او غم په سر دې د پګړي هم کوو

۱۹ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

چې ستا مینه پکښې راغله نو به کار شو
اوس مې ژوند په یو نقطه شو چې پرکار شو

(سرېتوب چې شو معیار د ژوند ـ نو لاړو
شیخ له ډېرې ناچارۍ نه پرهېزګار شو)

څومره زر دې په ووعده کښې سبا راکړو
څومره زر مې ژوند راڼده د انتظار شو

ډېره ښه شوه چې ستا غم مې زړه ته پرېوت
اوس خو بس ایله د هر غمه وزګار شو

ستا د مستې لوېښې چپه وه راغله
لېونے دې په ګډا شو ـ چې بهار شو

توبه دا ساده ګی هم ئې د کتو ده
چې عابد جاموته تش کړه توبه ګار شو

۲۱ ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان

SEPARATION

دا انتظار دا تلوسې او دا زړه سترے ارمان
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم
دا امیدونه د سیا دا تمنا د مینې
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم

ډېر مې کوشش وکړو چې سترګې په هر څۀ پټې کړم
بس چې څۀ کیږی لکه بت ورته خاموش ودرېږم
لکه د خلقو په هر څۀ باندې خندا وکړمه
یوې لحظې له د خپل ټول عمر سودا وکړمه

دا ارزوګانې وسوسې او دا ګمان مې په زړۀ
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم

د سپرلی باد چې مې په مخ ولګی - وریږم
په تن مې ستا د یاد نری نری وبیتۀ ولاړ شی

د ازغو لاس چې د ګلونو په لمن ووینم
په وړه پروت څادر مې ستا د ارمانونو خور شي

چې دا ژوند زهر ګوټل دا د شوګیر اسویلی
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم

د چا په شونډو چې خندا ووینم ـ ولړېږمه
د خیال ماضی په سپین تندی باندې لاس ووهمه
د چا د سترګو بهېدلې یو قطره اوښکه هم
زما په ټول وجود شپېه د باران وورو‌ی
دا د بل غم زما په زړه دا په خیال غم خندېدمه
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم
دا انتظار دا تلوسې او دا زړه سترے ارمان
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم
دا امیدونه د سبا دا تمنا د مینې
خدایه تو څو پورې به وی خدایه تو څو به سوزم
۲۳ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان



خې کۀ په پل د رقيبانو خو ستا ور پسې خې
ستا ليونی دی بل خوا نه خې ـ ستا نظر پسې خې

اوښکې مې هم راسره ګوره پښتو نۀ کړی ـ ځاځی
لکه د پرخې فنا کيږی په ګل ـ نمر پسې خې

هر سړے زرۀ له توجه راګرځوی مينې ته
ځوک د ګودر سپل يادوی ـ ځوک مازيګر پسې خې

ژوند مې ستا خال دے په يو حال کښې هم سپين نۀ شو چاته
تورې تيارې ورله راځی ډير کۀ سحر پسې خې

خير دے عابد کۀ تا ته کښې ستا نه مينه غواړی
د عمر تيرے اشنا تل په سمندر پسې خې

۲۵ـ مارچ ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

چې پوره کېږي نه وعده ـ داسې به دواړه مړه شو
يو به تر څو خفه خفه ـ داسې به دواړه مړه شو

ستا لاس کښې ګل د خيال اميد ـ او زه وږمه د سپرلي
شوه کۀ ترمنځه فاصله ـ داسې به دواړه مړه شو

زه ستا نظر باندې اباد ـ ته مې ساقي يې مينه
خدائے مۀ کړه شاړه ميخانه ـ داسې به دواړه مړه شو

نوې الفت دے ـ لا عادت د جدائۍ مو نشته
مه خه اشنا ګنې خدائے شته ـ داسې به دواړه مړه شو

دا چې د هر چا په نظر کښې اوس يو بل ته ګورو
عابده پوئې شومه ـ چې خه ـ داسې به دواړه مړه شو

۸۔اپریل۔۱۹۹۸ء مردان

☆

ما مینه غوښتله او تا زړه غوښته
اوښه شوه چې هر څه اشنا زړه غوښته

دغه وو د یو محبت دوه رنګه
چا زړه ورکوه کوره چا زړه غوښته

پس له دې اتبار به په ژوند څه راشي
مړ ئې کړم ـ له چا نه چې ما ـ زړه غوښته

راغے ـ وې ئې شته څوک ؟ چې ما وکتې
څومره ئې په ناز او ادا زړه غوښته

عشق د پېتو سترګو په اظهار نه شي
ګرانه ده ـ له څه نه دا زړه غوښته

ژوند ئې که عابده درله زهر کړو
تا د دې د باغه ترې لا زړه غوښته

۹ـ اپریل ـ ۱۹۹۸ء مردان



شو کۀ يوځائې او کۀ جدا خلق خبرې کوی
دلته په هر څۀ کيږي اشنا ـ خلق خبرې کوی

دا هم اعجاز دے ستا د مينې هم ستا شان د نظر
ما يسې نن چې د دنيا خلق خبرې کوی

مونږ خو د زړۀ نه صرف غم د تنهائي وکيټۀ
خدائے خبر څنګ چې په خندا خلق خبرې کوی

سوال د الفت ئې راله خله کيږي بې اجله مړ کړو
زر ئې لاس شاته کړۀ وې نا ـ خلق خبرې کوی

عابد کۀ وينې د زړۀ ورکړې کۀ خوارۀ د خوانی
خو بيا هم ګوره يکيږي دا خلق خبرې کوی

۱۰ـ اپريل ـ ۱۹۹۸ء مردان

BADINAGE

وائی چې اوس به په تول ښار کښې هنګامې نه کیږی
وائی چې دا خل به سپرلے تش د رنګونو نه وی
وائی چې اوس به د هر زړه نه نفرتونه لرې شی
وائی چې زمکه به اوس صرف محبت توکوی
وائی چې اوس به د چا لاسو کښې ګرېوان نه شلیږی
وائی چې اوس به په هر کور کښې نهر نه غملی څوک
وائی چې اوس به نظرونه د دیدن ماړه شی
وائی چې اوس به د وریځو نه شبنم وریږی
وائی چې اوس به انغری د محبت تاوده وی
وائی چې اوس به هر سړے خوب په وړدو پښتو کوی
وائی چې اوس به طوفانونه د نفرت نه راځی
وائی چې اوس به شر و شور نه کیږی دا یقین دے
وائی چې اوس به څوک قاتل په سترګو هم نه وینی
وائی چې اوس به څوک غمونه د بیلتون نه کوی
وائی چې اوس به څوک بې کوره په دې ښار کښې نه وی

زما د کلی خان ته ګوره کنه ۔ څۀ هوښیار دے
وائی چې دا کال بختور دے اوس حالات به ښۀ شی

اپریل۔۱۹۹۸ء مردان

☆

نه ستا نه جام اخلي ساقي نه توبه ګارو کيږي خې
واعظ به څه رنګه جنت ته ګناهګارو کيږي خې

هيڅ د دې کلي د يارانو په ايمان پوئې نه شوم
ما صبروي ـ خپله چې چرته منتبارو کيږي خې

ستا د خواني د ميني خوب رانه خوب وتختوه
ماشوم اکثر بهر له کوره بې اتبارو کيږي خې

سترګې مې سپينې ـ سر مې سپين شو ـ خو ستا زړه سپين نه شو
اوس ايله پوئې شوم چې ژوند څنګه په بېکارو کيږي خې

ستا د غمونو پند په سر ستا له الفته محروم
مالدار عابد دې کوره څنګه خوارو زارو کيږي خې

☆

نه مې نه خپل شوې نه خوانی راله په لاسو راغله
وايم به څنګ چې زندګی راله په لاسو راغله

څه دې د زلفو تصور څه دې ارمان د غاړې
په شته نشه کښې صراحی راله په لاسو راغله

وسو يو بنار کښې ـ ولې بيا مو هم ليده نه کېږی
ياره دا څه بدنصيبی راله په لاسو راغله

ځان پرې بائېلل او د ګل يو خندا له ژوند ورکول
عشق کښې بس دغه جواری راله په لاسو راغله

عابده څه وو به تېر عمر ائينې ته کتل
بس يو بې نومه حيرانی راله په لاسو راغله

۱۹ ـ اپريل ـ ۱۹۹۸ء مردان

STATURE'S SHEDOW

هغه چپه د پسرلی هغه د ګلو خندا
هغه د مینې د صحرا د اوچو شونډو ګډا
هغه یو خوب د زلمیتوب یو ریبدلې تصویر
هغه د هر چا د نظر د ارمانونو دوا
هغه یو څړیکه د عمرونو د ډردونو اواز
هغه یو لپه د خوانی د بازارونو سوالګر
هغه یو ورک شان تبسم د لبونی په شونډو
هغه دروا د غزالې د ترهېدلې زړګی
هغه یو لاس د زمانې د پرهرونو په سر
هغه نګهت د څو لمحو د ریږدلی ګلاب

چې نه مې وځی د زړګی له تصوره بهر
او نه راځی راله په لاسو لکه سیورے د قد

۳۔مئی۔۱۹۹۸ء مردان

☆

نه راځي ـ شل څله بې لوظه که لوظونه وکړي
د دې د پاڅه څوک څه محبتونه وکړي

ستا د خندا خواږه مې نه وځي د زړه له کوره
ډېر که بې مخې راته هر رنګه ستونه وکړي

هاغه ارمان ستا د نظر مې نن هم وژني په ژوند
دروغ دي ـ ګله چې مئین په اختونه وکړي

ژوند او ځواني سره یاري څه ده او ښکلي څه دي
پس له دشت کیږي څوک خان ته اوازونه وکړي

د هاغه ښکلي محبت څه وه ـ عایده مرګ وه
وریسې نن مې هم زړه وژاړي ـ دردونه وکړي

۱۳ـ مئي ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

غوارمه ژوند او د قاتل د خلې وعدو ته ناست یم
د نمر په طمع باندې ګوره تورو شپو ته ناست یم

ته رانه تلې ـ ژوند روان ـ نظر پردے ـ زړه خفه
پس لکه سپورے د ډهوال د وخت اسرو ته ناست یم

ته خوروه زلفې ـ او خاندہ چې سپرلے اوسی خوان
خبر دے کۀ زۀ د دار په سر هم سرو لمبو ته ناست یم

یاره پښتو ده ـ کنې سر ستانه څۀ لوئے خو نۀ دے
ته ګورې نه چې تېټ لېمۀ دې دوارو پښو ته ناست یم

ژوند له معنیٰ لټوم مرګ له جوازونه ګورم
تصویر په لاس کښې د شپا ـ تتو ډیوو ته ناست یم

اوس پس له دې به څوک لاس راکړی او خپل به کړی ما
پس خو عابده یوه طمع ده ـ سپرلو ته ناست یم

۱۵ـ مئی ـ۱۹۹۸ء مردان

☆

ستا د وړدو وعدو له زوره څۀ خبر دی
ساده مئین د دې خوږو له زوره څۀ خبر دی

خدائے دې رانۀ ولی ماښام ستا په رخسار د وربل
د ریا خلق د تیارو له زوره څۀ خبر دی

دا ستا اوده اوده کاتۀ چې ژوند له رنګ ورکوی
لا پسرلی د دې ورمو له زوره څۀ خبر دی

ستا دې قسم وی چې ساقی لېږ ورته ګوره خاندله
څوک د تش جام د کړنګېدو له زوره څۀ خبر دی

خبر دے کۀ خاندی مې د اوښکو په قطار زړګیه
ناپوهه ښکلې د جرګو له زوره څۀ خبر دی

دا خو د ګل مخ دے ـ عابده نو هېڅ نۀ وایمه
لا رقیبان مې د پېښتو له زوره څۀ خبر دی

۲۱ـمئی ۱۹۹۸ء مردان

☆

زړۀ له مې مستۍ د نظر راوړه ګنی مړ به شم
ژوند مې توره شپه ده سحر راوړه ګنی مړ به شم

هر ځنګه چې یم ـ خو بس اباد نۀ یم ـ چې ته نۀ یې
خدائے له یاره ـ یاره خبر راوړه ګنی مړ به شم

وخانده نن داسې چې سلګۍ مې پکښې ورکې شي
ډوبې خاموشۍ له څۀ سر راوړه ګنی مړ به شم

بیا هم ځي سره زما د مینې د رقیب به لور
خدایه لیږ ئې پام د هنر راوړه ګنی مړ به شم

بس دے نور عابده ځان د شک په ښکار مۀ ځنابه
تېرے تېرے زړۀ له کوثر راوړه ګنی مړ به شم

۲۸ـ مئی ۱۹۹۸ء مردان

☆

زړه خفه ئې رضا کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې
چې ئې شپه راته سيا کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې

(دې ناشنا لارو کوڅو کښې نشته نشته زما څوک هم
دا اواز راله چا را کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې)

دې انګار موسم کښې دا وړمه يادونه
چې تېر ياد ئې په ګډا کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې

هره سانده چې نغمه شوه هره اوښکه پرخه پرخه
چې ئې غم رانه په شا کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې

عابد مړ دے خاموشي ده هر طرف ته ماتمونه
دا دروغ ئې چې ريښتيا کړو ـ ګله ته خو چرته نه يې
۲ـجون ـ ۱۹۹۸ء مردان



څوک بهر نه راځي خالي ده ـ لار د نظر
زۀ دې څارمه لا تراوسه ـ انتظار د نظر

هسې بې ځايه مو په نوم د ګلو وينې څاڅي
دلته کښې رانغے يو وار چرته بهار د نظر

راخه چې وچه‌ړو ـ نن بيا هغه سازونه د ژوند
هاغه نغمه د خوږ زړګي ـ او هاغه تار د نظر

زۀ لا خم بيا هم ستا په نوم د مينې فال وباسم
ګنی خبر يم چې دې کړې دے انکار د نظر

بس دے عابده دا د شپو حالونه مۀ وايه نور
خپليږي نا ـ په يوه لار هم هاغه يار د نظر

۱۱ ـ جون ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

یو خوب خو د دې زړهٔ به مې ریښتیا شي چرته ګله
دا تورې تورې شپې به سپین سبا شي چرته ګله

دا وخت او د دې وخت سره تړلي موسمونه
دا واوره چې نهٔ ستا ـ نهٔ به زما شي چرته ګله

تر عمره به جولې کېږي د وختونو به غم نهٔ وي
دا ژوند به په یو ځل خو به خندا شي چرته ګله

احساس د محبت د درد به هله ورته اوشي
دوه زړونه کهٔ زمونږ پشان جدا شي چرته ګله

نهٔ وائي خو زما زړهٔ پرې اوبهٔ نهٔ غښتي عابده
ورک شوې چې یو لار کېږي به پیدا شي چرته ګله

۱۶ـجون ـ ۱۹۹۸ء مردان



ما به لېونړ کړی دا د مینې لېونړ چې دے
ګران دے له هر چا نه راته دغه یو سړے چې دے

ځۀ رنګه توبه کړمه له مینې شراب پرېږدمه
لیږ شانې خو وګوره واعظه دا سپېلنړ چې دے

وینې د جهان خوارۀ بس تول هم ستا په مینه کښې
دا زما سینه کښې لېونړ شانې زړګړ چې دے

ما ورته وې ـ وخانده د ګل هسې رنګ رنګ مې کړه
وې وئېل ـ وې دا د مینې غل پرېوکړ چې دے

ځۀ رنګه د ګل له تصوره ازغی وباسم
ستا او زما منځ کښې دا رقیب د کوڅې سپړ چې دے

ما نه خو د زړۀ او نظر خوب او ارام دۀ یوړل
دا نۀ دے ـ دا بنګلړ شان ـ اے دغه لیږ مسکړ چې دے

چرته ستا نظر کښې بنۀ رانغړ په تا ګران نۀ شو
هاغه یو عابد ـ هاغه پاګل ـ ستا د کوڅې چې دے

۲۵ ـ جون ـ ۱۹۹۸ء مردان
(صوتی قافی)

☆

خان مې کړو لاهو په سمندر خو ته مې بېج کړلې
زه که محبت کړم در په در خو ته مې بېج کړلې

تا باندې چې ګله ووم مئین نو صبر نه شومه
وامې خستو هر يو جنګ په سر خو ته مې بېج کړلې

نور راله څۀ چل د الزامونو د ښار نه راتلو
شومه دې په سر لکه څادر خو ته مې بېج کړلې

زه مې ګوټل ستا د برخې زهر د خپل ژوند په جام
نور که مې څۀ نه وۀ زده هنر خو ته مې بېج کړلې

نور رانه عابده امتحان د مینې څۀ اخلې
شومه سره لمبه لکه د نمر خو ته مې بېج کړلې

۲۸ـجون ـ۱۹۹۸ء مردان

☆

هر انتظار دې لکه تېر شو قیامتونه په ما
چرته رانغلۀ په دې لار بهارونه په ما

څومره چې سوال په وچو شونډو د باران مې کوۀ
دومره راووربدل کوره انګارونه په ما

ستورو ته پته ده ـ سپوږمۍ مې دهجران ګواه ده
چې څنګه تېر شو د خوانۍ د زورو وختونه په ما

دې ته به کوم انصاف د مينې د قانون وائمه
ګلونه خپله توړلي ـ او الزامونه په ما

ګرمه څۀ داسې د شها مينې لوټ عابده
لګي ناشنا شان چې اوس خپله خپل شعرونه په ما

۲ـجولائی ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

راغلهٔ او لاړهٔ ستا یادونه څومره زر فنا شو
د دې چمن نه دا ګلونه څومره زر فنا شو

خدائے خو دې ورک کړی دا د دنګو ډیوالونو رواج
څومره زر راشی ماښامونه ـ څومره زر فنا شو

ما چې ترې لاس واخستهٔ ـ تا چې ترې نظر واخسته
ساقی محفل نه رونقونه ـ څومره زر فنا شو

دومره کچه خو دا رشته نهٔ وه ـ اشنا د مینې
له دې تصویره ـ دا رنګونه څومره زر فنا شو

زور چې دې کښاستهٔ عابده نن د خپلې خوانی
مهٔ وایه دا چې موسمونه څومره زر فنا شو

۱۶ ـ جولائی ـ ۱۹۹۸ء مردان



بې له خنکه ده ـ نه څۀ خبر يې ـ دا زندګي
لکه تېرېږي غريبي کښې په باچا زندګي

نۀ په ما وزنې ؟ ما نه څۀ پته وه ـ ما خو ونيل
نۀ بې زما زندګي ګله او زۀ ستا زندګي

خېږدے په ما چې نۀ شرمېږې خبر دے مۀ راګوره
خه رقيبانو له ـ خه اخله رانه سا ـ زندګي

ما خو له ژونده دا اخستې چې هر ګام نوې غم
حېران يم ـ څنګ تېره کړي خلق په خندا زندګي

د سېرلي طمع ـ د روزګار غم ـ د شپا يادونه
ما خو بس تېره کړه عابده په سودا زندګي

۲۴ـجولائی ـ۱۹۹۸ء مردان

☆

ته ماته یاد ـ زهٔ ستا هېر ـ محبت داسې کېږی۔؟
دا یاری داسې وی دا ډېر ـ محبت داسې کېږی

ته لکه ګل چې له خندا مې شې راخور په وجود
او زهٔ خوشبو درنه چاپېر ـ محبت داسې کېږی

زړهٔ له غمګې صبر د وختونو په دې شور کښې ورکړم
یو هره لار کښې تېر و بېر ـ محبت داسې کېږی

هر څهٔ بائېلل ـ ژوند خاورې تېروُل رقیبه
هس کهٔ کوې ـ له سره تېر ـ محبت داسې کېږی

شا کړه ساقی راته عابده چې مې جام ته لاس کړو
شو مرور زما په وېر ـ محبت داسې کېږی

۲۸۔جولائی۔۱۹۹۸ء مردان

☆

دا څۀ سپرلے دے ـ د ورمو چرته درک نۀ لګی
د زړۀ په لار ستا د راتلو چرته درک نۀ لګی

سپور د دوران هر یو نظر ـ نۀ پکښې سا نۀ مستی
د شوخو شوخو پلوشو چرته درک نۀ لګی

دا څۀ دی خدایه ـ په هر ګام هره لحظه نوې غم
د ژوند په لار د خوشالو چرته درک نۀ لګی

هاغه چې وېشی هر نظر کښې تل خوارۀ د خوانی
خدایه چې څۀ شو ـ د هغو چرته درک نۀ لګی

خاورې به وړینی عابده خوانی رنګ او مستی
په یو طرف د رنګینو چرته درک نۀ لګی

۳ـ اګست ـ ۱۹۹۸ء مردان



وایه شي بي وخته قیامتونه ـ دا به څنګه شي
مانه به تا وخلي دا وختونه ـ دا به څنګه شي

بعضي بعضي کار د زړه په خپله خوښه خوند کوي
هر څه دي د هر سړي منو ـ نه ـ دا به څنګه شي

څه دي زما ژوند ـ خو چي ته وخاندې ـ سا واخلمه
خدائے مه کړه کله قات شو ـ دیدنونه ـ دا به څنګه شي

ته چي رانه لاړې نو احساس راته د مرګ وشو
ما وې چي رابېوځي تندرونه ـ دا به څنګه شي

اوس مي یقین وشو چي خواني د ارمان تنده ده
چپ شه کله ساقي بند کړه ورونه ـ دا به څنګه شي

ګل به خوشبو پرېږدي ـ نمر رڼا او شپه تیاره منم
پرې به ږدې عابد محبتونه ـ دا به څنګه شي

۷ـ اګست ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

ته ګلو کښې ښائسته ته بهارونو کښې رنګين
ښې خومره تۀ زما د زړۀ خيالونو کښې رنګين

خوارۀ مې د خوانۍ ـ وينې د زړۀ مې درله درکړې
کړې ګله د هر ځا مې په سوچونو کښې رنګين

هر رنګ کۀ مې له ژونده خنې لاړه خفه نۀ يم
خوشاله يم چې تۀ شوې په رنګونو کښې رنګين

اے خه چې تۀ په داسې رضا کيږې ـ زۀ رضا يم
قبول دے راته ژوند ستا ستمونو کښې رنګين

څۀ غلا خو دې عابده بيا په زړۀ کښې ده ـ پوهيږم
دا څوک دے ـ چې دې ياد کړلو شعرونو کښې رنګين

۱۲ اګست ۱۹۹۸ء مردان

☆

اے بې له تانه چرته دی خواږه چې ورته وائی
ما ونه لیده خوند د ژوندانه چې ورته وائی

ستا زلفې ـ چې زما د سترې سترې ژوند دمه ده
خلې ماتې شه د خلقو دا تیاره چې ورته وائی

زه مست به هاغه فکر او زه خوان به هاغه مینه
څوک څه چې ورته وائی او څوک څه چې ورته وائی

دې منې واله زړه هم څه ضدی غوندې ماشوم کړو
تل غواړی هاغه خلق څوک تراخه چې ورته وائی

عابده دومره لرے خی زما له خوانه
ربهار څومره په مینه د راتلۀ چې ورته وائی

۱۳ اګست ۱۹۹۸ء مردان

RELATION

څوک به وی په شان ـ چې تا له زندګی ډکړی
څوک به وی دا ستا په شان ـ چې ما ووژنی ورک مې کړی
څوک به وی زما په رنګ چې تا باندې څوانی بایېلی
څوک به وی دا ستا په رنګ چې ماله تش ازغی راکړی
څوک به وی زما غوندې ـ چې تا خپل دولت وکړی
څوک به وی دا ستا غوندې چې ما نه تل نفرت وکړی
څوک به وی زما په سېر چې تا وګټی خپل ارام
څوک به وی دا ستا په سېر چې ما اذیت وګټی
څوک به وی زما په نوم چې تا سره یاری وکړی
څو ک به دا ستا په نوم چې ماته دښمن ووائی

څوک به دا څوک به وی
ګله زما ستا په شان
څوک به وی دا څوک به وی
چې داسې رشتې وپالی

۱۹ ـ اګست ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

بي له تا نه مینه اشنا نورو سره چرته ده
دا دوا د خوږ زړهٔ زما نورو سره چرته ده

مومي چې خواني پرې زما رنګ د محبت ادا
دغه په ښېرو کښې دعا نورو سره چرته ده

ماته ئې د ژوند نامه څرګنده کړه د زړهٔ په تار
کله داسې داسې ادا نورو سره چرته ده

ستا د برخې هر ازغے ما تل زړهٔ کښې مات کړے دے
ستا د نظر دومره سودا نورو سره چرته ده

کړی هره خبره راسره تل د رقیب په کور
خنګه چې ده ماسره "دا" نورو سره چرته ده

ځکه خو عابد په تا ژوندے هم ستا په مینه مړ
ستا دغه خبره شها نورو سره چرته ده

۲۶ اگست ۱۹۹۸ء مردان

DISBELIEVER

کله کله خو له هر څه نه منکر شم
دا رواج دا بندېزونه
دائېرې د مذهبونو
دا د ذات او د رنګ فرق
څوک کافر۔ څوک مسلمان دے
دا د پېرو سترګو لوبه
دا مبهم شان تصویرونه
دا د عقل خلاف چغه
دا له سوچ او شعور لرے
دا څه کفر ؟ څه اسلام دے
کله کله له دې هر څۀ
زړۀ مې تور شي۔ څې راګېر شم
دا انسان ۔انسانیت کښې
دا تېره کښې د وختونو
د فطرت په ارتقاء کښې

۹ ۔اکتوبر ۔۱۹۹۸ء مردان

☆

زړه مې لوټ لوټ داسې د مينې په اتيار کښېنې بنۀ دے
ستا د لوظونو په اسره ـ ولاړ په لار کښېنې بنۀ دے

ستا د ساګانو سېورے ـ ستا د مسکيتوب رنګونه
چرته ژوندون په دار کښېنې بنۀ ـ چرته بهار کښېنې بنۀ دے

ته چې جدا شوې پکښې ـ ته چې رانه ورک شوې پکښې
ورک رانه شل خله زړګے په دې بازار کښېنې بنۀ دے

ژوند چې پرې ګله سېوا کيږي د الفت د بنګلا
زما ارمان داسې نيمګړے انتظار کښېنې بنۀ دے

چې تاته ياد دے ـ ستا له مخه هر رقيب ته ياد دے
بنۀ دے ـ عابد داسې ګمنام د بنګلو ښار کښېنې بنۀ دے

۱۲ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۸ء مردان

SWINDLER

په عمر پس لار کېښې په مخه راغلے
هم ها غه شان لکه اوتر هوسی
بوبوټے هم پکښې راغلے نۀ وه
څۀ قلري فرق يا څۀ نوې انداز
ها غه نظر ئې ها غه شان قاتل وۀ
ها غه رخسار ئې ها غه شانې معصوم
هلبو پوتې هم بدل شوې نۀ وۀ
زما د زړۀ د ښار بې سره نواب
تلل ئې هم ها غه شان خندا ها غه شان
په هر قدم کښې خونډل ها غه شان
هلبو پوتې هم بدل شوې نۀ وۀ
زما د ټول وجود د کلی باچا
پس خو په دې خبره وې وژلم
چې
نن ئې رقيب ته هم په ګوته نۀ کړم

۱۵ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

زړه رانه لاړ هم نظر ـ څۀ د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي
ورکه مې شپه هم سحر ـ څه د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي

داسې بوازې يمه ـ چې هر طرف ته ګورم ـ خپل سېورے هم نۀ وينم
شوه مې خوانې لړ به لړ ـ څه د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي

نۀ مې ستا مينه خپله ـ نۀ د ژوند تار مې لاس ـ نۀ د يارانو احساس
تېر مې ټول ژوندې خبر ـ څه د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي

بس يوه دوره ښکارى ـ اوس راته دا زندګي ـ نور به هيڅ پوهه نۀ شوم
دے مسلسل يو سفر ـ څه د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي

فضا خفه خفه ده ـ هوا اوده اوده ده ـ ګلونه ژاړى شبنم
ورک عابد مازيګر ـ څه د بنګړو به شور کېږي ـ څۀ د کاسو به شور کېږي

۲۰ ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

زړه د هاغه گل انتظار غمگه دے
وایه د دردونو بهار ـ غمگه دے

بس خو ژوند بانبلل پکښې ـ او غم کښل
نور د محبت کاروبار غمگه دے

یار ورسره بیا جوړې شور کړې دے
ما وې چې نن غلے رهبار غمگه دے

ناست دې یم رخسار ته د لمبو په سر
کلک په تا مې داسې اتبار غمگه دے

خبر خو دې قاصده ولې غلې شوې
وایه د عابد هاغه یار غمگه دے

۱۶ـ اکتوبر ۱۹۹۸ء مردان

☆

سر تیتیږه دی ستا رضا څۀ دومره ګرانه نۀ ده
خو یار پښتو ده ـ ګنې دا څۀ دومره ګرانه نۀ ده

هر څو کۀ ګرانه ده خوانی په انتظار کښې سېزل
ما ستا له پاره وې ـ نا نا ـ څۀ دومره ګرانه نۀ ده

واخله چې نۀ پرې خوشالېږې ستا نه خار زندګی
ماته هم بې له تا نه سا څۀ دومره ګرانه نۀ ده

اوس ولې ګرځې سرګردان زړګیه تا چې وئیل
دا د اوږدو زلفو سودا څۀ دومره ګرانه نۀ ده

دلته د وینې په رنګ هم کېږی ګمان د ګلاب
دلته عابده دا ګناه څۀ دومره ګرانه نۀ ده

۱۱ ـ نومبر ـ ۱۹۹۸ء مردان

☆

په پټو سترګو ښې تر داره چې له سره تېر شي
مینه کېږي یو ځل هم څوک یاره چې له سره تېر شي

څه چې نن لاس په لاس په چم د رقیب ورشو اشنا
یاد شي د ژوند په هره لاره چې له سره تېر شي

ته مې په کاڼو وله - زه به دې د ګل په پاڼو
مجبور وي څوک د چا له پاره چې له سره تېر شي

مینه ځه داسې جواري ده د رنګونو د بنار
هله راسر شي - څو څو واره چې له سره تېر شي

نور به عابد تاله ځه ورکېږي د عمرونو باور
شي په خیال ژوند هم بې اتباره - چې له سره تېر شي

۱۲-نومبر-۱۹۹۸ء مردان

☆

غځه رنګه به اوس شو جدا ووايه
ننه خو راته سم په خندا ووايه

غځه وائي " چې مينه کوې ماسره"
مه شرمېږه هله اشنا ووايه

يا زړه راکول دی او يا زړه واخله
دا که راته نه وائي دا ووايه

ولې مې خفه شووې د نظر په سوال
دا حق مې هم نشته په تا ـ ووايه

تا چې ووې وژنمه دې تېک ده خه
بس خو ګله نه ئې لېر بيا ووايه

بنه ده چې په دار عابده اوختې
چا درته وئيل چې ريښتيا ووايه

۲۶ـنومبرـ۱۹۹۸ء مردان

☆

"تا کله مانه او ما ستا نه لمن خلاصه نهٔ کړه"
کنې نو چا دلته د چا نه لمن خلاصه نهٔ کړه

ستا لېونو غمونو داسې در په در کړم اشنا
چې مې خندا هم له ژړا نه لمن خلاصه نهٔ کړه

څهٔ عجيبه ده چې راځې راځې ـ نو ما ووينې
ما کهٔ ترې خلاصه کړه ـ غم مانه لمن خلاصه نهٔ کړه

اوس خير هيڅ نهٔ يم چې تهٔ مې يادوې او کنه
ما خو تراوسه د وفا نه لمن خلاصه نهٔ کړه

اوښکې مې سترګو کښې د خوږې شې چې راوکوړې يار
مونږ دوارو زړونو کښې د غلا نه لمن خلاصه نهٔ کړه

ګل کهٔ مې وژنې ـ خو ژوندے دې وې ګل ـ خاندې دې ګل
عابده ما د دې دعا نه لمن خلاصه نهٔ کړه
۲۹ـنومبر۱۹۹۸ء مردان

(طرحه زاهد چاچا)

☆

پوره مو نۀ شوه يو وعده بلها عمرونه تېر شو
اشنا د وخت په دې اسره بلها عمرونه تېر شو

څۀ سپېرۀ ژوند دے چې نۀ تۀ راغلے نۀ ګوره سحر
له غم په ډکه شپه بلها عمرونه تېر شو

اوس خو مې هېڅ يقين د ګل په خندا باتې نۀ شو
چې په ژړا په تلوسه بلها عمرونه تېر شو

جواز د مينې مې پېدا نۀ کړو د زړۀ جنون کښې
بس په لټون او په ډوکه بلها عمرونه تېر شو

کله حرم عابده بنۀ کله درشل د ساقي
تل په دې سوچ او وسوسه بلها عمرونه تېر شو

۲ دسمبر ۱۹۹۸ء مردان



نۀ مانه څۀ خبر چې څۀ زما په زړۀ تېرېږي
بس خو ټول ستا د سر قربانه زما په زړۀ تېرېږي

وېښ مې احساس ستا د راتلو ـ زړۀ مې اوده په لمبو
څومره تاوده څومره ساړۀ زما په زړۀ تېرېږي

تېره دې نۀ شي چې بې ستا نه مې تېرېږي ځواني
نۀ خانده خبر کۀ دې بانۀ زما په زړۀ تېرېږي

نن ئې پخپله ووې ښکارې زمونږ مينه شان ده
څۀ هم چې راشي ستا په خلۀ ـ زما په زړۀ تېرېږي

ښکارې عابده چې هم زۀ يم د جهان ائينه
ټول د دنيا په زړۀ پراتۀ زما په زړۀ تېرېږي

۹ـ دسمبر ۱۹۹۸ء مردان



ته زلفو کښې ګل پرده زه به ازغی به زړه کښې پردمه
ستا غم چې راله څه هم راکوی ـ به زړه کښې پردمه

رېبتې رېښې لمن کښې ـ د ګل پاڼې پاڼې شمارم
رنګونه د پیکه سپرلی به زړه کښې پردمه

خدائے مه کړه چې د مینې به ډرنو به شم ستومانه
اے ګله رالېږه ـ چې څومره وی ـ به زړه کښې پردمه

اے خنګه به له تا نه مې د مرګ ویره جدا کړی
ستا سترګو رابخښلې زندګی ـ به زړه کښې پردمه

سپک نهٔ یمه عابده د هر ښکلی به نظر کښې
درانهٔ چې د دنیا د هر سری به زړه کښې پردمه

۱۔جنوری۔۱۹۹۹ء مردان



هاغه ورځ څۀ چې به ژړا د سر دعا ونۀ کړم
زۀ خو به مړ شمه کۀ ستا د سر ـ دعا ونۀ کړم

ټيک ده چې نۀ مرې څوک د چا د جدايي له غمه
ولې زۀ مرم چې د اشنا د سر دعا ونۀ کړم

ما نه دې نۀ پوښتې څوک ستا د ستمونو داستان
هسې نه چرته په خندا د سر دعا ونۀ کړم

تا باندې نۀ تېرېږي وخت چې څو ښېرې ونۀ کړې
زۀ يم بې کوره چې څو ستا د سر دعا ونۀ کړم

لاس به نې څۀ عابده ورسي د وخت اسمان ته
څو چې د زړۀ نه د وفا د سر دعا ونۀ کړم

٦ـجنوري ـ١٩٩٩ء مردان

wespring

نه څۀ خط شو نه خبر شو

دا په کوم طرف ته لاړې

دا په کوم طرف ته لاړې

هاغه زړۀ چې پکښې مینه

ستا د دوو سترګو خليږې

هاغه لار چې پکښې پلونه

ستا د تور راتور براڼۀ دي

خو اوس څۀ دي تشه دوره

د ارمان کور تاله شوې

دا په کوم طرف ته لاړې

دا په کوم طرف ته لاړې

بس يو غم دے راسره وی

ستا د سر خبرونه غوارم

بس يو ويره مې ده زړۀ کښې

ستا نه ولې هر څۀ هېر شو

دا خو مينه نۀ نفرت شو
بس خو ژوند مې اذيت شو
دا په کوم طرف تۀ لاړې
دا په کوم طرف تۀ لاړې
کور دې چرته لار دې چرته
شپه دې چرته سحر چرته
زړۀ خاموشه په دروا دے
دا ريښتيا شو کۀ دروغ شو
نۀ څۀ اورې نۀ څۀ وائې
نۀ ښکاره شولې نۀ پټ شوې
داسې ګرانه زندګی ده
داسې نۀ شی داسې نۀ شی
نۀ څۀ خط شو نۀ خبر شو
دا په کوم طرف تۀ لاړې
دا په کوم طرف تۀ لاړې

۲۶۔جنوری۔۱۹۹۹ء مردان



هم رانه سا اخلي هم کوره دعاګانې غواړی
د مینې زور څومره په زوره دعاګانې غواړی

هسې دې ګونجې په تندی راغلې نه سوال نه جواب
ستا نه نور څهٔ غواړی بې کوره ـ دعاګانې غواړی

لاسونه ئې اېښې ستا په سر او ښېرې ماته کوی
رقیب خاموش څومره په شوره دعاګانې غواړی

پرېوډه چې ووربېږی نن په زړهٔ د اوښکو باران
عمرونه اوشو چې له اوره دعاګانې غواړی

نهٔ ستا په مینه پاندې مړ ـ نهٔ په الزام د احساس
عابد خو ورک شو له پېغوره ـ دعاګانې غواړی

۲۷ـجنوری ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

بې لوظه ډاسې په اتبار کېږي زندګي نۀ کېږي
نوره له ما نه انتظار کېږي زندګي نۀ کېږي

دلته کېږي هر سړے له شوره هم په شور روان دے
دلته د زړونو په اختيار کېږي زندګي نۀ کېږي

ګل ته چې ګورمه نو لا مې خې روان دے ګرېوان
چا وې چې کېږي په بهار کېږي زندګي ۔ نۀ کېږي

ستا د خندا د ياد لمن مې اچولې په زړۀ
ګنې نو هسې خو دې ښار کېږي زندګي نۀ کېږي

ستا د ديدن يخې خولې مې زړۀ لمبه لمبه کړو
کېږي دروغ دي چې ديدار کېږي زندګي نۀ کېږي

لاس ته ئې مۀ ګوره عابده تکلف دې هسې
تاوان به وکړې تش اظهار کېږي زندګي نۀ کېږي

۱۱۔جنوری۔۱۹۹۹ء مردان



هم په تا يوازې هم په ما يوازې تېره شوه
دوه ورځې خوانی بس اشنا يوازې تېره شوه

ستا د زلفو سیورے مې ارمان د نظر پاتې شو
لاړه زندګی مې بې نوا يوازې تېره شوه

نوره رانه څه پوښتې اشنا د انتظار قیصه
بس څه په ژړا څه په خندا يوازې تېره شوه

ستا د مینې رنګ چې مې د زړه رنګ کښې شامل نه شو
اوس مې یقین اوشو چې ریښتیا يوازې تېره شوه

یو زه یم عابده بس پیدا د تنهای په ورځ
بې له مانه ووایه په چا يوازې تېره شوه

۱۵۔جنوری۔۱۹۹۹ء مردان

BLIND RULES

دلته احساس چا سره نشته د شلېدلي څادر
دلته لا سر کوم دے چې زۀ ورله پټکے وګټم
زما د کور انغړے تل د بل له پاره سوزی
زما د برخې نمر زما د کور چنو وخورو

دلته نظر کوم دے چې زۀ ورته اسمان وښايم
دلته خو خپل لاسونه هم مې د اتبار دښمنان
دلته ګلونه شته ۔ خو دلته وربلونه نشته
دلته کښې زړونه شته خو دلته ضميرونه نشته

دلته کښې خلۀ کوم ده چې زۀ ورته اظهار وښائم
دلته کښې تل ړانده په لاسو کښې ډيوې ګرځوی
د خېټې وير ۔ د مېې خوند تربه هر څۀ هېر کړے
ور تربه هېر دے د خپل کور خپله کوڅه ترې هېره

دلته گړیوان کوم دے چې ورله تې وتړم
دلته کښې لاس کوم دے چې زه ورله قلم ورکړمه
دلته کښې ستړګې کوم دی دلته کښې زړه چا سره دے
دلته د خپلې کوکې لاړې هم تاوان دے په خان
دلته اواز شته دے خو دلته کښې غوږونه نشته
دلته جندې ډېرې خو دلته کښې لاسونه نشته

دلته کښې ټول تیاره منابې وهی خان پسې دی
دلته ټول په پټو سترګو باندې خان پسې دی
۱۵۔فروری ۔۱۹۹۹ء مردان

قطعه

زما خوله خوله بدن تاودې هوا ته پروت دے
ستا په سر واورې راوریږی د ګلاب سپوری ته
زما او ستا ترون د زمکې او اسمان قیصه ده
ته د خپل خان سپوری ته ناست ۔ زه د کتاب سپوری ته

اخري خط

د خپلې تيرې ځوانۍ ياد نه مې لمبه وويسته
نن خو مې ستا خطونه ټول په رښتيا وسوزول
د اسمان ستورې مې ګواه کړل د ارمان د مرګې
د ژوند غمونه مې نن ټول په خندا ـ وسوزول

تندې مې ډېر خوله وکړه ـ خو مجبور نه شومه
زړه که مې ډېر ووې ـ چې څه کړه ـ خو مجبور نه شومه

لاس که مې ډېر په ريبلو شو ـ ما ئې غم ونه کړو
نن که د زړه په ډوبېدلو شو ـ ما ئې غم ونه کړو

د سينې هرې څريکې ډېر که ناقلاره کړمه
د سترګو سوی که د يو ورکې صحرا لاره ـ کړمه

شوندې که ډېرې راته بوسې شوې ـ ما هېڅ ونه وې
څکه چې ستا د عمر عمر وفا ـ هېڅ ونه وې
نن د خپل زړه هر اسويلي له په مرې غلے شوم
ستا په نامه مې هر څۀ خپل هم اشنا ـ وسوزول

۱ ـ مارچ۱۹۹۹ء مردان

داسي کيږي

چي زړونه دومره رانږدې شي نو بيليږي ولې
چي داسي کيږي ـ نو اخر دا داسي کيږي ولې

نه کۀ اوس هر څۀ دے نه وائي ـ ناروا کۀ انصاف
خو د خدا په نوم رښتي ورستو ژړيږي ولې

زۀ ګنهګار د محبت ـ زۀ جوارګر د ژوندون
ټيک ده ـ چي زۀ د خواني زهر ګوټم ـ چغې وهم
ټيک ده چي زۀ بره کاني ولم ـ نه پوهيږم
خو ـ ولې لاندے ورته هم پخپله زۀ ولاړ يم
خدائے زده چي خلق ولې غوټې ورکوي تندو له
خدائے زده چي خلقو په سرونو ولې لاس اېښي دے

چي دا د تيزې هوا شور دومره ټاويږي ولې
چي دا د خلقو ايمانونه خطا کېږي ولې
چي زړونه دومره رانږدې شي نو بيليږي ولې

چي داسي کيږي نو اخر دا داسي کيږي ولې

۱ مارچ ۱۹۹۹ء، مردان۔

☆

خبر دے ستا عابد کۀ گله نن په دار دے
دلته څوک چې مینه غواړي ـ گنهگار دے

ستا زلفو د هر تار ښکلا مې ژوند دے
ستا د برند نظر کاڼۀ زما وقار دے

اوس مې هیڅ حاجت د وخت اسرو ته نشته
چې ستا غم مې د بې کوره زړگي یار دے

له هر لوري راته خلقو سترگې سرې کړې
هر سړے د هاغه ښکلې طرفدار دے

زړۀ مې ستا دا راتلو غم داسې تار تار کړو
لکه گل چې پاڼې کړي هر بهار دے

نۀ چې وائي بس دے پاتې دۀ نو بیه دۀ
ستا د رغو کښې هم دا یو ښکلې کار دے

چې رامخ شي چرته لار کښې ښکته گوري
پوهه نۀ شم، چې انکار دے کۀ اقرار دے

د دنیا له غمه زړۀ مې په امان شي
خوښ له هر څۀ مې اشنا ستا انتظار دے

خان به یائېلي هم قاتل به شي عابده
مینه داسې جواري دۀ کاروبار دے

۵ مارچ ۱۹۹۹ء مردان

☆

اشنا سپرلی کېنې د انکار خبرې څۀ مطلب دے
ماته د هر ديدن د شمار خبرې څۀ مطلب دے

د ګل خوشبو راګېرول دی ستا د لاس رانيول
چپ شه په دې کېنې د اتبار خبرې څۀ مطلب دے

د شېږو بنار وو ستا د خلې د الفتونو کلے
خو بيا هم وکړې د زړۀ تار خبرې څۀ مطلب دے

د خوانۍ باد ئې څۀ وو بس خو د پردې بانه وه
نور به څۀ وايم د بهار خبرې څۀ مطلب دے

سر چې دې بائيلو خان دې خاورې کړو عابده عشق کېنې
بيا به سلګو سلګو د دار خبرې څۀ مطلب دے

۱۰ مارچ ۱۹۹۹ء مردان

☆

ستا دیدن څهٔ چې مونږ خو ستوړے چرته ونهٔ لیدهٔ
مونږ په نمر باټې شو مونږ سپوږے چرته ونهٔ لیدهٔ

مونږه خو ټول عمر قیصې د انتظار وکړلې
اورو " چې چا هم ستا پوړے " چرته ونهٔ لیدهٔ

چې ستا نامه تربنه ظاهره شی - چې زهٔ بړې شنهٔ شم
ما یو کتاب کښې داسه توړے چرته ونهٔ لیدهٔ

دلته بس هر سړے د وخت لحظو له ژوند ورکوی
چا هم دې چم کښې د سر سپوږے چرته ونهٔ لیدهٔ

هر بنګلے تا باندې عابده زوروَر شی راشی
ما ستا په شان په زړه کمزوروے چرته ونهٔ لیدهٔ

۲۴۔اپریل۔۱۹۹۹ء مردان

☆

غوارم د ګل د سر دعا د چمن سوال کومه
په هره ساه کښې ګله ستا د دیدن سوال کومه

لاس له مې نه راځي يو تار هم د خوانی د لمن
له خدايه بيا هم د نازک ګل بدن سوال کومه

نور مې د وخت ستمې باده بس دے مۀ نوله ژوند
خمه سپرلی ته په شلېدلې لمن سوال کومه

ته زلفې غوړې کړه ـ زۀ شونډې لمدوم په وښکو
ته لوپټې له وکړه ـ زۀ د کفن سوال کومه

زما او ستا په سوال کښې دغه بس عابده چل دے
ته له وطنه کوې ـ زۀ د وطن سوال کومه

۳۰ـاپریل ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

نۀ پکښې ستا خيالونه نۀ پکښې سپرلي وسيږي
اوس مې د ژوند په هره لار کښې تنهائي وسيږي

قرار مې هلته سکون هلته ـ خوشالي مې هلته
چرته چې شړنګ چرته چې جام چرته ساقي وسيږي

ستا د خندا د تصور خوارۀ په نور شنګه وي
بس لکه ګل کښې چې خوشبو اوسې مستي وسيږي

داسې دې غم زۀ د دنيا د الفتونو کور کړم
هر ليونے زما د زړۀ کور ته راځي ـ وسيږي

نوره به څۀ وي ستا د نوم د شکراني زندګي
خپل کور کښې هم لکه ـ عابد اوس ـ د پردي وسيږي

۳ـمئي ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

ډېر کۀ خاموشه دے بیا هم د مینې چل پېژنی
عابد چې پېژنی تا پوئې شه چې غزل پېژنی

د نظر غلا ده د بې کوره زړۀ ډرزا ده مینه
نۀ به څوک نۀ پېژنې تا به ټول محفل پېژنی

اوس دې ته څۀ ووایو ګله چې ګناه د چا ده
تا به ما پېژنی ۔ او ما ستا په بدل پېژنی

نۀ د بازار په پته پوئې او نۀ په نرخ د نظر
بس يو پاګل دے ستا مئين دے ستا ډرشل پېژنی

لاس ئې په سر چې ستا دمینې د رنګونو پروت دے
خلق عابد خکه "تاجدار" اوس د غزل پېژنی

۱۲۔مئی۔۱۹۹۹ء مردان

☆

زړه څومره چې پرېشانه وي پرېشان مې داسې خوښ دے
هر څو کۀ مې قاتل دے خو جانان مې داسې خوښ دے

هر ګل ئې ما کړلې د يادونو په چمن کښې
ګلرخ مې مې داسې خوښ دے ګلستان مې داسې خوښ دے

"دوه زړونه" چې زما او ستا د مينې شور پکښې وي
داستان مې داسې خوښ دے او عنوان مې داسې خوښ دے

هر څو کۀ مې سوالونه کړي د ژوند خو ځان بري وژنم
زۀ خوښ د درمان داسې او درمان مې داسې خوښ دے

منم چې مې عابده يو هم چرته پوره نۀ شو
بيا هم د ګل د مينې هر ارمان مې داسې خوښ دے

۲۰۔اپريل۔۱۹۹۹ء مردان

☆

شم به دروغژن چې به خطا درته ونه ګورم
داسې راته وګوره چې بیا درته ونه ګورم

هسې نه چې را دې شي به زړه کښې چې څه بنه دے څه
څکه خو اشنا زۀ به خندا درته ونه ګورم

ژوند نه به څوک څۀ رنګه اشنا لمنه څنډ وهي
خدائے مۀ کړه چې شم درنه جدا درته ونه ګورم

پاتې ئې احسان راباندې تلۀ هم کړه چې وې وئیل
پاتې به هله شي ـ چې به شا درته ونه ګورم

څۀ وکړم عابده ـ بیا دروګوم ـ چې زړۀ لرم
ډېر کۀ وایم دا چې به رېښتیا درته ونه ګورم

۲۱ـمئی ـ۱۹۹۹ء مردان



تینګ به قسم شوې د وعدې مزه دې زياته نه کړه
د انتظار د تورې شپې مزه دې زياته نه کړه

شراب دې راکړل خو ساقي نه دې مسکا نه نظر
نن د نشې بيا يو په درې مزه دې زياته نه کړه

ستا مينه څه ده خو لمنه د سپرلي رانيول
مسکے چې نه شوې د ورمې مزه دې زياته نه کړه

عمرونه وشو ـ دے کوڅه کښې دې خبر ونه غوښتو
ملنګه ـ بيا د سرې غرمې مزه دې زياته نه کړه

عابد دې ونه چېره لاس کښې دې جام وانه خسته
واعظه بيا نن د توبې مزه دې زياته نه کړه

۳۱ـمئی ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

ته او راتلۀ ـ بيا بې وعدې ـ نا دا دروغ دروغ
نمر راختل د توري شپې ـ نا دا دروغ دروغ

کلونه قات شو ـ مئے حرام ـ ساقي په کابه لاړو
پوري شو ور د مېخانې ـ نا دا دروغ دروغ

ربباره څۀ وائي چې "لرې لرې تلل به ښۀ وی"
په دې کميږی فاصلې ؟ ـ نا دا دروغ دروغ

پاتې به نن او به سبا کېنې وې ـ نور هېڅ هم نۀ وو
کنې نو بس دا دې راتلې ـ نا دا دروغ دروغ

وخت به خپل خان بې لارې کړې وی ـ دا ته څۀ وائې
د ظلمو پاتې شوې جذبې ـ نا دا دروغ دروغ

ښکاری عابده چې ايمان جوړ د رندانو ګوری
واعظ مجبور شو په توبې ؟ ـ نا دا دروغ دروغ

مردان

☆

ويه منم ستا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم
مړ مې کړه اشنا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

بس نۀ د رقيب راته څۀ مۀ وايه
زۀ به د دنيا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

زۀ د انتظار او غم عادت يمه
لاړ شه بې وفا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

ژوند چې مې اشنا ستا په نمرو کېښې دے
بيا به د دعا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

راغلے ـ په عمرونو پس مې ګر ته نن
وايه نۀ شها ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

نۀ چې شوې عابده په تيارو مئين
اوس به د رڼا ـ خبره دے ـ څۀ نۀ وايم

۲ـجون ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

نور رانه تا ـ څوک هم همروي نۀ شي
زړۀ نه درزا ـ څوک هم همروي نۀ شي

بس خو چې قیصه شوه د پښتو په تار
اوس پختونخوا ـ څوک هم همروي نۀ شي

همر ډېر تراخۀ ـ خو په خوږو کېښې بد؟
بس ـ ګله دا ـ څوک هم همروي نۀ شي

داغ ـ چې مې ستا مینه په لمنه ـ دے
بوئي شه چې ما ـ څوک هم همروي نۀ شي

ګرانه ده ـ ساقي او جام ته نۀ کتل
ژوند او بنکلا ـ څوک هم همروي نۀ شي

څۀ رنګه رقیبه عابد همر کړی تا
واوره بلا ـ څوک هم همروي نۀ شي

۳ـجون ـ۱۹۹۹ء مردان



ګل دے د بهار - ګورَے ډېر خيال کوه
ګوره په دې لار - ګورَے ډېر خيال کوه

زۀ د دوران سترګو کښې نظر يمه
وخته خبردار - ګورَے ډېر خيال کوه

دا ده پختون خوا د پښتنو وطن
خلق دي نادار - ګورَے ډېر خيال کوه

غير کښې به دې واخلي د نظر خلق
څي چې په بازار - ګورَے ډېر خيال کوه

دلته کښې واعظه پرهېز جرم دے
ده مېکده خار - ګورَے ډېر خيال کوه

چاله چې عابده بيا زرۀ ورنۀ کړي
نور اوسه هوښيار - ګورَے ډېر خيال کوه

۵-جون-۱۹۹۹ء مردان



نشته څوک یاره ـ خلق چرته لاړل
چې له دې ښاره ـ خلق چرته لاړل

دا توري شپې دا ورکې لارې او غم
اے انتظاره ـ خلق چرته لاړل

ووائی ماته اے زما تلوسو
دخدائے له پاره ـ خلق چرته لاړل

هر خوا چې ګورم سوداګر دي ګرځی
له دې بازاره خلق ـ چرته لاړل

ګرځی عابد لې په لې کړی سوالونه
څۀ شو بهاره ـ خلق چرته لاړل

۸ـجون ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

ﻣﺎنه چې تا جدا کړی زمانه ساه وباسی
دا زمانه څو له سرې جانانه ساه وباسی

اوس دې د نۀ راتلو یقین مې هم د تندې ژوند شو
هر څو کۀ وایم ـ انتظار دې رانه ساه وباسی

ورکړی رقیب له چې ګلاب او په تندی ئې خکل کړی
دا څو هم تا وژنی ـ زړګیه ستا نه ساه وباسی

څوک چې هم وینم رانه کړی ستا د ښکلا خبرې
څۀ په اسانه رانه ګوره ګرانه ساه وباسی

ﻣﻴﻨﻪ او بیا یکښې عابده څۀ پروا د څوانی
نا نا ـ هم دا څو له دې شتۀ ارمانه ساه وباسی

۹ـجون ـ۱۹۹۹ء مردان



اشنا د زړه له غمه مې خندلې چرته نه دی
وخت وشو ائینې ته مې کتلې چرته نه دی

وعدې راسره ډېرو بنکلو وکړلې زړګیه
دې در ته ولې څوک هم لا راغلې چرته نه دی

بس تور بوري کوی مې لمن چې ورته ګورم
په سترګو چې دې خلقو څه لېدلې چرته نه دی

قیصې خو د توبو خکه کوی په لونده ژبه
واعظ شراب په هېره چې څکلې چرته نه دی

عابده د خوانی د عمر څه کلکه نشه وی
هر څو که وی سرشار ولې لوېدلې چرته نه دی

۱۰-جون-۱۹۹۹ء مردان

☆

کۀ څوک راځی کۀ نۀ راځی - وروونه لرے ساته
پښتو په خائي ساته ساقي - وروونه لرے ساته

د نظر کلے دي اشنا د مینې تلۀ راتلۀ دی
څۀ پته زړۀ څۀ وخت مني - وروونه لرے ساته

ستړے خوانی دۀ ستوماني هر یو ارمان اخستي
یادونه لگی د سپرلي - وروونه لرے ساته

هره قطره کیله د گل په پانه شبنم
هره لحظه دۀ تنهائي - وروونه لرے ساته

زړۀ د دې زمکې د دې خاورې لیونے یرې زوندے
تۀ دې د سترگو اسماني - وروونه لرے ساته

خیر دې راځي دې رقیبان عابده څۀ به وشي
چې دې کیچه نشی سیالی - وروونه لرے ساته

۱۶ ـجون ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

جانانه چې بنائیست دې د ګلاب په رنګ کېږي رنګ دے
ژوند خکه زما ټول د اضطراب په رنګ کېږي رنګ دے

ګل ګل خواني دې اوسه ۔ تل په یاد د مینې مسته
هیڅ غم نشته که زړه مې د کباب په رنګ کېږي رنګ دے

هر ګام ئې لغزېدلې ۔ هر نظر ئې ورک له ژوندله
اشنا چې څوک د مینې د کتاب په رنګ کېږي رنګ دے

اتبار د څهٔ خبرې ۔ او باور د کومې لارې
دا دور خو بس ټول د یو سراب په رنګ کېږي رنګ دے

مسکا چې دې په شونډو د سپرلي ګلونه مست کړل
بیا مهٔ وایه چې څوک په کوم حساب په رنګ کېږي رنګ دے

پښېله کهٔ دې تېرے ۔ خو څوک تېرے لیلې نهٔ شي
ساقي عابد د میو د ډریاب په رنګ کېږي رنګ دے

۲۳۔جون۔۱۹۹۹ء مردان



تندے مې مات شو ولې تنده ساقي هاغه شان ده
د ژوند په لار کښې تر په در مې خواني هاغه شان ده

ځۀ بختور يمه ـ هر وخت مې رقيبان يادوي
ما سره يو چم کښې د يار دشمني هاغه شان ده

هيڅ فرق رانغې په خوئ کښې اسمان د خدا
لا په دې ښار کښې په ژړا زندګي هاغه شان ده

ويره په ګلو د ژوندون د مرګ چپه تېره کړي
اوس هم ملګرو اوازه د سپرلي هاغه شان ده

هيڅ وضاحت پکښې پيدا د ګل د مينې نۀ شو
ساه مې عابده د بې کوره زړګي هاغه شان ده

۳۰ـ جون ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

نۀ دې څۀ خط راغے نۀ خبر ـ جانانه چرته يې
پاتې شوم يوازې مازيگر ـ جانانه چرته يې

ما خو زندگي درنه غوښتله د ديدن په لاس
مړ دې انتظار کړم په گودر ـ جانانه چرته يې

داسې کۀ پالل وی تعلق ـ نو بيا خو ونۀ شوه
کړم چې تپوسونه در په در ـ جانانه چرته يې

لوظ دې دروغ ـ خندا دروغ ـ هم انتظار دروغ
څۀ رنگه پيدا مې شی باور ـ جانانه چرته يې

مړ دې شو عابد د انتظار په گردشونو کښې
څۀ چل دې چې نۀ راځې بهر ـ جانانه چرته يې

۸ـجولائی ـ۱۹۹۹ء مردان



زړګے به تورو شپو کښې دې ویښېږی او کۀ نا
زما محبتونه دریادېږی او کۀ نا

لېر لاس دې په اوترو سترګو کېږده فکر وکړه
چې خیال کښې دې زما تصویر جوړېږی او کۀ نا

تۀ زېړے د رخسار د سحر یو ځلې خو راوړه
بیا ګوره چې دا شپه د ژوند رنړېږی او کۀ نا

د زړۀ د درزا تار چې دې دم مینې په ساز سُر شی
نغمې زما د فن برې بیا وتېږی او کۀ نا

اشنا چرته به هېره کښې عابد ته چې رامخ شې
ریښتیا وایه یو دوه دې خطا کېږی او کۀ نا

۲۹۔جولائی۔۱۹۹۹ء مردان

☆

ولې رانه ځې ډاسې ګلفام ـ مابنام ته وګوره
نمر په پرېوتو دے په هر ګام ـ مابنام ته وګوره

مراوې دې چنار چنار قامت مه شه ـ قيامت مه شه
ځئ دې د ځوانئ د عمر بام ـ مابنام ته وګوره

سپور دے هر نظر زندګي سپوره ځوانی سپوره ده
هله ساقي شابه راوړه جام ـ مابنام ته وګوره

بيا راله پېغور د لمونتوب راکوه شل ځله
لېږ دې د زلفانو دې مابنام ـ مابنام ته وګوره

ولې خان به زوره ورکوې عابده ځئ کوې
لېږ دې ورکو لارو دې کمنام ـ مابنام ته وګوره

۵ـ اګست ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

نۀ پرہوتل ۔ بنکته ۔ کۀ تا نۀ کتل
زړونه ۔ بې الفته کۀ تا نۀ کتل

تلو تلو کېږې په شا ۔ د مینې لارو کښې
ما کتل بې پته ۔ کۀ تا نۀ کتل

ژوند خو سراسر یوه لمبه وه بس
دا له محبته ۔ کۀ تا نۀ کتل

دا صراحی۔ دا مستی ۔ و دا شراب
وو بې برکته ۔ کۀ تا نۀ کتل

ولې به عابد داسې بې کوره وۀ
دا له شرارته ۔ کۀ تا نۀ کتل

۷۔اګست۔۱۹۹۹ء مردان

☆

نه اخلې ازغې او نه ګلاب ـ لېونے شوې دے
تا غوارې زړګے خانه خراب ـ لېونے شوې دے

چا چې ستا د مخ پلو اخستې زړه ترې تلې دے
اور ئې لګېدلې په شباب ـ لېونے شوې دے

نه په لوظ ټينګ ـ نه په خپل ضد ـ نه په وفا ـ جفا
داسې راته ښکارې چې جناب ـ لېونے شوې دے

خه وکړې ساقي ـ واعظ غريب ـ مجبور ـ ستومانه ـ ورک
ګورې بس په پاڼو کښې ثواب ـ لېونے شوې دے

ځاغه عابد ته ئې چې غوښتلې ـ وه سم دم سړے
پروت وى ورځ او شپه اوس په کتاب ـ لېونے شوې دے

۱۰ـ اګست ـ ۱۹۹۹ء مردان



مانه به تا هېر کړی دا سپرلی ـ داسې به ونۀ شي
ګرانه ده زما خوره ساقي ـ داسې به ونۀ شي

زۀ ژوند ته نقطه وایم ـ او ته ئې دائیره کنې
چې شه زما ستا د زړۀ یاری ـ داسې به ونۀ شي

دلته څوک دی ـ څوک زما د زړۀ اواز ته غوږ نیسي
شور دے ـ خو خوره ده خاموشي ـ داسې به ونۀ شي

زۀ چې پکښې ګل غوارم نو زۀ پکښې باغي یمه
داسې کۀ دا ښار دوستي پالي ـ داسې به ونۀ شي

یا خو یار ګټلی دی او یا خان دی سوزول به اور
نوره خو عایده زندګي ـ داسې به ونۀ شي

۱۴ ـ اګست ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

هره لمحه د انتظار راته کلونه ښکاري
د طمعې ژوند دے هر ګلاب راته اوروونه ښکاري

ژوند د سپرلي چې د هر ګل ده قرباني د خواني
ما ته هر مخ کښې ښکلا ستا د مخ رنګونه ښکاري

ستورو کښې ته ـ سپوږمی کښې ته ـ نظر کښې ته ـ زړه کښې ته
چې نظر کوم طرف ته ځي ستا تصویرونه ښکاري

ما پکښې هیڅ هم بې له غمه اشنا ونه موندل
حیران یم خلقو ته ژوند څنګه بهارونه ښکاري

ښکله خو خاندې عابد ستا د تکلف ادا ته
تل سرابونه حاجت مند امیدونه ښکاري

۳۱ـ اګست ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

ما کہ دې زړۀ غوښته هم ما کۀ اشنا تۀ غوښتلې
زۀ ګناهګار خو نۀ ووم تولې دنیا تۀ غوښتلې

نۀ مې پہ خلۀ چرې بل سوال نۀ مې پہ زړۀ بل ارمان
زما د ژوند هر یو بېګا او سبا تۀ غوښتلې

هم شو بې لارې هم د ژوند لہ هر ګردشہ پاتې
څوک چې پہ تا مئین وو یاره چې چا تۀ غوښتلې

اوس خو مې دے دا یو ارمان چې پہ تا پاتېلمہ خان
بس چې تا زۀ غوښتلم ګله او ما تۀ غوښتلې

څوک پہ عابده خپل قاتل تہ داسې څنګہ وائی
د ژوند ډیوې مې پہ سلګو پہ ژړا تۀ غوښتلې

۱۰۔ستمبر۔۱۹۹۹ء مردان

☆

بس چې دې راوکتل ساقي ـ ماته منظوره ده
اوس که دشمني کړې که دوستي ـ ماته منظوره ده

نۀ هېرېږي ټول عمر د نوې مينې هغه وخت
هاغه دوره لفظونه چې ـ بس جي ـ ماته منظوره ده

زۀ په تا مئين ستا د لاس هر څۀ هر څۀ ژوند زما
بس کۀ ګل رالېږې کۀ ازغی ـ ماته منظوره ده

خار دې د خندا له هر اندازه هس کۀ وژنې مې
ستا دا تش راتلۀ هم دی کافي ـ ماته منظوره ده

بس خو چې عابده هېڅ لالچ پکښې ترمينځ نۀ وي
بيا دې رانه واخلې زندګي ـ ماته منظوره ده

۲۱ـ ستمبر ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

موسم خفه باران د گلو وربهدونکے نهٔ وهٔ
بنه ده چې راغلے کنی وخت ایساربدونکے نهٔ وهٔ

خله دې دومره خپلوه زړکیه څهٔ دې کول
هغه سرے چې د دې کلی اوسېدونکے نهٔ وهٔ

د درد رشته وه ـ هر څرېکه ارمان ستا د نظر
هر اسوېلے مې غریو نیولې راختونکے نهٔ وهٔ

ستا د بنائیست غرور کهٔ گله ماتېدونکے نهٔ وهٔ
پتکے زما هم د پښتون سر پرېوتونکے نهٔ وهٔ

بیا مې هم زړهٔ ورکوه ـ گوره دې عشق څهٔ پاگل کړم
بنهٔ راته پته وه عابده چې راتلونکے نهٔ وهٔ

۲۹۔ستمبر۔۱۹۹۹ء مردان

IMPRISONMENT

ښکه مې زړه واخلی دا د ګل او د سپرلو نخښې
جوړې په زور ښنګ کړم په تندی د خوشالو نخښې

دلته به ژوند خار خار تېروې خو غږ به نۀ کوې
دلته به تغمې د ستم خورې خو حال به نۀ وائې
دلته به په زړۀ اوروونه پړدې خو ولې خاندې به
دلته به په سر پنډوونه وړې خو به خاموش نظر
دلته به سينه به ازغی پړدې فرياد به نۀ کوې
ژوند به زولنو کښې تېروې خو په ازاد طرز
زهر به په ليو ليو ښکې خو ولې مرې به نا
ښان به په تېره چاړه وهې خو اه به نۀ کوې

دا د دې دوران د رواج ګلکې د موډو نخښې
دا د دې وطن صرف به نوم دی د پښتو نخښې

ښان له به ګرېوان په تار ګنډې خو ستن به نۀ غواړې
ښېته به په چغو مړوې دوړی به نۀ غواړې
منډې به وهې ـ خو د منزل تپوس به نۀ کوې

زړۀ به ویخ لرے خو به هر څۀ به پښتوې سترګې
خان به له هر څۀ خبر ساتي به ناخبرو کښې
ژبه به تېره خله کښېبن لرې خو ولې ګونګ به يې
مينه به کوې خو ولې حال به چاته نۀ وائي

دغه دا نظام دے او هم دا د ضابطو نخښې
دا د دې وطن صرف په نوم دی د پښتو نخښې

دلته زندګي به تېروې خو سا به نۀ اخلې
دلته کښې خوله به تړلې خو ګل به نۀ غوړې
دلته خپل ضمير به خرڅوې خو به بدله تل
دلته به په نمر سر سپينوې - خو سپين به نۀ وائي
دلته به جنابه به لاس کښې ورې - تيوس به نۀ کوې
دلته د خواني زهر به ښکې سلګي به نۀ وهې

ژوند به دې خپل وی خو خپل اختيار به ګورے نۀ کوې
دا دلته قانون دے داسې کار به ګورے نۀ کوې

نو څنګه اخر څنګه شولې دا د ازادو نخښې
جوړې په زور څنګ کرم په تندی د خوشالو نخښې
۵ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۹ء مردان

بدنام

په ما الزام دے چې زۀ بنګلو ته ډېر ډېر ګورمه

هغوی ته څوک هم وائي نا چې دا نازونه څۀ کړي
دا فرېبونه د نظر دا مکھړونه څۀ کړي
د ګلو لختو په مرو زړونو ګزارونه څۀ کړي
اے زردارانو په مظلومو دا ظلمونه څۀ کړي

بس خو چې هر يو لاس ته ګورم ۔ ماته ګوته نيسي
په ما الزام دے چې زۀ بنګلو ته ډېر ډېر ګورمه

دا بې قيامته زلزلې دلته څوک هم نۀ ويني
دغه مستي او پلوشې دلته څوک هم نۀ ويني
دا مجبورۍ دغه مزې دلته څوک هم نۀ ويني
دغه پيالې دغه نشې دلته څوک هم نۀ ويني

بس خو چې هر يو لاس ته ګورم ۔ ماته ګوته نيسي
په ما الزام دے چې زۀ بنګلو ته ډېر ډېر ګورمه

دا په پړونو کښې قيامت د ځوانو مرګ نۀ مني
نڅه نڅه کتل د نوستې زړګو مرګ نۀ مني
دا په تال تال هر يو قدم له مستو مرګ نۀ مني
دا هواګير هواګير ناز د غمزو مرګ نۀ مني

پس خو چې هر یو لاس ته گورم ـ ماته گوته نیسي
په ما الزام دے چې زۀ ښکلو ته ډېر ډېر گورمه

دغه د سرو شونډو ستونه ـ خبر دے خبر دے وي به
چې لوېټو کښې ورې زرونه ـ خبر دے خبر دے وي به
شرنګد ښکرو اشارتونه ـ خبر دے خبر دے وي به
د گل بدن نمائېشونه ـ خبر دے خبر دے وي به

پس خو چې هر یو لاس ته گورم ـ ماته گوته نیسي
په ما الزام دے چې زۀ ښکلو ته ډېر ډېر گورمه

دغه چې کیږي د عصمت تجارت هره لار کښې
کیږي چې لوبې په نامه د الفت هره لار کښې
دلالان گرځي د ښائېست او عزت هره لار کښې
"زاشه کۀ اخلې" په ښکاره کوي ست هره لار کښې

پس خو چې هر یو لاس ته گورم ـ ماته گوته نیسي
په ما الزام دے چې زۀ ښکلو ته ډېر ډېر گورمه

٦ـاکتوبرـ١٩٩٩ء مردان

UNIQE

اے سپوږمۍ مۀ راخېژه زۀ په رڼا څۀ کومه
زۀ د تندې په تور خال ورک د تورو شپو مئين يم
زۀ د دنيا په دې ښکلا او سبا څۀ کومه
زۀ د نرش نرۍ مسکا په پلوشو مئين يم
دلته کېنې خان سېزل هم جرم دے ژوندون هم سزا
اے بهارونو دا ورمې د تورو زلفو څۀ دي ؟
لرې کړئ - لرې شي زما ګرېوان شلېدلې بنۀ دے
زۀ د ارمان ريښې لمن په رېښم نۀ ګنډمه
زما د سترګو دا سرخي د افق زړے نۀ دے
زما په زړۀ د شفق غم لکه د وينو پروت دے
زۀ د ژوندون په خضاک تود تنور ته نۀ غولېږم
زۀ تېرے ګرځم خو له زاڼو کټوري نۀ غواړم
دا چې مې څومره ظلم وکړو په خان دا ډېره ده
نور د سراب د پلوشو په تمنا نۀ کېنم

نۀ کۀ راځې او کۀ نا زړے کۀ راوړې او کۀ نا
بس اوس د زړۀ نۀ منم نور په نوم د چا نۀ کېنم

۱۰ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۹ء مردان



غوبنتل چي دي د زلفو په تالونو کښې خوبونه
زړګیه اوس کوه په زنځیرونو کښې خوبونه

د مینې انقلاب وی کۀ د وینې انقلاب وی
یارانو خو حرام شي په ګلونو کښې خوبونه

څۀ واخله کۀ خفه يې ډېر نه خار شه زندګی مې
ژوند هسې هم اشنا دې تېول اوررونو کښې خوبونه

تر څو به سپین ویاسمه له سره دي ارمان کښې
پېدا به شي د سترګو په جامونو کښې خوبونه

هم ژوند مې پرې بائیللې هم ځوانی مې پرې داو کړې
ستا ځېره کښې خوبونه بهارونو کښې خوبونه

یقین نۀ دے چې اوس هم د رنا زړے به وشي
هر څومره کۀ مو وکړک قیامتونو کښې خوبونه

یواځې سترګې ستا عابده سرې نۀ دی شوګیر کښې
لا څا هم کړې نۀ دی په کورونو کښې خوبونه
۱۳۔اکتوبر۔۱۹۹۹ء مردان

☆

ورک شومه خو ما له دې طوفانه وتل زده نهٔ کړل
ما په محبت کښې له تاوانه وتل زده نهٔ کړل

وبر کهٔ سرګردانه کړمه ستا د مخ او زلفو خيال
يا مې هم د مينې له ګردانه وتل زده نهٔ کړل

تا چې د خپل ناز او له ادا نه وتل زده نهٔ کړل
ما هم د پښتو ضد نه جانانه وتل زده نهٔ کړل

نور کهٔ د دنيا هر يو ستم وۀ تربنه ووتم
وس خو يو له کوره مې بې ستا نه وتل زده نهٔ کړل

لا مې رۀ خوانی خو ستا له نومه مې توبه نهٔ کړه
ما لکه واعظ له خپل ايمانه وتل زده نهٔ کړل

خې هرې مسکا پسې په هر ښکلی مړ کيږې ته
تا له دې عادته عابد جانه وتل زده نهٔ کړل

۲۲۔اکتوبر۔۱۹۹۹ء مردان

☆

يــــو تــــهٔ
بــــــل زړهٔ

بې ســــتا
تـــيــــارهٔ

راكـــــــره
نن خلــــــهٔ

بس كــــــره
اے زړهٔ

غــــــــواړي
تـــهٔ حــشـهٔ

عـــايــــد
ســـپــــيرهٔ

☆

انتظار
د مرګ وار

بې ستا زړه
ناقرار

غواړم تا
لار په لار

ستا نه سر
خار شه خار

چېرته خې
ما نه يار

ستا عابد
شو په دار

☆

زهر که شراب وه خو يار ؤمې څښتيل
چرته مې کوې شو انکار ؤمې څښتيل

ګل چې په شبنم ولامبل هيڅ نه وه
زه شومه په دې ګناهګار ؤمې څښتيل

شپه چې ستا د ياد بادونو مسته کړه
بيا که وه خزان که بهار ؤمې څښتيل

پروند نه وم چې تلمه د مقتل په لور
بس خو په اتبار او اتبار ؤمې څښتيل

تا چې ساقي وکتل اوده اوده
بيوئي نه شومه بيا ستا خار ؤمې څښتيل

نه مې څښتيل عابده چې مې زړه مست وه
يار چې راوايس کړو ربار ؤمې څښتيل

۲۷۔اکتوبر۔۱۹۹۹ء مردان



هم رانه تا غواړي هم خواني دا خلق څۀ کوي
داسې به شي ګرانه زندګي دا خلق څۀ کوي

کړي به هر تپوس مې راته ستا خبرې ستا صفت
هېڅ بې هېڅه زړۀ مې دړدوي دا خلق څۀ کوي

زړۀ به چاته وکړم ستا د شپو ستا د سحر قيصې
دلته کښې به ګل او به ازغي دا خلق څۀ کوي

زړۀ خو چې راځمه ـ نو راځمه د ديدن به نوم
خدائے خبر چې څۀ کښې د لالي دا خلق څۀ کوي

دلته به عابده څوک پوهېږي ستا د زړۀ به درد
دا له کاڼو جوړ دي ـ شاعري دا خلق څۀ کوي

۳۰ـ اکتوبر ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

وژني مي قاتل په نظر نۀ راځي
ډوب شومه ساحل په نظر نۀ راځي

زړۀ مي د سپوږمۍ هسي داغ شو تپول
ستا چې مخ او تل په نظر نۀ راځي

څومره څۀ زغملي لېوني نۀ دي
هسي يه بسمل په نظر نۀ راځي

څو چې د رڼا نه مخکښي لار نۀ شي
سپوږمې مقابل په نظر نۀ راځي

ستا د مئين زده د هر جهان سبق
هسي يه کامل په نظر نۀ راځي

عمر مي سفر سفر کښې تېر شو تپول
چرته هم منزل په نظر نۀ راځي

لا مي ره عابده خواني تته شوه
هيڅ هم څۀ حاصل په نظر نۀ راځي

۳۱۔اکتوبر۔۱۹۹۹ء مردان



اوس مې یادوې کۀ نا
شمعې بلوې کۀ نا

زۀ به انتظار کوم
خبر کۀ ته راځې کۀ نا

اوس به کتابونو کښې
اشنا ګلونه پردې کۀ نا

زۀ خو دې هر څۀ منم
ته کۀ مې منې کۀ نا

مینه کښې زما هسې
ته زړۀ سوزوې کۀ نا

مئ له ساقي سترګو نه
نن عابده څښې کۀ نا

۱ـنومبر ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

وامې خله زړه واخله زندګی خو چې خفه نۀ شې
ښار درنه اشنا زما خوانی خو چې خفه نۀ شې

خبر دے سوزوه مې په لمبو د مینې هر وختې
دغسې رالېږه تش ازغی خو چې خفه نۀ شې

دلته حقیقت د زندګی اشنا څۀ داسې دے
غم به زړه کښې پړدې چې څومره وی خو چې خفه نۀ شې

ما ته د بې مخو د وعدو او ایمان پته ده
تل به دې زړګیه رنځوی خو چې خفه نۀ شې

خدائے دې مسافر کړه چې عابده به هر چا شې ګران
خط به دې بیا هر څوک خکلوی خو چې خفه نۀ شې

۲۔نومبر۔۱۹۹۹ء مردان

☆

نه سپرلي راغې او نه نه دا قیصه چاته وکړم
د دې بې رنګه زوندانه دا قیصه چاته وکړم

نه چرته تار وه د ګرېوان نه چرته ورک انتظار
ستا د ستم او د خپل زړه دا قیصه چاته وکړم

ویره مې ستا د تاوده خوی چې ده به زړه کښې پرته
حیران یم زه د خپل ساړه دا قیصه چاته وکړم

زړه لړزېده ـ لاس رېږېده ـ یخه هوا ـ خواني وه
ساقي نشه نشه کاته دا قیصه چاته وکړم

هاغه عابد ـ هاغه به تا باندې مړ هاغه پاګل
څوک به ئې واوري د هغه دا قیصه چاته وکړم

۲ـ نومبر ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

ګلاب ګلاب موسم کيښي د انګار خبرې وليکې
هر خط کښې راته ګل د انتظار خبرې وليکې

زۀ کله چې ترې سوال د زلميتوب د ورځو شپو وکړم
هوښيار راته ګل ياد کړی د بهار خبرې وليکې

موسم د مينې جام شي ـ هوا وخانګې وخت وڅورلي
ظالم په داسې رنګ خمار خمار خبرې وليکې

اوس لفظ د انقلاب خو ډېر اسان کړو د الفت قيصو
څوک وليکي د زړۀ څوک د رخسار خبرې وليکې

عابد هسې پاګل دے چې په هره کرښه لاس ميږي
څوک څنګ به په ديوال چاته په لار خبرې وليکې

۵ـنومبرـ۱۹۹۹ء مردان



زې چې په قسمت مې مجبورۍ شوله
ګله محبت مې مجبورۍ شوله

مينې راله ګرمه کړه د زړه وينه
اوس خو شرارت مې مجبورۍ شوله

څومره مجبورۍ دي ژوند ته وګوره
څکه ليکل خط مې مجبورۍ شوله

شور د تنهاى راله ساه ډوبه کړه
چپ شه بغاوت مې مجبورۍ شوله

بله لاره نشته دې عابده اوس
تا سره الفت مې مجبورۍ شوله

۹ـنومبر ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

څۀ چې د جناب دی دروغ نۀ وایم
خدائیګو لاجواب دی دروغ نۀ وایم

سترګې ئې جامونه ـ نظر مست شراب
شونډې ئې ګلاب دی دروغ نۀ وایم

چا چې ساقي ځیتلی دی تراوسه لا
ټول خراب خراب دی دروغ نۀ وایم

څۀ څۀ صفتونه به د ګل کوم
بس خو بې حساب دی دروغ نۀ وایم

ستا د یاد هوا شو د غزل غزل
لاس کښې مې شراب دی دروغ نۀ وایم

ستا ټولې خبرې هم عابده اوس
[illegible] د کتاب دی دروغ نۀ وایم

☆

مې چې راوریږی ستا د سترګو نه
ژوند وی ۔ پیدا کیږی ستا د سترګو نه

ماته چې پرده شوه ۔ نو اوس نورې هم
سترګې مې شرمیږی ستا د سترګو نه

دوه ورځې مهلت دے ۔ دا د ژوند هوا
وګوره چې څۀ کیږی ستا د سترګو نه

چا وې چې ژوند نشته په دې کلی کښې
دا دې راوریږی ستا د سترګو نه

نور د دې د پاڅه عابد څۀ وکړی
بس ځو قربانیږی ستا د سترګو نه

۱۲۔نومبر۔۱۹۹۹ء مردان



نه زندګي او نه هوا د سپرلي داسې ښکاري
دا رنګيني خو بس په تا د سپرلي داسې ښکاري

خار دې له زلفو لېږ راګوره چې خوشبو تازه وي
هيڅ مزه نشته بې له تا د سپرلي داسې ښکاري

ښکاري چې بيا به تنهای وخوری د ګلو خواني
دا علامې راته اشنا د سپرلي داسې ښکاري

يو ګوټ څکل ايمان کتل دی ـ بائېبل نه واعظه
تاته خواني او بيا ګناه د سپرلي داسې ښکاري

هر خوا چې تنده وچې پاېي هم عابده شور دے
جوړ اېوته شوله دعا د سپرلي داسې ښکاري

۱۲ـنومبرـ۱۹۹۹ء مردان

☆

وڅښیه وڅښیه دا د جنتونو رنګیني وڅښیه
دا د ښکلو مینه د مئین زړونو خواني وڅښیه

دا شراب دی ـ دا د زندګی د هر یو درد علاج
دې کښې کبر مۀ کړه ـ دا خورده ده د ساقي ـ وڅښیه

مه غواړه ستونه ـ هس ردبخوا کړه لاس ـ واخله جام
خدائے خبر کۀ بیا راشي دا وخت سپرلي مستي وڅښیه

ستا خو هر انداز د سمندر او زۀ یو څاڅکے یم
زۀ به ستا خاني وڅښیم خو تۀ دا غریبي وڅښیه

څله د پردو په لارو ځي خان په غم اړوې
تل ئې دا واعظ حلالوی حراموی وڅښیه

کوم کفر به وشي ـ کۀ نن سپینو ته سپین ووایم
پرېږده نن عابده د انګورو قرباني وڅښیه

۱۳ـنومبرـ۱۹۹۹ء مردان

☆

ما ډرله زړه ډکړو او ګوره تا ټوټې د کاغذ
خود به اوس نولي مې په سر هوا ټوټې د کاغذ

ډرزېږه مۀ ـ زما زړګيه ـ هسې مۀ ډرزېږه
دا به نوستلي وي مستي کښې چا ټوټې د کاغذ

هاغه يوه ټوټه پېدا نۀ شوه چې ستا د نوم وه
کښې راټولې کړلې ډېرې ما ټوټې د کاغذ

شي کله کله بې قيمته بهر وغورزېږي
چې کله ژوند کله خېګړ هم دا ټوټې د کاغذ

هېڅ سمون نۀ خوري هر يو جوړ ئې څۀ بې جوړه شان دے
ژندګي څۀ ده بې له تا والله ټوټې د کاغذ

خورې تيندوکونه هر نظر پرې او هم ژړونه نيسي
دا د ګل پاڼې دي پرتې کۀ نا ټوټې د کاغذ

چا ډرته وې عابده مينه په خطونو کوه
اوس ګرځوه څېرې جولي کښې دا ټوټې د کاغذ

۱۵ـنومبر ـ۱۹۹۹ء مردان

☆

لړے رانه مۀ خه دا ستم هلکه مۀ کوه
ستا دې وی زما په سر قسم هلکه مۀ کوه

ستا په هر نظر د خوانۍ زور او زۀ بې زړۀ بې زړۀ
دومره بې روخې په هر قدم هلکه مۀ کوه

لاس مې په اوګه مۀ ږده په لاره کېنې وډرېږه مه
کلے تول خبر دے چم په چم هلکه مۀ کوه

ته چې سترګې اړوې لاس نيسې دنمر سترګې ته
داسې چاسره نۀ کړی عالم هلکه مۀ کوه

نور به وضاحت مې د زړګی د ټرزېدو څۀ وی
ونۀ مې خوری ستا د مينې غم هلکه مۀ کوه

هر ځائې کېنې ريښتيا عابده هر قدم اصول اصول
سر به دې واللہ چې شی قلم هلکه مۀ کوه

۱۸۔نومبر۔۱۹۹۹ء مردان

☆

څومره رانه لرے کړې وخت څومره رانژدې کړې وخت
اے زما زړګيه تۀ هم ښۀ نرې نرې کړې وخت

سا مې د ارمان د ګلو خېژی په کتو د لار
خدايه مازيګر کړې خدايه زر ئې د وعدې کړې وخت

يا ښکا ستا ياد او ما زړې نوې راسپړدې وې
يا فاصلې لنډې د ديدن راته وړدې کړې وخت

چا هم ستا تصوير سره خبرو ته پرې نۀ ښودم
ؤس راباندې سترګې د هر لوری نه راسرې کړې وخت

تا عابده هم چرته سر ټيټ نۀ کړو خو ګوره ته
ښۀ بنګړې ربزه ټوټې ټوټې کړې وخت

۲۷-نومبر-۱۹۹۹ء مردان



ستا خپلېدۀ مې يو حسرت شو اوس به څۀ کومه
کله به زړۀ مې جوړ قيامت شو اوس به څۀ کومه

د دې ربړه ربړه خوانۍ راټولېده کېږ نۀ دے
يو په دوه زيات د ژوند قيمت شو اوس به څۀ کومه

د هوا شور هم راته ستا د راتلو غېږ ښکاره شي
ښکارى تعلق مو محبت شو اوس به څۀ کومه

وېر کۀ مې خان د مجبورى له نومه لرې ساتۀ
تاته کاتۀ مې يو عادت شو اوس به څۀ کومه

د لار خيره ده سحر او ماښام سترګې لګى
عابده يو کلے محلت شو اوس به څۀ کومه

۲۹ـنومبرـ۱۹۹۹ء مردان



مانه دې څوک ستا د چم محلت پوښتنې نۀ کوی
کوره چې څوک وکړی محبت پوښتنې نۀ کوی

ما وې ساه مې لاړه ـ مېلمنه شوه د سلګو په کور
لاسې په یو ساه څوک په هیبت پوښتنې نۀ کوی

دا د زړۀ سودا ده دا څۀ وېش د ګل د نوم نۀ دے
هر څه کېږي اشنا څوک د قیمت پوښتنې نۀ کوی

خدائے دې باغ تاله ستا د وجود د خوشبویو نۀ کړی
نورې دې دا خلق د قیامت پوښتنې نۀ کوی

ژوند ئې ستا نظر پسې لاهو کړو خو په چپه خلۀ
ګله د عابد دې دا عادت پوښتنې نۀ کوی

۲۹ـ نومبر ـ ۱۹۹۹ء مردان



ښکار ده د اقرار او د انکار څۀ لار ښکار ده
اشنا په محبت کښې د اظهار څۀ لار ښکار ده

تر څو به د خيالونو په دنيا وي ديدنونه
يو بل له اوس د تللو د اتبار څۀ لار ښکار ده

يا خان پرې داو کړل دی او يا زړۀ د يار ګټل دی
اوس نشته دې زړګيه بله لار څۀ لار ښکار ده

ژوندون دې لګولې اور د هر ارمان په څانګه
ساقي د مستو سترګو د خمار څۀ لار ښکار ده

ټول عمر خو مې تېر شو بې درکه بې درکه
عابده چې په مخه راشي يار څۀ لار ښکار ده

۳۰ـنومبرـ۱۹۹۹ء مردان



ارمان مې له مودو وه د ګلونو امېلونه
وخت راکړل په تحفو کښې د غمونو امېلونه

واعظ دې ګرځوي لاس کښې تسبې ـ شرابي جام
مونږ تل په ګرځوو ستا د يادونو امېلونه

ما څه وې ـ خو چې تا وې ـ نو ما هم وې چې ازغي دي
پراته که وو په لار د بهارونو امېلونه

اوس سترګو ته به خود ستا د تندې خالونه وايم
کوډې جوړ کړه په تار کښې د رنګونو امېلونه

عابده رقيبان به وي تول عمر ملامته
مونږ واچول خپل غاړه ته د شعرونو امېلونه

۸ـ ډسمبر ـ ۱۹۹۹ء مردان



ستا یو یو یاد لکه د سا په خپلو زړونو کښې پړدی
ستا مئین اوس هم د شوګیر ډیوې تاخونو کښې پړدی

زما د زړه دې لوټې لوټې ښار ته نه راګوری
خلق لا اوس هم د ګل پاڼې کتابونو کښې پړدی

ایښې مې ستا هر یو ستم داسې په زړه کښې ګله
لکه چې ښغلې زیړ شرشم په وربلونو کښې پړدی

خوموره دې ګران ورته زما د لېونتوب انتظار
څۀ په اسانه د راتلو نېټې لوظونو کښې پړدی

اوس محبت عابده هم لکه لازمی مضمون دے
چاته چې ګورم نو خطونه کتابونو کښې پړدی

۲۔دسمبر۔۱۹۹۹ء مردان



په یو حالت کښې هم له وخته په شا شوي نهٔ یو
هر څه چې کیږی له خپل بخته په شا شوي نهٔ یو

ستا ستمونو داسې کلک کړو چې قسم دے اشنا
واغله کهٔ ژوند کښې هره سخته په شا شوي نهٔ یو

مونږ محبت کښې هم رقیبه تل ګټلي دي خان
مونږه خو چرته هم بدبخته په شا شوي نهٔ یو

تا کهٔ واعظه ډېر له ژونده ویرولو په مرګ
یوره دي نهٔ شوه دا منخته په شا شوي نهٔ یو

منم عابده ژوند کښې هر رنګه وختونه راغلي
جوړه کړه غم کهٔ رانه لخته په شا شوي نهٔ یو

۳۔دسمبر۔۱۹۹۹ء مردان



تۀ ځځۀ راته مسکے شوې شبنمي شوې هواګانې
چهړی مې ګام په ګام شرارتي شوې هواګانې

بې واره چې په زړۀ کښې ستا یادونه مې راسپړی
جوړ ګل شوې فضاګانې د سپرلی شوې هواګانې

ستا سترګو نه ئې غلا ستا د وربل تیارو کښې وکړه
نشه نشه رالړومی شرابی شوې هواګانې

تا نوم مې په خندا کښې غلے ځځۀ واخست له نازه
واخی لمن مې چهړی جوړ شکی شوې هواګانې

بنکاریږی چې چا بیا د لوېښتو نه وېۀ چوڼ کړې
عابده بنده سبزی نسجنی شوې هواګانې

٤۔دسمبر۔١٩٩٩ء مردان

☆

هسې لېونو کښې به خان شمارم داسې هم نهٔ يم
تاته چې د زړهٔ سره څنګه ښکارم داسې هم نهٔ يم

ناست يم ستا به طمع باندې ځکه چې مئين دې يم
لاړې به د هر يې مخې ځارم داسې هم نهٔ يم

(تيک دهٔ چې د وخت به هم څهٔ زور وی خو د زړهٔ سره
هر څهٔ به له ويرې ورته سپارم داسې هم نهٔ يم)

تهٔ زما د زړهٔ د هر ارمان د درد خوږه تپه
تا به د هر ښکلي سره شمارم داسې هم نهٔ يم

ما کښې تبديلي د قول او فعل عابده نشته دے
چا وې ؟ دا چې خلقو ته څنګک ښکارم داسې هم نهٔ يم

۵-دسمبر-۱۹۹۹ء مردان

☆

څنګه څنګه تېر شو په ما عمر تاته څۀ پته
مرګ وۀ بې له تا نه اشنا عمر تاته څۀ پته

خود به مې ماتیږی اوس په زړۀ د وخت ازغی د زور
تېر مې کړو د ګل په دعا عمر تاته څۀ پته

وخت د پښېماني واعظه نۀ دے توبه وباسه
دا سپرلے ساقي او بیا دا عمر تاته څۀ پته

نور به د خوانی درته د کوم سر نه قیصه کووم
څنګه وی څۀ رنګ د هوا عمر تاته څۀ پته

چرته مې عابده بهرزو کیږی اشنا ووئیل
څومره په سوال غوښتې ما ستا عمر تاته څۀ پته

۱۳۔دسمبر۔۱۹۹۹ء مردان



جدا به نۀ شو چرې چې له زړونو یارانه ده
زما او د غمونو له عمرونو یارانه ده

هر ګل ته غاړه وځم هر ازغي پاندې ځان وژنم
رشته ده د دردونو د غمونو یارانه ده

راځه ستا نه قربان خو خلق داسې وائي
دې چم کښې د دوو تنو په ګلونو یارانه ده

دا بنار کۀ ډېر پردے دے خو چې نۀ پکښې وسېږې
ګل ما پکښې پالليې له ګلونو یارانه ده

څوک څۀ رنګه راګوز به ئې له سر د غزل تاج کړي
ملګرو د عابد او د شعرونو یارانه ده

۱۶-دسمبر-۱۹۹۹ء مردان

☆

پتیږي نا ډېر کۀ په غلا چا محبت کړے دے
هر چا ته پته ده چې تا ما محبت کړے دے

پرده ساتل د ژوند د غم څۀ داسې جرم نۀ دے
څۀ وشو ؟ مونږه کۀ په غلا غلا محبت کړے دے

څوک په وخت رسي دلته څوک د موسم نیت پېژني
دلته کښې چا زما په شان ستا محبت کړے دے

اوس لاس زما په سترګو ږدي چې ملامت وینې خان
اوس په بنکاره وائي چې او ما محبت کړے دے

چا چې هم څومره نفرت کړې دے عابده مونږ نه
ورسره دومره مونږه تل لا محبت کړے دے

۲۰ دسمبر ۱۹۹۹ء مردان

SALE + ME

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

زه د وجود حصار کښي تول ریزه ریزه وسیزم
زما ګریوان تول بس د اوښکو په تارونو تینګ دے
زما خیګر ذانه زما هر درد نوستلي
هس کۀ مي وېشي په دې ښکلو احسانونه کوي

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

په د هرې لوېتي د قهر سېورے شوي
زه د دوران چېو وهلي نرېدلي کمر
زه سقراط نۀ يم ـ خو ما تل پياله د زهرو څښلي
ما له لېږ لاس راکړه ما پاڅوه چې ځان ووينم

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

ماله لږ رنګ د خپلو شوندو له سرخي نه راکړه
په ما د زلفو دا ربښمين ربښمين څادر واچوه
زما وېښتو کښي دا نازکي ګوتي وګرځوه
خبر دے کۀ بيا مي نۀ هم وژني د دې خلقو په شان

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

ما هره ورکه لاره تل په خپل اتیار وهلي
زه ډېر زیات تږی بلها ستړی بلها ستړی یمه
ما د شرابو هسې ونوله په تولو تېرو
ما مړ کړه خبرې خو بس ما لږ په ارام وده کړه

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

زما د لاس نه د جهان هره خندا وتي ده
بس خو یو ساه ده دا هم ستا د مست نظر په ارمان
زما په سترګو کښې بلها ستونه پراته
زما بې رنګه غمېږه غواړي خوشبو ستا د بدن

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

ما د بلها لېچو بنګړي مات کړي شور مات کړي
خو بیا هم ما وقار د مینې د الفت ساتلي
ما بلها عمر تل په ورکو لارو تلل کړي دي
خو بیا هم ما دا خواني خپله امانت ساتلي

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

زما په تورو تورو شپو کښې رنګینې پېدا کړه
زما د ژوند په تنهای کښې زندګۍ واچوه
زما په اوچو اوچو شونډو پسرلی راوله
زما په غاړه کښې زنځیر دمحبت وتړه
زما بې کوره سا بې رنګه ژوند له ورکړه اظهار
په ما تاوان شه تاوانی مې کړه کنګال مې کړه نن
زما د شونډو نه سوالونه لاجوابه ورک کړه
ما خان ته جخت کړه ما د دې دور له شوره پټ کړه
زما په سر د خپلې مستې لوپټې سیورے کړه
زما په سترګو باندې لاس کېږده چې هیڅ نه وینم

پس ماله مینه راکړه ـ ما ته محبت وښایه
ما ته د ژوند د دې قیصو نن حقیقت وښایه

راشه زما د ارمانونو سوداګره راشه

۲۴ـډسمبرـ۱۹۹۹ء مردان

☆

مینه به یو بل سره کوو حالات که هر څه وی
ژوند به هر قیمت کیږي تېروو حالات که هر څه وی

مونږه ساقي تېرے بغاوت روایت څه کوو
مونږه به په لیو لیو څښو حالات که هر څه وی

چرې بې اسرې پرېښودې نه شو د رشتو کوڅې
داسې به تر ترعمره څو راڅو حالات که هر څه وی

څې دې یاران کړی دې خپله خوښه وخت رقیب شه دے
مونږه خو به تل د زړه منو حالات که هر څه وی

یو ځل مو عابده بس وئیلې دی ۔ چې تول عمر
ګل به یادوو په ګل به مرو حالات که هر څه وی

۲۶۔دسمبر۔۱۹۹۹ء مردان



ستا د نظر غشي جناب لا چا هېر کړي نهٔ دي
په لپو لپو څښلي شراب لا چا هېر کړي نهٔ دي

اوس هم له مېزه چې کاغذ هوا وچت کړي بوئې شم
هاغه خطونه او ګلاب لا چا هېر کړي نهٔ دي

ډېرې خبرې وې ـ خو بس مرګ مې شي داسې پېغور
د زړهٔ داغونه په حساب لا چا هېر کړي نهٔ دي

ستا او زما قيصې اوس هم په محفلونو کېږي
هاغه موجونه د درياب لا چا هېر کړي نهٔ دي

هاغه هر ښکلې ته اظهار عابده هم په منت
هاغه محفل هاغه اداب لا چا هېر کړي نهٔ دي

۲۸ـ دسمبرـ۱۹۹۹ء مردان



ژوند تېرول ستا نه جدا ګرانه ډېره ګرانه ده
هر څۀ دي اسان ولې دا ګرانه ډېره ګرانه ده

زهر د ځوانۍ ګوټل او بیا د انتظار په جام
تۀ څۀ نه خبر یې په ما ګرانه ډېره ګرانه ده

کله کله خیال تصویر هم راکړی د ځوانۍ ارمان
خدائیګو دې وطن کښې وفا ګرانه ډېره ګرانه ده

یو زۀ یم چې تا ته مې ښېرې په خلۀ راتلې نۀ شي
یو تۀ یې چې نۀ کړې دعا ګرانه ډېره ګرانه ده

څوک دي ؟ چې عابده تنهائي د ژوند ارام کښي
ماته خو والله دا سزا ګرانه ډېره ګرانه ده

۳۰ـ ډسمبر ـ ۱۹۹۹ء مردان

☆

رنګ چې زندګي ده په دې لارو کښې
نوستي مې خواني ده په دې لارو کښې

مينه پکښې ورکه شوه ـ سا سا شوله
خومره ساډوبي ده په دې لارو کښې

ستا له مخه ګله نور به څۀ وايم
بس خو رنګيني ده په دې لارو کښې

سپرږے دې جوړ بيا د زلفو ولونه دي
دا چې خوشبوئي ده په دې لارو کښې

اوسي پکښې ګوره څۀ کافر ښکلي
څۀ مسلماني ده په دې لارو کښې

ما ته ئې هر ګاڼے دے عابده ګل
کړې مې ياري ده په دې لارو کښې

۳۱-ډسمبر-۱۹۹۹ء پېښور

☆

طمع غم فکرونه به تر کومي وی
دا انتظارونه به تر کومي وی

نه چرته منزل شته نه اسره د یار
زړه ـ دا مزلونه به تر کومي وی

پرېده چي تار تار کړمه ګرېوان د غم
نور دا امیدونه به تر کومي وی

چرته سحر هم د ارمان شته که نا
خدایه ماښامونه به تر کومي وی

کله کله هسي مي سوچ یوسي دا
ګام په ګام غمونه به تر کومي وی

نه راځي عابده ـ د رېبار په خوله
دا سوال جوابونه به تر کومي وی

۸ جنوری ۲۰۰۰ء مردان



خلۀ باندې انکار او په زړۀ ست څوک داسې نۀ کوی
دا څۀ وائې ـ نا نا ـ محبت څوک داسې نۀ کوی

څه خو په قدم قدم په شا راته راګوره مه
وژنی مې ستا داسې عنایت څوک داسې نۀ کوی

وخېنه چې دې زړۀ دې ـ خو واعظه حال به نۀ وائې
کوره دا دې دلته روایت څوک داسې نۀ کوی

زړۀ هاغه د ګلو پانې چرته یوسم ستا د لاس
لوټ دې کړم د چا سره الفت څوک داسې نۀ کوی

نۀ په ورځ پوهېږې نۀ په شپه عابده مر به شې
ورک په محبت کښې عبادت څوک داسې نۀ کوی

۱۵ـجنوری ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

د زړه لارې مې په تا باندې ابادې
عمر وشو هېر مې نه شوې راته یاد يې

ټول دروغ دي چې څه تېر شي هغه هېر شي
نن هم ستا غم په غمونو کښې باچا دې

ستا د یاد تندې بېه بېه سېرلے کړم
د صحرا شګې په سر مې کړلې بادې

دنیا څه چې څومره خلې دومره خبرې
امتحان خو بس یا ستا دے یا زما دې

کله همزولې ـ کله زلمې دې کله نیسخالې
د عابد د غزل سپورے په هر چا دې

(صوتی قافیې)

☆

څۀ مینه لیونی څۀ انتظار د ګل کوڅه ده
نیت بل نۀ شی د زړۀ او د بهار د ګل کوڅه ده

ما خان لکه وېشلې د سپرلی په تولو ښکلو
اوس ماته هر یو چم او هره لار د ګل کوڅه ده

وحشته له ګرېوانه مې لاس لر کړه خطا نۀ یم
د ژوند زهر ګوټم په دې اتبار د ګل کوڅه ده

ساده نۀ یم پاګل نۀ یم په مینه باندې ورک یم
خندا کښې چې خنګېږم بې اختیار د ګل کوڅه ده

تل دلته کښې بې خانه جام تسبې عابده څۀ کړې
لږ خیال ګورے دا نۀ دې هاغه ښار د ګل کوڅه ده

۱۸ـجنوری ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

مۀ وایه ساقي چې د سپرلي د راتلو ورځې دي
بس د چا په یاد کیږي په زار زار ژړېدو ورځې دي

مۀ خه کښي بیا به د ګل پاڼي د نم ډکې شي
سترګو نه د اوښکو د باران ورېدو ورځې دي

بیا راخوارۀ شوي دي نن ټول رقیبان خبر دې وي
بیا راته ښکاریږي د دې کور ورانېدو ورځې دي

لاس ئې زما مخکښې چې په لاس د رقیب کېښودۀ
پوئې شوم چې هم دا هغه د اور لګېدو ورځې دي

خله ئې واعظه په ارمان او ګمان تېرې کړم
بس د دې دنیا او د ځوانۍ خو یو څو ورځې دي

ما د خپلې برخې خدائې ولیده خالي جولۍ
څنګه مطمئن شم چې د ګل او غوټېدو ورځې دي

زۀ هاغه مئین یم ـ چې ستا قهر هم ژوندون ګڼم
زۀ نۀ وایم دا چې بس د اور او لمبو ورځې دي

هینه کیږي عابده کم عمرې ته کتل څۀ جواز
تېرې په ما ډېرې د وروو د وعدو ورځې دي

۲۲۔جنوری۔۲۰۰۰ء مردان

دوه لارې

ته زما يادونه هېر کړه زه به ستا يادونه هېر کړم
ته زما له کوڅې لار شه زه به هاغه کوڅه پرېږدم
نه به ته ما يادوې اوس نه به زه تا يادومه
ته زما خطونه ورک کړه زه به ستا خطونه ورک کړم
مې نه ته تصوير ته ګوره نه به زه تصوير ته ګورم
زه به ستا بنګړې ګذار کړم ته زما ګلاب ريبچې کړه
ته هم مه مېړه نکريزې ـ زه هم سترګې سرې کومه
ته زما لمنه پرېږده زه به ستا لمنه پرېږدم
نه به زه تاته اوس ګورم او نه ته ماته اوس ګوره
ته سپوږمۍ په ستورو وله زه به نمر په کاڼو ولم
ته اسمان پورې خندېږه ـ زه به زمکه پورې خاندم
زه وختونو در په در کړم او ته خلقو در په در کړې
بس خبر شه اوس خبر شه نورې مه غواړه منښتې
دا يقين اوس خان له کلک کړه ـ دا ګمان زما ريښتيا کړه
دا والله چې حقيقت شو ـ دې کښې هيڅ دروغ هم نشته
مونږه دواړه چې پردي شو ـ مونږه دواړه چې پردي شو

لېونې شو ـ لېونې شو ـ لېونې شو ـ لېونې شو
۲ـ فروری ـ ۲۰۰۰ء مردان



اشنا چی ستا وعدې په یوه لار نۀ پاتې کیږی
زړۀ خوری می اندېښنې په یوه لار نۀ پاتې کیږی

نۀ یار ته رسېدې شی نۀ روزګار ته رسېدې شی
په مینه کښې سرے په یوه لار نۀ پاتې کیږی

اوری می خوب ارام دې کله خال او کله زلفې
دا ورځې او دا شپې په یوه لار نۀ پاتې کیږی

ما ډېره کۀ لمن د لېونتوب راخکله کلک شوم
خو خپې پرېږکړ په یوه لار نۀ پاتې کیږی

رقیبه خوشالېږه مه نن ستا سبا زما دے
ګردش د زمانې په یوه لار نۀ پاتې کیږی

دا کړښې دا رسمونه دا بندېز دا رواجونه
توبه شه لېونړ په یوه لار نۀ پاتې کیږی

عابده د واعظ له نېغې لارې می توبه شه
زلمړ چی وی زلمړ په یوه لار نۀ پاتې کیږی

۱۸۔فروری۔۲۰۰۰ء مردان
(صوتی قافیې)



خوانی وه او سپرلی خپلې ورمې نیولې نه شوې
کېدل چې څه تقدیر وه ما لمحې نیولې نه شوې

ما تول عمر کښې بس د ګل نه دا سبق اخستې
چا هم د چا د ژوند ورځې او شپې نیولې نه شوې

اے خانده راته مه ـ چې مې زړه نه غواړی ستا مینه
دا واوره چې وخت چرې هم جذبې نیولې نه شوې

نه تار د زلفو غواړې او نه تار ګریوان کښې ګورم
واعظه څکه ما د سوال روژې نیولې نه شوې

نه یو خل لوبټې له خو څنډ ورکړه بیا ګیله کړه
دا چا وې چې نظر مې تماشې نیولې نه شوې

عابده څکه زړه ئې له ما یوړه یو نظر کښې
چې بنکته تیټې سترګې پېټتې نیولې نه شوې

۲۲ـ فروری ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

ښځه دے ښځه ښکاریږی تپوس مه کوه
ژوند دے بس تیریږی تپوس مه کوه

خره خره ښکاری ائینه د وخت
مخ پکښې ورکیږی تپوس مه کوه

کېنه راسره چې ډرته ګورمه
ښځه سیا پېښیږی تپوس مه کوه

داسې له یو بله شو ښکری ښکری
هیڅ بند نه جوړیږی تپوس مه کوه

ستا هسې سپرلی د ژوند زما په کور
نه راځی شرمیږی تپوس مه کوه

ستا د ستوماني د خندا مست نظر
ګل غنچه غوړیږی تپوس مه کوه

خدائے خیر عابده چې قیصه ښځه ده
بس زړه مې ډوبیږی تپوس مه کوه

۲۸-فروری-۲۰۰۰ء مردان

☆

خان کړی غلے غلے ۔ راته نۀ ګوری
ښکلے ۔ ښکلے ولے ۔ راته نۀ ګوری

ګوری چې هر څوک راته د چا په مخ
هم هاغه ښاغلے ۔ راته نۀ ګوری

پوهه یم زړګیه چې ډیر ګران یمه
دا چې راته ښکلے ۔ راته نۀ ګوری

ژوند بانديې په څۀ رنګه ناز وکړمه
څۀ چې نازولے ۔ راته نۀ ګوری

ستا په سر عابده راشه وګوره
لاړلو تول کلے ۔ راته نۀ ګوری

۷۔مارچ۔۲۰۰۰ء مردان



اور دې په نظر کښې وه خبر نه ووم
تنلر مې خیګر کښې وه خبر نه ووم

ستا ښائېست نازک پرېرکړ وه لار
ژوند ئې په وزر کښې وه خبر نه ووم

زه وریسې ستا زلفو کښې ورک وومه
زړه مې ورک سحر کښې وه خبر نه ووم

ما وې چې واعظ څنګه ریښتیا وئیل
دا کمال کوثر کښې وه خبر نه ووم

لاس کښې مې ستا مراوی ګل ته نه کتل
چون مې په خادر کښې وه خبر نه ووم

هسې په تالاش د ښکلې مخ وومه
حسن خو نظر کښې وه خبر نه ووم

ستا د سا ښکالو راله زړه سترې کړو
شور مې په پرهر کښې وه خبر نه ووم

څکه خو زما نه لار کښې پاتې شو
ستا عابد باور کښې وه خبر نه ووم

☆

اشنا د محبت خوازه خوانی کښې معلومیږی
اثر د مستو میو په پیالی کښې معلومیږی

هر څوک کهٔ لوبتیه ئې ده تار تار خو خان بری وژنی
حیا راته بې حده دې جبنی کښې معلومیږی

پښتو ده کهٔ مې سر پکښې پرېکیږی خو ولاړ یم
ملګرو د زړهٔ مینه په سیالی کښې معلومیږی

رقیبه دا په رعب په دبدبه په توره نهٔ ده
له موره چې پیدا شی نر ۔ جولی کښې معلومیږی

لاس ږدی په سینه خاندی هر قدم سره تالی خوری
یارانو عابد بنهٔ نن په مستی کښې معلومیږی

۸۔ مارچ۔۲۰۰۰ء مردان

☆

هر نظر اور دے هر زړهٔ ماتم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې
زندګی څهٔ ده ګام په ګام غم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې

بس يو اسره ده چې سپرلے راشی زړونه به يو شی ارمان به سر شی
کنی نو هر خوا شپه ده تور تم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې

په دې خندا مې مهٔ دوکه کيږی زړګے مې تول دے باد شوې خاورې
ستا په ډک جام مې ساقی قسم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې

خټک به خندا شم خټکه خان سم کړم خټک چرته لاړ شم خټک خانې له راشم
اے د زړهٔ سره دا غم څهٔ کم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې

نور سپرهٔ خټک وی ـ د قسمت جنګ کيږې ـ يو تهٔ عابده ـ بل زهٔ عابده
ډير کهٔ قدم مې ستا په قدم دے ـ څهٔ تهٔ يوازې ـ څهٔ زهٔ يوازې

۲۵ ـ مارچ ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

ستا د انتظار د ویښتې شپه ده چې ما پېژنې
غم دے تمنا ده تلوسه ده چې ما پېژنې

برق چې په خندا شي راته هر څۀ ورانې
کور کښې مې بس دا يو ائينه ده چې ما پېژنې

چرته چې څۀ درد وي پرېشاني وي د ګل ما له وي
دا لا مينه څۀ رنګه رنده ده چې ما پېژنې

لاس ئې چرته رانکړو سلام ئې چرته وانۀ خست
دا ئې بس په سر کښې يو نشه ده چې ما پېژنې

پرېږده چې عابده به خواسرې رقيبان وکړي
هسې هم د يار تنشه بانه ده چې ما پېژنې

۱۲-اپریل-۲۰۰۰ء مردان

☆

ګورم درته یاره ـ یو نظر نظر راوګوره
خم د خدائے له یاره ـ یو نظر نظر راوګوره

څهٔ پېښېږي بیا ـ د سبا څهٔ پته قربان له تا
نن خو به دې لاړه ـ یو نظر نظر راوګوره

پاتې دې شي هر څهٔ خو تهٔ ښکته مهٔ ګوره
وژنې مې ربیاره ـ یو نظر نظر راوګوره

پرېږده چې خطا مې شي وار پرېږده چې سا سا شمه
بس خو تهٔ بې واره ـ یو نظر نظر راوګوره

ژوند مې اور اخستې هر نظر ساقي لمبه لمبه
ډک ډک له خماره ـ یو نظر نظر راوګوره

هاغه عابد تا باندې مئین ـ به تا چې ورک وهٔ مري
ژوند ته ئې بهاره ـ یو نظر نظر راوګوره

۲۹ـ اپریل ـ ۲۰۰۰ء مردان



کلے به جرګو مۀ کړه خفه به شي
مینه کیښي پښتو مۀ کړه خفه به شي

خان به دروغژن کړي چې بیا نۀ راځي
لوظ د راتلو مۀ کړه خفه به شي

مینه د اظهار پابندي نۀ مني
دا خبرې ورو مۀ کړه خفه به شي

اوس خو ایله راغلې راژوندے شومه
چې شه غېږ د تلو مۀ کړه خفه به شي

نور ګورے عابده هېڅ اتبار د رنګ
بس به خوشبویو مۀ کړه خفه به شي



وائي چې تا هېر کړمه دا څۀ وائي
ژوند بې رنګه تېر کړمه دا څۀ وائي

کوري مې په زړۀ د خپل ستم نخښې
ستوري څنګه شمېر کړمه دا څۀ وائي

وخاندم او هر څۀ د وخت ومنم؟
تېر هسې خپل وېر کړمه دا څۀ وائي

هېنه ده رېباره جواري نۀ ده
څنګ ئې خط او شېر کړمه دا څۀ وائي

ګرانه ده عايده د ګل دا مثل
هاغه هر څۀ هېر کړمه دا څۀ وائي

۱-مئی-۲۰۰۰ء مردان

☆

یو مست شانې نظر یوې مسکا ته مې حاجت دے
لمبه لمبه خواني له ستا بنګلا ته مې حاجت دے

جولۍ چې مې شوه ډکه ستا له مينې اوس همدمه
دوا ته مې حاجت دے نۀ دعا ته مې حاجت دے

قربان دې له رخساره شم لوګے دې له زلفانو
بېګا ته مې حاجت دے ستا سيا ته مې حاجت دے

اشنا جوړې خيره مو يوه ارمان مو يو دے
کلۀ ما ته دې حاجت دے او کلۀ تا ته مې حاجت دے

تقدير راله راوړی دومره تيارې له هرې خوا نه
عابده څومره څومره چې رڼا ته مې حاجت دے

۱۵ـمئی ـ۲۰۰۰ء مردان

☆

د سپرلی شپې دی د جفا خیرې بدې لګی
په محبت کښې ګله دا خیرې بدې لګی

دا د فریاد عادت له خانه بس دې وباسه یار
هر وخت د غم او د ژړا خیرې بدې لګی

زما په زړه ئې غوروليې س لفظونو ځادر
چا وې د زلفو د سودا خیرې بدې لګی

وار چې زما د قیصې راغے چې مې زړه داده شو
وې وئیل لازم بس په ما خیرې بدې لګی

خپل ناروا ورته هم ښکاری تول روا عابده
کور کښې په هر چا بس زما خیرې بدې لګی



رنګ ئې ښه شو ـ سم شو ـ شوه خوانې ئې ګلاب ـ ښکلے شو
لګی پرې هوا زما د مینې جناب ـ ښکلے شو

ګل پکښې تازه شو ـ خوشبو خوانه شوه سپرلی مست شو
ستا د نوم غزل چې پکښې ځائې شو کتاب ښکلے شو

څۀ رنګه رقیبه اخر څۀ رنګه ئې هېر کړمه
اورمه چې ښکلے مې او س لا په شباب ښکلے شو

وینې چې زما د بې وسۍ ئې په مخ ونوستې
خومره دا زما د زړۀ د کلي نواب ښکلے شو

دا د زړۀ بازار دے دلته هېڅ څۀ سره سم نۀ دی
ښکلے شو خراب دلته کېښې هر یو خراب ښکلے شو

یاد د خوانۍ خپله د رنګونو شرابی جام دے
مه وایه عابده چې ګل څنګ بې حساب ښکلے شو

۱۷ـ مئی ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

لا نه چې په ګل او په ازغی نه یو
ستا لیونی یو خو لیونی نه یو

مونږه د یو بل کړه بې ستره خو
مونږه او غم خپلو کښې پردی نه یو

اوچې شوندې ګرځو هم په دې وجه
ګله منتیار چې د ساقی نه یو

غوارو په هر سوال کښې بس هم ستا لیده
نور په ژوند د هیڅ هم ارمانی نه یو

ته چې تلې تا سره هر څه تلې
هیڅ هم خبر شوې له سپرلی نه یو

خاندو په جنت ته چې مجبوره یو
څه وشو عابده که راضی نه یو

۲۳-مئی-۲۰۰۰ء مردان

☆

گل دې وی اشنا ستا د شباب ـ گلاب
خط کښې رالېږې هر جواب ـ گلاب

ستا او زما ستوری دی جدا جدا
زۀ ارمان او تۀ گلاب ـ گلاب

مست په ولې نه یمه خوشبو هسې
نن راله راکړې دے جناب ـ گلاب

ژوند ئې دوه لحظې هم د ازغو په سر
دے خومره ملګرو په عذاب ـ گلاب

نن ئې وئېل زۀ ښکارم د چا په شان
زر مې ورته ووئېل جناب ـ گلاب

وې ښودل عابده راته زړۀ شیندل
را مې وست په ژوند کښې انقلاب ـ گلاب

۲۳ ـ مئی ـ ۲۰۰۰ء مردان



هره شپه په صلیبونو هر سحر په صلیبونو
بس خو ژوند دې چې تیرېږی سراسر په صلیبونو

دلته ذکر د رښا چپ شه د سر او خان بائېلل دی
دلته نوم د مساواتو دې سفر په صلیبونو

نۀ ګلاب شه ـ نۀ خوشبو شه ـ نۀ نغمه شه ـ نۀ غنچه شه
زما تن په صلیبونو زما سر په صلیبونو

د وفا جفا قیصې دی اوس د مرګ او ژوند خبرې
چې په کوم بو لورې ګورم خې نظر په صلیبونو

زړۀ به څۀ چا له څوک ورکړی لاس به څۀ چانه څوک واخلی
شو عابده انسان کور کېنې هم بهر په صلیبونو

۲۴ـمئی ـ ۲۰۰۰ء مردان



وخت وشو سپرلے دلته کښې نه راځي
اوس هغه سرے - دلته کښې نه راځي

ماته میخانه کښې - ملا ووئیل
هر وخت څوک خانے دلته کښې نه راځي

زړه زما د داسې چمن ګل شو چې
څو پرېوزکے دلته کښې نه راځي

څوک چې ستا نامه اخلي او غواړي تا
روغ په سر پټکے دلته کښې نه راځي

دا خو یو عابد دے په تا وژني خان
هر یو لیونے دلته کښې نه راځي



زوینځه غمونه ـ هس وچت کړه جام
مۀ غواړه ستونه ـ هس وچت کړه جام

زوینه جنت واخله د ژوند مزې
غځۀ کوې سوچونه ـ هس وچت کړه جام

اوباسه واعظه غبار اوباسه
مات کړه قسمونه ـ هس وچت کړه جام

خدائے خبر کۀ راشي اے زړګیه بیا
داسې ماښامونه ـ هس وچت کړه جام

لرې کړه دردونه هېر کړه غم د ژوند
دېخوا کړه لاسونه هس وچت کړه جام

بس کۀ ښیښي عابده نو راځه وڅښه
نور پرېږده سوالونه هس وچت کړه جام

۲۵ـمئی۲۰۰۰ء مردان

☆

چې په لوظونو په قسم او په وعدو نۀ راځي
په هاغه بنګلي هيڅ باور مې د پېښتو نۀ راځي

راتلۀ ئې ګوره چې راځي نو بيا بې واره راځي
چې کله نۀ راځي نو بس بيا په موډو نۀ راځي

خه چې ځي خه ـ خو بس دا مۀ وايه ـ چې دا دې راځم
يقين دې نور راله اشنا په بهانو نۀ راځي

په خلۀ خو ډېر بلها اسان دي محبت او ياري
ولې په لار په نظر يو هم په جرګو نۀ راځي

وينې د زړۀ بلول غواړي سېزل غواړي د خان
ساقي سحر په مېخانه کښې په ډېوو نۀ راځي

دا به د نمر سترګه په ګوته پټوي عابده
چې بس له مانه څوک زما په ضابطو نۀ راځي

۲۷ـمئی ـ ۲۰۰۰ء مردان



یو شور دے غلې کیږی نا په لار د زندگی
پیدا نۀ شو پیدا نۀ شو اتبار د زندگی

کل خاورې کړه خوانی خپله بې وار چې په خندا شو
ګران کار دې تېرول هم ګورې وار د زندگی

خوشبو ستا د بدن دې وی همېش له په تویونو
الله دې مراوې نۀ کړی ستا بهار د زندگی

ډېر وس مې وکړو بیا هم زړۀ مې ستا نه صبر نۀ شو
اشنا توبه له مینې دې انکار د زندگی

چا لیه خاورې یوړلې عابده چا ګلونه
یو کار د زندگی شو او یو بار د زندگی

۳ـجون ـ ۲۰۰۰ء مردان



ګل بسې اے زړهٔ دړدونه څنګه دی
دا د زوندانهٔ دړدونه څنګه دی

نهٔ وه - یوه څرېکه بیا - چې وې وئیل
ما ته نن هغهٔ - دړدونه څنګه دی

ما دړته زړګیه وې تا نهٔ منل
اوس خوارهٔ خوارهٔ دړدونه څنګه دی

لا خو ستا رګ رګ کښې ده مستي وده
نهٔ لا خبر څهٔ دړدونه څنګه دی

اوس منې کهٔ نا عابده زور د عشق
شپو کښې ویښېدهٔ دړدونه څنګه دی

۱۴-ستمبر-۲۰۰۰ء مردان

☆

په زړه کښې ځائې شي په ادا ادا نظر کښې راشي
څوک نه څوک چرته خامخا د چا نظر کښې راشي

څۀ دي خو خان لاهو کول دي په سينه ستا محبت
هم سرے ورک شي هم بېګا سبا نظر کښې راشي

نۀ دې لاس راکړو نه دې پرېښودم په خپله مخه
خدائے مۀ کړه څوک لکه زما چې ستا نظر کښې راشي

د سپوږمۍ کور دے ستا د زلفو د ارمان زندګي
شي در په در خو د بلها دنيا نظر کښې راشي

خان لکه ستورے به دې خال کړي په تندي د اسمان
کهکشي داسې دې عابد اشنا نظر کښې راشي

۲۹ـ ستمبر ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

ونولی په ژوند راله سپرلی ـ په لاره وخاندی
اوس هم چې همزولو سره خې ـ په لاره وخاندی

والوزمه زۀ لکه خوشبو پونه پونه شمه
ما ته لکه ګل چې د سپرلی ـ په لاره وخاندی

ویوره د زړګی ئې هر یو رنګ له مخه واړوی
چرته چې رامخ شی ناڅاپی ـ په لاره وخاندی

دا د محبت د کتاب کومه یوه پاڼه ده
خان پسې بې وار مې ژړوی ـ په لاره وخاندی

داسې مې عابده په ایمان زړۀ کړېنې کړی
یس لکه واعظ ته چې ساقی ـ په لاره وخاندی

۴ـاکتوبر۔۲۰۰۰ء مردان

☆

ستا ارمان ستا تلوسه ده تنهائی ده تنهائی ده
زړه او ستوری ویخ یو شپه ده تنهائی ده تنهائی ده

خدائے دې راوله بې واره چې توتې زړه مې راټول شی
ژوند مې ماته ائینه ده تنهائی ده تنهائی ده

طمع طمع هر نظر دے ویښه ویښه تمنا ده
ساه بې کوره ډیوه مړه ده تنهائی ده تنهائی ده

نه مې تار شته په ګریوان کښې نه سکون چرته خیګر کښې
غم دے طمع ده اسره ده تنهائی ده تنهائی ده

لیونی هوا چلیږی ــ وچې پاڼې په نغمو دی
ستا عابد دے سره غرمه ده تنهائی ده تنهائی ده

۸۔اکتوبر۔۲۰۰۰ء مردان



چې اوډۀ اوډۀ کاتۀ کړی به سپرلی کښې
لېونی به دعشق مرۀ کړی به سپرلی کښې

لکه ګل هسې تار تار شی پاڼه پاڼه
خدائے دې څوک بې یاره نۀ کړی به سپرلی کښې

خط د طمعې راله راکړی لاس مې واخلی
ګل عادت د ازغی وۀ کړی به سپرلی کښې

کله ستورو کېنې مسکے کله سپوږمۍ کېنې
یاد دې لوبې مې به زړۀ کړی به سپرلی کښې

زړونه غواړی هم عابده وینه غواړی
چې دا ښکلی به دې څۀ کړی به سپرلی کښې

☆

هر نظر کښې حادثې دي ـ په هر ګام کښې امتحان دے
بې له تا نه ژوندون څۀ دې د زړۀ سره بس ارمان دے

ما به ورک کړې په دې شور کښې ما به ډوب کړې په دې اور کښې
ته چې داسې راته ګورې ته چې داسې راته خاندې

چې تيريږي نو تيريږي ټول تاوده ساړۀ په ما ستا
ته بې لوظه څۀ خبر يې چې ژوند ګران دے کۀ اسان دے

خوشبوئ مې په ګريوان کښې له مستۍ نه په ګډا دي
د ګلونو شهزاده مې نن د زړۀ کور کښې مېلمان دے

اے وريځو بيا خورې شي اے نيازبينو اوښکو تم شي
د ارمان ګرمۍ په تلو ده بيا ديدن دے او باران دے

ورځ په ورځ مې سېوا کيږي تنده لا د خواهشاتو
خبر نۀ شوم چې زړګيه وخت روان که راروان دے

نورې ټولې عقيدې مې بس دي پرېښودې عابده
په پښتو باندې مر کيږم محبت زما ايمان دے

۱۱ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۰ء مردان (صوتي قافيې)



ستا په یو نظر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو
نۀ یو په خپل سر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

چرته چې خلوص وی چرته مینه چرته ویښ احساس
مونږ هاغه سنګر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

مونږ د مینې تږے یو مونږ هر څۀ عبادت ګڼو
ستا په ور او در باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

مونږ خو دا منو ـ چې هر یو کار د خدائے په لاس کښې دے
اوس چې په کافر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

دا په مینه ورک یو ـ کۀ دا ورک له خپله ځانه یو
خو په ستمګر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

خیر دے ګمراهان بۀ یو عابده خیر دے مړۀ بۀ یو
فن باندې هنر باندې ځان وژنو وایه څنګه یو

۲۲ـ اکتوبر ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

خار چې راته ګورې داسې مه ګوره
اور به کړې رابورې داسې مه ګوره

دا د زرګرانو ښار دے بام کوه
خپل قیمت کۀ ګورې داسې مه ګوره

داغ به دې شي سپینه لمن ګل ادا
په د سترګو تورې داسې مه ګوره

شک به مې د مینې په یقین کیږي شي
بیرته به دې لورې داسې مه ګوره

دې د ژوند غرمو کیږي بس عابده نور
نشته چرته سیورے داسې مه ګوره

۷۔نومبر۔۲۰۰۰ء مردان

ته زما یې

زما د خیال دنیا مېله د لیونو د اختر
ما ته د خدائے له پاره ووایه چې ته څنګه یې
ستا وېښتهٔ سره لکه بخمل دی کهٔ نا تور دی ګلې
ستا لهجې څنګه دی ترانهٔ زما زغمې شی کهٔ نا
شونډې ریښتیا ستا کله سرې د ګلو پاڼې ښکاری
ستا لوېټه د محبت حوزاړهٔ لری او کنه
ستا زړهٔ ډېر زیږی ـ کله کله چې دریاد شمه زهٔ
ستا ښکلې سترګې ما په خوب کښې تا ته ښائی کنه
ستا د وربل سېورے به ماله قرار راکړی کنه
ستا لاس به ماله څهٔ اسره د ژوندون راکړی کنه

ما ته د خدائے له پاره وایه چې ته څنګه یې
زما د خیال دنیا مېله د لیونو د اختر
زما مثال لکه یتیم ماشوم او ورکه لاره
راشه زما سوچونه ټول ځان ته راغاړه یاسه
ما له یقین راکړه ـ چې ته زما یې ته زما یې

۱۱ ـ نومبر ـ ۲۰۰۰ء مردان



کله خندا کله ژړا ده پیره
ژوند دې تېرېږي ستا دعا ده پیره

دا مېخانه ده دلته هر څه ثواب
دلته توبه ایستل ګناه ده پیره

هر څۀ به پرېږدم خوا دا څنګه پرېږدم
چائے خو زما د زړۀ دوا ده پیره

دلته کېږي هر سړے بس خان پېژنی
مینه به دې ښار کېږي عنقا ده پیره

ولې به سر به یې تاج نۀ کړخوم
غزل ـ زما د زړۀ درزا ده پیره

لېږ به عابد د کرم لاس او نظر
د عمر عمر ئې سودا ده پیره

☆

ګل به شي سپرلو راته دا ووئېل
ستا لارو کوڅو راته دا ووئېل

بس خو تنهائي ده هره لاره کښې
ټولو ائينو راته دا ووئېل

ژوند باندې اتبار دے په هوا کښې کور
شمعې په سلګو راته دا ووئېل

زړه لکه ګلاب کتاب کښې ونيسه
ستا د خلې وعدو راته دا ووئېل

وګوره خدائے خنګه فنکاري کوي
ښکلو په کتو راته دا ووئېل

نشته په قسمت کښې دې عابده خوب
ويښو ويښو شپو راته دا ووئېل

۴ـدسمبرـ۲۰۰۰ء مردان

☆

لږ د سپرلي ورمه پاتي شه توبه ماته کړه
زما د ژوند د تنهايي دا ائينه ماته کړه

زما په خان باندې اتبار دے مرګ او ژوند پېژنم
ته شراب خان ته کړه د زهرو دا کاسه ماته کړه

موسم پرېشانه دے سا ووبي خوشبوي خفه دی
لږ لويتي له دې خند ورکړه دا پرده ماته کړه

د بې نيازۍ دې حد نه ګوره ـ چې څوک هم نشته دے
ما په وهلو د جومات کله دروازه ماته کړه

سپرلے به وخاندي پخپله خو اول ته راشه
په ما د ژوند دا تنګه شوې دائيره ماته کړه

ما خو رانيسي چې زنځير د خپل وحشت شلومه
پخپله خبرډے به شبنم چې ګل روژه ماته کړه

بغير له دې نه د قرار بله ناهه نشته دے
عابده نن په لبو وښتيه پيمانه ماته کړه

۵ـدسمبر ـ ۲۰۰۰ء مردان



لسحې د پرېشانۍ غزل غزل کړه نو بيا لاړ شه
(اے ګله داسې وکړه ما پاګل کړه نو بيا لاړ شه)

ما تا باندې بانېللې هم خوانۍ هم زندګي ده
پېښتون شه بس راسر مې دا بدل کړه نو بيا لاړ شه

خدائے شته چې ګورے مرګ دے که دې لاس راله رانکړو
دا ډوبه تنهائي راته محفل کړه نو بيا لاړ شه

ساقي ستا دې قسم وي چې جام وارووه په بله
دا تنده مې د مينې يو په شل کړه نو بيا لاړ شه

ارمان د محبت د چا لوټان ـ ستورې نوستل دی
عابد دې خپل همزولو سره مل کړه نو بيا لاړ شه

۱۳ـ دسمبر۔۲۰۰۰ء مردان

☆

د خپل ظالم نظر نه خلق مه خبروه
زما د زړه او د ځیګر نه خلق مه خبروه

زلفې دې پټې کړه پرونې کښې نظر ښکته کړه
له دغې شپې او د سحر نه خلق مه خبروه

زړه چې زما نه د نظر په اشاره کښې اخلې
ګوره اشنا د دې هنر نه خلق مه خبروه

زما د دور خلقو اوس ایله تعویز کښې بند کړو
د ښکلو مشره د ژوند شر نه خلق مه خبروه

چرته چې ټولې د رنګونو فرښتې خوانې خوب
عابده زوره دغه در نه خلق مه خبروه

DELICACY

ته خو دګل غوندې يې
يوه نازکه غوټۍ
دومره نازکه
چې د شبنم قطرې هم نه شي زغملې
زه خو کله حيران شم
چې د دومره نازکۍ احساس به اخر څنګه محسوسيږي
خو بيا وايم نا
ولې وريخ خو مره نازکه وي
چې صرف په نظر ليدې شي او بس
خو چې کله د ارمان په تاوده زړګه خپلې اوښکې راتوې کړي
نو د دنيا هر شی ئې محسوسه کړي
خو ته خو وريځه هم نه يې
ته خو د ګل د خوشبو نه هم نازکه يې
ستا سترګې ستا شونډې ستا زلفې ستا انګې
ستا مسکا ستا حيا ستا ادا او ستا نازونه
چرته دا دومره ګل بنائيستونه
او چرته د ګل يوه خندا؟
خوشبو ورمه ګل وريخ شبنم دا خو ډير اسان لفظونه دي
زه ئې په يو رپ کېښې په خپل قلم تحرير کولې شم
خو ته ----- او ستا صفت-----------

بس
دا ډيره ګرانه ده ډيره ګرانه ده ډيره ګرانه ده

۲۲ـ دسمبر ـ ۲۰۰۰ء مردان

☆

ستا یادونه بارانونه راوریږي راوریږي
سپږی زړه کښې مې زخمونه راوریږي راوریږي

د شبنم په ائینه کښې د پاګلې هوا غېږ کښې
ستا خیالونه تصویرونه راوریږي راوریږي

تا چې وخاندل بې واره تا چې وکتل ناڅاپه
ما وې راغلهٔ بهارونه راوریږي راوریږي

شور دے ستا د نوم اثر دے د سپږمې په خلهٔ غزل دے
د ژوندون علامتونه راوریږي راوریږي

چې په تا باندې مئین شو افسانه شو هم نغمه شو
په عابد باندې شعرونه راوریږي راوریږي

۲۳،دسمبر، ۲۰۰۰ء مردان

☆

په شپه کيږي ژاړي د سحر خواږه په سوال کيږي غواړي
اوس مې هم زړه ـ ستا د نظر خواږه ـ په سوال کيږي غواړي

چرته چې ښکلي اوسي ـ مينه اوسي ـ زړه لېونے
د هغه چم د هغه در خواږه په سوال کيږي غواړي

محبت خومره خود غرضي ده توبه دې دور کيږي
کوره فقير هم ستا د ور خواږه په سوال ـ کيږي غواړي

ستا د نظر نازونو ډاسې بې نياز کړو له ژوند
ساقي واعظ اوس د کوثر خواږه په سوال کيږي غواړي

لاس ئې نيولې دې دعا ته او نظر ئې تاته
کوره عابد څۀ په هنر خواږه په سوال کيږي غواړي

۳۰ـ دسمبر ـ ۲۰۰۰ء مردان

راتلونکے کتاب

یاد

امتیاز احمد عابد

نوم---امتیاز احمد عابد

پیدایش ---۹ اگست ۱۹۷۱

پلار نوم --- عبدالطیف

تعلیم -- ایم اے -- ایل ایل بی

پیشه --- وکالت

چاپ کتابونه - --

۱- احساس

۲- آئیني د الفتونو

۳- تاوده بادونه

٤- باغندې

٥- پرپرکی

٦- لاجواب (کلیات)

راتلونکے کتابونه

۷- یاد

۸- زاهد چاچا فن او شخصیت (تحقیقی مقاله)

۹- ---؟ شاعری